د اینشټین د عمومي نسبتیت **(General Relativity)** تیورۍ له مخې، که سترې کتلې (لکه تور سوري یا نیوټروني ستوري) یو له بله سره ټکر شي، نو د فضا-وخت **(Spacetime)** جوړښت ته څپې ورکوي.

دا څپې د موجونو **(Ripples)** په بڼه خپرېږي، او دا موږ ته دا ښیي چې فضا یوه انعطاف منونکې **(Elastic)** جالیزه ماده ده.

د ۲۰۱۵م کال د **LIGO** تجربې دا څپې عملي کشف کړې، او علمي نړۍ يې حيرانه کړه.

۲ .د الحُبُکِ اړيکه له **Gravitational Waves** سره

که د" الحُبُکِ "مانا څپې، موجونه، او تارونه واخلو، نو دا د ثقالتي څپو سره مستقيمه اړيکه لري.

فضا-وخت د يو متحرک جال په بڼه دی، چې څپې پکې خپرېږي، او دا د قرآن دا کلمه تاييدوي.

ثقالتي څپې د کائنات په جاليز جوړښت کې تحرک پيدا کوي، چې دا د اسمان د تنظيم يو حيرانونکی راز دی.

کهکشانونه د دې څپو له کبله تنظيم شوي، او د فضا-وخت موجونه د کائنات جاليز جوړښت ته تغير ورکوي.

۴ .قرآني نتيجه او د علم تصديق

د قرآن کريم دا لنډ خو ژور آيت" وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ "له دريو مهمو علمي کشفياتو سره مطابقت لري:

نتيجه:

دا آيت د کائنات د جاليز جوړښت(**Cosmic Web**) ، د ثقالتي څپو (**Gravitational Waves**)، او د کهکشانونو تنظيم ته اشاره کوي .علم اوس ثابته کړې ده چې کائنات منظم،

موجي، او جالي جوړښت لري، او دا حقيقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې قرآن کريم بيان کړی و، چې دا د قرآن کريم يو له حيرانونکو اعجازاتو څخه دی.

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

**27-93**او ته ووايه **:**ټول د کمال صفتونه خاص د الله لپاره دي، هغه به عنقريب په تاسو خپل دليلونه (نښې) ووينې، نو تاسو به هغه وپېژنئ او ستا رب له سره غافل نه دی له هغو کارونو نه چې تاسو يې کوئ

>سورت النمل ۹۳

سبحان الله**!**



**د آسمان زينت او د سيارو ښکلا**

الله جل جلاله فرمايي:

(إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ لْكَوَاكِبِ ۙ)

(بېشکه مونږ( ځمکې ته )زیات نژدې اسمان په زینت سره ښایسته کړی دی، چې سیارې (کواکب )دي)

وَحِفۡظٗا مِّن كُلِّ شَيۡطَٰنٖ مَّارِدٖ

او له هر سر غړوونکي شیطان څخه مو خوندي ساتلی دی.

—(الصافات7-6 :)

د قرآن کریم دا الهي بیان د کایناتو د ښکلا، د آسماني زینت، او د خدای پاک د قدرت یو حیرانونکی اعجاز دی .نن ورځ، ساینس موږ ته دا حقیقت روښانه کوي چې د سیارو جوړښتونه یو له بل سره حیرانونکې توپیرونه لري، او دا د خدای پاک د مخلوق د بې ساري هنر یو څرګند ثبوت دی.

ولې خدای ج کواکب (سیارې) د شیطانانو څخه د ساتي؟

ستوري (نجم) – د ساتنې اړتیا نه لري:

ستوري خو د عظیمو هستو لکه لمر په شان د حرارت، فشار او اټومي انرژۍ یو آتشفشاني مرکزونه دي.

دا جسمونه دومره خطرناک دي چې که انسان ترې څو میلیونه کیلومتره هم نژدې شي، سوځي.

له همدې امله، ستوري د ژوند د امکان ځای نه دي، نو ځکه" ساتنه "ورته نه ده لازمي .د ساتنې مفکوره هم د ژوند د احتمال سره تړلې ده.

سیارې (کوکب) – د ژوند امکان او ساتنه:

کوکب لکه ځمکه، زهره، مریخ، مشتري ...هغه آسماني جسدونه دي چې د لمر شاوخوا حرکت کوي، خپله رڼا نه لري، خو د ژوند د امکان لپاره شرایط لري.

قرآن د دغو کوکبونو یادونه کړې او د" زینت "او" حِفْظ "دواړو وظیفو سره یې نښلولي.

دا حقیقت نن ساینس تاییدوي:

ځمکه او نورې سیارې د مقناطیسي ساحو، اتموسفیر، او مدارونو له لارې له خطرونو خوندي ساتل کیږي.

ځمکه، د ژوند د کور په توګه، د الله لخوا داسې تنظیم شوې چې دا د شهاب، فضایي وړانګو او نورو خطرو پر وړاندې یو محافظت لري.

د علمي کشفونو له مخې د سیارو ښکلا

ساینسپوهانو د پرمختللو ټیلسکوپونو لکه هابل (Hubble) او جېمز ویب (James Webb) له لارې دا کشف کړي چې سیارې یوازې ساده آسماني اجرام نه دي، بلکې هره سیاره ځانګړې فزیکي جوړښت، بادلونه، حلقې، مقناطیسي ساحې، او حتی ځینې مایع مواد لري.

د ګازي سیارو زینت :مشتری (Jupiter) او زحل (Saturn) د هایدروجن او هیلیوم ګازونو ضخیمه فضا لري، چې په داخلي برخو کې یې شدید طوفانونه جریان لري، او دا د هغوی ځانګړې ښکلا جوړوي .د زحل حلقې له ملیاردونو کوچنیو یخچکي ټوټو جوړې دي، چې د لمر رڼا منعکسوي او یوه حیرانونکې ښکلا وړاندې کوي.

د صخري سیارو ځانګړتیا :ځمکه، مریخ، زهره، او عطارد د صخري جوړښت لرونکي سیارې دي .مریخ (Mars) د خپل سور رنګ له امله د" سور سیارې "په نوم یادیږي، چې د سطحې د اوسپنیز زنګ له امله رامنځته شوی .زهره بیا د خپلو تیزابي بادلونو له امله یو زهرجن، خو ښکلی ظاهري جوړښت لري.

د یخچکي سیارو ښکلا :نیپتون (Neptune) او یورانوس (Uranus) د یخچکي ګازي سیارو له ډلې څخه دي، چې د میتان ګاز له امله ښکلي شین رنګ لري.

قرآني اعجاز او د ستوریو او سیارو توپیر

دلته یو مهم ساینسي حقیقت د قرآن کریم له دې آیت سره اړیکه لري:

الله جل جلاله نه دي ویلي چې آسمان یې د نجوم (ستوریو) په زینت ښکلی کړی، بلکې د "کواکب "(سیارو) ذکر یې کړی.

په داسې حال کې چې په سورة الملک (67:5) کې خدای ج د ټولو سماوي اجسامو لپاره د بمصابیح لفظ کرولی:

"وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ"...

"او په تحقیق مونږ. نږدې اسمان په څراغونو سره ښکلا کړی دی."

د شاید ټولو اسماني اجرامو لپاره استعمال شوي

نن ورځ موږ. پوهیږو چې ولې خدای ج د نجم ذکر ندی په خپل حکمت سره، دا یو حیرانونکی علمي اعجاز دی، ځکه چې که څه هم ستوري رڼا تولیدوي، خو د کایناتي ښکلا اساس سیارې دي.

ستوري د اور د ګولو په څېر دي چې د هايدروجن د اتومي تعاملاتو له امله رڼا او تودوخه توليدوي، خو د فزيکي جوړښت له مخې متنوع نه دي .برعکس، سيارې فزيکي، کيمياوي، او بصري جوړښتونه لري، چې د هغوی ښکلا څو چنده کوي.

ساينسپوهانو دا منلې چې د ستوريو ښکلا يوازې د رڼا او ځلا له امله ده، خو د سيارو ښکلا د هغوی د سطحي ځانګړتياوو، بادلونو، حلقو، او موادو له ترکيب سره تړلې ده.

دا چې ۱۴۰۰ کاله مخکې قرآن کريم د" کواکب "(سيارو) زينت بيان کړی، نه د ستوريو، دا يو ښکاره قرآني اعجاز دی، ځکه چې دا حقيقت ساينس يوازې په وروستيو پېړيو کې درک کړی.

پايله:

دا حقيقت چې قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله مخکې د" کواکب "د زينت ذکر کړی، نه د ستوريو، د الهي وحې يو ښکاره ثبوت دی.

سبحان الله!



**د اسمانونو جوړښت**

اللوسي رحمه الله د قرآن په تفسير کې يوې داسې عبارت ته اشاره کوي چې د ځمکې او اسمانونو ترمنځ د تناسب په اړه خبرې کوي .هغه وايي چې:

د ځمکې اندازه د لومړي اسمان په پرتله د دښتې د حلقې په اندازه ده.

د دوهم آسمان په پرتله د لومړي اسمان اندازه د دښتې د يوې حلقې په اندازه ده، او دغه تناسب تر اووم آسمان پورې دی.

د اووم آسمان اندازه د الله تعالی د کرسي په پرتله د دښتې د حلقې په شان ده.

د کرسي اندازه د عرش په پرتله هم په ورته توګه د دښتې د حلقې په شان ده[ .روح المعانی ]

دا دې  اللوسي رحمه الله د تفسیر یو تعبیر دی.

الحديث حسن؛ وقد أخرجه أبو بكر بن مردويه بمسنده مرفوعا قال:

أخبرنا سليمان بن أحمد، أخبرنا عبد الله بن وهيب الغزي، أخبرنا محمد بن أبي السري العسقلاني، أخبرنا محمد بن عبد الله التميمي، عن القاسم بن محمد الثقفي، عن أبي إدريس الخولاني، عن أبي ذر الغفاري، أنه سأل النبي- صلى الله عليه وسلم -عن الكرسي، فقال رسول الله- صلى الله عليه وسلم:-

«والذي نفسي بيده، ما السماوات السبع والأرضون السبع عند الكرسي إلا كحلقة ملقاة بأرض فلاة، وإن فضل العرش على الكرسي كفضل الفلاة على تلك الحلقة»

ورواته ثقات.

ژباړه:

دا حدیث حسن دی، او دا یې ابوبکر بن مردویه له خپل مسند نه مرفوعاً روایت کړی دی.

ابوذر الغفاري رضي الله عنه وایي :ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د" کرسي( "د الله تعالی کرسي )په اړه وپوښتل.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«قسم په هغه ذات چې زما نفس یې په لاس کې دی، دا اووه آسمانونه او اووه ځمکې د الله د کرسي پر وړاندې داسې دي لکه یوه حلقه چې د یوې لویې دښتې( فلاة )پر سر غورځېدلې وي، او د عرش فضیلت پر کرسي باندې د دښته پر هغه حلقه باندې د فلاة فضیلت په څېر دی.»

او د دې روایت ټول راوایان ثقات دي( یعني د باور وړ دي.)

دوهم روایت:

ابن احمد) عبدالله بن احمد (دا حدیث د خپل پلار له کتاب السنّة) حدیث نمبر (456 - 438 کې موقوفاً(یعني د صحابي قول )د مجاهد بن جبر رحمه الله څخه راخیستی دی:

مجاهد رحمه الله وایي:

«ما السماوات والأرض في الكرسي إلا كحلقة في أرض فلاة»

یعني" :آسمانونه او ځمکه د کرسي په وړاندې یوائې داسې دي لکه یوه حلقه چې په لویه دښته کې وي".

او ویل شوي چې مجاهد رحمه الله له ابوذر رضي الله عنه نه دا اوریدلي، نو دا خبره هم د صحابي له قوله ثابته ده.

دلته یي د حوالې لینک دی:

http://alkulify.blogspot.com/2014/06/blog-post_3733.html?m=1

البیقاعي رحمه الله بیا په خپل کتاب" نعم الدرار في تناسوب الآیات الصوار "کې د قرآن د آیتونو تفسیر کوي:

"الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا"سورت الملک ٣"

"هغه ذات چې پیدا کړی دی اووه اسمانونه لاندې باندې(طبقې طبقې")

" خَلَقَ الله سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا "سورت نوح٢٠-١٣

“چې الله اووه اسمانونه لاندې باندې(طبقې)پیدا کړي دي”

ددغو تفسیر داسې کوي چې د اسمانونو ترتیب د طبقو په څیر بیان شوی دی .هغه وایي:

قرآن د اسمانونو په اړه وایي چې هغوی د متناسب طبقو په څیر جوړ شوي دي، هر اسمان د بل نه پورته دی او دوی ټول د یو بل سره همغږي لري.

د هغه په وینا، دا هغه وخت ممکنه ده چې ځمکه کره وي او لومړی اسمان د ځمکې په شاوخوا کې داسې محاصره کوي لکه څنګه چې هګۍ د خپل پوټکي سره محاصره کوي.

دا تناسب د اسمانونو ترمنځ همداسې پر ځای پاتې کيږي، تر دې چې د الله تعالی عرش د ټولو اسمانونو څخه لوړ دی.

د البيقعي( رح )تفسير دلته کتلی شی

}ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ(3) {

"هذا التقدير من غير مثال سبق } سبع سماوات { حال كونها } طباقاً { جمع طبق كل واحدة منها كأنها لشدة مطابقتها للأخرى طالبة مطابقتها بحيث يكون كل جزء منها مطابقاً لجزء من الأخرى ، ولا يكون جزء منها خارجاً عن ذلك {[66695]}وهي لا تكون كذلك إلا بأن تكون الأرض كرة والسماء الدنيا محيطة بها إحاطة قشر البيضة بالبيضة من جميع الجوانب ، والثانية محيطة بالدنيا و{[66696]}هكذا إلى أن يكون العرش محيطاً بالكل ، والكرسي الذي هو أقربها إليه بالنسبة إليه كحلقة ملقاة في فلاة ، فما ظنك بما تحته ، وكل سماه في التي فوقها بهذه النسبة ، وقد قرر أهل الهيئة أنها كذلك ، وليس في الشرع ما يخالفه ، بل ظواهره توافقه ، ولا سيما التشبيه بالحلقة الملقاة"{[66697]}

دلته يي لينک دی:

https://quran-tafsir.net/beqaay/sura67-aya3.html?utm

په دې تفسير کې د الله تعالی کرسي او عرش ته ځانګړې اشاره شوې، او په دې اساس، کرسي د عرش ته تر ټولو نږدې دی او د عرش په پرتله د دښتې د حلقې په څير دی، چې په صحرا کې غورځول کيږي.

د علمي اړخ په اړه:

د ستورپوهانو لخوا هم دغه ډول مفاهیم تایید شوي چې کائنات په متناسب طبقو کې جوړ شوی دی، او دا ډول څرګندونې په قرآن کې د موجوده علمي پوهې سره سمون لري.

او دا چې ځمکه د یوه کوره ده نو ننۍ عصر او د قرآن عظیم شان له نظره هم نو ددوی دا وړاندوینې بلکل سمې او پر ځای دی.

دا د قرآن د آیتونو تفسیر دی چې د کائنات د جوړښت په اړه یوه ځانګړې علمي لیدلوری وړاندې کوي.

د شریعت سره سمون:

د دې تفسیر سره هیڅ داسې دلیل نه شته چې په شریعت کې یې رد شي، بلکه دا د قرآن د آیتونو سره ښه سمون لري.




## ټول ستوری ځرخیدل آن په خپلو مدارونو کې

د ننی معصرې ټینالوجی او د لویو لویو ټیلېسکوپونو پر مټ دا مونږ ومونده چی دا ستوری کوم چی مونږ یی په خپلو سترګو وینو او نه یی وینو، **Bubbles**، په هغو کې **Universes** جهانونه، او په هغو کې **Glaxays** کهکشانونه، او په هغو کې **Stars** ستوري او **Solar systems** لمریز نظامونه، او په لمریزو نظامونو کی **Planets** سیارې، ټول هر یو په خپل مدار کې د حرکت په حال کې دی آن بعضې یي په یو وخت کې څو ډوله حرکت کوي، د مثال په توګه ځمکه: ځمکه په یو وخت کی درې ډوله خرکت کوي لومړی په خپل مدار باندې ځرخیدل، یعنې په ۲۴ ساعتونو کی شپه او ورځ رامنځته کول دوهم: ځمکه د لمر په خوا او شاو راڅرخیدل په خپل مدار کې کوم چې ۳۶۵ ورځې وخت نیسی او دې سره یو کال رامنځته کوی، دریم: ځمکه د لمریز نظام سره د **Milky way** شودو لارې په کهکشان کې حرکت کول کوم چې یو میدار یي ۲۰۰ میلیونه کاله وخت نیسي، نو په دې ترتیب سره ټول ستوري په اسمان کې ځي روان دی نو دا هرڅه په شلمه پیړی کې کشف شول کوم چې دا هر څه څوارلسوه کاله دمخه په قران عظیم شآن کې بیان شوی،

الله تعالی فرمایي: وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ. القرآن ۳۶:۴۰.

ژباړه: او ټول ستوری په آسمان کې لمبو وهي.

الله تعالی فرمايي: كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ.القرآن ٢١: ٣٢.

ژباړه: هر يو يي له دې(ستورو) څخه په خپل آسمان کې لمبو وهي.

۱۴۰۰ کاله دمخا دا ډول خقيقت بيانول د بشر له وسه پورته خبره وه؟

او حال دا چې رسول (ص) اُمی وو ليک او لوست يي نشو کولی نو دا بلکل ددې ګواهي ورکوي چې دا قرآن د الله په علم سره چې د کائناتو مدابېر باچا غالب عالم خدای دی نازل شوی دی.




## د ستورو بې نوره کېدل

الله تعالی فرمايي: «فَإِذَا النُّجُومُ طُمِسَتْ»

"کله چی ستوري تياره شي" قرآن کريم ٧٧:٨

د قرانکريم ساينسي نښې

د ستوری رڼا د خپلې مرحلې سره توپیر لري.

۱۴۰۰ کاله دمخا دا د ټولو خلکو باور و چې ستوري تلپاتې دي او چا دا تصور نشو کولی ستوي هم بې بې رڼا کیږي

په قرآن کریم کې د ستورو رڼا توپیر لري.

شکمنان ادعا کوي چې هر چا چې قرآن لیکلی، خطا یې کړې ده[الغیاذبالله]. دوی وایي چې د ستورو رڼا نه بدلیږي. نن ورځ ساینس پوهان تاییدوي چې د دوی رڼا د مرحلې سره توپیر لري. ستوري کولی شي خپل ژوند له دریو مرحلو څخه په یوه کې پای ته ورسوي:ډورف، نیوټرون ستوري یا تور سوري؛

د دوی رڼا د مرحلې سره توپیر لري.

د ستوری ارتقاء

د ستوري پاتې شوني وروسته له هغه چې ستوري خپل د تیلو اکمالات له مینځه یوسي، د هغې پاتې شوني کولی شي د خپل ژوند په جریان کې د ډله ایزې کچې پورې اړه ولري.

- سپین او تور ډورفونه- نیوټرون ستوري - تور سوري.

ویکیپیډیا، ستوري ارتقاء، 2019

مګر هر یو چې د هغې بڼه شي، خو نور په سترګو نه لیدل کیږي. دا یوازې په دې وروستیو کې وپیژندل شوو. خو قرآن کریم 1400 کاله وړاندې ویلي وو چې ستوري به خپله رڼا له لاسه ورکړي:

قرآن ۷۷:۸: فَإِذَا النُّجُومُ طُمِسَتْ

"کله چی ستوري تیاره شي"

په عربي ژبه کې "طُمِسَتْ" معنی چې "رڼا ورکه کړي". نن ورځ موږ پوهیږو چې ټول ستوري به په نابشکاراکیدونکي بڼه له سترګو پټ او ورک شي.



**د کائنات ښه تنظیم**

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن
فُطُورٖ ٣ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ يَنقَلِبۡ إِلَيۡكَ ٱلۡبَصَرُ خَاسِئٗا وَهُوَ حَسِيرٞ ٤

سورة الملک :۳-۴

ژباړه" :هغه ذات چې اوه اسمانونه يې په بشپړ ډول يو له بل دپاسه برابر کړي دي، ته به د رحمن په پیدايښت کې هېڅ نقص ونه وينی !نو بيا خپل نظر وګرځوه :ايا ته کوم عيب وينې؟ بيا بيا خپل نظر واړوه، ستا نظر به بېرته تا ته راشي، ستړی او دی به ناکام وي

د آيت علمي اعجاز – د کائنات دقيق تنظيم**(Fine-Tuning)**

ساینس پوهان نن دا تصدیق کوي، چې زموږ کائنات دقیق تنظیم شوی دی، داسې چې که د طبیعت بنسټیز قوانین یو لږ تغیر هم وکړي، نو ژوند به ناممکن شي.

د کائنات تنظیم د لاندې برخو څخه عبارت دی:

**1** د جاذبې قوه‌که لږ کمزوری یا ډېر قوي وای، نو یا به ستوري نه جوړېدل، یا به ټول کائنات راولوېده

**2** د الکترومقناطیسي قوه **:**که دا لږ تغیر درلود، نو کیمیاوي تعاملات به ممکن نه وو.

**3** د نیوټون جاذبوي قانون **:**که دا یو کمزوری یا قوي وای، نو کهکشانونه به یا نه جوړېدل یا به خرابېدل.

**4** د پروټون او نیوټران اندازه **:**که دوی لږ تغیر درلود، نو اتوم به جوړېدلای نه شوای، او ژوند به نه و.

**5** د فضا پراخېدل **(Expansion of the Universe):** که دا ډېر چټک وای، نو کهکشانونه به نه جوړېدل، او که ډېر ورو وای، نو ټول کائنات به بېرته راټسکته شوی وای.

دا ټول قوانین د کائنات په جوړښت کې یو له بله سره دقیق تنظیم شوي دي**!**

د ستورو او سیارو حیرانوونکی ډیزاین – د خدای ج د قدرت شاهدي

که موږ د کائنات جوړښت ته وګورو، نو د حیرانتیا وړ منظره وینو:

ستوري د څراغونو په څېر ځلوي **!**قرآن وايي:

وَلَقَدْ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ **...**سورة الملک **:**۵

**"**او موږ د نږدې آسمان ښکلا په څراغونو**(** ستورو **)**سره سینګار کړی

که موږ د کائنات د جوړښت نقشه وګورو، نو کهکشانونه، ستوري، سیارې، او سپوږمۍ داسې یو تنظیم لري، لکه یو حساب شوی انجنیری ډیزاین**!**

د ځمکې مدار او کره والي ته پام وکړئ:

که ځمکه لږ لیرې وای، نو ژوند به ساړه او منجمد وای.

که لږ نږدې وای، نو ژوند به د تودوخې له وجې ممکن نه وای.

که سپوږمۍ نه وای،

نو د ځمکې تیلت به تغیر موندلی وای، چې د اقلیم بدلونونه به یې سخت کړي وای.

د ځمکې مقناطیسي ډال **(Magnetic Field)** د لمر د خطرناکو وړانګو څخه ساتنه کوي.

دا ټول د تصادف کار نه دی، بلکې د یوه ستر ذات – الله ج –د دقیق حساب او علم شاهدي ورکوي

۱۴۰۰

کاله مخکې دا معلومات چا درلودل؟

د قرآن د نزول پر مهال هېڅوک د کائنات د تنظیم د دې حیرانوونکو رازونو څخه خبر نه وو.

نه هغه وخت میکروسکوپ و، نه ټیلسکوپ، نه د فزیک قوانین کشف شوي وو.

خو قرآن وویل،" بیا بیا خپل نظر واړوه، ته به کوم نقص پیدا نه کړې"!

نن ساینس پوهان مني، چې کهکشانونه، ستوري، او سیارې داسې تنظیم او ډیزاین شوی دی چې یو ډیزاینر لري

دا یو روښانه اعجاز دی، چې قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې د کائنات د ښه تنظیم یادونه کړې ده

دا هر څه موږ ته د خدای ج د شتون ښکاره دلیل دی

آیا دا امکان لري، چې دا هر څه تصادفي رامنځته شوي وي؟ نه، بلکې دا د هغه ستر خالق، الله ج، د قدرت ښکاره نښه ده!

إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ

لآيَاتٍ لِأُوْلِى الأَلْبَابِ) سورة آل عمران :۱۹۰

بېشکه چې د آسمانونو او ځمکې په پیدایښت کې، او د شپې او ورځې په بدلون کې، د! عقل خاوندانو لپاره نښې دي

نو ای انسانه !د دې ټول کائنات تنظیم ته وګوره، د ستورو د ښکلا، د ځمکې د ترتیب، او د سیارو د حیرانوونکي ډیزاین ته پام وکړه !دا ټول د یوه ستر خالق – الله ج  قدرت دی، چې ته یې باید وپیژنې او یوازې د هغه عبادت وکړې

سبحان الله !قرآن د علم او حقایقو کتاب دی، او هره ورځ یې نوي معجزات رابرسېره کېږي!



**د ځمکې پیدا کول په شپږو ورځو کې**

د کایناتو پیداېښت په شپږو ورځو کې – د قرآن کریم او عصري ساینس ترمنځ اعجازي ارتباط

قرآني بیان:

الله تعالی فرمایي:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ

(سورة الأعراف – آيت ۵۴)

ژباړه" : بېشکه ستاسو رب هغه الله دی چې اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړي دي، بيا د عرش له پاسه برقراره شو".

د شپږو ورځو مفکورې علمي تحليل:

د قرآن کريم د" شپږو ورځو "مطلب ځيني خلک د ځمکنۍ ورځې په معنا اخلي، خو د قرآن د بيان طرز، د وخت نسبي والي، او د کاينات د پراخوالي له نظره، دا شپږ ورځې ممکن نسبتي يا کيهاني ورځې وي.

د فزيک له مخې، وخت نسبي دی — دا معنا چې وخت د سرعت، جاذبې، او کائناتو د شرايطو له مخې توپير کوي.

نسبتي وخت :د کايناتو يو ورځ = يو ميليون ميليون ځمکنۍ ورځې!

د ساينس له مخې:

که د کايناتو د پيدايښت سرعت، د مځکې د معياري وخت سره پرتله شي، نو

د کايناتو يوه دقيقه = يو ميليون ميليون ځمکنۍ ورځې

نو د قرآن" شپږ ورځې "که د کايناتو وخت وي، دا به ۶ ټریلیون ځمکنۍ ورځې وي.

راځئ دا شمېر حساب کړو:

۶ ټریلیون ورځې ÷ ۳۶۵ ورځې/کال= تقریباً ۱۶.۴۲۷ بیلیونه کاله
دغه رقم د نننی ساینسي اټکل ورسره تقریباً برابر دی، ځکه:

ساینس هم وایي چې د کایناتو عمر شاوخوا 13,8 بیلیونه کاله دی،

او ځینې معاصرو نظریو کې دا تر ۱۷ بیلیونو کالو اټکل شوی دی.

د شپږو ورځو د تجزیې یو احتمالي ترتیب د مځکې د وخت له مخې:

که دا ۱۶,۴۲۷ بیلیونه عدد د کال په ورځو چې ( ۳۶۵,۲۵ ) وی تقسیم کړو دا (۱۷,۴۲۷۱۰۴۷۲۳ بیلیونه کاله کیږی لومړی ورځ یې (۸) بیلیونه کاله د مځکې دویمه ورځ یې (۴) بیلیونه کاله د مځکې در یمه ورځ یې (۲) بیلیونه کاله د مځکې څلورمه ورځ یې (۱) بیلیونه کاله د مځکې پېنځمه ورځ یې (۵۰۰) میلیونه کاله د مځکې شپږمه ورځ یې (۲۵۰) میلیونه کاله د مځکې کیږی

دغه ترتیب ښیي چې د کاینات د تکامل بهیر په تدریج روان و، او هره مرحله د وخت یو لوی اوږدوالی لري.

پایله:

قرآن کریم چې وایي" :په شپږو ورځو کې آسمانونه او ځمکه پیدا شول"، دا واقعاً یو کیهاني او نسبتي بیان دی.

دا شپږ ورځې د الله د وخت نظام ته راجع دي، نه د انسان د ۲۴ ساعته ورځې.

ساینس همدا اوس دا ثابتوي چې کاینات په میلیاردونو کالو کې جوړه شوې،

او د نسبي وخت اساس د آینشتاین د نظریې له مخې، کاملاً علمي بنسټ لري.

نو دا یو لوی اعجاز دی چې قرآن کریم دا حقیقتونه تر هرچا مخکې بیان کړي، او نننی ساینس د هغه تصدیق کوي.

کله چې کاینات پیدا کیدل د هغه سرعت یو میلیون میلیون کاله نسبت مځکې ته ډیر وو که دا وخت محاسبه کړو یو میلیون میلیون ورځي د مځکې د کایناتو د یوې دقیقې سره برابره ده د مځکي له عمره تقریباً (۱۷-۱۷) بیلیونه کاله تیریږی او قرآن کریم وایې په شپږ ورځو کې کاینات جوړ شوي دي دا شپږ ورځي د نسبتي وخت په اساس محاسبه شوي دي چې دا شپږ میلیون میلیون یا شپږ تریلون ورځي کیږی ځکه د کایناتو وخت نسبت مځکي ته یو میلیون میلیون چنده لوړ دی نو د مځکې په وخت کې

چې دا ټوله کیږی ۱۵ بیلیونه او ۷۵۰ میلیونه کاله د مځکي چې د کایناتو یوه ورځ کیږی



## آسماني نيبولاوې

قال الله تعالی:

( فَإِذَا انشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ )

الرحمن :۳۷

ژباړه:

"نو کله چې آسمان څیرې شي، نو هغه به د سور ګل په شان شي، لکه غوړ تیل".

نیبولا څه شی دی؟

نیبولا یو ډېر لوی غازي او دوړو لرونکی بادل دی، چې د کائناتو په ژور فضا کې واقع وي . دا د ستوریو د تولد او یا مرګ له امله منځ ته راځي .نیبولاوې د ګلونو، شعلهو یا شنو، سرو، بنفشي، او نارنجي رنګونو په زړهراښکونکو بڼو ښکاري.

د نیبولا ځینې مشهورې بڼې:

– Rosette Nebula لکه د سرو ګل یوه لویه ګیډۍ

Red Spider Nebula

Hilex nebula

Cat’s Eye Nebula

– Eagle Nebula  د پیدایښت ستنې

دا ټول نیبولاوې دقیقا د قرآن د «وَردةً کَالدِّهان» تشبیه دي.

د لمر د مرګ مرحله او د سور ګل تشبیه

ساینس وایي چې اوسنی لمر به په راتلونکو پنځو میلیاردو کالو کې د ژوند وروستۍ مرحله ته ننوځي، چې هغې ته Red Giant یا سور لوی ستوری وایي .دا مرحله کې لمر:

پړسیږي

خپل روښانه ګازونه خپروي

او نهایتاً د نیبولا بڼه غوره کوي

دا حالت د يو سور، شين، يا ژيړ ګل په څېر ښکاري، عيناً د هغه قرآن تشبيه سره چې وايي : "فكانت وردة كالدّهان "نن ورځ ساينس تاييدوي چې لمر به سور رنګ واخلي.

علمي اعجاز

قرآني عبارت ساينسي واقعيت وردةً نيبولاوې د ګلونو په شکل دي کله ده اننيبولاوې د تېلو يا روان رنګونو غوندې ښکارېږي انشقت السماء د لمر او ستورو د مرګ پر مهال آسماني انفجارونه او نيبولا رامنځته کيږي

دا ټول ۱۴۰۰ کلونه مخکې بيان شوي.

قرآن كريم:

د آسمان د سور ګل سره تشبيه کوي

د غوړو، خوځنده، ښکلې رنګونو ذکر کوي

دا ټول صفات يوازې نيبولاوې لري

ساينس دا تصويرونه اوس د تلسکاپونو له لارې ثابتوي، خو قرآن دا تصوير ۱۴ پېړۍ وړاندې وړاندې کړی

( أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ )

"ایا دوی په قرآن کې غور نه کوي؟"



## د لمریز نظام پیدایښت او د قرآن کریم اعجاز

آیت مبارک:

(ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ)
(سورت فصلت11 :)

ترجمه:

"بیا الله □ آسمان ته متوجې شو، حال دا چې هغه( آسمان) لوګی( دخان) و؛ نو هغه آسمان او ځمکې ته وفرمایل :چې په خوښه او یا زور راشئ !دوی وویل :موږ خو په خوښه راغلو".

د آیت علمي اعجاز:

دا آیت د یو ډېر لوی علمي حقیقت خبر ورکوي، هغه دا چې:

آسمان( او کهکشاني فضا) د" دخان "څخه جوړ شوی و.

ساینس وایي چې د کایناتو په پیل کې، وروسته له لویې چاودنې (Big Bang) ، فضا د ګرمې ګازو، دوړو، او پلازما له یو ګډ حالت (nebular gas cloud) نه ډکه وه .دا د قرآن د کلمې" دُخَانٌ "سره کامل مطابقت لري، چې معنی یې ده :لوګی، ګرم ګاز، یا دوړو ډک حالت.

ساینسپوهان وایي چې لمریز نظام د دوړو او ګرمو ګازونو (nebula) له غټ بادامي شکل څخه پیدا شو.

دا دوړې او ګازونه د ثقل (gravitational collapse) له کبله راټول شول، لمر یې په منځ کې پیدا کړ، او د لمر شاوخوا یې نور سیارې، شهابونه او د سیارو قمرونه جوړ کړل.

قرآن فرمایي" :اې آسمانه او ځمکه !په خوښه یا ناخوښه، راشئ — "دا یو ښکلی تعبیر دی د قانون gravity لپاره، ځکه چې دا اجرام" په اطاعت "راجمع شول.

د لمر پیدایښت:

(وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا)( سورت النبأ13 :)

ترجمه:

"او مونږ لمر یو ډېر بلیدونکی څراغ پیدا کړ".

ساینس وایي چې لمر یو حرارتي فضاوي څراغ دی، چې انرژي د اتومي فیوژن (nuclear fusion)له لارې تولیدوي، کوم چې قرآن یې په کلمه" وَهَّاج( "یعني ډېر بلیږونکی، تودوخه خپرونکی) سره یاد کړی.

د لمر اصلي مادې هایډروجن او هیلیم دي، او همدا مادې د دوړو د غټو کلاوډونو (nebula) اصلي عناصر وو.

لمریز نظام (Solar System) څنګه جوړ شو؟ (د علمي نظریو خلاصه)

Big Bang شاوخوا 13.8 میلیارده کاله مخکې واقع شو.

ګرم ګازونه (دخان) خپاره شول.

د ثقل له کبله دا ګازونه راټول شول، او یوه ستره" نیبولا "جوړه شوه.

د نیبولا مرکز کې حرارت دومره زیات شو چې لمر پیدا شو.

نورې برخې د سیارو، کمېټونو، او قمرونو په بڼه جلا شوې.

دا ټولې پروسې ته قرآن کریم اشاره" : دخان → "ثقل → اطاعت → لمر → منظومه"

پایله:

قرآن کریم په ډېر دقیق، خو لنډ او بلیغ عبارت کې د کهکشانونو، نیبولا، او لمریز نظام د پیدایښت د پروسې یادونه کړې.

دا آیت د یوه داسې حالت توضیح کوي چې تر ۲۰مې پېړۍ پورې هېڅ انسان پرې نه پوهېده.

دا ښیي چې قرآن یو انساني لیک نه دی، بلکې د عالم الغیب و الشهادة له طرفه نازل شوی الهي کتاب دی.




## د لمر خرکت د Solar apex پرلوري

کله چې ساینس‌پوهانو دا وموندله چې لمر په ډېر لوړ سرعت سره حرکت کوي، نو دا يې هم وموندله چې دا حرکت به تلپاتې نه وي؛ بلکې لمر د اسمان د" هرکولیس (Hercules) " ستوریز ډلبند ته نيږدې يوې ځانګړې نقطې پر لور روان دی، چې هغې ته "Solar Apex" يا" د لمر د لارې هدف "ويل کيږي.

د لمر دا حرکت د شاوخوا ۲۰ کیلومتره په ثانیه (یا ۱۲ میل په ثانیه) سرعت سره ترسره کيږي!

په يوه فوق‌العاده ډول، قرآن کريم دا حيرانوونکې حقيقت داسې بيان کړی چې هم د لمر پر سرعت ټينګار کوي، او هم دا روښانه کوي چې لمر يوه ټاکلې نقطې ته روان دی:

(وَٱلشَّمْسُ تَجْرِى لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ) ژباړه" :او لمر د يوه ټاکلي ځای پر لور روان دی، دا د زبردست او پوه ذات اندازه ده ".(سورة يس، آيت ۳۸)

دا دومره دقيق او معجزانه بيان د لمر — زموږ تر ټولو نږدې ستوري — په اړه، موږ ته دا سوال را ولاړوي :څوک، پرته له لوی الله جل جلاله، کولی شول چې دا ډول کامل او حقايقو سره سم بيان ۱۴ پېړۍ وړاندې وړاندې کړي؟



**بروجونه**

د قرآن کريم آيتونه چې د "بروج" يا آسماني برجونو په اړه يادونه کوي، او د "ستوريزو لوګيو " (**Nebulae**) حيرانوونکي برجونه ، دواړه د کائنات د عظمت او د الله تعالی د تخليقي قدرت ښکاره نښې دي.

قرآني ذکر د بروج:

الله تعالی په خپل کتاب کې د آسماني برجونو او ستورو د تنظيم او ښکلا په اړه داسې يادونه کړې ده:

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ (البروج: 1):

ژباړه: "قسم دی په آسمان چې خاوند برجونو دی."

دا آیت د آسماني نظم، د ستورو او د برجونو د ځانګړي ترتیب په اړه د الله تعالی پر قدرت ټینګار کوي.

تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُنِيرًا (الفرقان: 61):

ژباړه: "برکتناک دی هغه ذات چې په آسمان کې یې برجونه پیدا کړل، او په هغې کې یې یو څراغ (لمر) او یوه رڼا (سپوږمۍ) ځای پر ځای کړه."

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ (الحجر: 16):

ژباړه: "او په تحقیق چې موږ په آسمان کې برجونه پیدا کړل او هغه مو د کتوونکو لپاره ښکلي کړل."

د بروج مفهوم په تفسیر کې:

قتاده او السدي وویل: بروج د ستورو ځانګړي موقعیتونه دي.

المنحل بن عمرو وویل: "وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ" د آسمان هغه ښکلی مخلوق دی چې برجونه یې نیولي دي.

ابن جریر د دې نظر تایید کړی چې له بروج څخه مراد د لمر او سپوږمۍ د حرکت لپاره ځانګړي موقعیتونه دي.

لمر د دغو دولسو برجونو له لارې هره میاشت یو ځل سفر کوي.

سپوږمۍ د دغو برجونو له هرې یوې څخه په دوه یا درېیو ورځو کې تیرېږي، چې په ټولیز ډول اتلس مقامونه جوړوي، او دوه شپې پټ پاتې کېږي.

د "ستوریزو لوګیو" او برجونو اړیکه:

، موږ د "ستوریزو لوګیو برجونه" یا نبیولا یوه ښکاره بېلګه وینو. دا منظره د ستورو د پیدایښت او ستوریزو موادو د خپریدو ځای دی. دا ډول سیمې، لکه " **Pillars of Creation**"، د کائنات د حیرانوونکي جوړښت یوه برخه ده.

د قرآن کریم د بروج یادونه د دې ستوریزو لوګیو سره مستقیم تړاو لري، ځکه چې دا هم د آسماني تنظیم، ښکلا او الهي قدرت یوه بېلګه ده.

علمي تشریح:

برجونه د آسمان هغه برخې دي چې د لمر، سپوږمۍ او نورو سیارو حرکتونه په کې ترسره کېږي.

او د "ستوریزې لوګیو" د ستورو د پیدایښت ځایونه دي، چې د دې برجونو د جمال او عظمت یوه برخه ګڼل کېږي.

د ایمان ځای:

د قرآن کریم د آیتونو، د بروج مفهوم، او د دې ستوریزو لوګیو ترمنځ اړیکه موږ ته په لاندې برخو کې یو لوی درس راکوي:

د الهي تنظیم عظمت: کائنات په منظم او ښایسته ډول ترتیب شوی دی.

د انسان عاجزي: د دې ستوريزو لوګیو او برجونو عظمت موږ د الله تعالی د قدرت په وړاندې عاجزوي.

د تدبر دعوت: د "بروج" ذکر او دا ډول آسماني منظرې د انسان لپاره د تفکر او شکر سرچینه ده.

پایله:

په قرآن کې یاد شوي بروج، د تفسیر له مخې د ستورو او لمر و سپوږمۍ ځانګړې ځایونه، او د ستوریزو لوګیو حیرانوونکي برجونه، دواړه د کائنات د هغه نظم ښکلي نښې دي چې الله تعالی په خپل بې مثاله قدرت سره رامنځته کړې دی. دا برجونه او ستوریزې لوګۍ زموږ لپاره د الله تعالی د قدرت ښکاره او نه انکارېدونکي ثبوتونه دي.




**تور سوري،او د تور سوري شاوخوا د لمر حرکت**

لومړۍ حؤاله: "تور سورى يا'**Black holes**'"

دوهمه حؤاله: "لمر"

بسم الله الحمد لله اللهم صلي علي سيدنا محمد

الله سبحان وتعالى فرمايي:

**«فَلَا أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ»**

«نو نه، زه پر پټېدونکو[عيبدونکو] ستورو قسم کوم. »

**«الْجَوَارِ الْكُنَّسِ»**

[«پر روانو، جارو كونكو باندې »]التكوير ۱۴-۱۵

له بده مرغه د دې دوو آيتونو په تفسير كې ډېرو پوهانو – د كافي تخنيكي پوهې د نشتوالي له امله – په غير كره توګه ژباړلي دي خو موږ به يې ان شاالله ښه مفهوم بيان كړو.

په سورة الناس كې د خنس كلمه هم د شيطان لپاره كارول شوې ده چې د شيطان پټ دى؛ نو د تكوير په 15 آيت كې په هغه څه باندې قسم شوى دى چې پټيږي.

له دې وروسته په ١٦ آيت كې د الجوار كلمه د وهلو(تللو) كلمه ده چې په هغه چا باندې قسم كېږي چې جاري وي .او د كنس (كناس) كلمه د جارو كولو(صفا كولو) په مانا ده؛ نو په هغه چا باندې قسم دى چې جارو (صفايي) كوي .

نو زه پوښتنه کوم؛ په کایناتو کې کوم شیان د پټیدو، جریان کولو او جارو کولو دا درې ځانګړتیاوې لري؟

ځواب: بالکل تور سوراخ (**Black hole**) دی.

ځکه چې تور سوري پخپله نه لیدل کیږي، دوی یوازې د خپلو شاوخوا اغیزو سره کشف شوي دی.



تور سوري هم په فضا کې جریان لري او تور سوری هغه څه پاکوي چې د دوی د واحد افق په شاوخوا کې شتون ولري ، نو موږ کولی شو ووایو چې الله سبحانه وتعالی په تور سوري یا بلاک هولونو باندې قسم کوي ځکه چې دا یوه ډیره زړه پورې پدیده ده چې د قسم کولو مستحق ده. د تکویر د څپرکی د 15-16 دا دوه آیتونه زموږ لومړی حواله ده.

زموږ دویمه حواله لمر دی.

لکه څنګه چې موږ په مرکزي توګه پوهیږو، د لمر په سورت (سورت الشمس) کې لومړي ایاتونه په لاندې ډول ذکر شوی؛

«وَالشَّمْسِ وَضُحٰـهَا ›»

1-91«قسم دی په لمر باندې او د هغه په رڼا باندې »

« وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا »

2-91« اوسپوږمۍ باندې کله چې په ده پسې وروسته راځي»

نو موږ دوه آیتونه واخستل، لومړی حواله د تکویر سورت په 15-16 ایاتونه چې د تور سوري سره تړلې آیاتونه دي او که تاسو پام وکړئ دا آیتونه د حرکت په اړه هم خبرې کوي؛ او زموږ دوهمه حواله د شمس سورت 1-2 ایاتونه دی کوم چې خبرې کوی په باره د لمر او د لمر حرکت د سپوږمۍ سره - دوباره حرکت څرګندوي. موږ پوهیږو چې زموږ د شودو لارې **Milkyway** کهکشان په مرکز کې یو تور سوري شتون لري او لمر د دې مرکزي لوی تور سوري شاوخوا ګرځي او حرکت کوي. خورا په زړه پورې حقیقت دا دی چې کله موږ د تکویر سورت په 15-16 ایاتونو کې د تور سوري پورې اړوند آیتونه او د شمس سورت په 1 ایات کې د لمر پورې اړوند آیتونو ترمینځ د آیتونو شمیره وګورو؛ موږ ګورو چې پایله یې د تور سوري سره خورا همغږي ده.

د **Milkyway** کهکشان په شاوخوا کې د لمر سرعت څکه که موږ د تور سوري آیتونه حساب کړو د سورت التکویر 15-16 او د لمر آیت ؛ د هغو په منځ کې د آیتونو شمېر **(۲۳۰)** دی.

او که یوازې د تکویر ۱۵-۱۶ او د شمس ۱ آیتونو ترمنځ آیاتونه وشمېرو، او د تکویر ۱۵-۱۶ او د سورت شمس ۱ آیتونه په کې شامل نه کړو، یعني دا درې آیاتونه پاکې ونه شمیرو، نو بیا به ۲۲۷ آیتونه ترلاسه کړو. **ډیر ښه مطابقت؛

د لمر سرعت د ملکي وے کهکشان د مرکز

(د شیدولارې کهکشان د مرکزي تور سوري) په شاوخوا کې د ځینو څېړنو له مخې 227 کیلومتره فی ثانیه او د نورو څیړنو له مخې 230 کیلومتره فی ثانیه دی.** که مو لیدلي وي

چې د تکویر په دواړو آیتونو کې د توري سورى د حرکت په اړه ویل شوي دي او د لمر آیت چې د سپوږمۍ سره د لمر د حرکت په اړه خبرې کوي. نو، د دې لپاره چې موږ د **Milkyways** مرکزي تور سوراخ شاوخوا د لمر سرعت ترلاسه کړو په دې تحلیل کې یو منطق شتون لري.

چې همدغه منطقونه دلته د کتلو دي

الحمد لله رب العالمین

الله اکبر







**اوبه او فضا**

د قرآن عظیم شآن اعجاز

"اوبه او فضا"

د حکمت موضوع

د قرآن کريم د کلمو حکمت او اعجاز

د موهمو کلمو تفصيل لاندې درکړل شوی

«يَسْبَحُونَ»

اوبه او فضا يو شانې ورتاولی لري

خدای(ج) فرمايي: وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ.

القرآن ۳۶:۴۰.

ژباړه: او ټول ستوری په آسمان کې لمبو وهي.

خدای (ج) فرمايي: كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ.

القرآن ۲۱: ۳۲.

ژباړه: هر يو يي له دې(ستورو) څخه په خپل خپل آسمان کې لمبو وهي.

(يَسْبَحُونَ) چې لغوي معنا يي لمبو وهل دي نو خدای (ج) د حکمت ښبنتن دی چې په هر څه کې يي خپل حکمت وي ، د قرآن عظيم شآن هر ايات،لغات،حروف اعجاز دی،

اکسرو ساينس پوهانو دا ګمان وو چې ستوري په کهکشانونو کې په مستقيم ډول حرکت کوي حو اوس دا جاويته شوي ده چې ټول ستوري په کهکشانونو کې د سمندري څپو او د لمبو وهلو په شان حرکت کوي او دا حرکت د شودو لارې کهکشان تر ټولو داقيق حرکت دی.

او په همدې ډول ټول فضانوردان د فضايي تمرينونو لپاره د اوبو څخه ګټه پورته کوي چې دا ددوی سره د فضا په سفر کې مرسته کوي.

د اوبو او د فضا ترمنځ توپیرونه او یوشانتیوالی د ننی عصر د پرمحتللو ټیکنالوجیو پر مټ شوی

په فضا کې او په اوبو کې پاتې کیدل یو شانې ورته والی لري، مګر دوی په بنسټیز ډول مختلف چاپیریالونه لري. دلته ددوی د پرتله کولو ځینې مهم ټکي دي:

ورته والی: د بویانسي اغیز: په دواړو چاپیریالونو کې د بې وزنۍ احساس شتون لري.

په اوبو کې، بویانسي د جاذبې سره مقابله کوي، موږ ته ددې اجازه راکوي چې خپل بدن په اوبو کې په آسانۍ سره پورته فلوټ کړو.

په فضا کې، په ځانګړې توګه په مدار کې، فضانوردان د مایکرو ګرایت تجربه کوي، کوم چې د پورته فلوټ کولو اوبو ته ورته احساس رامنځته کوي.

خوځښت: په دواړو چاپیریالونو کې حرکت کولی شي، دواړه مایع کیدلی شي او د جامد ځمکې په پرتله مختلف تخنیکونو ته اړتیا لري.

په اوبو کې، لامبو وهونکي د ځان د حرکت کولو لپاره سټروک کاروي، په داسې حال کې چې په فضا کې، فضانوردان د لاسونو او بدنونو څخه کار اخلي ترڅو حرکت وکړي.

د چاپیریال ننګونې: دواړه چاپیریال ځانګړي ننګونې وړاندې کوي.

په اوبو کې، د اوبو د لوړ فشار اداره کولو او بدن ته د اکسیجن رسولو ساتلو ته اړتیا شتون لري،

پداسې حال کې چې په فضا کې، د وړانګو، خلاء، او د تودوخې د ډیریدو په اړه اندیښنې شتون لري.

توپیرونه: کشش ثقل: اوبه د جاذبې ځواک وړاندې کوي چې د جاذبې سره مقابله کوي، پداسې حال کې چې په فضا کې، په ځانګړې توګه د ځمکې د اتموسفیر هاخوا، جاذبه لاهم

شتون لري (كه څه هم په مدار كې خورا كمزورى وي). دا په خلا كې د بې وزنۍ احساس لامل كيږي.

فشار: اوبه د ژوروالي پر بنسټ په شيانو فشار راوړي، کوم چې کولی شي د انسان پر فزيولوژي اغيزه وکړي. په فضا کې، يوازې خلا شتون لري، نو د همدې امله د هوا فشار شتون نلري، او د هغې سره مخ کيدل د محافظتي ګير پرته زيانمن کيدی شي.

اتموسفير: اوبه يو مايع وسيله ده چې د ژوند ملاتړ کوي او تنفس کيږی (د آبي ژوند لپاره)، پداسې حال کې چې فضا يو حالت ده او د انسانانو د ژوندي پاتې کيدو لپاره ځانګړي تجهيزاتو ته اړتيا لري.

پايله: د اوبو او د فضا ترمنځ توپيرونه او يوشانيوالی

او د ستورو تګ په کهکشانونو کې د ننۍ عصر د پرمختللو ټيکنالوجيو پر مټ شوی نو دا روښانه ده چې ۱۴۰۰ کاله دمخه خو هيڅوک ددوی په رول باندې نه وو خبر، نو څنګه يو امي سړی چې ۱۴۰۰ کاله پخوا يې په يوه سحرا کې ژوند کولو دداسې يو څه ادراک ورته شوي وي چې هغه آن د تاريخ لويو لويو شحصيتونو يې په اړه فکر هم نه وي کړی هم نوي.



**د ستورو او سيارو لارې 'مدارونه**

الله سبحان وتعالی فرمايي:

"وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُکِ"

« "قسم دی په اسمان چې خواند د ښايسته و لارو (مدارو) دی." »القرآن 51.7

الله تعالی فرمايي:« كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ».القرآن ۲۱: ۳۲.

ژباړه: "هر يو يي له دې(ستورو) څخه په خپل آسمان کې لمبو وهي."

د قرانکريم ساينسي نښې د سيارو مدارونه

د عربي اصطلاح "زات الحبک" معنی ده چې په زړه پورې ډول جوړ شوي لارې (مدارونه).

دا بيان په ښکلي ډول ډيزاين شوي جوړښتونو ته اشاره کوي. د ستورو ځلانده وړانګې چې زموږ د وجود له پيل راهيسې يې موږ ته جادو کړې ، د اسمان په اوږدو کې بې ساري ليد تل زموږ پام ځانته را اړولی ،مګر موږ دوی له پامه غورځولي دي.

ډيری شعرونه او نثرونه هغه زړه راښکونکي احساسات بيانوي چې اسمان د انسان په سينه کې رامينځته کوي. د لمر راپاڅېدل او راښکته کېدل، د سپوږمۍ مرحلې، له ستورو ډک اسمان، د کايناتو د ثابت حالت انځور ورکوي. کائنات د خپلو مدارونو څخه ډک دی چې په پټو سترګو نه ليدل کيږي. هغه ستوري چې په نه منلو وړ سرعت سره حرکت کوي مګر موږ ته ثابت ښکاري. دا حقيقت چې ټول ستوري او آسماني جسمونه په حرکت کې دي يوازې په ساينسي ډول د تلسکوپ کشف او د ساينس پرمختګ وروسته رامينځته شو. په کايناتو کې د کهکشانونو شمير له سلګونو مليونو څخه ډير دی چې هر يو يې له سل مليون څخه ډير ستوري لري چې ځينې لوی او ځينې د لمر څخه کوچني دي. زموږ لمر په نسبي ډول د منځنۍ اندازې دی. دا ستوري د ځمکې په څير ډيری سيارې لري او سيارې زموږ د سپوږمۍ په څير سپوږمکۍ لري.

دا ټول د يوې ګډې نقطې څخه د جلا کيدو وروسته رامينځته شوي. دا ټول ستوري او سيارې او سپوږمکۍ خپل مدارونه لري. د خدای مطلق قدرت د هغه په مخلوق کې څرګند دی.

خدای(ج) چې هر څه يي له يوې نقطې څخه رامينځته کړي دا په ډاګه کوي چې هغه مهارت چې په دې ټکي کې ښکيل نه و له دې څخه د مليماردونو آسماني اجساوو رامينځته کولو سره د هغه د ځواک او تاسيساتو نه ختميدونکی څرګندونه کوی. نو دغه ذات ډير لوی دی، د دغو جسدونو څخه هر يو يي په خپل مدار کې حرکت کوي ترڅو د کائناتو حالت هره ثانيه بدل شي. دا بدلون د هر ستوري، سيارې او سپوږمکۍ په اړوند مدار کې د حرکت په واسطه ترسره کيږي. په کايناتو کې هره شيبه يوه نوې پېښه ده.

"له حرکت څخه استدلال"

د حرکت پروسه د تاريخ په اوږدو کې د ډيری مفکرينو لخوا د مطالعې موضوع وه. افلاطون وويل چې د حرکت سرچينه بايد خدای وي او کائنات د يو ډيزاينر لخوا اداره کيږي. په همدې ډول ارسطو همداسې انګيرله چې خدای بايد لومړی محرک وي، چې هغه ذات په کائنات کې د حرکت اصلي سرچينه او لامل دی. فارابي، د اسلامي نړۍ استازي، دې نتيجې ته ورسيد چې لومړی محرک د ټولو موجوداتو سرچينه وو او هغه، غير حرکت کوونکی، حرکت رامينځته کړی دی. احوان صفا، چې د لسمې پيړۍ يوه فلسفي-ديني ټولنه وه، د علمی آثارو توليد يې وکړ. دې ټولنې د کائناتو حرکت ته اشاره وکړه، دوی د هيڅ شی څخه د تخليق پروسه تاييد کړه، په کائنات کې د حاکميت ترتيب او تل پاتې حرکت ته يې پاملرنه وکړه چې د خدای شتون يې ثابت کړ.

د توماس اکيناس په څير ډيری عيسوی مفکرين هم د کائنات حرکت د يو ستر وجود د ثبوت په توګه ليدلی.

دا حقيقت چې په کايناتو کې حرکت يوازې زموږ په لمريز سيستم يا يو څو ستورو پورې محدود نه دی بلکې په ټوله فضا کې خپور شوی خورا مهم ټکی دی ځکه چې دا د خدای تعالی د قدرت د نه ختميدو ثبوت هم دی. هغه پاملرنه چې آيت په فضا کې مدارونو ته را اړوي هم معنی لري. کهکشانونه په دوامدار ډول حرکتونو کې خپل مدارونه کوي؛ د دوی په مليماردونو ستوري په خپلو اړوندو لارو کې تيريږي. سيارې د ستورو په شاوخوا کې بيضوي مدارونه لټوي؛ او سپوږمکۍ د سيارو په شاوخوا کې چکر وهي،حرکت کوي. که حرکت د مادې د داخلي برخې په توګه نه و جوړ شوی نو موږ به نشو کولی چې د تلويزيون ليدو لپاره په خپلو څوکيو کې په آرامۍ ناست وای. نه به لمر، ځمکې يا زموږ ځانونو شتون درلود. دغو حرکتونو زموږ موجوديت ممکن کړۍ آن زموږ د ټلويزيون ليدلو په وخت کې زموږ د قهوې څښل يي ممکن کړي. دغه حرکتونه دومره په داقيق ډول رامنځته شوي لکه موږ چې

په یو موټر کې ناست یو او موټر حرکت کوي په یو منظم رفتار سره نو موږ خپلې سترګې پټه و بیا موږ هیڅ د حرکت اخساس نه کوو خو که چیرته موټر یو نڅاپه ودرېد نو موږ به مخامخ یوه سخته ډیچکه احساس کړو او یا که چیرته موټر د منظم خرکت څخه تېز شو نو موږ به شاته یوه تېزه ډیچکه احساس کړو نو داغه دقیق ، ترتیب شوي او کامل حرکتونو زموږ مشاهده د خدای ځواک او پوهې تصور کولو لپاره روښانه بلنه ده. خامخا به داسې خلک وي چې دې بلنې ته به غوږونه کانه کړي.



## د ستورو تر منځ پلونه

قرآن کریم د ځمکې او آسمانونو تر منځ د یو ډول اړیکې یادونه کړې، چې اوس ساینس پوهان د پلازما، مقناطیسي ساحو، او بین الستوري ګازونو له لارې تأییدوي.

۱. د ستورو تر منځ فزیکي ارتباط

ساینس پوهان اوس مني چې د ستورو تر منځ خلا **(Vacuum)** مطلقه نه ده، بلکې هلته د پلازما، مقناطیسي ساحو، او بین الستوري موادو شتون موندل شوی. دا مواد د ستورمزلو **(galaxies)** او ستورو تر منځ پُل جوړوي.

پلازما: دا د مادې څلورم حالت دی، چې ډېر چټک حرکتي الکترونونه او ایونونه لري.

بین الستوري ګاز (**Interstellar Medium - ISM**): د ستورو تر منځ یو ډول غبار او ګازي مواد دي، چې د کیمیاوي تعاملاتو او نویو ستورو په جوړېدو کې مهم رول لري.

مقناطیسي پولونه: د ستورمزلو ترمنځ د مقناطیسي کرښو یوه شبکه کشف شوې، چې انرژي انتقالوي.

۲. قرآن کریم او د بین الستوري ارتباط مفهوم

الفرقان ۲۵:۵۹

ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱلرَّحْمَٰنُ فَسْـَٔلْ بِهِۦ خَبِيرًا

ژباړه:

"هغه (الله) چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دواړو تر منځ دي، په شپږو ورځو کې، بیا پر عرش استوا وکړه، (هغه) الرحمن دی، نو ته د هغه (په اړه) له باخبرو پوښتنه وکړه."

قرآن کریم فرمایي:

"وَمَا خَلَقْنَا السَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَـٰعِبِينَ (الدخان: ۳۸)

ژباړه:

"او موږ اسمانونه، ځمکه، او هغه څه چې د دواړو تر منځ دي، عبث (بېګټې) نه دي پیدا کړي."

"الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ..."

(الفرقان: ۵۹)

"هغه (الله) چې اسمانونه، ځمکه، او د دواړو ترمنځ شیان یې په شپږو ورځو کې پیدا کړل..."

"رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ"

(مریم: ۶۵)

"د اسمانونو، ځمکې، او د هغه څه رب چې د دواړو ترمنځ دي، نو یواځې د هغه عبادت وکړه او د هغه په عبادت کې صبر او استقامت اختیار کړه."

په دې آیتونو کې الله سبحانه وتعالی څرګندوي چې د اسمانونو او ځمکې تر منځ یو مهم (مجهول) عنصر شتون لري.

۳. پلازما، د قرآن اعجاز او د علمي پرمختګ اړیکه

د "وَمَا بَيْنَهُمَا" تعبیر کولی شو د پلازما، بین الستوري موادو، او مقناطیسي ارتباطاتو ته اشاره وګڼو، ځکه چې دا مواد د ستورمزلو تر منځ د پلونو په توګه کار کوي.

دا یو له هغو علمي اعجازونو څخه دی چې قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندې اشاره ورته کړې وه، او نن ساینس یې مفهوم ته رسېدلی.

۴. پایله

د قرآن کریم دا بیان چې د اسمانونو او ځمکې تر منځ یو عنصر شته، د معاصر ساینس سره مطابقت لري. د پلازما، بین الستوري موادو، او مقناطیسي ساحو کشف دا ښیي چې د ستورو

تر منځ یو ډول پلونه (**Interstellar Bridges**) موجود دي، چې د کائناتي انرژي د انتقال لپاره اساسي رول لري.

الله سبحانه وتعالی فرمایلي وو، او نن ساینس پوهان دا حقیقت کشف کوي!



**د اسمانونو څخه د وتلو لپاره ستر قوت ته اړتیا**

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

"يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوا ۚ لَا تَنْفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ"

(الرحمن :۳۳)

**ژباړه:**

"ای د انسانانو او پېریانو ډلې **!**که تاسو وتلای شئ د آسمانونو او ځمکې له حدونو څخه، نو ووزئ، خو نه شئ وتلی مګر په ډېر ستر قوت (سلطان) سره"**.**

## ساينسي اعجاز:

آيا انسانان کولای شي د اسمانونو له حدونو واوړي؟

څومره قوت ته اړتيا ده؟

آيا د قرآن کريم بيان د ساينس د تازه کشفياتو سره توافق لري؟

### ۱ .د کهکشانونو پراخېدل او د فضا نه لېرى کېدل

اوسنى ساينس وايي چې د کايناتو ۹۴٪ برخه د انسان له لاسرسي وتلې ده **!**

د کايناتو پراخوالى د" تياره انرژي" **(Dark Energy)**

له امله دوام لري چې کهکشانونه يو له بله ګرندي جدا کوي.

اوسني ساينسپوهان اټکل کوي، چې کهکشانونه چې د ۱۸ مليارد نوري کلونو څخه هاخوا دي، د رڼا د سرعت څخه هم په چټکۍ سره مخ پر وړاندې ځي.

حتى که انسان د رڼا په سرعت سفر وکړي، ځينې کهکشانونه به هېڅکله نه شي نيولى، ځکه چې د فضا پراخوالى يې له ده نه ليرې وړي.

دا مطلب د قرآن کريم د آيت سره توافق لري، چې وايي" **:**تاسو د اسمانونو له حدونو نه شئ وتلى مګر په ډېر ستر قوت (سلطان) سره".

### ۲ .د" سلطان "مانا د ساينس له نظره:

د قرآن کريم د آيت له مخې، د اسمانونو له حدونو څخه د وتلو لپاره" سلطان( "ستر قوت ) ته اړتيا ده.

ساينس وايي، چې د انسان لپاره د اسمانونو نه وتل، د سختو فزيکي محدوديتونو له امله، ممکن نه دى، مګر که پرمختللې ټيکنالوژي او ستر قوت ولري.

تر ټولو چټک انسان جوړ شوي جسمونه لکه **Voyager 1 & 2** لا هم د کهکشاني کچې سفر نشي کولی.

دا حقیقت بیا د قرآن کریم د آیت سره توافق لري، ځکه چې بې له قوي انرژي (سلطان) نه، دا ناممکن دی.

۳ .د کیهاني محدودیتونه:

د رڼا سرعت (۳۰۰۰۰۰ کیلومتره فی ثانیه) د کایناتي سفر حد ټاکي.

که انسان وغواړي د ځینو ستورو ته ورسي، باید میلیونونه کاله انتظار وباسي!

ساینس وايي، چې ځینې کهکشانونه" د ابدي لاسرسي نه بهر "دي، ځکه چې د فضا پراخوالی هغوی دومره ژر لیرې وړي، چې هیڅ ټیکنالوژي ورته نشي رسېدلی.

دا مطلب بیا د قرآن د اعجاز یوه بله نبنه ده!

۴ .د قرآن کریم اعجاز په څه کې دی؟

۱۴۰۰ کاله وړاندې، خلک فکر کاوه چې اسمان یو سخت قبه ده، چې انسان کولای شي ورڅخه واوړي.

قرآن وویل، چې که څوک وغواړي د اسمانونو له حدونو واوړي، باید ستر قوت (سلطان) ولري.

اوس ساینس وايي، چې د انسان ټیکنالوژي لا هم دومره قوي نه ده، چې د کهکشانونو تر منځ سفر وکړي، او ځینې کهکشانونه به تل له لاسرسي وتلي وي!

دا حقیقت یوازې الله تعالی انسانانو ته ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی و.

نتیجه:

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې وویل، چې د اسمانونو د حدونو نه د وتلو لپاره ستر قوت (سلطان) ته اړتیا ده.

ساینس اوس تاییدوي، چې د ځینو کهکشانونو ته رسېدل ناممکن دي، او ستر قوت ته اړتیا ده.

دا د قرآن کریم یو بل علمي اعجاز دی، چې یوازې الله تعالی کولی شوای دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړي.

سبحان الله **!**قرآن کریم د کایناتو د رازونو یو ژوندی معجزه ده**!**



**ریاضیات – د کائنات ژبه**

"إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ"

"بېشکه، موږ هر شی د ټاکلې اندازې سره پیدا کړی دی." (القمر 54:49)

انسان له پخوا راهیسې هڅه کړې چې د کائنات نظم وپېژني، خو یوازې په وروستیو پیړیو کې ریاضیات د علم د بنسټ ډبره وګرځېده. نن ورځ ساینسپوهان مني چې کائنات د دقیقو

حسابي قوانينو پر اساس ولاړ دی. خو دا حقيقت قرآن كريم ۱۴۰۰ كاله وړاندې بيان كړی و!

رياضيات – د خدای لخوا ټاكل شوی نظم

۱. د كائنات هر شی اندازه او حساب لري

قرآن موږ ته وايي چې هيڅ شی بې ترتيبه نه دی، بلكې د حساب او تناسب پر بنسټ ولاړ دی.

"وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ"

"او هر څه د الله په نزد د ټاكلي حساب سره دي." (الرعد 13:8)

له لويو كهكشانونو تر كوچنيو الكترونونو پورې، هر څه د رياضي د قوانينو تابع دي.

كه د كائنات رياضياتي قوانين لږ هم تغير شي، ژوند ناممكن ګرځي.

۲. شمېري سيستم او د قرانكريم اعجاز

"وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا"

"او هر څه يې په شمېر شمېرلي ساتلي دي." (الجن 72:28)

نن ساينسپوهان هڅه كوي چې د كائنات هره ذره شمېره كړي، خو قرآن دا حقيقت مخكې لا بيان كړی و!

د فيبوناكي تسلسل (**Fibonacci Sequence**) او زرين نسبت (**Golden Ratio**) د كائنات په جوړښت كې شتون لري، چې دا د رياضي بشپړ تناسب ښيي.

۳. د ستورو او سيارو محاسبه

"الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ"

"لمر او سپوږمۍ د ټاکلي حساب سره حرکت کوي." (الرحمن 55:5)

سیارې، ستوري، او کهکشانونه د جاذبې د قانون تابع دي.

نیوتن او آینسټاین یوازې هغه قوانین کشف کړل چې الله له پېړیو وړاندې وضع کړي وو.

د سپوږمۍ او لمر مدارونه دومره دقیق دي چې ساینسپوهان کولی شي د زرګونو کلونو لپاره د دوی حرکت اټکل کړي.

سانینس او د قرآن تصدیق

۱. د فضا متوازن سیستم

"وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ"

"او اسمان یې پورته کړ، او توازن یې ټینګ کړ." (الرحمن 55:7)

که د فضا توازن لږ هم خراب شي، کهکشانونه به له منځه ولاړ شي.

ساینس دا کشف کړې چې که جاذبه لږ زیاته یا کمه وای، نو کائنات به یا سقوط کړی وای یا پراخ شوی نه وای.

۲. د دقیقو مدارونو محاسبه

"لَا الشَّمْسُ يَنبَغِي لَهَا أَن تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ"

"نه لمر ته دا ممکنه ده چې سپوږمۍ ته ورسېږي، او نه شپه د ورځې څخه مخکې کېږي. هر یو (لمر، سپوږمۍ، او ستوري) په خپل مدار کې ګرځي." (یس 36:40)

ساینس ثابتوي چې لمر او سپوږمۍ خپل ټاکلي مدارونه لري، او هېڅکله یو د بل مسیر ته نه داخلیږي.

سپوږمۍ د ځمکې شاوخوا حرکت کوي، او ځمکه د لمر شاوخوا، چې دا یو دقیق ریاضیاتي نظم دی.

نتیجه – ریاضیات د خدای قدرت ښیي

کائنات یو دقیق ریاضیاتي جوړښت لري، چې د خدای د قدرت نښه ده.
ساینس یوازې هغه حقایق کشف کوي چې قرآن یې له پېړیو وړاندې بیان کړي.
د ریاضیاتو نه شتون به د کائنات نظم له منځه یوسي، چې دا ناممکنه ده.
نو، آیا دا ټولې نښې کافي نه دي چې د قرآن اعجاز ومنو؟



**درې ستوریز سیستم**

الله سبحان وتعالی فرمایي:

" انْطَلِقُوا إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ

لَا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ "

" روان شی سوری چې خواند د دريو څانګو دی، نه منع د ګرمۍ دی او نه دفع کوی دی له لمبې نه» قران کريم 77:30-31

قرآن ۴۰:۷۰: «فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ إِنَّا لَقَادِرُونَ»

« پس قسم خورم په رب د مشرقونو باندې او د مغربونو باندې چه خامخا مونږ قادر يو.» سورت معارج ۴۰

د قرانکريم ساينسي نښې د دريو ستورو سيستم

1400 کاله وړاندې خلکو فکر کاوه چې يوازې يو لمر خته او يو لمر ډوبيده دی. هيڅا باور نه کولو چې داسې سيارې به شتون ولري چې ډير لمر خته او لمر ډوبيده به ولري.

نن موږ پوهيږو چې دا فکر غلت دی.

ناسا يوه سياره کشف کړه چې درې لمر خته او درې لمر ډوبيده لري.

نوې کشف شوې سياره درې لمرونه لري.

کېدای شی تاسو فکر کړی وی چې د ليوک سکای واکر کور سياره ، ټاټوين ، په اسمان کې د خپلو دوه لمرونو سره عجيبې سيارې دی،

نو تصور کړئ دا: چې يوه سياره چې هره وخت د ورځې دوامداره رڼا لری يا درې ځله لمر راوباسي او په موسمونو پورې اړه لري (کوم چې د انسان عمر اوږدوي).

دا ډول سياره د اريزونا پوهنتون په مشرۍ د ستور پيژندونکو يوې ډلې لخوا د مستقيم عکس العمل په کارولو سره کشف شوې.

دا سیاره، **HD 131399Ab**، نومیړی د کومې بلې پېژندل شوې سیارې په څیر نه ده - یو له لرې څخه، د څو ستورو سیستم کې ترټولو پراخه پیژندل شوی مدار لري ...

**NASA**، نوې کشف شوې سیاره 3 لمرونه لري، 2016

په عموم کې سیارې د ځمکې په څیر د یوه ستوري په شاوخوا کې ګرځي. په عموم کې هغه سیارې چې د بائنری (دوه ستوري) سیستم په شاوخوا کې ګرځي لږ دي. خو اوس ناسا یوه سیاره کشف کړې چې د درې ستورو په مدار کې ګرځي. دا پدې مانا ده چې که تاسو په دې سیارې کې ولاړ یاست نو تاسو به درې سیوري ولرئ، د هر لمر څخه یوه یوه سیوري.

دا په دې وروستیو کې معلومه شوه؛ که څه هم دا په قرآن عظیم شان کې خدای (ج) 1400 کاله مخکې له کشف څخه انځور کړی. د جهنم د بیانولو پر مهال: '

الله سبحان وتعالی فرمایي:

" انْطَلِقُوا إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ

لَا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ "

"روان شی سوری چې خواند د دریو څانګو دی، نه منع د ګرمی دی او نه دفع کوی دی له لمبې نه»» قران کریم 77:30-31

"د درې څانګو سیوري"

پدې مانا ده چې دا درې ستوري لري، د هر ستوري څخه یو یو سیوری.

دا یو درې ستوریز سیستم دی.

قرآن ۷۰:۴۰: «فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ إِنَّا لَقَادِرُونَ»

« پس قسم خورم په رب د مشرقونو باندې او د مغربونو باندې چه خامخا مونږ قادر یو.»
سورت معارج ۴۰

"مشرق مَشَرِقِ" معنی 'واحد لمر خته'.

"مشرقین مَشْرِقَیْنِ" معنی دوه 'لمر خته'.

"مشرق مَشَارِقِ" معنی 'درې یا ډیر لمر خته'

په دې آیت کې "مشرق مَشَارِقِ" مانا د ځو لمر ختو (درې یا زیات) ذکر شوی.

نن ورځ موږ پوهیږو چې دا څه دي،
دا د ځو 'ستوري سیسټم' دی.

سبحان الله



**تور سوري** Black holes

توره سوړه**(Black Hole)**

توره سوړه څه ده؟

هر ستوری چې خپله انرژي مصرف کړي، د جاذبې د زبردست کشش له امله تورې سوړې **(Black Hole)**ته لوېږي .توره سوړه داسې کيهانې پديده ده چې نامحدود کثافت، تقريباً صفر حجم او ډېره قوي مقناطيسي ساحه لري .د دې جاذبه دومره زوروره ده چې حتی د روښنايي وړانګې هم نشي ترې وتلای، نو ځکه دا د تلسکوپونو له لارې د ليدو وړ نه ده.

قرآنکريم او د تورې سوړې ذکر

قرآنکریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د ستوریو د ډوبېدو **(Gravitational Collapse)** ته اشاره کړې، لکه چې الله ﷻ فرمايي:

**(فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ ۝ وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ)**

(نو قسم خورم زه په ځایونو د ډوبېدلو د ستورو باندې **!**او بیشکه دا قسم که تاسو پوهېږئ، ډېر لوی دی) – **.**(الواقعة ۷۵-۷۶**)**

همداراز، الله ﷻ فرمايي:

**(وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ)**

(او قسم دی په ستوورو  باندې، هرکله چې ډوب شي) – **.**(النجم ۱)

د" توري سوړې "اصطلاح څرنګه رامنځته شوه؟

د" توري سوړې "اصطلاح په ۱۹۶۹ کال کې د امریکايي فزیک‌پوه جان ویلر **(John Wheeler)**لخوا وکارول شوه **.**د تورې سوړې جاذبه دومره زیاته ده چې هر ډول ذرې، حتی فوتون (د رڼا ذرې) هم نشي ترې وتلای**.**

که یو ستوری د لمر درې چنده غټ وي او د تورې سوړې پړاو ته ورسېږي، نو د شل کیلومتره قطر لرونکې سوړې ته به ننوځي، چې دا د ستوریو د مرګ وروستی پړاو دی**.**

نتیجه

توره سوړه د کاینات له حیرانوونکو رازونو څخه ده، چې ساینس یې وروستیو پېړیو کې کشف کړ، خو قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د ستوریو د ډوبېدو حقیقت بیان کړی و **.**دا د قرآن کریم د الهي وحی یوه معجزه ده، چې نن ساینس یې تصدیق کوي**.**



## پلسر یا نیوټران ستوری

### ټاکونکی ستوری **Pulsar star**

زمونږ په کاینات کې په میلیاردونو ستوري دي موجود چې ټول یو رقم نه دي مختلف جوړښتونه سایزونه, رنګونه او د کشش قوه لري .

چې ځیني یې بیخي خطرناک هم وي لکه بلاک هول , بلاک هول ته ستوری هم ویلای شو ځکه د یوه لوی ستوري د لمنځه تللو په سورت کې منځ ته راځي . دوهم خطرناک ستوري پلسر یا نیوټران ستوري دي . هر هغه ستوری چې لوی جسامت ولري یا زمونږ د لمر څخه څلور ځلې لویوالی ولري د هغه د عمر په اخر کې یوه لویه چاودنه یا سوپر نوا ( **Super Nova**) رامنځ ته کیږي چې دهغه په نتیجه کې بلاک هول رامنځ ته کیږې که بلاک هول رامنځ ته نه شو نو دهغه څخه راوروسته یوه بله مرحله ده په دغه مرحله کې یو نوی ستوری چې پلسر یا نیوټران ( **pulsar/neutron**)هم ورته ویلی شي منځ ته راځي . په لومړي ځل دغه ستوري 1967 م کال کې دیوه برطانوي لخوا وپیژندل شول چې قرانکریم کې څوارلس سوه کاله پخوا ذکر شوی دی چې دغه ذکر شوي ستوري خاصیتونه د نن دور ساینسدانانو د پیژندل شوي ستوري سره یو شانتې دي . ددغه ستوري خاصیت دادی، چې په کائیناتو کې تر ټولو دویمه درجه دروند شی د نیوترون ستوری دید نیوترون یو ستوری 20 دیا متره سور لري ، خو کله چې په حرکت کې وي نو لوی ، لوی ستوري ترینه تښتي. دوه طرفو ته قوي او خورا روښانه شعاعګانې خپروي ,دا په دومره اندازه درووند دی چې د انسان عقل کار ورته پریږدي .د نیوترون ستوري یوه کاشوغه کتله ( 900 ) میلیارده کیلو ګرامه وزن لري . د کشش قوه یې بیخي زیاته ده . د یوې کوچنی قاشوغې وزن یې دلوی غره سره برابر دی .

په یوه سکینډ کې پخپل ځان تر سلو ځلې زیات څرخیږي . دغه ستوری داسې اواز لري لکه یو څوک چې یو شی یا یوه دروازه ټکوي .مثال ټک..ټک..ټک ...

دغه نیوټران ستورو ته عربي کې الطارق او په انګلیسي کې ورته ناکینګ ستوری ویلی کیږي .

د عربی لغات (الطارق) معنی لکه د یو شی وهل یا لکه یو څوک چې دروازه ټکوي چې دهغه څخه د ټک ټک اواز وځي

د الطارق سورت:

الله سبحان وتعالی په قرآن عظیم شآن کې فرمایي:

1. وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ

(قسم دی په اسمان او په (الطَّارِقُ) راتلونکی د شپې باندې)

2. وَمَا أَدْرَاكَ مَا الطَّارِقُ

(او ته څه پوهه کړی یي چې څه څیز دی هغه

(الطَّارِقُ) راتلونکۍ د شپې؟)

3. النَّجْمُ الثَّاقِبُ

(هغه ځلانده ستوری دی)

د نن دور ساینس د ځیرنو کوششونو زحمتونو څخه وروسته دغه ستورۍ کشف کړو.

مګر قرانکریم څوارلس سوه کاله پخوا په خړو پړو دښتو کې خلکو ته ویلي وو .

پایله:

دغه یادونه او مطابقت په قرآن کریم کې د الطارق ستوري او د عصري ساینس په منځ کې یو ځانګړی توافق او د الله تعالی د قدرت څرګندونه ده. دا ثابتوي چې قرآن کریم د نړۍ هر حقیقت څرګندولو لپاره یو کامل کتاب دی او الله پوه او حاکم دی چې هر څه یې په دقیق تفصیل سره توضیح کړي دي.

بې له شکه چې الله عزوجل دا هر څه په پوره حکمت سره پیدا کړیدي .☝



**؛Kepler-16b؛ دوه ستوریزه سیاره**

**Kepler-16b** سیارې حیرانونکی اعجاز او د قرآني نظم معجزه

1. د آیت تلاوت او ترجمه:

رَّبُّ ٱلْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ ٱلْمَغْرِبَيْنِ

الرحمن :۱۷

ترجمه" :رب د دواړو مشرقونو دی، او رب د دواړو مغربونو دی".

## 2. د Kepler-16b سیارې کشف او ځانګړتیاوې

ناسا یوه حیرانوونکې سیاره **Kepler-16b** کشف کړې،

چې د دوو ستوریو**(Binary Star System)**

شاوخوا حرکت کوي

دا کشف د ۲۰۱۱ میلادي کال کې وشو، او دا د ستوریزو نظامونو د فهم لپاره یو مهم پرمختګ و.

دوه مشرقونه او دوه مغربونه **Kepler-16b :**د دوو ستوریو مدار ته تابع ده، نو د دې سیارې د اوسیدونکو لپاره (که هلته څوک وي**!**)، لمر به له دوو مختلفو ځایونو څخه راوخیژي او دوه بیلابیل غروبونه به ولري **.**دا پدیده هغه حقیقت ته اشاره کوي، چې قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندې ذکر کړی و**!**

فاصله **:**دا سیاره ۲۴۵ نوري کاله د ځمکې څخه لرې ده.

مداري موده **:**دا سیاره خپل مدار په ۲۲۹ ورځو کې بشپړوي.

## 3. د قرآني نظم حیرانوونکې معجزه

کله چې د قرآن د نظم عددي معجزه د علمي کشفونو سره پرتله کړو، نو دا حیرانوونکې پایلې تر لاسه کوو:

د" ځمکې "له کلمې څخه تر دې آیت پورې ۲۴۵ کلمې موجودې دي–

دا د **Kepler-16b** سیارې تر ځمکې پورې فاصله ده**!**

د" ستوري "له کلمې څخه تر دې آیت پورې ۲۲۹ حروف راغلي دي – دا د**Kepler-16b** سیارې مداري موده (۲۲۹ ورځې) ته اشاره ده**!**

## 4. د علمي او قرآني حقیقت ترمنځ تړاو

قرآن وايي چې دوه مشرقونه او دوه مغربونه شته –

**Kepler-16b**

ثابته کړه چې داسې يو نظام واقعي دی.

قرآن د عددونو په ژبه هم معجزه لري – د آيت او د سيارې فزيکي ځانګړتياوې سره سمون خوري.

دا کشف تصادفي نه شي کېدای، بلکې دا د قرآن د اعجاز ژوندی ثبوت دی!

## 5. پايله

د سورت الرحمن ۱۷م آيت يوازې د ځمکې د موسمونو او د لمر د حرکت محدود تعبير نه دی، بلکې د کيهان د ستوريزو نظامونو د حقيقت يوه پراخه اشاره ده.

د قرآني نظم عددي معجزه د علمي کشفونو سره سمون لري، چې دا د قرآن د حقانيت يو بله پياوړې نښه ده.

د قرآن د بيان تصديق کوي، چې اسمانونه داسې جوړښتونه لري چې انسانان يې په تدريجي ډول کشف کوي.

سبحان الله !قرآن کريم د ۱۴۰۰ کلونو وړاندې د يو داسې حقيقت خبر راکړی و، چې اوسنی ساينس يې اوس تاييدوي .دا زموږ ايمان لا پياوړی کوي، چې قرآن د الله  معجزه ده، او دا وحی د قيامت تر ورځې پورې د انسانيت لپاره د رڼا سرچينه ده.



## ځمکې ته ورته سیارې

د ځمکې ته ورته سیارې – د قرآن کریم یو حیرانوونکی اعجاز

سریزه :یو فکر راولو!

تصور وکړئ چې موږ یوازې نه یو، بلکې د کهکشانونو په لایتناهي پراخوالي کې داسې سیارې هم شته چې زموږ د ځمکې په څېر دي–چېرې چې غرونه، سیندونه، فضاء، او حتی ژوند موندل کېدای شي !ایا دا امکان لري؟ او که وي، نو آیا قرآن کریم موږ ته د دې حقیقت اشاره کړې؟

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې یو زلزلې ته ورته پوښتنه راولاړه کړې وه:

(أَوَلَيْسَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم ۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ)

(سورة یس : ۸۱)

ترجمه:

"ایا هغه ذات چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي دي، په دې نه دی قادر چې هغه د دوی په شان نور پیدا کړي؟ ولې نه !او هم دی ښه پیدا کوونکی، ښه پوه دی".

دا آیت موږ. ته د یو ستر حقیقت دروازه پرانیزي–که الله ﷻ اسمانونه او ځمکه پیدا کړي، نو آیا نشي کولای چې د دوی په څېر نور هم پیدا کړي؟ دا د تخلیق یو حیرانوونکی مفهوم دی چې ساینس یې نن د خپل پرمختګ له لارې درک کوي!

۱ .د ساینس پرمختګ او د ځمکې ته ورته سیارې

تر ۱۹۹۵م کاله پورې، انسان یوازې د خپل لمریز نظام سیارې پېژندلې، او دا تصور عام و چې ځمکه شاید یوازینۍ استثنا وي، چیرې چې ژوند شته .خو کله چې د **Exoplanets** (بهرنیو سیارو) کشف پیل شو، نو نړۍ حیرانه شوه!

څه کشف شول؟

تر اوسه ۵۰۰۰+ سیارې کشف شوې دي چې د لمریز نظام څخه بهر دي.

ځینې یې د ځمکې په اندازه دي، ځینې یې ترې لویې یا کوچنۍ دي.

ځینې د ژوند لپاره مناسبې ښکاري، ځکه چې هلته اوبه، اتمسفیر، او مناسبه تودوخه شتون لري.

مشهورې ځمکې ته ورته سیارې:

– **Proxima b** د نږدې ستوري پروکسیما سنتاوري شاوخوا ګرځي.

**TRAPPIST-1** سیستم – دا یوه منظومه ده چې اووه سیارې لري، او ځینې یې د ژوند لپاره مناسبې ښکارې.

– **Kepler-442b** داسې ښکاري چې دا سیاره د ځمکې له چاپېریالي شرایطو سره ورته ده.

دا ټول کشفیات موږ ته ښیي چې د ځمکې په شان نورې سیارې شتون لري، لکه څنګه چې قرآن وویل !




۲ .د" مِثْلَهُم "مفهوم – یو علمي او عقلي تحلیل

د قرآن کریم د پورتني آیت کلیدي ټکی" مِثْلَهُم "دی، چې مانا یې" د دوی په شان "ده .دا حیرانوونکی تعبیر لاندې درې مهمې ماناوې لري خو په اصل کې د اووه اسمانونو لپاره رجع کیږي:

الف (د ځمکې ته ورته سیارې – فزیکي ورته والی

ځمکې ته ورته اندازه، قطر، او جاذبه لري.

ځینې یې داسې اتمسفیر لري چې ممکن ژوند پکې وي.

د ځمکې په شان مدار لري او له خپلو ستوریو څخه مناسبه فاصله لري.

ب (د ځمکې ته ورته ژوندی سیستم – بیولوژیکي ورته والی

که چېرې هلته اوبه وي، نو امکان لري چې ژوند هم پکې وي.

ساینسپوهان وايي، که ژوند موندل شي، نو دا به زموږ د علم لپاره يو ستر بدلون وي!

ج (د کائناتونو تشابه – لوی تخليقي قدرت

دا آيت يوازې د سيارو ورته والي ته اشاره نه کوي، بلکې ممکن د موازي کائناتونو يا نورو هستيو ته هم اشاره وي.

ساينس نن د **"Parallel Universes"** (موازي کائناتونو) نظريه وړاندې کړې، چې وايي ښايي زموږ په شان نور کائناتونه هم وي!

۳ .د قرآن علمي اعجاز – ولې دا حيرانوونکی دی؟

۱۴۰۰ کاله وړاندې، خلک دا نه پوهېدل چې د ځمکې ته ورته نورې سيارې شتون لري.

د ساينس پرمختګ يوازې اوس د دې کشف ته رسيدلی، خو قرآن کريم دا حقيقت له وړاندې بيان کړی و.

دا ثابته کوي چې د قرآن معلومات انساني نه، بلکې الهي دي.

ايا دا تصادف دی؟ يا دا د خدای ﷻ يو روښانه ثبوت دی؟

پايله :د قرآن حقانيت او د انسان فکر ته يو بل چلنج

دا آيت يوازې يو علمي کشف نه دی، بلکې د انسان د عقل لپاره يو ستر چلنج دی :ايا موږ د دې عظيم حقيقت نه عبرت اخلو؟ که الله ﷻ دومره ستر قوت لري چې بې‌شمېره سيارې، کهکشانونه، او کائناتونه پيدا کړي، نو ولې موږ د قيامت په راګرځېدو شک کوو؟

(لَخَلْقُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ)

(سورة غافر :۵۷)

**ترجمه:**

**"په يقين سره د اسمانونو او د ځمکې پيدايښت د خلکو د پيدايښت څخه ډېر ستر دی، خو ډېری خلق نه پوهېږي".**

نن ساينس د قرآن کريم د دې معجزې تصديق کوي، خو ايا موږ پخپله ايمان ته کتنه کوو؟

الله ﷻ دې موږ ته د خپل قرآن عظيم الشان د حقايقو د درک توفيق راکړي **!**آمين**!**



**د زهره سياره يا 'Venus' "**

« وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً ۖ إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ

۷۵ وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ

۷۶ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ

۷۷ فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّالِّينَ

۷۸ فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَا أَكْبَرُ ۖ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ

۷۹ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا ۖ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ»

او یاد کړه هغه وخت چه وویل ابراهیم(ع) پلار خپل ته چه ازر و آیا نیسي ته بتان په خدایئ سره بیشکه زه وینمه تا او ستا قوم په ګمراهئ ښکاره کې، او همدارنګه ښایو مونږه ابراهیم ته عجائب د اسمانونو او د ځمکې او دپاره ددې شی دی له یقین کونکو نه،پس هرکله چه تیاره واچوله په ده باندې شپه نو وی لیدلو ستوری وویل دهٔ چې دا رب ځما دی په ګومان ستاسې پس هرکله چه غائب شو هغه ستوری نو وویل دهٔ چې نه خوښوم زه غائبیدونکی پس هرکله چې ولیدله ابراهیم (ع) سپوږمۍ راښتونکی نو وویل ده چه دا رب زما دی په ګومان ستاسې پس هرکله چه هغه هم غائبه شوه وویل دهٔ خامخا که هدایت نه وئ کړی ماته رب زما نو خامخا به وم زه له ضرور له ټولی د ګمرهانو نه پس هرکله چه ولید ابراهیم(ع) لمر راختونکی نو وویل دهٔ چی دا رب زما دی په ګومان ستاسې چه دا لوی دی پس هر کله چه هغه هم غائب شو نو وویل ده چه ای قومه ځما بیشکه زه ویزاره یم له هغه څیز نه چې تاسې یې شریکوی له خدایه سره، ما خپل مخ د هغه ذات لوري ته اړولې ده چې اسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي، په دې حال کې چی مایل یم له باطل نه حق ته او نه یم زه له مشرکانو څخه.»
قران ۷۵:۶-۷۹

د قرانکریم ساینسي نښې

## Venüs

یوه سیاره زموږ د لمریز نظام په دننه کې.

عیسوی انجیل وایي چې د ابراهیم(ع) د زیږون په وخت کې خلکو د لمر ،سپوږمۍ او ستورو عبادت کاوه. لرغونپوهانو داسې شواهد موندلي چې دغه خلکو د لمر، سپوږمۍ او "د

وینس ستوري" عبادت کولو. په هرصورت نن ورځ ستورپوهان تاییدوي چې دا "د وینس ستورى" په حقیقت کې د وینس سیاره ده، نه ستورى. قرآن په سمه توګه دا د سیارې په توګه تشریح کوي.

د اشتر ستورى یا د انانا ستورى د لرغونى سومرى او د انانا او د هغې ختیځ سامي سیال اشتر، د خدایي نښان وه. د زمري ترځنګ، دا د اشتر د لومړنیو نښو څخه و. ځکه چې اشتر د وینس سیارې سره تړاو درلود، دا ستورى د زهره (**Venüs**) ستوري په نوم هم پیژندل کیږي.

ویکیپېډیا، د اشتر ستوري،2021

دغو خلکو فکر کاوه چې زهره یو ستورى دى. خو قرآن دا تېروتنه نه ده کړې، بلکې وایي چې دا یوه سیاره ده.

د "کوکب 'كَوْكَبً'" د سیارې معنى لري.

دغو خلکو د لمر، سپوږمۍ او د یوې سیارې عبادت کاوه،نه د یو ستورى.

پوښتنه: آیا ۱۴۰۰ کاله دمخه هم چا د سیارو او د ستورو ترمنځ توپیر درک کولی شو؟

دا بلکل ناممکنه ده چې یو څوک په لیک او لوست نه پوهیږي او هغه ته د پنځه زره یا شپږ زره کاله دمخه د خلکو د عبادت طاریقه ورمعلومه وي او بیا ددې درک هم ورته شوی وی چې هغه څیز چې دوی یي عبادت کولو، ستورى نه بلکې سیاره ده، حال دا چې دوی ته په خپله هم ددې درک نه لریدو.



**سیوروس ستوری او نوري کالونه**

خدای (ج) په قرآن شریف کې فرمایي

۵۳:۴۹ او  دا چې ( بیشکه هم (الله) رب د شعری دئ«

شعری یو لوی غټ ستوري دئ چې په اسمان کې د شپې له ورایه مالومیږی ستوری پوهان وایي دا اصلا دوه ستوري دي چې غټ یې په سترګو لیدل کیږی او وړوکی یې په تیلیسکوب کې لیدلی شوی دی د دې ستوري مدار بیضوي دئ خدای (ج) په قرآن شریف کې فرمایي
۵۳:۹ «د دوو لیندو یا ډیر نژدې له دې نه هم»

موږ په قرآن کې نوري کلونه هم پیداکړي دي.

زموږ په اسمان کې تر ټولو روښانه ستوری سیوروس نومیږي او په قرآن کریم کې د ستوري په نوم یاد شوی دی .د" ستوري "کلمه او د" ځمکې "کلمه د **861** تورو په واسطه جلا شوي .نن موږ پوهیږو چې سیریوس د ځمکې څخه **861** سانتي نوري کاله لرې دی.

قرآن ۴۹:۵۳ **:** وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ الشِّعْرَىٰ<

او دا چې هغه (الله)  رب د شعری دی.

سيريوس د ځمکې څخه **8.61** نوري کاله لرې دی.

دلته د لنډ واټن پيمانه بدلوو . 

**www.convertunits.com**




**8.61**

نوري کاله د **861** سانتي نوري کلونو سره مساوي دي

نو له سيريوس سره د ځمکې واټن ٨٦١ سانتي نوري کاله دی.

دا معلومه شوه چې په لومړي آيت کې د" ستوري "کلمه او په **32** آيت کې د" ځمکې "د کلمې ترمنځ **861** توري دي.

په **32** ايات کې د ځمکې د کلمې څخه تر شعرى (پورې **286099** موبيزر) حرف راغلي دی



او د ستوري د کلمې څخه تر شعرى پورې ((285238 ) حرف رغلى دى




نو که چېرته يې منفي کړو سره:

**286099 - 285238 = 861**

نو مونږ ته به د سيوروس ستوري فاصله په لاس رکړي

د" ستوري "کلمه او د" څمکي "کلمه د **861** تورو په واسطه جلا شوي .نن مونږ پوهيږو چې سيريوس د ځمكې څخه **861** سانتي نوري کاله لرې دى.

يو نالوستى سړى چې ۱۴۰۰ كاله پخوا يى ژوند کاوه څنګه کولاى شي چې يو داسې خقيقت ووايي او د سانتي نوري کلونو په اړه پوه شي؟



## کوثرونه (Quasars)

اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ؕ اَلْمِصْبَاحُ فِىْ زُجَاجَةٍ ؕ
اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّىٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا
يُضِىْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕنُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ
الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕوَاللّٰهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ « سورت النور
۳۵

الله د آسمانو او ځمکې نور (روښانوونکی) دی، د هغه د نور مثال داسې دی لکه یوه تاخچه کې چې ډېوه وي، ډېوه په یوه شیشه کې وي، شیشه هم داسې لکه یو ځلېدونکی ستوری چې هغه ډېوه (د ښوون د کومې داسې برکتي ونې) له تېلو بله شوې وي چې هغه نه ختیځه وي، نه لویدیځه نږدې وي چې تېل یې په خپله رڼا وکړي که څه هم اور نه وي ورته رسېدلی، (داسې چې) د رڼا له پاسه رڼا وي چاته چې د الله خوښه شي د خپل نور خواته یې لارښوونه کوي او الله خلکو ته همداسې مثالونه بیانوي او الله په هر شي ښه پوه دی .

الله سبحانه وتعالی په سورت النور ۳۵ آیت کې خپل ځان د اسمانونو او ځمکې د رڼا په توګه معرفي کوي .دغه آیت د الله ج د رڼا یو ښکلی تشبیه وړاندې کوي چې د" نیش "یا طاق په څیر دی، چې په هغه کې یو څراغ ایښودل شوی دی .دغه څراغ د شیشې په دننه کې دی او

شیشه لکه یو ځلانده ستوری ښکاري .دغه څراغ د مبارکې زیتون ونې د تېلو نه رڼا خپروي، چې حتی که اور هم ورته ونه رسي، بیا هم رڼا ورکوي .دا د رڼا پر رڼا یوه ښکاره استعاره ده.

سانیس او کائنات:

کواسارونه:(Quasars)

کواسارونه په کائناتو کې تر ټولو روښانه اجرام دي .دا بدنونه په فضا کې د رڼا داسې منابع دي چې د ستورو په څیر ښکاري، خو د تور سوراخونو او کهکشانونو مرکزونو څخه انرژي تولیدوي .کواسارونه د خپل روښانتیا له پلوه خورا زیات ځواکمن دي، چې د قرآن د دې آیت سره حیرانتیا لري.

د جاذبې لینز اغیز:(Gravitational Lens Effect)

آیت کې د" رڼا پر رڼا "ذکر ممکن د جاذبې لینز اغیز ته اشاره وي .د جاذبې لینز اغیز په دې معنا دی چې کله رڼا د یوه ډېنګر جسم، لکه تور سوراخ، په څیر څخه تیریږي، نو دغه رڼا بیا په څو ځایونو کې ښکاري .دا یوه ساینسي موندنه ده چې په دې آیت کې هم اشاره شوې ده.

زیتون ونه:

زیتون ونه چې په آیت کې ذکر شوې، د طبیعت یو داسې شجره ده چې د خپل ځانګړي خواصو له مخې په کائنات کې د انرژۍ سرچینه کیدای شي .د دې ونه نه د ختیځ او نه د لویدیځ پورې اړه لري، دا د قرآن د معجزې په څیر یو د هغو پټو حقایقو یوه اشاره ده.

پایله :دا آیت یوازې د الله ج د رڼا ښودنه نه کوي، بلکې د کائنات د هغو اسرارو په اړه هم خبرې کوي چې د ساینسي موندنو له مخې نوره روښانه شوې دي .دا ټول معجزې د دې ثبوت دی چې قرآن د الله ج د پوهې او حکمت څرګندونه ده، چې د انسانانو لپاره لارښود دی



## د قطب ستوری

د قطب ستورې **pollar star** شاندار نعمت :د آسمان قطب نما

الله تعالی موږ ته بې شمیره نعمتونه راکړي دي، خو په دې نعمتونو ډېری وخت موږ نه پوهیږو او یا یې له شکره پاتې یو .یو له دې نعمتونو څخه د قطب ستوری دی، چې د آسمان د قطب نما په توګه کار کوي او د انسانانو لپاره یوه مهمه لارښوونه ده .

الله تعالی نه یوازې قطب ستوری بلکې د دې سره یو ځینې نورې ځانګړتیاوې هم په داسې ډول رامنځته کړې چې دا ستوری زموږ د ژوند لپاره یوه لازمي وسیله ګرځېدلې ده.

د قطب ستوري ځانګړتیاوې او ساینس:

قطب ستوری خورا لوی دی، او دا د لمر په پرتله دوه زره ځله پیاوړې رڼا خپروي .د دې ستورې سره نږدې یوه کوچنۍ ستوری **(Ab)** هم موجوده ده چې د قطب ستورې یوازېتوب آراموي .سربېره پر دې، الله تعالی یو بل ستوری **(B)** له دې څخه لرې جوړ کړی، چې د قطب ستورې درې ګوني سیستم جوړوي.

د قطب ستوري فاصله له ځمکې څخه ۴۳۰ نوري کاله ده، یعنې د دې ستورې رڼا ۴۳۰ کاله وخت نیسي تر څو ځمکې ته ورسیږي .دا ستوری د ځمکې د حرکت سره همغږي

لري، چې له همدې امله موږ دا ستوری ثابت وینو .په حقیقت کې، که دغه ستوری نن ورځ انفجار وکړي، ځمکې ته به د دې پېښې لیدلو لپاره ۴۳۰ کاله انتظار وکړو.

د قطب ستوري اهمیت

قطب ستوری د انسانانو لپاره د لارو موندلو وسیله ګرځېدلې ده .خلک په ځانګړې توګه د شپې په وخت کې په سمندرونو یا صحراوو کې د لار موندلو لپاره له دې ستوري څخه استفاده کوي .دا ستوری د ځمکې د دوران سره یوځای دی، په داسې حال کې چې نور ستوري د ځمکې په شاوخوا کې حرکت کوي.

الله تعالی قطب ستوري ته د ځانګړې فاصله، اندازه، او رڼا ورکولو سره د انسانانو لپاره د لارو موندلو لپاره مرسته کړې ده .که چېرې الله تعالی دا ستوری د ځمکې لپاره مناسب نه وای جوړ کړی، انسانانو به نه یوازې دا ستوری نه وای لیدلی، بلکې د لار موندلو لپاره یې هم نه و استعمالولی.

د قرآن کریم کې د قطب ستوري ذکر

دا نعمت په قرآن کې څرګند شوی دی .الله تعالی په

سورة النحل کې فرمايي:

"وَعَلاَمَاتٍ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ"

سورة النحل، آیت ۱۶

"او د نښو او ستورو له لارې خلک لاره مومي".

دا آیت موږ ته دا ښيي چې الله تعالی په خپلو ستورو کې یو لړ نعمتونه ځای کړي دي، چې په هغو کې قطب ستوری هم شامل دی .دا ستوری د خلکو لپاره د لارښوونې وسیله ده او د لارو موندلو په برخه کې یو ستر نعمت دی.

د الله تعالی نعمتونه :د ستورو لپاره لاره

الله تعالی په قرآن کې د خپلو نعمتونو یادونه کوي او وايي:

"أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَنْ لَا يَخْلُقُ؟ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ"

سورة النحل، آیت ۱۷

"آیا هغه چې جوړوي د هغه په شان دی چې نه جوړوي؟ آیا تاسو پند نه اخلی؟"

او همدا راز:

"وَإِن تَعدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ"

سورة النحل، آیت ۱۸

"او که تاسو د الله تعالی نعمتونه شمېرئ، تاسو نه شئ کولای چې یې شمېر کړئ .بې شکه الله تعالی ډېر بخښونکی او مهربانه دی".

نتیجه

د قطب ستوري شتون او ځانګړتیاوې موږ ته دا ښیي چې الله تعالی هر څه په دقت سره جوړ کړي او د ټولو نعمتونو لپاره یوه ځانګړې نقشه ټاکلې ده .دا ستوری نه یوازې د سمندرونو او صحراوو کې د لار موندلو لپاره یوه وسیله ده، بلکه د الله تعالی قدرت، حکمت او مهرباني ښکارندوی دی .د دې ستوري اهمیت یوازې د علمي څېړنو په پایله کې نه، بلکې د قرآن د آیتونو له مخې هم موږ ته څرګندیږي.

له دې ټولو څخه موږ باید شکر ادا کړو او پوه شو چې د الله تعالی نعمتونه بې شمېره دي




**د لمریز نظام ۱۱ سیارې**

قرآن کریم د حضرت یوسف علیه‌السلام خوب بیانوي، چې پکې ۱۱ ستوري، لمر او سپوږمۍ ذکر شوي دي .د دې آیت مفهوم نه یوازې د یوسف علیه‌السلام د ژوند یوه مهمه پېښه ده، بلکې د ساینس او ستورپوهنې سره یې یو حیرانوونکی تطابق هم څرګند کړی.

۱ .د یوسف علیه‌السلام خوب د قرآن کریم له مخې

الله فرمایي:

( إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَـٰٓأَبَتِ إِنِّى رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِى سَـٰجِدِينَ )

(یوسف :۴)

ژباړه:

"یاد کړه کله چې یوسف خپل پلار ته وویل :(ای پلاره!) ما ولیدل چې یوولس ستوري، لمر او سپوږمۍ ما ته سجده کوي".

۲ .د قرآن کریم کې د «کَوْکَب» لفظ معنی

په قرآن کریم کې د" کَوْکَب "لفظ په عام ډول د اسماني اجرامو لپاره کارول شوی چې معنا یي سیاره ده .دلته د یوسف علیه‌السلام په خوب کې د" کَوْکَب "ذکر په واضحه توګه د هغه څه سره تطابق لري چې نننی ساینس یې د لمریز نظام سیارې ګڼي.

۳ .د یوسف علیه‌السلام خوب تعبیر او د ۱۱ سیارو نظریه

په دې خوب کې:

۱۱ ستوري :د یوسف علیه‌السلام ۱۱ ورونه دي.

لمر :د هغه پلار يعقوب عليه‌السلام ته اشاره کوي.

سپوږمۍ :د هغه مور ته اشاره لري.

۴ .د لمريز نظام د ۱۱ سيارو نظريه

دا کتاب،کوم چې Ceres او Eris کوچنی سياري ارزول کيږي، د ښاغلی ډيوېډ 'David a aguilar'په خپل ريسرچ کتاب کې ددې وړاندوينا کړي.

د ۲۰مې پېړۍ له پيل څخه، ستورپوهانو د لمريز نظام ۱۱ اصلي سيارې وړانديز کړی و .د پلټو په ترڅ کې د Eris او Ceres په نومونو دوې نورې سيارې کشف شوې، چې دا د لمريز نظام د سيارو شمېر ۱۱ ته رسوي.

دلته د سيارو نومونه او قطرونه دي (قطرDiameter = ):

عطارد :(Mercury) قطر = ۴،۸۷۹,۴ کيلومتره

زهره :(Venus) قطر = ۱۲،۱۰۴ کيلومتره

ځمکه :(Earth) قطر = ۱۲،۷۵۶ کيلومتره

مريخ :(Mars) قطر = ۶،۷۷۹ کيلومتره

مشتري :(Jupiter) قطر = ۱۳۹،۸۲۰ کیلومتره

زحل :(Saturn) قطر = ۱۱۶،۴۶۰ کیلومتره

اورانوس :(Uranus) قطر = ۵۰،۷۲۴ کیلومتره

نیپچون :(Neptune) قطر = ۴۹،۲۴۴ کیلومتره

سیریس :(Ceres) قطر = ۹۴۶ کیلومتره

پلوتو :(Pluto) قطر = ۲،۳۷۶,۶ کیلومتره

ایریس :(Eris) قطر = ۲،۳۲۶ کیلومتره

د ساینسي نظریې له مخې:

:Erisد سیارو له ډلې یوه ځانګړې اجرام ده.

:Ceresپه پیل کې د کوچنۍ سیارې په توګه طبقه بندي شوه او وروسته د هغې اهمیت زیات شو.

۵ .د قرآن او ساینس حیرانوونکی تطابق

د یوسف علیه‌السلام خوب چې پکې ۱۱ ستوري ذکر شوي، په څرګنده توګه د دې علمي نظریې سره تطابق ښيي .د قرآن دا ذکر د ۱۴۰۰ کلونو مخکې د یوې داسې شمېرې یادونه کوي، چې یوازې د ساینس پرمختګ یې تفصیل توضیح کولی شي.

۶ .پایله – د قرآن علمي اعجاز

قرآن کریم نه یوازې د یوسف علیه‌السلام د خوب د تعبیر په اړه بلاغي او تعبیرې نغوته لري، بلکې د لمریز نظام په اړه یو حیرانوونکی علمي تطابق هم ښيي .د" کَوْکَب "ذکر د قرآن د دقت یوه بېلګه ده، چې انسانیت ته علمي او معنوي رهبرۍ وړاندې کوي.

دا قرآني حقیقت ثابتوي چې قرآن د الله یو الهي کتاب دی، چې حقایق یې د وخت په تېرېدو سره لا نور څرګندیږي.

سبحان الله!



## د ستورو سجده او د فضا-وخت علمي حقیقت

قرآن کریم فرمایي:

"وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ"

(الرحمن :۶)

"او ستوري او ونې سجدې کوي".

د آيت ساده تشريح

سجده کول د خشوع، تسليمۍ، او الله ته د عبادت نښه ده.

د ونو سجده ښکاره ده، ځکه چې د ځمکې جاذبه د هغوی څانګې ښکته کوي، او ځينې ونې داسې وده کوي چې د سجدو په شان ښکاري.

خو ستوري څنګه سجده کوي؟ ستوري خو ثابت ښکاري او ښکته نه راځي!

د ستورو سجدې ساينسي مفهوم

ساينس ښيي چې فضا-وخت **(Spacetime)** يو انعطاف منونکی جوړښت دی، چې د مادې **(Mass)**له امله انحنا مومي.

۱ .د فضا-وخت **(Spacetime)** مفهوم

مخکې خلک فکر کاوه چې فضا **(Space)** يو ثابت او تغير نه منونکی ځای دی.

خو آلبرټ آينشتين په ۱۹۱۵م کې د عمومي نسبيت نظريه **(General Relativity)** وړاندې کړه، چې له مخې يې:

فضا او وخت يو يوځای جوړښت لري، چې" فضا-وخت "ورته وايي.

که یو جسم (لکه ستوری) ډېر کمیت **(Mass)** ولري، نو دا د فضا-وخت جوړښت ته انحنا ورکوي، او دا خم د جاذبې **(Gravity)** سبب ګرځي.

۲ .ستوري څنګه سجده کوي؟

کله چې یو ستوری لوی کمیت **(Mass)** لري، نو د هغه شاوخوا فضا-وخت خم کېږي، لکه یو قالینه چې د یو درونډ شي له امله ښکته شي.

دا خمیدل **(Curvature)** سبب کېږي، چې نور شیان د دې انحنا له مخې حرکت وکړي، چې همدا د جاذبې اصل دی.

د دې خم شکل لکه د یو عبادت کوونکي سجدې ته ورته دی، ځکه چې ستوری د فضا-وخت پر سطحه یو ښکته انحنا (سجده) رامنځته کوي.

۳ .ستوري او کهکشانونه د جاذبې تابع دي

ټول ستوري، سیارې، کهکشانونه، او حتی رڼا د فضا-وخت د انحناء له مخې حرکت کوي.

دا پدې معنی ده چې ټول ستوري د الله د قوانینو تابع دي، لکه څنګه چې انسان د عبادت پر مهال سجده کوي.

که دا خمیدل نه وای، نو کهکشانونه به منظم نه وای، سیارې به له خپلو مدارونو وتلې وای، او ټول کائنات به ګډوډ وای.

قرآني اعجاز

دا حقیقت ساینس په ۲۰مې پېړۍ کې کشف کړ، خو قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې اشاره ورته کړې وه، چې" ستوري سجده کوي – "یعني د الله د قوانینو تابع دي او د جاذبې له مخې فضا-وخت خم کوي.

د جاذبې قوې **(Gravity)** اصلي مفهوم همدا دی، چې ماده **(Matter)** فضا-وخت ته خم ورکوي، او خم شوی فضا-وخت بیا مادې ته لارښوونه کوي، چې څنګه حرکت وکړي.

دا ټول د کائنات یو الهي تنظیم دی، چې د قرآن د سجدې مفهوم ته ساینسي وضاحت ورکوي.

نتیجه

د ستورو سجده د هغوی د فضا-وخت د انحناء له لارې تفسیرېږي، چې علمي حقیقت دی.

قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې یو داسې حقیقت ته اشاره کړې، چې ساینس اوس کشف کړی دی.

دا ثابته کوي، چې قرآن یوازې د دین کتاب نه دی، بلکې یو الهي کتاب دی، چې د کائنات حقایق پکې بیان شوي دي.

سبحان الله **!**ستوري هم د الله قدرت ته سر ټیټوي



**د طواف اعجاز**

د طواف اعجاز **:**د کعبې شاوخوا او د کایناتو حرکت

الله تعالی په خپل حکیمانه کتاب، قرآن مجید کې د کعبې شاوخوا طواف کول د مسلمانانو د اطاعت او بندګۍ یوه ښکاره نښه ګرځولې ده .د حج د مناسکو یوه ځانګړې برخه، طواف، نه یوازې یو روحاني عمل دی، بلکې د کایناتو له حرکت سره یو بې سارې تړاو هم لري، چې د الله تعالی د حکمت او قدرت یوه بله بېلګه وړاندې کوي.

د کعبې شاوخوا د طواف امر په قرآن کې

الله تعالی د طواف کولو امر داسې بیان کړی دی:

وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ

(الحج :۲۹)

ژباړه..." :او دوی دې د دې لرغوني کور شاوخوا طواف وکړي".

دا آیت د طواف کولو د اهمیت څرګندونه کوي، چې په دې کې د بنده اطاعت، تسلیمیدنه او د الله تعالی د عبادت ښکلا منعکسېږي .مګر د دې عبادت حیرانوونکې اړخ هغه دی چې دا د کایناتو د حرکت سره بشپړه همغږي لري.

د کایناتو حرکت او د طواف تړاو

کله چې یو مسلمان د کعبې شاوخوا په ضد ساعت لوري **(Anti-clockwise)** طواف کوي، دا عمل د کایناتو د نظم او حرکت یوه ښکلې بېلګه وړاندې کوي .دلته ځینې د کایناتو حرکتونه چې د طواف سره همغږي لري:

سپوږمۍ د ځمکې شاوخوا:

سپوږمۍ په خپل مدار کې د ځمکې شاوخوا په ضد ساعت لوري حرکت کوي.

سیارې د لمر شاوخوا:

زمورږ د لمريز نظام ټولې سيارې د لمر شاوخوا په ضد ساعت لوري حرکت کوي.

ستوري د کهکشان شاوخوا:

کهکشانونه، لکه زمورږ شيدو لاره(**Milky Way**) ، د کهکشانونو په مرکز شاوخوا په ضد ساعت لوري حرکت کوي.

د دې حرکتونو دا ځانګړنه ښيي چې د کعبې طواف د کايناتو د طبعيت سره بشپړه همغږي لري.

د ستورو طواف او سجده د الله لپاره

په قرآن کريم کې د کايناتو او د هغوی د حرکت په اړه داسې بيان راغلی دی:

**أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ...**

(الحج :١٨)

ژباړه" :ايا ته نه وينې چې الله ته هر هغه څه سجده کوي چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، ونې، څاروي او ډېر خلک؟"

تر ټولو جالبه دا ده چې همدغه سورت هم د (حج) دی

د دې آيت څخه څرګندېږي چې د ستورو حرکت د الله تعالی د حکم تابع دی، او د هغوی حرکت په حقيقت کې د الله لپاره طواف او سجده ده.

د طواف حکمت :د بنده تسليمېدل د کايناتو په همغږۍ کې

کله چې یو مسلمان د کعبې شاوخوا طواف کوي، هغه د الله تعالی امر ته د اطاعت اظهار کوي .دا اطاعت نه یوازې یو روحاني اړخ لري، بلکې د کایناتو د حرکت سره بشپړه همغږي لري .د کعبې طواف انسان ته درس ورکوي چې د الله تعالی د قوانینو سره په بشپړه توګه همغږی شي، ځکه چې کاینات ټول د هغه تعالی د امر تابع دي.

نتیجه :د طواف د اعجاز ښکلا

د کعبې شاوخوا طواف یوازې یو عبادت نه دی؛ بلکې دا د کایناتو د حرکت سره یو الهامي تړاو دی .لکه څنګه چې سپوږمۍ د ځمکې شاوخوا، سیارې د لمر شاوخوا او کهکشانونه د خپلو مرکزونو شاوخوا په ضد ساعت لوري حرکت کوي، په همدې ډول انسان د کعبې شاوخوا حرکت کوي او د الله تعالی د وحدانیت او حکمت ښکلا څرګندوي .د دې عبادت په ترسره کولو کې انسان د کایناتو د حرکت نظم تجربه کوي او د الله تعالی د قدرت یوه ښکاره نښهویني.

پایله :یې نه منونکو ته

که څوک د کعبې د طواف په حکمت او د کایناتو سره په همغږۍ کې شک لري، نو موږ له هغوی پوښتنه کوو :څنګه ممکنه ده چې یو عبادت، چې څوارلس سوه کاله وړاندې د قرآن له لارې د الله تعالی له لوري انسانانو ته امر شوی، په داسې دقت او حیرانوونکې همغږۍ کې وي چې نننۍ ساینس یوازې اوس د کایناتو له حرکتونو څخه پرده پورته کړې؟

ایا دا اتفاق دی چې سپوږمۍ، سیارې او ستوري د خپلو ش شاوخوا په ضد ساعت لوري حرکت کوي او مسلمانان هم د کعبې شاوخوا په همدې ترتیب حرکت کوي؟ که دا ټول اتفاق وي، نو ولې دا د کایناتو له نظم سره دومره په عجیبه ډول مطابقت لري؟

موږ تاسو ته بلنه درکوو چې د قرآن په ژوره توګه مطالعه وکړئ او د دې اعجاز پر وړاندې خپلې پوښتنې راپورته کړئ .دا عبادت يوازې يو شعاري عمل نه دی؛ دا د علم، حکمت او حقيقت يوه نه ماتېدونکې نښه ده چې يوازې هغه څوک يې انکار کولی شي چې د حقيقت له منلو نه عاجز وي .د قرآن اعجاز ته ننګونه وکړئ، او موږ ډاډه يو چې پايله به تاسو ته د الله تعالی د حکمت، قدرت او وحدانيت بې ساری حقيقت ښکاره کړي



## د ځمکې محوري دوران

ځوارلسوه کاله دمخه چا دا فکر هم نه کولو چې او چا دا نه منله چې ځمکه څرخي خو په ننۍ عصر کې ساينس دا په اثبات رسولي ده چې ځمکه محوري دوران **(Rotation)** کوي.

الله تعالی فرمايي:

(يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا)

(الأعراف :۵۴)

ترجمه:

"شپه د ورځې سره رانغاړي، داسې چې هغه (ورځ) په چټکۍ سره (شپه) پسې راځي".

سانينسي توضيحات او د قرآني اعجاز وضاحت

١ .د ځمکې دوران:

ځمکه د خپل محور شاوخوا شاوخوا ١۶٧٠ کيلومتره په ساعت کې حرکت کوي!

د دې حرکت له کبله ورځ او شپه په منظم ډول سره تعقيبوي.اوسني ساينسپوهان وايي چې ځمکه د خپل محور شاوخوا په لوړه چټکتيا سره ګرځي، خو موږ يې احساس نه کوو!

کله چې د ځمکې د دوران عکسونه ژر ژر ښودل شي، نو دا ښکاري چې ورځ او شپه د يو بل تعقيب کوي، داسې چې رڼا د تيارو مخه نه نيسي، بلکې تدريجي بدلون رامنځته کيږي.

قرآن کريم دا حقيقت ١۴٠٠ کاله وړاندې بيان کړی!

الله ج په قران کريم کې فرمايي:

>خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ ـــيُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ ـــكُلٌّ يَّجْرِىْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ ـــاَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ<

٣٩:٥>هغه اسمانونه او ځمکه په حقه سره پيدا کړي دي، هغه شپه په ورځ تاووي (کور) او ورځ په شپه تاووي او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر يو مقرر کړی شوې نېټې ته روان دی، خبردار شئ !همغه ښه غالب، ښه بخښونکی دی<

د عربي لغات **( کور)**اصلي مانا د انګريزي(کويل) سره يو شی ده لکه په سر باندې لونګۍ پيچل.

په عربي ژبه کې (كُرَّة) توپ ته ويل کيږي، او په قرآن کريم کې د (يُكَوِّرُ) معنا په توپ باندې بدلېدل(يعنې د کوروي ځمکې څرخيدل) يا د توپ په څېر کېدل دي،

الله ج په قران کريم کې فرمايي:

>وَتَرَى ٱلْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ صُنْعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفْعَلُونَ<

۲۷:۸۸ **...**>او ته به غرونه وينې، ته به په دوی د کلکو ولاړو ګمان کوې، حال دا چې دوی به د وربځې د تېرېدلو په شان تېرېږي، وګورئ کاريګري د الله هغه چې هر شی يې محکم کړی دی، بې‌شکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ <**...**

دغه آيت نه يواځې دځمکی محوري دوران بلکي دحرکت لوری هم بيانوی دوريځو د درنو کتلو دخوشيدو لوری چی دری نيم څلور زره متره دځمکي له سطحي پورته وی تل دلويديز له لوری نه د ختيز لوری ته وی له همدي کبله تل د هوا دخالاتو دپوهيدو لپاره لويديز اولوری تر مطالعی لاندی نيول کيږی هغه مساله چې په سلګونو کاله مخکی په قرآن عظيم شان کی ياده شوی اوس اوس کشف شوي چې ځمکه په خپل ځان له لويديز نه دختيز لوری ته څرخيږی

(قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ۝ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ۝ وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ)

(القصص **:** ۷۱-۷۳)

"ووايه (ای محمده!) :خبر راکړئ که الله پر تاسو باندې شپه د قيامت تر ورځې پورې دوامداره کړي، نو پرته له الله نه کوم معبود شته چې تاسو ته رڼا راولي؟ ايا نه اورئ؟
ووايه :خبر راکړئ که الله پر تاسو باندې ورځ د قيامت تر ورځې پورې دوامداره کړي، نو پرته له الله نه کوم معبود شته چې تاسو ته شپه راولي، چې پکې ارام وکړئ؟ ايا نه وينئ؟ او د هغه د رحمت له برکته يې تاسو ته شپه او ورځ پيدا کړه، چې پکې ارام وکړئ او د هغه د فضل (رزق) طلب وکړئ، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ".

سائنسي حقيقت:

ځمکه د خپل محور پر شاوخوا په هر ۲۴ ساعتونو کې يو ځل څرخي.
که دا حرکت بند شي، نو:

يو اړخ به د تل لپاره شپه وي ← ژوند به کنګل شي.

بل اړخ به د تل لپاره ورځ وي ← ژوند به وسوځي.
د شپې او ورځې تبادله يوازې د ځمکې د محوري حرکت له برکته ده.

قرآني اعجاز:

قرآن د" سَرْمَدًا "تلپاتې شپه يا ورځ اصطلاح کارولې، چې اشاره يې د ځمکې د حرکت حقيقت ته ده .

دا هغه حقيقت دی چې ساينس يوازې په وروستيو پېړيو کې کشف کړی، خو قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله مخکې بيان کړی و.
دا ښکاره کوي چې قرآن د الله تعالی کلام دی، او دا علمي حقيقتونه د وحې له لارې رسول الله ﷺ ته ښوول شوي وو



## د ورځې او شپې بدلون (تناوب)

په هغه زمانه کې چې خلکو دا ګمان درلود چې ځمکه د کائناتو مرکز دی، او لمر د هغې چاپېره ګرځي، نو څنګه به دا ممکنه وه چې د ورځې او شپې د تسلسل په اړه خبرې وشي، خو د لمر له حرکت څخه یادونه ونه شي؟ خو قرآن کریم د لمر د حرکت یادونه نه ده کړې، بلکې دا موضوع یې داسې بیان کړې ده:

سورة الأعراف، آیت ۵۴:

(...يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا...)

"(الله) شپه د ورځې سرپوښ ګرځوي، چې ژر تر ژره د هغې پسې راځي"...

سورة يس، آیت ۳۷:

(وَآيَةٌ لَّهُمُ اللَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظْلِمُونَ)

"او د دوی لپاره نښه شپه ده، چې له هغې څخه ورځ راکاږو، نو ناڅاپه هغوی تیاره کې شي".

سورة لقمان، آیت ۲۹:

(أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ)

"ایا ته نه وینې چې الله شپه د ورځې دننه کوي، او ورځ د شپې دننه کوي؟"

سورة الزمر، آیت ۵:

(...يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ...)

..."هغه شپه د ورځې پر سر تاووي، او ورځ د شپې پر سر تاووي"...

لومړی آیت هیڅ ډول تفسیر ته اړتیا نه لري .دویم آیت یوازې یو تصویر وړاندې کوي.

خو دریم او څلورم آیتونه په ځانګړي ډول د" یو بل سره دننه کېدلو "بهیر تشریح کوي، او همداراز د شپې د ورځې پر سر، او د ورځې د شپې پر سر تاوولو ځانګړی مفهوم بیانوي (په ځانګړي توګه سوره الزمر، آیت ۵).

د" تاوولو "یا" په سر تاوولو "لپاره تر ټولو ښه ژباړه، لکه څنګه چې د فرانسوي ژباړونکي ر .بلاشیر له خوا شوې، د عربي فعل كَوَّرَ ژباړه ده .د دې فعل اصلي معنا دا ده چې" :عمامه یا پګړۍ په سر تاوول"؛ نو دا د تاوولو معنا په ټولو نورو اړخونو کې هم ساتل شوې ده.

خو په فضا کې حقیقتاً څه پېښیږي؟

امریکایي فضانوردانو له خپلو فضایي بېړیو څخه، په ځانګړي توګه له ځمکې نه ډېر لېرې، لکه د سپوږمۍ له سطحې، دا مشاهده او عکسونه اخیستي دي .هغوی ولیدل چې لمر تل د ځمکې هغه نیمایي سطحه روښانه کوي چې ورته مخامخ ده (مګر د لمر پټېدو یا کسوف پرته)، او بله نیمایي یې په تیاره کې وي.

ځمکه پر خپل محور تاوېږي، خو روښانه والی هماغسې پاتې وي، نو یوه نیمه کره (نیم ګردي ساحه) د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې یو پوره چکر وهي، پداسې حال کې چې تیاره نیمه کره هم هماغسې چکر وهي.

دغه دائمي تاوېدل او بدلېدل د ورځې او شپې، په قرآن کې خورا واضح تشریح شوی .نن سبا د انسان لپاره دا درک ډېر اسانه دی، ځکه موږ اوس پوهېږو چې لمر نسبتاً ثابت دی او ځمکه ده چې تاوېږي .دا دوامداره تاوېدل او یو بل کې داخله کېدل، لکه څنګه چې قرآن تشریح کړی، داسې ښکاري لکه چې د ځمکې ګردوالي مفهوم په هغه وخت کې تصور شوی وي، حال دا چې دا تصور په هغه وخت کې نه و شوی.

د پورته خبرو ترڅنګ، د ورځې او شپې د تسلسل په اړه، باید دا هم یاد شي چې قرآن دا تصور وړاندې کړی، چې یوازې یو ختیځ (مشرق) او یو لویدیځ (مغرب) نه دی، بلکې زیات دي .دا یوازې یو توصیفي حقیقت دی، ځکه دا یو عام طبیعي مشاهدات دي .خو دا ذکر یوازې

د دې لپاره کېږي، ترڅو دا موضوعات، لکه څنګه چې قرآن بیان کړي، په بشپړه ډول وړاندې شي.

د بېلګې په توګه:

سورة المعارج، آیت ۴۰:

(فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ...)

"نو نه !زه قسم خورم د ختیځونو او لویدیځونو په رب باندې"...

سورة الرحمن، آیت ۱۷:

(رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ)

"د دواړو ختیځونو او دواړو لویدیځونو رب دی".

سورة الزخرف، آیت ۳۸:

چې اشاره کوي:

"د دواړو ختیځونو ترمنځ واټن — "...دا یو تصویر دی چې د دواړو نقطو ترمنځ د لوی فاصلې اشاره کوي.

هر څوک چې د لمر ختو او لوېدو ته پوره پام وکړي، پوهیږي چې لمر هر فصل کې له بېلابېلو ځایونو نه راخیږي او لوېږي .د افق پر کرښه چې د ختیځ او لویدیځ سرحدونه ټاکل شوي، هلته د لمر ختو او لوېدو بېلابېل حدونه مشخص شوي، او د کال په اوږدو کې دا نقطې بدلیږي.

دا پدیده یوه عادي او مشاهده کېدونکې ده، خو د دې فصل تر ټولو د پام وړ خبرې هغه نور مطالب دي، چې پکې د قرآن له خوا بیان شوي فلکي (نجومي) حقایقو ته د نننې ساینس موندنې اوس رسیږي.



**د ځمکې دويم ډول حرکت په مدار کې**

الله سبحان تعالی فرمايي:

> ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا **20:53** <...

>هغه (الله) چې ستاسو لپاره يې زمکه ځانګو ګرځولې<...

د عربی (مَهْدًا) لفظ په انګريزۍ کې

**Cradle** ته وايي

نو د ځمکې خرکت د زنګو په شانې دی کله چې د لمر څخه خپل مدار کوي، د مثال په ډول کله چې يوه زنګو په يو ځای پورې ونښليږی نو زنګو د ټال کولو پر وخت په خپل مدار کې منظم حرکت کوي،

ښه مثال يي **(tetherball)** دی،د لمر جاذبه قوه د تيتربال رسۍ په څير ده، په دې توګه دا په دوامداره توګه ځمکه خپل لوري ته اړوي .او ځمکه، د تيتربال په څير ده، د خپل لوړ سرعت سره مخ په وړاندې ځي، کوم چې د جاذبې اغيزې توازن کوي .دا پدې مانا ده چې سياره نه فضا ته الوتنه کوي او نه لمر طرف را لويږي.

«كُلُّ ُ فِی فَلَکِ ِ يَسْبَحُونَ.»القرآن ۲۱ :۳۲.

ژباړه :«هر يو يي له دې(ستورو) څخه په خپل مدار کې لمبو وهي.»

«لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِىْ لَهَاۤ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ؕ وَكُلٌّ فِىْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ»

۴۰:۳۶>: نه دئ لمر لايق دغه لره چې لاندې کړي سپوږمۍ ونه شپه ړومبۍ کېدونکي ده له ورځي او دغه ټول ( فلکي اجرام (په خپل مدار)اسمان (کې لمبو وهونکي يسبحون )دی «

د يسبحون چې له( سباحه ) نه اخيستل شوې ده لغوي مانا يې (حرکت څلورو خواووته ګام )قدم ( واهل او وضعي حرکت دئ)

نو د ځمکې په شمول د لمريز نظام ټولې سيارې د لمر څخه په خپلو خپلو مدارونو کې يسبحون دی، نه يوازې زمونږ لمريز نظام کې وليکن په ټول کائنات چې هر لمريز نظام موجود دی په (وَكُلٌّ فِىْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ) کې رانغښتل شوی




## د قرآن کريم املائي اعجاز

يو ځل (سورت ياسين، ) .**(36:40)** ولولئ دا واقعياً د حيرانتيا خبره ده .. الله (جل جلاله) په قرآن کريم کې د هر هغه چا لپاره چې اوريدل يې خوښ دي نښې ايښي دي، د قرآن ژبني او ساينسي نښې بې شميره دي .خو دا زموږ لپاره مهمه ده چې په ياد ولرو چې قرآن د نښو کتاب دی نه د ساينس .

الله جل جلاله وعده کړې ده چې موږ ته به په کتاب کې او زموږ په دننه کې نښې ښکاره کړي او په حقيقت کې د الله ژمنه رښتيا ده .

الله سبحان وتعالى فرمايي:

۵۳:۴۱ ژر ده چې وبانښيو دوی ته دلايل{دقدرت}خپل چې په (کايناتو) کې دي او په نفسونو ددوی کې دي تر هغه پورې چې ښکاره شي دوی ته چې بيشکه دغه قران حق دی>...

په قرآن عظيم شآن کې کله چې الله تعالى موږ ته وايي چې لمر او سپوږمۍ په مدار کې ګرځي.

په دې آيت کې نه يوازې معنوي، بلکې ددې ايات (املا) هم معجزه ده .

سورت النبياء

(۳۳:۲۱):كُلٌّ فِي فَلَكٍ

"هر يو يي په خپل مدار کې"

کېدای شي پوښتنه پيدا شي چې څنګه او په کوم ډول په خپل مدار کې خرکت کوي؟

خته موږ ته الله سبخان وتعالی ددوی په مدارونو کې د خرکت بيان هم کوي .

دا د عربي کلمې د الفبا ماتول دي .د مرکز ښخه په دواړو لورو کې د ورته خط نمونه وګورئ .

(كُ( لٌّ( فـِ( ي)فـَ)لَ )كٍ)

'' هر يو يي په خپل اسمان کې''

په دې معنی چې دا د کيڼ ښخه ښي او ښي ښخه کيڼ طرفته الفبا يو شان ترتيب لري نو دا په ورته ډول لوستل کيدی شي په هر لوري < له پيل ښخه پای ته يا له پای ښخه پيل ته<

ايا دا ممکنه ده چې يو ښوک ليکل او لوستل ونشي کولی، ايا هغه به داسې يو پيليندوم چمتو کړی؟

د لامحدودو معجزو سره (ژبې، ساينسي، رياضي، تاريخي، وړاندويني او نور) **!!!...** دا يو بل ثبوت دی چې قرآن د الله تعالی کلام دی او يو له ډيرو لاملونو ښخه چې الله تعالی نبي عليه سلام هغه ښوک ساتلی و چې د لوستلو او ليکلو توان يې نه درلود.



**د لمريز نظام حرکت په کهکشان کې معجزې:**

لومړی" :د لمر دواهم ډول خرکت "

دواهم":د ځمکې دريم ډول حرکت"

دريم":د لمريز نظام حرکت د شودو لارې په کهکشان کې"

تر شلمې پيړۍ پورې هيڅوک هم نه پوهيدل چی د ځمکې په شمول د لمريز نظام سيارې د لمر سره په کهکشان کې يو ځای حرکت کوی،

مثالاً ځمکه :ځمکه په يو وخت کی درې ډوله خرکت کوي لومړۍ :په خپل مدار باندې څرخيدل، يعنې په ۲۴ ساعتونو کی شپه او ورځ رامنځته کول دوهم :ځمکه د لمر په خوا او شاو راڅرخيدل په خپل مدار کې کوم چې ۳۶۵ ورځې وخت نيسی او دې سره يو کال رامنځته کوی، دريم :ځمکه د لمريز نظام سره د **Milky way** شودو لارې په کهکشان کې حرکت کول کوم چې يو ميدار يي ۲۰۰ ميليونه کاله وخت نيسي.

الله سبحان تعالی فرمايي:

"وَالشَّمْسُ تَجْرِیْ لِمُسْتَقَرٍّلَّهَا ذَالِکَ تَقْدِیْرُالْعَزِیْزِالْعَلِیْمِ"

۳۶:۳۸ «لمر ځي په خپلی ټاکلي لارې[ مستقر]باندې دغه اندازه ده د ښه غالب عالم خدای.»

«اَللّٰهُ الَّذِیْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَیْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ ـــ کُلٌّ یَّجْرِیْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّی ؕ ـــیُدَبِّرُ الْاَمْرَ یُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ لَعَلَّکُمْ بِلِقَآءِ رَبِّکُمْ تُوْقِنُوْنَ ۝»

**13-2**« الله هغه ذات دی چې اسمانونه یې اوچت کړي دي، بې له ستنو، چې تاسو هغه وینئ، بیا یې په عرش باندې برقرار شو، او ده لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر یو یې تر مقررې نېټې پورې روان دی، هغه، د هر کار تدبیر کوي، دلیلونه ښه په تفصیل سره بیانوي، د دې لپاره چې تاسو د خپل رب پر ملاقات یقین وکړئ»

«اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُوْلِجُ الَّیْلَ فِی النَّهَارِ وَیُوْلِجُ النَّهَارَ فِی الَّیْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ـــکُلٌّ یَّجْرِیْ اِلٰٓی اَجَلٍ مُّسَمًّی وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ ۝»

**31-29**« ایا تا نه دي لیدلي چې بېشکه الله شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي (په کار اچولي) دي، هر یو یې تر مقررې نېټې پورې روان دی او دا چې بېشکه هغه الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ؛ ښه خبردار دی»

«يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ ۙ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِىْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ ؕ»

**35-13**« همغه (ذات) شپه په ورځ کې ننباسي او ورځ په شپه کې ننباسي او لمر او سپوږمۍ يې په کار اچولي دي، ټول تر ټاکلي نېټې پورې چليږي، الله همدا ستاسو رب، پاچايي هغه لره ده، او کوم شيان چې له هغه پرته يې تاسو رابولئ د کجورې د زړي د پوټکي څښتنان هم نه دي.»

«خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجْرِىْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ»

**39-5**«هغه اسمانونه او ځمکه په حقه سره پيدا کړي دي، هغه شپه په ورځ تاووي (نغاړي) او ورځ په شپه تاووي او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر يو مقرر کړی شوې نېټې ته روان دی، خبردار شئ **!** همغه ښه غالب، ښه بخښونکی دی»

## "کُلٌ يجري"

په پورتنيو آيتونو کې د «کُلٌّ / کُلُون» کلمه د تنوين په توګه کارول د قرآن عظيم شآن ډېر لوی اعجاز دی تنوين د کلمې په پای کې د" ن "غږ دی چې په ځينو شرايطو کې د ضمير نشتوالی ښيي .معمولاً په عربي کې له «کُلٌّ/کُلُون» وروسته يو اسم يا ضمير راځي لکه» هر يو/ټول شاګردان« ، خو دلته هغه نه شته .

همدارنګه په عربي کې د واحد او جمع پرته، د ضميرونو لپاره دوه ګون /دويال **(binary)** اړخيزه بڼه هم شتون لري .په عربي کې د ضميرونو، اسمونو، فعلونو، صفتونو لپاره واحد، دوه ګوني، او جمع ډولونه موجود دی .واحد بڼه هغه وخت کارول کيږي کله چې يو شخص يا يو شی ته اشاره کوي، دوه اړخيز ضمير د دوو خلکو يا دوو شيانو د راجع کولو لپاره، او جمع بڼه کله چې له دوو څخه زياتو خلکو يا شيانو ته اشاره کوي .

دلته قرآن عظیم شآن ټولو حرکتونو ته اشاره کوي، نه یوازې لمر او سپوږمۍ ته بلکې ځمکه ته هم.

په عربي ګرامر کې د واحد (یو)، بائنری یا' دویال '(دوه) او جمع(درې یا ډیرو) ترمنځ توپیر شتون لري .

بائنري'دویال 'ته اشاره " کلاهما یجریان "ده، په داسې حال کې چې قرآن عظیم شآن ویلي "کُلٌ یجري "جمع (درې یا زیات) ته اشاره کوي .ځکه چې لمر او سپوږمۍ یوازې دوه دي مګر قرآن دریو یا ډیرو ته اشاره کوي نو د قرآن عظیم شآن له مخې دا درې واړه حرکت کوي :لمر، سپوږمۍ او ځمکه .

د تجرې مانا ده کرار او منظم افقي حرکت کول اود مستقر مانا ده ټاکلۍ وخت.

۱۴۰۰ کاله پخوا دداسې څه ادراک کول په هیڅ ډول شوني نه وه خو بیا هم الله سبحان وتعالی زمونږ لپاره د خپل وجود د اثبات په خاطېر په قرآن کریم دا ډول په زړه پورې نښې ایښی دی آیا دا هغه څه ندي چې له موږ سره یې وعده کړای شوي وه؟

خدای (ج) فرمایي:

**۵۳:۴۱:** ژر ده چې وباښیو دوی ته دلایل{دقدرت}خپل چې په (کایناتو) کې دي او په نفسونو ددوی کې دي تر هغه پورې چې ښکاره شي دوی ته چې بیشکه دغه قران حق دی(<...



**په قران کریم کې د لمر په اړه معلومات**

په لمر کې **92%** هیدروجن او **8** فیصده هیلیوم دی

په دوراني جدول کې د هیدروجن سیمبول **H** دی چې په عربي کې (ها) کیږی په قرآن مجید کی د شمس په نوم یو سورت دی چې شمس لمر ته وایل کیږی په دې ټول سورت کې پنځلس ایاتونه دی چې ددی سورت ټول ایاتونه په (ها) سره ختم شوی دی چی دا په قران مجید کې یوازینی سورت دی چی ټول ایاتونه یی په (ها) سره ختم شوی دی لکه څرنګه چې دا د لمر د هیلیوم او د هایدروجن سیمبول دی دا سورت د قران مجید**91** یم سورت دی تاسو به په دې سره حیران شی، چی لمر د کایناتو د شوروع کیدو نه **91** کاله وروسته جوړ شوی، او د لمر او د ځمکې ترمنځ تر ټولو کمه فاصیله هم **91.4** میلیونه میله ده یوازې دا نه، د لمر د مینځ خرارت هم **15** میلیون **celsious** دی کوم چی ددې سورت د ایاتونو شمېر دی

سبحان الله

څومره د کمال خبره ده



## د ځمکې ګردیوالی

په لومړي وختونو کې خلکو دا عقیده درلوده چې مځکه اواره ده او خلک ویریدل چې د هغه نه و نه لویږي فرانسی ز در ایک لومړی سړی وو چې هغه په کال (۱۵۹۷ ) که د بحري سفر و روسته وویل چې مځکه ګردی ده.

خدای (ج) په قرآن شریف کې فرمایي

«اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِىْ اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝»

۳۱ :۲۹: آیا نه وینئ چې بېشکه الله ننباسي[ یولج ]شپه په ورځ کښې او ننباسي ورځ په شپه کې او مسخر(تابع) کړی دي تاسو ته لمر او سپوږمۍ هر یو(کُلُ) روان دی تر ټاکلي مودې پورې<.

یولج (ننباسي ) مانا لري ، کرار او په تدریج سره ننیستل .نو که مځکه اواره و ای نو شپه په ورځ او ورځ په شپه به یو وار دفعتاً اوښتله

او لمر او سپوږمۍ یی بیل بیان کړو چی یوازې دې ته تابع شوی چې رانها تولید کړی کوم چې شپه او ورځ  د کروي ځمکې د څرخیدلو په واسطه ترې رامنځته کیږی او د کروی ځمکې د څرخیدلو په واسطه شپه په ورځ کې او ورځ په شپه کې  ننباسي نو دا مبارک ایات دا مانا لری چې مځکه ګردی ده.

«كَلَّا وَالْقَمَرِ وَاللَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ ۝وَالصُّبْحِ اِذَاۤ اَسْفَرَ ۝»

« قسم دی ځما په سپوږمۍ او په شپه هغه وخت چې شا کړی او په صبا هغه وخت چه روښانه شی.» سورت المدثر ۳۲-۳۳-۳۴

دلته الله تعالی په (شپه قسم کوي او وایی هر کله چې شا کړي او په صبا هرکله چې روښانه شی) او دا نو بیا روښانه ده چې شپه په هغه وخت کې شا کوي هر کله چې ځمکه یوه کره وي کله چې د ځمکې یوه کره لمر ته مخامخ شی نو روښانه شی نو د ځمکې بله کره کوم کې چې شپه وي هغه لمر ته شا کړي او شپه او تیاره جوړه کړي.

په صحيح البخاري کې یو حدیث روایت شوی دی:

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :«إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَا هُنَا، وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَا هُنَا، وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ»

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل :«کله چې شپه له دې لوري راشي، او ورځ د هغې لوري شا کړي، او لمر ډوب شي، بېشکه دغه وخت د روژه لرونکي د روژه ماتي وخت دی.»

**(صحیح البخاري، حدیث 1953)**

په دې حدیث کې درې مهم ټکي ذکر شوي دي:

" **1.**إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَا هُنَا – "کله چې شپه له دې( ختیځ )خوا راشي.

" **2.**وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَا هُنَا – "او ورځ له دې( لویدیځ )خوا شا کړي.

" **3.**وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ – "او لمر پرېوځي.

دا درې فقرې د ځمکې د حرکت او کرویت یو ښکلی بیان دی.
د حدیث علمي حقیقت – د ځمکې کرویت

١ .د ورځې" شا کول "یوازې په کروي ځمکه کې ممکن دی

د ورځې" شا کول( "أَدْبَرَ النَّهَارُ )په فلیټ ځمکه کې ممکن نه دی.

په فلیټ ځمکه کې د شپه او ورځې ستونزه:

که ځمکه فلیټ وای، نو د لمر د حرکت له امله باید شپه او ورځ په ناڅاپي ډول بدلېدلې، نه تدریجي ډول.

دا مانا لري چې په یو وخت کې به ټولې نړۍ ته لمر ښکاره وای، او بیا به یو دم ورک شوی وای.

دا خلاف دی د حدیث له تعبیر سره، چې وایي" **:وَأَدْبَرَ النَّهَارُ"**، یعنې ورځ شا ته ځي، ورو ورو، نه دا چې ناڅاپي ورک شي.

د لمر غروب – د ځمکې د چورلید نتیجه

د لمر غروب یوازې په هغه صورت کې رامنځته کېږي چې ځمکه کروي وي او چورلېږي.

که ځمکه فلیټ وای، نو لمر به په یو وخت کې ټولو ته ښکاره و، او" غروب "به یې بله معنی نه لرله.

د حدیث څخه په ډاګه معلومیږي چې دا خبره غلته ده چې لمر په فالیټ ځمکه کې چورلیږي لکه د عیسویانو عقیده.

د ځمکې د ګردیوالي بل ثبوت د غرونو روانیدل دی

>وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ<

۲۷:۸۸ **...**>او ته به غرونه وینې، ته به په دوی د کلکو ولاړو ګمان کوې، حال دا چې دوی به د ورېځې د تېرېدلو په شان تېرېږي، (وګورئ) کاریګري د الله هغه چې هر شی یې محکم کړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ <**...**

دغه آیت نه یواځي دځمکی حرکت بلکي دحرکت لوری هم بیانوی دوریځو د درنو کتلو دخوشیدو لوری چی دری نیم څلور زره متره دځمکي له سطحي پورته وی تل دلویدیز له

لوری نه د ختیز لوری ته وی له همدي کبله تل د هوا دخالاتو دپوهیدو لپاره لویدیز الوری تر مطالعی لاندی نیول کیږی

د دغه درونند آیات د تشریح کولو لپاره په همدغه آیات شریف باندې عمل کول دي:

که تاسو د شپې د یو دیوال سره نیږدې ودریږی او د خپلو قدامونو ځای مو دقیق معلوم کړی، او نظر مو په آسمان کې په یو یا څو داسې ستورو کړی چې د دیوال سره د دریو یا څلورو ګوتو په اندازه لریوالی ولري، او په همغه ستورو مو نظر تر دریو یا څلورو دقیقو پورې ښه ټینګ وساتئ، نو تاسو به خامخا ددوی خرکت ووینئ چې د مشرق څخه د مغرب پر لوري دی، او که نیم ساعت یا یو ساعت وروسته همدغه ستورو ته وګورئ، نو ددوی دا خرکت به تاسو په تعجب کې کړي، دا همغه ستوري دی چې موږ تاسو یې له ماشتوب څخه تر خپلې ځوانۍ دور پورې وینو، او که تاسو په سبا شپه په همدغه وخت باندې خپل نظرونه د اسمان پر لوري کړئ نو وبه وینئ چې همغه ستوري کوم چې مو په تیره شپه لیدلی و، دوی به په همغه شکل په تدریج سره د مشرق څخه د مغرب پر لوري خرکت کوي.

نو دا آیاتِ کریمه د قرآن عظیم شان په خقانیت باندې لوی دالیل دی، ځکه چې د ځمکې په ګردیوالی او په څرخیدلو باندې تر معصره عصره پورې هیڅوک هم نه وو خبر، او آن بعضې خلک اوس هم پاکې مخلفت کوي په داسې حال کې چې مونږ خدای (ج) ۱۴۰۰ کاله دمخه د ځمکې په شکل او څرخیدلو خبر کړي یو.

الله ج په قران کریم کې فرمايي:

«خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ ــــيُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ ــــكُلٌّ يَّجْرِىْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ ــــاَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ»

۳۹:۵>هغه اسمانونه او ځمکه په حقه سره پیدا کړي دي، هغه شپه په ورځ تاووي (کور) او ورځ په شپه تاووي(نغاړي) او هغه لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي، هر یو مقرر کړی شوې نیټې ته روان دی، خبردار شئ !همغه ښه غالب، ښه بخښونکی دی<

د عربي لغات کور اصلي مانا د انګریزي(کویل) سره یو شی ده لکه په سر باندې لونګۍ پیچل.

په عربي ژبه کې (کُرَّة) توپ ته ویل کېږي، او په قرآن کریم کې د (یُکَوِّرُ) معنا په توپ باندې بدلېدل یا د توپ په څېر کېدل دي، قرآن کریم وایي چې د شپې او ورځې تګ راتګ او بدلون کره جوړوي او دا کره جوړېدل په هغه صورت کې شوني دي چې کله یو ګرد څیز پټ شي ځکه چې هوار څیز خو په هر حالت کې پټېږي، له همدې امله د ورځې او شپې د رامنځته کېدو له بیان څخه یې په ډاګه کېږي چې قرآن کریم هم د ځمکې شکل کروي او ګرد ښودلی، ځکه په آیات کې الله تعالی فرمایي :چې تاووي شپه په ورځې باندې او تاووي ورځ په شپې باندې د شپې او ورځې تاوول یې بیل بیان کړو او لمر او سپوږمۍ یې ورڅخه بیل بیان کړل چې هغوی یوازې تابع شوي کوم چې لمر د ورځې رڼا جوړاوي او سپوږمۍ د میاشتو او کالونه حساب جوړاوي.

او د ټولو مسیر یې بیل بیان کړو چې ټول ټاکلی مودې ته روان دی دلته قرآن عظیم شآن ټولو حرکتونو ته اشاره کوي، نه یوازې لمر او سپوږمۍ ته بلکې ځمکه ته هم.

په عربي ګرامر کې د واحد (یو)، بائنری یا' دویال '(دوه) او جمع (درې یا ډیرو) ترمنځ توپیر شتون لري .

بائنري'دویال 'ته اشاره " کلاهما یجریان "ده، په داسې حال کې چې قرآن عظیم شآن ویلي "کُلٌ یجري "جمع (درې یا زیات) ته اشاره کوي .ځکه چې لمر او سپوږمۍ یوازې دوه دي مګر قرآن دریو یا ډیرو ته اشاره کوي نو د قرآن عظیم شآن له مخې دا درې واړه حرکت کوي :لمر، سپوږمۍ او ځمکه.

او د شپې تاویدل په ورځې باندې په پالیټ ځمکه کې بې غیر د لمر څخه ناشوني ده، دا بیا په هغه وخت کې رامنځته کېدای شي کله چې ځمکه کره وی ځکه شپه او ورځ خو په فالیېټ شکل کې نشي تاویدلی تر څو چې کره ځمکه ونه څرخیږی.

«لَا الشَّمْسُ یَنْۢبَغِیْ لَهَاۤ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّیْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ؕ وَكُلٌّ فِیْ فَلَكٍ یَّسْبَحُوْنَ»

**۳۶:۴۰>:** نه دئ لمر لايق دغه لره چې لاندې کړي سپوږمۍ ونه شپه ږومبۍ کیدونکي ده له ورځي او دغه ټول ( فلکي اجرام) په اسمان کې چورلیدونکی یسبحون دی «

د یسبحون چې له (سباحه) نه اخیستل شوې ده لغوي مانا يې (حرکت څلورو خواووته ګام قدم ( واهل او وضعي حرکت دی)

**( taymiyah)**ابن تایمیحا ه چې (۱۳۲۸ ) کي يې وفات کړی دې يو مشهور مفسير وو هغه په مجموع الفتواه شپږم

ټوک ( ۵۶۷-۵۶۶ ) پاڼه کې لیکي **:** فلک چې جمع يې ( الفلوه ریښه يې فلکان ده )ګردي شي ته وايي هغه وايي آسماني اجرام ټول ګردي دي نو لمر او سپوږمۍ هم فلک یعنی ګردي دي ابن عباس (رض) وايی فلک څرخیدونکي ارغړی ته وايي خلیفه رشید وايي دحهاد شتر مرغ هګی ته وایي.

«وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا»

**۷۹:۳۰**:« او مځکه وروسته له دغه صافه**[** دحها **]** وغوړوله»

(دحها) چې ریښه يي (د ح و) ده د نورو معنا و سره د هګۍ، شترمرغ هګۍ، د هګۍ د ايښو ځای، همداسې نورې معنا هم لري .نو عربي يوه غوره ژبه ده د قرآن شريف د تفسير لپاره.

د (دحها ) مانا په هکله (ا .یوسف علی) وايي دحها يوه معنی وسيع او پراخه او بله معنی يې د شتر مرغ هګۍ ده .که د شترمرغ د هګۍ معنا ته وګورو نو نه یوازې دا چې د ځمکې بیضوی شکل په صاف ډول تعریف کوي بلکې د ځمکې دننه جوړښت هم تشريح کوي.

موږ کولی شو ځمکه په څو برخو وويشو

ښکته منټل**Lower Mantle** ،

پورتنی منتر **Upper Mantle**

د ځمکې کلک داخلي کور **Solid Inner Core**

منټل کرسټ **Mantle crust**

لیتوسفیر یا برعظمي کرسټ **Lithosphere**

د ځمکې داخلي برخه **(inner core)** چې **91%** د اوسپنې جوړښت لري، یو جامېد توف دی

د داخلي کور په سطحه کې د تودوخې درجه نږدې **5700 K (5430 °C** یا **9806 °F)** اټکل شوې، چې د لمر د سطحې د تودوخې په اندازه ده.

د ځمکې داخلي کور د ځمکې ترټولو داخلي جیولوژیکي طبقه ده. دا په اصل کې یو کلک



توپ دی چې شاوخوا **1,220** کیلومتره **760** میله شعاع لري.

د ځمکې سر یا د ځمکې هغه برخه چې موږ پرې اوسېږو د ځمکې تر ټولو پورتنی برخه ده چې د ځمکې پوښ یا قشر **(Earth Crust)** ورته یل کېږي او نږدې (۳۰) کېلو متره ډبلوالی یا ضخامت لري[1]، د ځمکې د نیمايي قطر اوږدوالی نږدې (۶۴۰۰) کېلومتره ده، نو (۳۰) کیلومتره یوازې د یو پوښ بنه جوړوی

د شترمرغ د هګۍ جوړښت:

# Egg yolk = core, egg white = mantle, shell = crust






د هګۍ ژیړ = کور، د هګۍ سپین = پوستکی، خولۍ = کرسټ یا پوښ

نو د شترمرغ د هګۍ شکل او دننه جوړښت او د ځمکې شکل او دننه جوړښت یوشان دي، نو پروردګار چې ډیر باریک بین او د حکمت څښتن دی، ډیر په ښه ډول یې تشریح کړی .د ځمکې د ګردیوالي یو ثبوت د دوو ختیزونو او دوو لویدیزونو ذکر دئ

«رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ»

۵۵:۱۷ «رب د دواړو مشرقینو دی او رب د دواړو مغربینو دئ»

دا دا مانا لري چې لمر په نیمه کره د ځمکې کې را پورته کیږی او بلې خوا ته غروب کوي دا یې یو ختیځ او یو لویدیځ او په بله نیمه کره کې بیا لمر دبل ځایه را خیژی اوبل چیری

د يو سکای ډايور **(Skydiver)** يا د آزاد سقوط کوونکي انسان سرعت تقريباً ۱۹۵ کيلومتره/ساعت ته رسېږي.

دا سرعت د هوا مقاومت او د ثقل د قوې د تعادل له امله محدودېږي، يعنې انسان تر دې سرعت نه شي تېريدای.

د دې آيت حيرانوونکې نښه دا ده، چې وايي ځينې مرغان کولی شي د آزاد سقوط کوونکي انسان څخه تېز الوتنه وکړي!

۲. آيا داسې مرغان شته چې له انسانه تېز والوزي؟

د باز يو ځانګړی نسل، "شاهين باز" **(Peregrine Falcon)**، د سقوط پر مهال تر ۳۸۹ کيلومتره/ساعت سرعت ته رسېږي.

همداراز، "طلايي عقاب"

**(Golden Eagle)**

هم د ۳۲۰ کیلومتره/ساعت سرعت ته رسېږي.

دا دواړه شکاري مرغان **(Raptors)**

دي، چې غوښه خوړونکي دي، او د آزاد سقوط پر

مهال د انسان له ترمینل سرعت څخه تېز حرکت کوي.

د قرآن کریم آیت ته وګرځئ:

"فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ" → "مرغان هغه نیسي"

دا اشاره کوي چې دا مرغان باید له سقوط کوونکي انسان څخه تېز حرکت وکړي، کوم چې نن ساینسي حقیقت ثابت شو!

۳. "أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ" (او یا باد هغه ژور ځای ته یوسي)

کله چې یو جسم د سقوط پر مهال حرکت کوي، باد د هغه لوری بدلولی شي.

د "سکيډ ډایوینګ" **(Skydive)** په ساینس کې دا معلومه شوې چې باد یو آزاد سقوط کوونکی انسان له مستقیم مسیر څخه منحرف کولی شي او ژور درزونو ته یې واچوي.

په ځینو طوفاني حالاتو کې، د باد چټکتیا ۴۰۰+ کیلومتره/ساعت ته رسېږي، چې کولی شي یو سقوط کوونکی انسان زر تر زره یوې ژورې درې ته وغورځوي.

د آیت دویمه برخه د باد د قوت ساینسي حقیقت ته اشاره کوي، چې انسان د سقوط پر مهال یوه ژور ځای ته ورغورځوي.

نتیجه:

1 د قرآن کریم دا آیت د ترمینل سرعت، د مرغانو د سرعت، او د باد د اغېزو یو حیرانوونکی علمي اعجاز بیانوي.

2 قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندې وویل چې ځینې مرغان کولی شي د سقوط کوونکي انسان څخه تېز حرکت وکړي، چې نن دا حقیقت د **Peregrine Falcon** او **Golden Eagle** لخوا اثبات شو.

3 قرآن همداراز اشاره وکړه چې باد کولی شي یو سقوط کوونکی انسان ژور ځای ته یوسي، کوم چې د طوفاني بادونو له علم سره سمون لري.

دا د قرآن کریم یو نه هېریدونکی اعجاز دی، چې ساینس نن تائیدوي!



**د ځمکې او آسمانونو قطرونه**

قرآنکریم داسې بیانوي:

"يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانفُذُوا ۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ"

(الرحمن: ٣٣)

ژباړه:

"ای د پېريانو او انسانانو ډلو! که تاسو د اسمانونو او ځمکې له قطرونو نه د وتلو توان لرئ، نو ووزئ! خو تاسو به وتلی نه شئ مګر د يو ځواک (سلطان) په وسيله."

دا آيت څو ساينسي اعجازونه لري، چې د عصري ساينس له موندنو سره کاملاً مطابقت لري.

١. د "أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ" ساينسي تشريح

(الف) د ځمکې شکل او قطرونه

١. د ځمکې حقيقي شکل – بيضوي **(Oblate Spheroid)**

که ځمکه بشپړ کروي وای، نو يوازې يو قطر به يې درلود.

خو قرآنکريم د "أَقْطَارِ" (جمع شکل) کلمه کارولې، چې د زيات شمېر قطرونو مانا لري.

دا د دې ثبوت دی چې ځمکه بيضوي **(Oblate Spheroid)** ده، نه کروي.

نن ساينس ثابته کړې چې د استوايي قطر **(Equatorial Diameter)** او قطبي قطر **(Polar Diameter)** ترمنځ لږ توپير شته، چې دا د ځمکې بيضوي والي ته اشاره کوي.

٢. د ځمکې دوه مهم قطرونه:

استوايي قطر: ۱۲،۷۵۶ کيلومتره

قطبي قطر: ۱۲،۷۱۴ کيلومتره

دا توپیر ثابتوي چې ځمکه کامل کروي نه ده، بلکې يو څه مسطحه ده.

(ب) د آسمانونو قطرونه او د کائناتو پراخوالی

۱. د کائناتو انبساط – د "أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ" اعجاز

آيت کې ذکر شوي چې آسمانونه هم قطرونه لري.

دا ثابتوي چې کائنات محدود نه، بلکې پراخېدونکي دي.

د سترې چاودنې **(Big Bang)** نظريه او د کائناتو پراخوالی ( **Expansion of the Universe**)د دې حقيقت تاييد کوي.

البرت انشتين د عمومي نسبيت په نظريه کې وړانديز وکړ چې کائنات يا پراخيږي يا راټولېږي.

ادوين هبل **(Edwin Hubble)** دا کشف کړ چې کهکشانونه يوه له بل نه لرې کېږي، دا ښيي چې کائنات پراخيږي.

۲. د آسمانونو د قطرونو تغیرېدنه

د ساینسپوهانو د نظریاتو له مخې، کهکشانونه یو له بله په دوامداره توګه فاصله اخلي، نو د کائناتو قطرونه هم تل بدل کیږي.

دا ثابته کوي چې "أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ" نه دي ثابت، بلکې متغیر دي، چې د قرآن دقیق بیان تاییدوي!

۲. د "لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ" ساینسي تفسیر

۱. انسان د ځمکې له جاذبې نه د وتلو لپاره ځواک ته اړتیا لري

قرآنکریم وايي چې د ځمکې او آسمانونو له قطرونو نه د وتلو لپاره "سلطان" (قوت، علم یا تخنیکي ځواک) ته اړتیا ده.

نن ساینس اثبات کړې چې د ځمکې د جاذبې له اغېز نه د وتلو لپاره راکټي ځواک او علمي محاسبات ضروري دي.

سپوږمۍ ته د انسان تلل، د مریخ ماموریتونه، او د ستورمزلو لپاره قوي تخنیکي قوت ته اړتیا ثابته شوې ده.

۳. د ساینسپوهانو اعترافات

(الف) د ځمکې بیضوي شکل او د قرآن اعجاز

ناسا " **(NASA)**: ځمکه یوه کامله کره نه ده، بلکې یو څه بیضوي ده، چې استوایي قطر یې تر قطبي قطر یو څه اوږد دی."

پروفیسر نیل ډیګراس تایسن **(Neil deGrasse Tyson)**:"ځمکه د چورلید له امله لږ پراخښت لري، چې دا یې بیضوي بڼه ثابته کوي."

(ب) د کائناتو پراخوالی

ادوین هبل:**Edwin Hubble**

" کهکشانونه د یو له بل نه لرې کیږي، دا د کائناتو د انبساط ثبوت دی."

ستیفن هاوکینګ :**Stephen Hawking**

"د کائناتو د پراخوالي نظریه اوس یو منل شوی علمي حقیقت دی، چې قرآن یې ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی و!"

۴. پایله – قرآنکریم د عصري ساینس نه مخکې

قرآنکریم د "أَقْطَارِ" (جمع شکل) کلمه کارولې، چې ثابتوي ځمکه یو څه بیضوي ده، نه کاملاً کروي.

د "أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ" اصطلاح د کائناتو پراخوالی ثابتوي، چې ساینس نن تایید کړی.

د "لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ" آیت ثابتوي چې د ځمکې له جاذبې د وتلو لپاره علمي ځواک ته اړتیا ده، چې نن د فضایي سفرونو سره ثابته شوې.

دا ټول د قرآن اعجاز ثابتوي، چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې د هستۍ حقیقتونه بیانوي، کوم چې ساینس نن کشف کړي دي!




**اتمسفیر وزن او پرځمکه یې اغیزې**

آیا تاسو پوهیږئ چې د اتمسفیر وزن څومره دی؟ آیا دا پر ځمکه راکښته کېدای شي؟ څه شی دی چې اتمسفیر ثابت او ځمکې ته تړلی ساتي؟ دا د جاذبې او همداراز د اتمسفیر کثافت دی.

، د قرآن کریم د کلمې (آسمان) د پوهېدلو لپاره، باید پوه شو چې اتمسفیر زموږ آسمان دی. په عربي ژبه کې "هر څه چې ستا له پورته وي، هغه ستاسو آسمان دی". اتمسفیر کې وریځې هم شاملې دي چې د بارانونو سرچینه دي. الله سبحانه وتعالی وايي:

""يُمْسِكُ السَّمَاءَ أَنْ تَقَعَ عَلَىٰ الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَؤُوفٌ رَحِيمٌ"

(سورة الحج، آیت ۶۵)

ترجمه: "هغه څوک چې آسمان (فضا) د ځمکې پر سر لوېیدو نه مخنیوی کوي، پرته له دې چې الله سبحانه وتعالی اجازه ورکړي. بېشکه الله سبحانه وتعالی د انسانانو لپاره خورا مهربان او رحمت والا دی."

آسمان (سماء) تر بیلیونه نوري کاله پورې غځېدلی دی، او ټول هغه کهکشاني سیسټمونه او کوني ذرات د نړۍ په آسمان کې ځای لري. خو قرآن زموږ سره هغه امکان شریکوي چې دا آسمان ممکن زموږ پر سر راکښته شي خو په اذن د الله سره.

په قرآن کریم کې د آیت له مخې:

"أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ "

(سورة لقمان، آیت ۲۰)

ترجمه: "ایا تاسو نه وینئ چې الله هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي ستاسو لپاره تابع کړي دي،؟"

کله چې قرآن کریم نازل شو، هیڅوک نه پوهېدل چې اتمسفیر دومره دروند دی، او هیڅوک نه پوهېدل چې که دا اتمسفیر ولوېږي نو څومره خطرناکې پایلې لرلی شي. قرآن کریم موږ ته په یوه ستر آیت کې دا حقیقت یادوي، چې څنګه الله سبحانه وتعالی دغه پوښ ساتي چې پر ځمکه ونه لوېږي.

موږ دا آیت په دوه لارو پوهېدلای شو او د ساینس او قرآن ترمنځ هیڅ ټکر نه شته:

۱. که موږ آسمان د اتمسفیر په توګه وکاروو: دا هم سم دی، ځکه الله سبحانه وتعالی دا د خپلې ځواک په وسېله ساتي. که دا ولوېږي، نو ژوند به له منځه ولاړ شي.

۲. که موږ آسمان د کائنات د فضا په توګه وکاروو: دا هم سم دی، ځکه د هر فضايي سنګ یا شهابو تصادم ممکنه دی، او دغه تصادم به یوه ویجاړه وي. ساینس پوهان وايي چې د هر جسم احتمال چې ځمکې ته راکاړي خورا لوړه ده، خو الله سبحانه وتعالی زموږ ځمکه د بهرني او داخلي خطرونو نه ساتي.

فقط موږ ویلای شو: "شکر دی الله سبحانه وتعالی ته، ځکه چې هغه زموږ پر وړاندې مهرباني او کرم لري."

"إِنَّ اللَّهَ لَرَؤُوفٌ رَحِيمٌ"

(سورة الحج، آیت ۶۵)

ترجمه: "بېشکه الله سبحانه وتعالی د انسانانو لپاره خورا مهربان او رحمت والا دی."



**قطبي شفق**

قطبي شفق یا **Aurora**

په اسمان کې د شنو رنګينو وړانګو موجموعې ته قطبي شفق يا **Aurora** وايي دغه پيښه په آسمان کې دډول ډول رنګونو ښکاره کيدل او دهغوی حرکت دشپې له خوا آسمان کې عبارت دی.

او دغه پيښه دځمکې قطبونو ته نژدې دلمريز طوفانونو دذراتو ټکر او دماليکولونو يونايز کيدل دځمکې ديونوسفير په طبقه کې رامنځته کيږي.

دغه پيښې دځمکې شمالي قطب کې ورته شمالي شفق هم وايي څومره چې شمال قطب ته نږدې کيږو نو دغه پيښه ډيره تر سترګو کيږي؛او دځمکې شمالي مقناطيسي قطب ته دنږدې کيدو په صورت کې دغه پيښه نور هم قوت اخلي او ډير ښايسته شين رنګ اخلي .

دا قطبي شفقونه يوازې د ځمکې په قطبونو کې تر سترګو کيږي په داسې حال کې چې ددې کشف په شلمې پيړی کې وشو مګر موږ ته يي څوارلسوه کاله مخکې بيان شوی.

هرسول ص وروسته د معراج سفر

د معراج د سفر پرمهال

د قطبي شفق بيان کوي په داسې حال کې چې قطبي شفقونه اصحابو رض

هيڅ هم نه وو ليدلي.

رسول الله (ص) فرمايي :ما شنې د څپو وړانګې وليدلې چې د اسمان لمن يي ډکه کړی وه . (۲۳۳۳)صحيح بخاری .

هغه هيوادونه چې دغه ښکلې منظره لري آيسلند سکانديناوينا، ناروې ،ګرينلند، آلاسکا، روسيه، کانادا کې رويت زيات دی.

جنوب قطب کې هم دغه پيښه رامنځته کيږي

الله ج ډير لطيف ذات دی.

دا د رسول الله ص د معراج او د هغه په پيغبری ښکاره ثبوت دی

موږ اوس قطبي شفق وپیژاند او رسوالله ص ۱۴۰۰ کاله دمخا ددې بیان موږ ته کړی



**یخني او د بوټو مړینه**

۱ .د قرآن کریم بیان

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

مَثَلُ مَا يُنْفِقُونَ فِي هَٰذِهِ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ فَأَهْلَكَتْهُ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِنْ أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ

آل عمران :۱۱۷

ژباړه:

"د هغو د نفقو مثال چې دوی یې د دې دنیا په ژوند کې لګوي، د هغه یخني لرونکي باد مثال دی چې د هغو خلکو کروندو ته ورسېږي چې پر خپلو ځانونو یې ظلم کړی وي، نو دا باد یې (حاصل )تباه کړي .الله پر دوی ظلم نه دی کړی، بلکې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی".

## ۲ .د قرآن علمي اشاره او د یخني اغېزې

د قرآن کریم دا آیت د" صرّ( "یخني لرونکی باد )یادونه کوي، چې د بوټو حاصلات تباه کوي .د ساینس له مخې، یخنی د بوټو د مړینې سبب ګرځي، ځکه چې:

کله چې د بوټو حجراتو (Cells) کې اوبه کنګل شي، پراخیږي، چې دا د حجراتو دیوالونه شلوي، او حجرات مړه کوي.

یخ باد د بوټو له حجراتو څخه اوبه تبخیر ته اړباسي، چې د وچوالي لامل کیږي.

الف د ساینسي څېړنو تایید

د" ویکیپیډیا،Frost ، ۲۰۱۹ "راپور وايي:

"ډېری بوټي د یخنی له امله زیان ویني یا مړه کیږي .دا ضرر د بوټي له نوعیت، د نسجونو د ځرنګوالي، او د یخنی له شدت سره تړاو لري .یو' سپک یخ 'د - ۲ څخه تر ۰ درجې سانتي ګراد( ۲۸-۳۲ )°F لږ بوټي زیانمنوي، خو' سخت یخ 'چې له - ۲ درجې سانتي ګراد څخه ټیټ وي، ډېر بوټي له منځه وړي".

د کرنې متخصصین زیاتوي:

"هغه بوټي چې په ګرمو سیمو کې وده کړې وي، که د حجراتو اوبه یې کنګل شي، نو حجرات یې شلېږي، او بوټی له منځه ځي .دا حالت' یخ ضرر (Frost Damage) 'بلل کېږي".

ب د یخنی باد (Frost Wind) اغېزه

د قرآن کریم د" صرّ( "یخ باد )اصطلاح دقیق علمي مفهوم لري .نن ورځ دا ثابته شوې چې یخ باد، نه یوازې د هوا درجه ټیټوي، بلکې:

د بوټو د حجراتو داخلي اوبه کنګل کوي، چې د حجراتو شلیدو او مړینې لامل کېږي.

د بوټو له پاڼو او تنو څخه د اوبو تبخیر زیاتوي، چې د وچوالي او مرګ سبب ګرځي.

که د حرارت درجه ډېر ټیټه شي، بوټي د حجراتو له منځه تللو له امله بشپړ مړه کېږي.

د اقلیمي علومو څېړنې زیاتوي:

"یخ بادونه، چې د منفي درجې تودوخې لري، کولی شي د کرنیزو حاصلاتو ۸۰٪ زیانمن کړي .دا بادونه د حاصل سوځولو، د حجراتو شلول، او د بوټو وچولو سبب کېږي".

۳ .پایله

د قرآن کریم دا اعجازي آیت ۱۴۰۰ کاله وړاندې د یخ باد (Frost Wind) د کرنیزو حاصلاتو د تباهۍ سبب بیانوي .ساینس نن ورځ تاییدوي چې یخ باد د بوټو حجرات شلوي او مړه کوي، چې دا د نباتاتو د تباهۍ سبب کیږي.



**د بوټو ژېړوالی او د اوبو اړیکه**

۱ .د قرآن کریم بیان

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

اَلَمۡ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنۡزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيۡعَ فِى الۡاَرۡضِ ثُمَّ يُخۡرِجُ بِهٖ زَرۡعًا مُّخۡتَلِفًا اَلۡوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيۡجُ فَتَرٰىهُ مُصۡفَرًّا ثُمَّ يَجۡعَلُهٗ حُطَامًا ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَذِكۡرٰى لِاُولِى الۡاَلۡبَابِ ۝

39-21ایا تا نه دي کتلي چې بېشکه الله له بره نه اوبه نازلې کړې دي، بیا یې دغه( اوبه )په ځمکه کې په چینو کې ننه ایستي دي، بیا هغه په دغو( اوبو )سره فصل راوباسي، په دې حال کې چې د هغه رنګونه مختلف وي، بیا هغه وچ شي، نو ته هغه( شین رنګی فصل )تك زیړ

وينې، بيا دغه( فصل )لره هغه رژېدلی( مات شوی )وګرځوي، بېشکه په دغه کې د خالصو عقلونو والاو لپاره خامخا نصيحت دی

۲ .د ساينسي څېړنو تاييد

ساينسي څېړنې ښيي چې اوبه مستقيم د بوټو د پاڼو د ژېړوالي سره تړاو لري .دا اړيکه دوه مهم لاملونه لري:

د اوبو کمښت(Drought Stress)

د اوبو زياتوالی(Overwatering Stress)

الف د وچکالۍ اغېزې

کله چې بوټي ته کافي اوبه ونه رسيږي، د پاڼو حجرات او کلوروفيل زيان ويني .کلوروفيل هغه شين رنګيزه ماده ده چې بوټو ته شينوالی ورکوي .د کلوروفيل کمښت د پاڼو ژېړوالي سبب ګرځي، او که وچکالي دوام وکړي، بوټي مري.

د مريلينډ پوهنتون( ۲۰۱۹ )راپور وايي:

"که د اوبو کمښت دوام ومومي، دا د پاڼو ژېړوالي، سوځېدو، رالوېدو، او د بوټي د ودې د ټکنۍ کېدو لامل کېږي .اوږدمهاله وچکالي د بوټو ګلونه له منځه وړي، او که وچکالي شديده شي، بوټی له بيخه وچېږي".

ب د اوبو زیاتوالی

که خاوره د اوبو زیاتوالي له امله خفه شي، د بوټي ریښې نشي کولای اکسیجن جذب کړي .دا د ریښو کمزورتیا او د پاڼو ژېړوالي لامل کېږي.

د مریلینډ پوهنتون زیاتوي:

"د اوبو زیاتوالی د اکسیجن کمښت ته لاره هواروي، چې د بوټي ریښې زیانمنوي .پایله دا ده چې بوټي د وچکالۍ نښې ښکاره کوي، لکه ژېړوالی او پاڼې لوېدل".

۳ .د باد اغېزې او د قرآن اشاره

الله سبحانه وتعالی فرمایي:
وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَظَلُّوا مِنْ بَعْدِهِ يَكْفُرُونَ
(الروم : ۵۱)
ژباړه:
"او که موږ یو باد را ولېږو، او دوی( بوټي )ووینې چې ژېړېږي، نو بیا هم کافر پاتې کېږي".

۴ .ساینسي حقیقت

نن ورځ پوهان مني چې باد کولی شي د بوټو له پاڼو د اوبو تبخیر چټک کړي، چې دا د وچکالۍ اغېزې تقلیدوي.

GrowWeedEasy۲۰۱۹ راپور وايي:

"که چيرې باد ډېر قوي وي، نو د بوټو پاڼې به تاو شي او ژېړې شي، دا حالت د" باد-سوځيدنې (Wind Burn) "په نوم ياديږي .دا نښې د کمې اوبو، ډېرې اوبو، او يا هم د نايتروجن زياتوالي سره ورته وي، خو که پاڼې د باد مخې ته تاوې شوې وي، او نورې پاڼې سالمې وي، نو دا د باد-سوځيدنې نښه ده".

۵ .پايله

د قرآن کريم دا اعجازي آيتونه ښيي چې اوبه، که ډېرې وي يا کمې، کولی شي د بوټو پاڼې ژېړې کړي .همداراز، باد د تبخير د زياتوالي له لارې د بوټو ژېړوالي ته لاره هواروي .دا حقيقتونه ساينس ته يوازې په وروستيو لسيزو کې معلوم شول، خو قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله وړاندې بيان کړي و.

په دې کې د عقل لرونکو لپاره عبرت دی!



**بادونه**

بادونه – يو ژوندی الهي نظام

الله (ج) فرمايي:

وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنَٰكُمُوهُ ۝

(سورت الحجر – آيت ۲۲)

ژباړه" : او را لیږلی دی موږ بادونه بلاربونکې [لواقع] پس نازله کړي لیږلې ده موږ تاسو ته دغه اوبه نو وڅښولی موږ تاسی ته دغه اوبه".

دوه مهم اعجازي ټکي:

۱ .القاح (ګردهانتقال) د باد له لارې
دا جمله «وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَاحَ لَوَٰقِحَ» ښيي چې بادونه د نباتاتو د القاح سبب ګرځي.
باد د نارينه ګل ګرده انتقالوي ښځينه ګل ته، او له دې لارې تخم يا ميوه پيدا کيږي.
د نباتاتو علم (Botany) نن دا حقيقت ثابته کړې.
۲ .بادونه د باران لپاره لاره جوړوي
همدغه بادونه د وريځو جوړولو او باران راکوزولو سبب ګرځي.
قرآن وايي چې موږ له اسمانه اوبه راښکته کړې، او تاسو ته مو دا وڅښلې.

بل آية مبارک:

ٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُۥ فِى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ
(سورت الروم – آيت ۴۸)
ژباړه :الله هغه دئ چې راليږي بادونه پس پورته کوي اوريځي نو خپروي دغه په آسمان کښې څرنګه چې اراده وکړي".

د ساينس تصديق:

هايدرولوژي وايي چې بادونه د اوبو بخار له سمندرونو پورته کوي،

دا بخارونه د وريځو بڼه اخلي،

بادونه دا وريځې يوځای کوي،

او بالاخره، باران وریږي.

نو همدا هغه ترتیب دی چې قرآن یې ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړی و.

پایله:

بادونه د ژوند یوه لویه برخه ده .دا:

نباتات القاح کوي،

باران ته زمینه برابروي،

او انسان ته د څښاک اوبه رسوي.

دا ټول د خدای (ج) له حکمت څخه دي، چې قرآن یې په ډېر ښکلي ډول بیانوي .نن ساینس دا مني، خو قرآن دا له پیله نه بیان کړی و.
نننی هایدرولوژی بلکل د دې قرآني ایات تشریح سره موافقه لری.



## حمل کونکي بادونه

الله تعالی په قرآن کې د هواګانو او بادونو د رول په اړه په څو ځایونو کې خبرې کړې دي. د بادونو یو ځانګړی رول د "حمل ورکولو" دی، چې په دغه آیت کې بیان شوی دی. دا پروسه نه یوازې یو فزیکي عمل دی، بلکه د الله تعالی د حکمت، قدرت، او د طبیعت د سیستم یوه معجزه هم ده.

د آیت تشریح:

الله تعالی فرمایي:

**"وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ ۚ وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ 22-15**

او مونږ هواګانې لېږلې دي، چې بلاربوونکې دي، پس مونږ له بره اوبه نازلې کړې، نو مونږ هغه په تاسو وڅښولې او تاسو دغو (اوبو) لره خزانه کوونکي نه یئ."

د بادونو د "حمل ورکولو" مفهوم:

په دې آیت کې، الله تعالی بادونه د "لواقح" (بارورونکو) په توګه یادوي. دا کلمه د هغه بادونو د ځانګړتیاوو په اړه اشاره کوي چې د نباتاتو د تخمونو د انتقال او د باران د نازلولو په برخه کې مهم رول لري. بادونه د ځمکې د اکولوژیکي نظام لپاره اړین دي، ځکه چې دوی د هوا د رطوبت سره د اوبو د بخار کولو او بیا یې د باران په بڼه په ځمکه کې د ژوند لپاره اړینې اوبه راوړوي.

سایسني تطابق:

بادونه نه یوازې د هوا د حرکت یوه برخه دي، بلکه د ځمکې د اکولوژیکي سیستم لپاره حیاتي رول لري. بادونه د اوبو بخار ټولوي او دا بخار بیا د باران په بڼه ځمکې ته راوړي. دغه پروسه د "بادونو د حمل ورکولو" په څیر یوه طبیعي عمل دی، چې په قرآن کې د الله تعالی لخوا بیان شوی دی. ساینس پوهان اوس پوهیږي چې بادونه د ځمکې د اقلیمي او اکولوژیکي نظام لپاره یو حیاتي عنصر دي.

د آیتونو معنا:

"لواقح" (بار ورکونکي بادونه): د دې کلمې معنا دا ده چې بادونه د ژوند لپاره اړین دي، او د نباتاتو د تخمونو د پراختیا لپاره هم کار کوي. بادونه له یو ځای څخه بل ځای ته تخمونه او ګلونه وړي، چې د نباتاتو پراختیا کې مرسته کوي.

د معجزې تشریح:

په دې آیت کې، د بادونو د "حمل ورکولو" پدیده د قرآن معجزه ده، ځکه چې د دې پېښې د ساینسي حقیقتونو سره تطابق خورا دقیق دی. ساینس اوس په دې پوه شوی دی چې بادونه نه یوازې د هوا د انتقال یوه برخه دي، بلکه د اوبو بخار د انتقال او باران د نزول لپاره هم حیاتي دي. دا ټول د الله تعالی د حکمت یوه نښه ده، چې په قرآن کې د زرګونو کلونو مخکې بیان شوی.

پایله:

دا آیت د الله تعالی د علم، حکمت، او قدرت څرګندونه کوي. د بادونو "حمل ورکولو" پدیده نه یوازې یوه طبیعي پدیده ده، بلکه د الله تعالی د علم یوه معجزه هم ده. د قرآن د دې آیت له لارې، موږ کولی شو د طبیعت په سیستم کې د الله تعالی د حکمت نښې ووینو، چې په نهایه توګه د انسانانو لپاره یو پیغام دی چې د الله تعالی د قدرت او حکمت په اړه فکر وکړي.



**َ د میکرو برسټ (طوفاني بادونه)**

د میکرو برسټ(**Microburst**) طوفاني بادونه

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

"حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ ۚ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ"

(الحج: ٣١)

ژباړه:

"اخلاص لرى الله ته، پرته له دې چې شريک ورسره ونيسى، او که څوک له الله سره شريک ونيسي، نو لکه هغه کس چې له آسمانه ولوېږي، يا بايي مرغان ټوټې ټوټې کړي، يا بايي باد يو ژور ځای ته وغورځوي."

د قرآن علمي اعجاز د ميکرو برسټ طوفاني بادونو په اړه

۱. د عمودي **(Vertical)** بادونو يادونه

په قرآن کې يادونه شوې چې يو کس د باد لخوا يو ژور ځای ته غورځول کېږي، دا اشاره کوي يو ډول باد ته چې عمودي (لاندې لور ته) حرکت لري.

**Skeptics** پخوا ويل چې بادونه تل افقي (لرې پرتو سيمو ته) حرکت کوي، خو اوس ساينس پوهان د ميکرو برسټ **(Microburst)** بادونه کشف کړي، چې مستقيم ځمکې ته غورځي.

۲. د ميکرو برسټ تعريف

ميکرو برسټ يو ډېر قوي او ناڅاپي عمودي باد دی، چې د تندر **(thunderstorm)** له ورېښت سره يوځای ځمکې ته راکوزېږي.

دا بادونه د الوتکو لپاره ډېر خطرناک دي، ځکه چې ناڅاپي سقوط يا د وزرونو توازن ګډوډولی شي.

دا بادونه د ونې غورځوي، ودانۍ خرابوي، او ډېر جدي تخريبونه رامنځته کولی شي.

۳. د ميکرو برسټ مراحل

**Downburst** (راټيټېدل): باد له طوفان څخه مستقيم لاندې راکوزېږي.

**Outburst** (خپرېدل): باد له ځمکې سره تر ټکر وروسته افقي بڼه غوره کوي.

**Cushion Stage** (ثبات ته رسېدل): باد ورو ورو خپل قوت بايلي.

۴. د الوتکو لپاره يو خطرناک عنصر

 د ميکرو برسټ بادونه د الوتکو لپاره ډېر خطرناک دي، او ډېرى الوتکې د دې بادونو له امله سقوط شوي دي.

 ساينس پوهان اوس د پيلوټانو لپاره خاص تمرينونه جوړوي، چې څنګه د ميکرو برسټ له خطر څخه ځان وساتي.

قرآني معجزه – د ميکرو برسټ يادونه ۱۴۰۰ کاله مخکې!

په قرآن کې يادونه شوې، چې باد انسان يو ژور ځای ته غورځوي – دا د **Microburst** طوفاني باد حقيقت بيانوي! ساينس نن دا حقيقت کشف کړی، چې ځينې بادونه افقي نه، بلکې عمودي ښکته حرکت کوي – قرآن دا حقيقت ۱۴۰۰ کاله مخکې بيان کړی و!

دا معلومات د محمد ﷺ په وخت کې هېڅوک نه پوهېدل، نو دا يوازې د الله کلام کيدای شي!

سبحان الله! قرآن کريم د نړۍ هر راز بيان کړی، او د هغه اعجاز د ساينس له پرمختګ سره لا ښه ثابتېږي!




**د بادونو تنظيم**

الله تعالی فرمايي:

او د شپې او ورځې اختلاف، او هغه روزي چې الله يي له آسمانه نازلوي، او د هغې په وسيله مړه شوې ځمکه ژوندۍ کوي، او د بادونو تنظيم؛ دا نښې دي د هغه قوم لپاره چې عقل لري.
(القرآن ۴۵:۵)

د قرآن کريم ساينسي نښې – د بادونو تنظيم

په اقليم پوهنه **(Climatology)** کې، باد د هوا حرکت ته ويل کېږي چې د ځمکې د سطحې په مقابل کې حرکت کوي. بادونه د اقليم او هوا په تنظيم او کنټرول کې مهم رول لري.

د بادونو حرکت څنګه رامنځته کېږي؟

باد د فضا د فشار د افقي او عمودي توپيرونو له امله رامنځته کېږي.

بادونه د ټيټ او لوړ فشار ساحو ترمنځ حرکت کوي.

په شمالي نيمه کره کې، بادونه د ټيټ فشار شاوخوا له کيڼې څخه ښي لور ته ګرځي.

په جنوبي نيمه کره کې، بادونه د لوړ فشار شاوخوا له ښي څخه کيڼ لور ته حرکت کوي.

د بادونو ډولونه:

چټک بادونه: "ګسټس" **(Gusts)**

منځمهاله قوي بادونه: "سکوال" **(Squalls)**

دوامدار قوي بادونه: "نسیم" **(Breeze)**،" طوفان" **Storm**،" هریکین" **(Hurricane)**، او "ټایفون" **(Typhoon)**

د قرآن علمي اعجاز

ساینس ثابته کړې چې بادونه د هوا، اقلیم، باران، او نباتاتو په وده کې مهم رول لري. قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د بادونو د تنظیم یادونه کړې وه، چې دا د قرآن له ساینسي معجزو څخه یوه معجزه ده.



**اوریځې او بړلۍ**

ساینس پوهانو د اوریځو ډولونه مطالعه کړي او دا یې جوته کړې ده چې دباران اوریځ په یو معین سیستم کې شکل نیسي او جوړیږي چې دا د اوریځو او بادونو په ډولونو پورې اړه لري. د باران یو ډول اوریځ د (کومولونیمبوس) اوریځ ده (میتیورو لوجستان ) په دې پوهیږي چې څرنګه اوریځ باران ، بړالۍ او تالانده جوړوي د کومولونیمبوس اوریځ د لاندی پړاونو وروسته جوړیږي

۱- اوريځي د باد په واسطه پورې وهل کيږی د (کومولونيمبوس ) اوريځ هغه وخت جوړيږي چې کوچنی وريځي کمولس) د باد په واسطه يو مرکزی ټکي ته پوری وهل شي.

۲- يوزايوالی کوچنۍ اوريځي سره يو ځای کيږی او غټې اوريځي جوړوي.

خره کيدل کله چې کوچنۍ اوريځي سره يو ځای شوې او غټې اوريځي يې جوړي کړې نو دا اوريځي کرار کرار پلنيږي چې دا پلنوالۍ په مرکز کې نسبت اړخو ته ډير وي نو کله چې دا عمودي غټوالی ډير شي نو اوريځي د اتموسفير يخو برخو ته پورته کيږي او هلته د اوبو او ږلۍ وړې دانې جوړوی او کرار کرار دا دانې غټيږي چې دا دانې درنې شوی نو د اوريځي لاندی خواته راځي او بيا د باران او ږلی سبب ګرځي.

خدای (ج) په قرآن شريف کې فرمايي:

۲۴:۴۳ :آيا نه وينې ته چې بې‌شکه الله روانوي شړی اوريځي بيا يو ځای والی فرمايی په منځ د دغو اوريځو بيايې وګرځوي لاندې باندې قت قت نو ويني به ته ای ( انسانه ) باران چې وځي له منځه د دې اوريځي ....

ميتيورولوجستانو اوس په دې وروستيو کلنو کې په

ډيرو پرمختللي و سايلو لکه: الوتکو ، کمپيوترونو ، ستيلاتونو او بالونونو په وسيله د اوريځو د جوړولو په بڼه او ساختمان پوه شوي دي.

دا ذکر شوی مبارک ايت داوريځي د جوړيدو وروسته دتالندې او ږلی په هکله داسي وايي:

۴۳:۲۴... نازلوی الله له آسمانه غرونه دا وريځو چې وي په هغه غرونو کې ږلۍ پس رسوی الله دا ږلۍ هغه چا ته چې اراده و فرمايي او ګرځوي له هر هغه چا څخه چې اراده يې و فرمايي دا تيزه روښنايي نژدې ده د هغو سترګې ړندې کړي»

(ميتورو لوجستانو ) دا موندلې ده چې د (کومولونيمبوس) اوريځي هغه چې ږلی اوروي ۲۵۰۰۰ تر ۳۰۰۰۰ فيته يا (۴,۷-۷.۵)مايله لکه غرونه پلنوالی لري

خدای(ج) فرمايي:

«يا حال ددوی په شان د حال د غټ ځاڅکی دی له طرفه د اسمان چه په هغی کې تيارې وی او تندر ګړزهار او بريښنا وی نو وګرځوی دی سرونه د ګوتو خپلو په غوږونو خپلو کی له جهته د سخت اوازه د تندرونونه له ويرې د مرګ نه او خدای چه دی چاپيره دی علم او قدرت دده په کافرانو باندې»سورت البقره ١٩




دميتورولوجي په اساس هغه اوريځي چې برلی اوروي هغه برقي کيږي کله چې د باران ځاڅکي د برلی د دانو سره ومښلي يا ټکر وکړي نو هغه ځاڅکي کنګل کيږي او خپله پټه انرژي آزاده وي دا انرژي بيا د برلی مخ تو دوي او د يخي کرستل يې مخ پوښي او الکترونونه د ساړه شيانو نه تاودو شيانو ته حرکت کوی نو برلی منفی چارچ اخلي همداسي کله چې د برلی دانې د ډيرو يخو ځاڅکو سره تماس و کړی د دې يخو کوچنی ځاڅکو د دنو مثبت چارچ ماتيږي؛ دا مثبت چارچ بيا د اوريځي پورته خوا ته ځي او برلی منفی چارچ نيسي او اوريځي لاندې خوا ته ځي او هغې ته منفي چارچ ورکوي او دا منفي چارچ بيا د تندر سبب ګرځي نو برلی د تندر د پيدا کېدو مهم

فکتور دئ لکه چې قرآن پاک وايي.

په ( ١٦٠٠ ) کې د (ارستوتل ) نظريه دا وه چې اتموسفير دوه ډوله هوا توليد وي يوه سړه او بله توده هغه ويل: د تندر برغ د وچي هوا او ا وريځو د منښتلو څخه پيدا کيږي او بريښنا بياد

و چي هوا په بې شميې اورسره د سوځيدولو نه پيدا کيږي. دا هغه نظريه وه چې د اسلام په وخت کې هم خلکوباور پرې درلود.



**د وريځو دروند والى**

د قرآن عظيم شان اعجاز – د وريځو دروندوالى

الله سبحانه وتعالى فرمايي:

هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ (سورة الرعد: ١٢)

ژباړه: "«هغه ذات دى چې برېښنا د ډار او هيلې په توګه د( رحمت باران) تاسو ته درښيـى او درنې وريځې راولچتوى »( الرعد: ١٢) "

د وریځو حیرانوونکی دروندوالی

 ایا تاسو پوهېږئ چې وریځې څومره دروندوالی لري؟

ساینسي څېړنې ښيي، چې د طوفاني وریځو وزن تر ۳۰۰ زرو ټنو پورې رسېږي!

دا یعني داسې ده، لکه یو لوی غره چې په هوا کې ځوړند وي!

ساینس وايي:

عادي وریځې د ۵۰۰ ټنو اوبو څخه جوړې وي.

درنې او طوفاني وریځې **(Cumulonimbus Clouds)** تر ۳۰۰،۰۰۰ ټنو پورې وزن لري!

دا ټولې اوبه په فضا کې معلقې وي، او نه راولوېږي، بلکې باران باندی اوري!

پوښتنه: دا څنګه امکان لري، چې دومره درونډ بار په هوا کې ځوړند پاتې شي؟

ځواب: د وریځو دا دروندوالی د الله (ج) د حیرانوونکي نظام له برکته دی:

1 د هوا پورته جریان **:(Updrafts)** توده هوا دا دروند بار پورته ساتي.

2 کوچني اوبه ذرې: وریځې د ډېر کوچنیو اوبو څاڅکو څخه جوړې دي، چې وزن یې ډېر کم وي.

3 ځواکمن تنظیم: الله (ج) د اتموسفیر داسې نظام جوړ کړی، چې دا درانه وریځونه پکې معلق پاتې شي.

دا یو حیرانوونکی علمي حقیقت دی، چې ۱۴۰۰ کاله مخکې قرآن بیان کړی، او ساینس وروسته کشف کړ!

ولې دا اعجاز دی؟

د قرآن د نزول پر مهال، هېڅ انسان د وریځو وزن نه و اندازه کړی.

خلکو فکر کاوه، چې وریځې یوازې لوګی یا بخار دی، او هیڅ وزن نه لري.

ساینس دا حقیقت یوازې په معاصره عصر کې کشف کړ، خو قرآن کریم دا ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړی و!

د الله (ج) قدرت وګورئ، چې وریځې پورته ساتي، او د باران حیرانوونکی نظام یې جوړ کړی!

سبحان الله! د باران حیرانوونکی نظام، د وریځو دروندوالی، او د قرآن علمي اعجاز د الله (ج) د قدرت ښکاره نښې دي!

ایا دا یو انسان ویلای شوای؟ نه! دا د الله (ج) کلام دی!



**د باران انډول**

الله تعالی په قرآن کې د باران د نزول او د هغه د ټاکلې کچې په اړه داسې فرمایلي دي:

"وَالَّذِیْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۢ بِقَدَرٍ ۚ فَاَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّیْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ۝

43-11 او هغه ذات چې له بره نه یې اوبه په اندازې سره نازلې کړې دي، پس په دغو سره مونږ مړ ښار راژوندی کړی دی، همداسې به تاسو راوېستلی شئ

د باران د نزول د ټاکلي کچې ساينسي کشفونه:

ساينس پوهانو دې ته ځېرنې کړې دي چې د ځمکې او هوا ترمنځ د اوبو يوه توازن يا انډول موجود دی چې د باران د نزول په سيستم کې مهم رول لري. د دې انډول له مخې، تقريباً شپاړس ميليونه ټنه اوبه په هر ثانيه کې د ځمکې له سطحې څخه تبخير کېږي. دغه اندازه د کال په اوږدو کې د پنځوسو يا ديارلسو ميلياردو ټنو پورې رسېږي، چې دا شمېره د باران هغه اوبو سره پرتله کېدای شي چې هر کال د ځمکې په سطحه نازل کېږي.

د باران د نزول توازن:

د باران اوبه د ځمکې او هوا ترمنځ د يوې دورې برخه دي چې د ژوند پر ساتلو او دوام اغېز لري. که د دې دورې توازن ګډوډ شي، نو دا به د چاپېريال د بدلون او ژوند د ختمېدو سبب شي. لکه څنګه چې له دې توازن څخه کوچنی انحراف هم د باران په کچه او د ژوند په چاپېريال کې ژور بدلونونه رامنځته کولای شي.

د باران د څاڅکو د حرکت څېړنې:

د باران د څاڅکي د سرعت او اندازه د فزيک پوهانو لخوا په ځانګړې توګه په ۱۹۰۵ کال کې د نوبل د جايزې ګټونکي، اَفليپ لينارډ، لخوا څېړل شوې. هغه موندلې چې د باران د څاڅکي د حجم په زياتېدو سره، د هغه سرعت هم زياتېږي. د څاڅکو اندازه تر څلورنيم متره پورې رسېږي، خو که څاڅکی له دې اندازې ډېر غټ شي، نو سرعت يې په ثانيه کې له اتومترو څخه هم کمه کېږي. دا ځکه چې د لويو څاڅکو شکل د هوا د جريان له امله بدل کېږي او دا بدلون د هوا مقاومت زياتوي، چې په پايله کې د څاڅکي د لوېدو سرعت کموي.

د قرآن معجزه او د ساينسي څېړنو تطابق:

په قرآن کې د باران د نزول په اړه خبرې د دې حقيقت په ګوته کوي چې ټول طبيعي پروسې لکه باران، د الله تعالی د حکمت او علم څرګندونه ده. په قرآن کې د باران د انډول ذکر د هغه وخت لپاره يوه معجزه ده، چې نن ورځ په ساينس کې دغه توازن ثابت شوی دی. د قرآن دغه آيتونه نه يوازې د الله تعالی د کمال علم ښکارندويي کوي، بلکې دا د يو ديني کتاب ساينسي دقت ته هم اشاره کوي.




**شبنم**

د قرآن علمي اعجاز :د شبنم **(Dew)** حیرانوونکې ګټه

آیت:

"وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِنْ لَمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ"

البقرة :۲۶۵

ژباړه:

"او د هغو کسانو مثال چې خپل مالونه د الله د رضا لپاره انفاق کوي او خپل روحونه پرې ټینګوي، د هغې باغ په شان دی چې پر لوړ ځمکني ټوپ باندې واقع وي؛ که پرې توند باران وشي، نو خپل حاصل دوه چنده راوړي، او که پرې باران ونه شي، نو شبنم (طلّ) پرې راځي .الله ستاسې له ټولو اعمالو باخبره دی".

۱ .د آیت تفسیر او علمي حقیقت

"وَابِلٌ :"توند باران.

"فَطَلٌّ :"شبنم یا لږ باران.

په دې آیت کې قرآن کریم دا اصل بیانوي چې که باران نه وي، نو شبنم(طلّ) به د نباتاتو د خړوبېدو وسیله شي .دا حقیقت، چې د شبنم او باران بدیل رول لري، یوازې په وروستیو ساینسي تحقیقاتو کې ثابت شو.

۲ .د ساینسي اعجاز تحلیل

(الف) شبنم د وچو سیمو لپاره د اوبو یوه مهمه سرچینه ده

ساینس وایي چې شبنم د وچو سیمو لپاره مهمه ده، ځکه چې:

د صحراګانو نباتات او ځینې کوچني ژوندي موجودات شبنم ته اړتیا لري.

حتی د نړۍ تر ټولو وچو صحراګانو (لکه د اتاکاما صحرا او د نیمیبیا صحرا) ته شبنم رسیږي، او دا د ژوند لپاره ضروري دی.

په فلسطین **(Negev Desert)** کې د نباتاتو ۵۰٪ اوبه د شبنم له لارې ترلاسه کېږي.

(ب) د اتاکاما صحرا حیرانوونکې ځانګړنه

د نړۍ تر ټولو وچه دښته اتاکاما صحرا ده، چې ځینې برخې یې هیڅ باران نه ویني.

خو بیا هم، د" کامانچاکا **(Camanchaca)** "په نوم د بحري شبنم **(Marine Fog)** له لارې د نباتاتو، لیشنو **(lichens)** او حتی ککتوسونو **(cacti)** لپاره رطوبت چمتو کیږي.

(ج) قرآن ځنګه دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی؟

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې دا حقیقت بیان کړی چې که باران نه وي، نو شبنم به د خړوبېدو وسیله شي.

دا علمي واقعیت یوازې په وروستیو کلونو کې، د هوا پېژندنې او ایکولوژۍ د پرمختګ له برکته، ثبوت شو.

۳ .پایله

دا آیت د طبیعي دورې **(Natural Water Cycle)** یوه نه هېریدونکې معجزه څرګندوي .نن ورځ ساینس اثباتوي چې:

شبنم حتی تر ټولو وچو سیمو ته هم رسي.

اتاکاما صحرا، چې تقریباً باران نهویني، د شبنم له لارې تغذیه کېږي.

دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې د قرآن کریم له خوا بیان شوی و، چې دا د هغه ساینسي اعجاز ښکارندویي کوي.

نو آیا دا یو تصادفي خبره ده، که د الهي وحی یو نه انکارېدونکی دلیل؟




**د باران وروسته د ځمکې پړسيدل**

د باران وروسته د ځمکې پړسيدل – د قرآن اعجاز او ساينسي تحليل

د قرآن کريم د اعجازاتو له جملې څخه يو مهم اعجاز دا دی چې د باران له اورېدو وروسته ځمکه پړسيږي او ژوند ته راځي. دا حقيقت د قرآن کريم په څو آيتونو کې بيان شوی، او عصري ساينس هم دا تصديق کړی دی.

۱. د قرآن کريم آيتونه

آيت ۱:

"وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنۢبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ"

(الحج: ۵)

ژباړه:

"او ته وينې چې ځمکه وچه او مړه ده، نو کله چې موږ پرې اوبه واورو، نو خوځېږي، پړسيږي او له هر ډول ښکلي نباتاتو نه يې راټوکوي."

آيت ۲:

"وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ (٣٠) أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا (٣١)"
(النازعات: ٣٠-٣١)
ژباړه:
"او له دې وروسته يې ځمکه وغوړوله، له هغې يې اوبه او نباتات را وايستل."

٢. د ساينسي څېړنو تحليل

الف: د خاورې فزيکي تغييرات وروسته له بارانه

کله چې باران د وچې ځمکې پر سطحه اوري، نو لاندې بدلونونه رامنځته کېږي:

ځمکه خوځېږي (اهتزّت)

کله چې باران اوري، د اوبو څاڅکي د خاورې وچ ذرات لمدوي، د هغوی ترمنځ تماس رامنځته کوي، او خاوره يو څه پراخېږي.

د خاورې دا خوځښت د "کاپيلري ايکشن" **(Capillary Action)** په نوم پيژندل کېږي، چې د اوبو د داخلېدو له امله د خاورو ذرات يو څه خوځېږي.

دا علمي حقيقت په قرآن کې د "اهتزّت" (خوځېدل) په لفظ سره بيان شوی.

ځمکه پړسيږي (ربَتْ)

کله چې اوبه د خاورې کوچني سوري ډکوي، د خاورې حجم زیاتېږي، او ځمکه یو څه پورته کېږي.

د دې علمي مفهوم ته "**Swelling of Soil**" یا د خاورې پړسیدل ویل کېږي، چې د باران له امله رامنځته کېږي.

دا پړسیدل په قرآن کې د "رَبَتْ" (پړسیدل) په کلمه سره اشاره شوې ده.

د نباتاتو وده (انبتت من کل زوج بهیج)

د باران له اورېدو وروسته، د نباتاتو تخمونه رطوبت جذبوي او وده پیلوي.

د تخم د جوانې کولو
(**Germination**) پروسه د اوبو د جذب، اکسیجن، او انزایمونو د
فعالیت له امله پیلېږي.

دا قرآني حقیقت په ساینسي ژبه کې
**Seed Germination** او **Photosynthesis**
ته اشاره کوي.

۳. عصري علمي څېړنې او ساینسي ثبوتونه

الف: د ځمکې د پړسیدو ساینسي مفهوم

ساینس پوهانو دا حقیقت تایید کړی چې وچې خاوري ته د اوبو داخلېدل لاندې اثرات لري:

د اوبو د ملکولي جوړښت له امله، دا د خاورې ذرات جلا کوي او هوا ته اجازه ورکوي چې داخل شي، چې د خاورې حجم زیاتوي.

د دې پروسې څېړنه د **Geotechnical Engineering** او **Soil Science** برخه ده، او دا ثابته شوې چې ځمکه د اوبو د جذب له امله پړسیږي.

ب: د ځمکې خوځښت **(Seismic Activity)** د باران له امله

ساینس پوهان وایي چې کله باران پر ځمکه ولوېږي، نو د ځمکې سطحې کوچني خوځښتونه رامنځته کوي.

دا ساینسي کشف د **Seismology** یا زلزلو پېژندنې برخې ته اړه لري، چېرته چې د اوبو فشار د ځمکې خوځښتونه اغېزمن کوي.

دا حقیقت د "اهتزّت" قرآني اصطلاح سره تطابق لري.

۴. د قرآن اعجاز

قرآن کریم د ۱۴۰۰ کاله مخکې داسې حقایق بیان کړي چې اوسنی ساینس یې تاییدوي. هغه حقیقتونه چې نن د **Geology, Hydrology, Botany,** او **Seismology** برخو کې مطالعه کېږي، قرآن کریم یې په څو کلیمو کې بیان کړی.

د قرآن او ساینس تطابق

۵. پایله

د قرآن کریم دا آیتونه د ځمکې د باران وروسته بدلونونه په ډېر دقیق ډول بیانوي.

عصري ساینس دا تصدیقوي چې د باران وروسته ځمکه خوځېږي، پړسیږي، او نباتات وده کوي.

دا ټول علمي کشفیات د قرآن د اعجاز یوه ځرګنده بیلګه ده.

سبحان الله! دا ځرګندوي چې قرآن کریم د الله تعالی له لوري حق کلام دی، او علمي حقایق یې هم تاییدوي.




**بخار کېدل**

د قرآن ابدي معجزه  ■ ■ ■ ■ ■ ..قران عظیم الشان یوازینی دیني کتاب دی چې د وخت په ازموینه کې تیریږي   **!**دوی وویل **:**په قرآن کریم کې یو آیت هم نشته چې د تبخیر په اړه خبرې وکړي **.**د قرآن کریم د سورة الطارق ۸۶ په( ۱۱) آیت کې فرمايي"  **:**وَالسَمَآءِ

«" ■ ■ ■ ■ ■ ) چورليدلو( رجع ګرځېدو} او قسم دى په آسمان خاوند د بيرته" "ذَاتِ الرَّجْعِ
" **86** الطارق" د سورت آيت دا: دوى وويل - او د قرانكريم تقريبا ټول تفسيرونه
سورت ، **11** آيت :د باران بيرته راګرځولو لپاره د اسمانونو ظرفيت ته اشاره كوي .يو
څوک چې په عربي پوهيږي، كيداى شي ووايي  :ولې الله (ج) په ځانګړې توګه د باران د
بيرته راګرځولو لپاره د اسمانونو ظرفيت نه دى ذكر كړى؟  اوس موږ ته معلومه شوه
چې ولې الله تعالى په خپل حكمت سره دا كار نه دى كړى .ځكه نن موږ پوهيږو چې د
اوزونوسفير سربيره د ځمكې پورته طبقه ده  .د باران د بيرته راګرځيدو سربيره، دا حتى
د ځمكې نورې ګټورې مادې او انرژي بيرته راګرځوي چې د انسان لخوا ورته اړتيا ده .دا
يوازې بيرته باران نه راګرځيوي   .نن ورځ موږ پوهيږو، دا حتى د مخابراتو،
ټلويزيون، راديو، او هغه څپې بيرته راګرځوي، چې موږ كولى شو د هغې په وسطه
تلويزيون وګورو، د موبايل لارې اړيكه ونيسو، راډيو واورو .او د دې تر څنګ، دا حتى د
بهرنۍ فضا زيان رسونكي وړانګې بيرته ستانه وي، او بيرته بل لوري ته يى ليږداوي، او
جذبوي .د مثال په توګه ❋ د لمر رڼا، د لمر د رڼا الټرا وايليټ وړانګې د **Ionosphere**
لخوا جذب كيږي .كه دا كار نه واى شوى، نو په ځمكه كې به ژوند له منځه تللى واى .الله
تعالى فرمايي: وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا... ۲۱:۳۱ ترجمعه :او ګرځولى دى مونږه
اسمان يو ساتلى شوى چت <..نو الله جل جلاله ﷻ تر ټولو لوړ او ډير درست دى، بيشكه
چې د عبادت لايق دى كله چې" هغه "د اسمان د بيرته راګرځيدو په وړتيا سره وايي .يو
حقيقت چې په دې وروستيو كې كشف شوى او د قران عظيم الشان معجزه تقريبا

**1440**كاله وړاندې ذكر كوي● ■ ■ ■ ■ ■ !




**د اوبو د خوړوالي ساتنه**

آیت:

"أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ (٦٨) أَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنزِلُونَ (٦٩) لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ (٧٠)"

(الواقعة :٦٨-٧٠)

ژباړه:

"ایا تاسې هغه اوبه نه وینئ چې څښئ؟ آیا تاسې دا له وریځې راکوزې کوئ،او که موږ یې راکوزوو؟ که وغواړو، نو موږ به دا ډېرې ترخې (أُجَاجًا) ګرځولی وی؛ نو ولې شکر نه باسې؟"

١ .د آیت تفسیر او علمي واقعیت

"أُجَاجًا :"ډېرې تروې، مالګینې یا د څښلو نه وړ اوبه.

قرآنکریم په دې آیت کې د اوبو د خوړوالي یوه حیرانوونکي موضوع ته اشاره کوي، چې د ځمکې پر مخ د خوږو اوبو شتون د الهي رحمت یوه ستره نښه ده.

۲ .ساینسي اعجاز

(الف) د ځمکې اوبه ډېرې مالګینې دي

د ځمکې ۹۷٪ اوبه مالګینې دي او یوازې ۳٪ یې خوږې دي.

که چیرې الله وغواړي، نو دا ۳٪ خوږې اوبه هم مالګینې کیدلی شي، او انسانان به د ژوند لپاره له جدي ستونزو سره مخ شي.

(ب) د خوږو اوبو ساتنه یوه معجزه ده

د اوبو د دوران **(Water Cycle)** یوه حیرانوونکې ځانګړنه دا ده چې سمندري مالګینې اوبه د بخار له لارې فلټر کېږي او د باران په بڼه خوږې راکوزېږي.

دا پروسه دومره دقیق تنظیم شوې ده، چې اوبه که هر څومره دوران وکړي، خو بیا هم د څښلو لپاره مناسبې پاتې کېږي.

(ج) د خوږو اوبو د ترخو کېدو احتمالي عوامل

که د ځمکې اتموسفیر کې تغیر راغلی وای، نو د باران اوبه به د اسید باران **(Acid Rain)** په بڼه راتلې.

که د ځمکې فلټریشن سیستم نه وای، نو د خوږو اوبو منابع به په چټکۍ سره مالګینې شوې وای.

که د ځمکې د اوبو کیمیاوي جوړښت تغیر کړی وای، نو دا به د څښلو نه وړ ګرځېدلې.

۳ .پایله

قرآنکریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې دا حقیقت بیان کړی چې که الله تعالی وغواړي، نو د انسان د څښلو اوبه ډېرې ترخې کولی شي.

نن ورځ ساینس دا ثابتوي چې:

د ځمکې زیاتره اوبه مالګینې دي.

د خوږو اوبو ساتنه یوه معجزه ده.

که د اوبو دوران ته تغیر ورکړل شي، نو د انسان د ژوند امکان به ډېر ستونزمن شي.

دا د قرآن یو نه انکارېدونکی ساینسي اعجاز دی، چې یوازې عصري ساینس یې حقیقت تائید کړی!



**د سمندرونو د اوبو سرچینه**

په وروستیو علمي څېړنو کې ساینسپوهان دې پایلې ته رسېدلي، چې د ځمکې د سمندرونو اوبه ممکن له فضا څخه د میټورایټونو او ستوریو د چاودنو **(comet impacts)** له لارې راغلي وي. دا نوې علمي موندنه د قرآن کریم له ۱۴۰۰ کاله مخکې نازل شوي آیت سره حیرانوونکی تطابق لري:

وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ (المؤمنون: ۱۸)

ترجمه: "او موږ له اسمانه اوبه د اندازې سره راښکته کړې، بیا مو هغه په ځمکه کې ځای پر ځای کړې، او بېشکه موږ د هغې له منځه وړلو وس لرو."

۱. د اوبو د نزول قرآني مفهوم

قرآن کریم د اوبو د راکوزېدو لپاره "أَنزَلْنَا" فعل کارولی، چې د نازلولو یا راښکته کولو معنی لري. دا اشاره کولی شي، نه یوازې باران ته، بلکې د اوبو اصلي سرچینې ته، چې له فضا څخه د میټورایټونو، ستوریو **(comets)** او دوړو **(interstellar ice)** له لارې ځمکې ته انتقال شوې.

۲. د ساینس نوې موندنې – د اوبو فضايي سرچينه

ساینسپوهان باور لري، چې د ځمکې د اوبو يوه برخه ښايي د ستوريو **(comets)** او اوبو لرونکو ميټورايټونو **(carbonaceous chondrites)** له لارې ځمکې ته رسيدلې وي.

ناسا، اروپايي فضايي اداره **(ESA)** او جاپاني فضايي اداره **(JAXA)** ټولې دې پايلې ته رسېدلي، چې ځينې ميټورايټونه او ستورکي **(comets)** اوبه لري، او دا اوبه د ځمکې د سمندرونو له اوبو سره ورته دي.

په ۲۰۱۴م کال کې د "روزيتا" ماموريت وموندله، چې د **67P/Churyumov–Gerasimenko** ستورکی د اوبو ماليکولونه لري.

د جاپان د "هايابوسا 2" ماموريت د "ريوګو" ميټورايټ وڅېړه او وموندله، چې د دې تيږې ترکيب د ځمکې د اوبو هايدروجني ايزوتوپونو ته ورته دی.

په ۲۰۲۰م کال کې د ناسا "اوسايريس رېکس" ماموريت تاييد کړه، چې د "بينو" ميټورايټ هم اوبه لري.

پايله: د قرآن کريم علمي اعجاز

ساينس يوازې اوس دا کشف کړی، چې د ځمکې د سمندرونو اوبه ښايي له فضا څخه راغلې وي، خو قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله مخکې دا حقيقت بيان کړی و، چې اوبه له اسمانه نازلېږي او په ځمکه کې ځای پر ځای کېږي. دا د قرآن يو له هغو اعجازونو څخه دی، چې د وحی حقانيت ثابتوي.



## اوبه پاکوالی

د اوبو پاکوالی او د ځمکې لاندې د اوبو ذخیره کول – قرآني اعجاز

۱- د اوبو پاکوالی او د نبي کریم ﷺ حدیث

رسول الله ﷺ فرمايي:

«الماء طَهُورٌ، لا يُنَجِّسُهُ شيءٌ»
(رواه الترمذي والنسائي)

ترجمه: "اوبه پاکې دي، هېڅ شی یې ناپاکولی نشي."

دا حدیث د اوبو د طبیعي پاکوالي ته اشاره کوي، چې دا حقیقت اوس ساینس هم تأییدوي.

۲- د قرآن کریم اشاره د اوبو پاکوالي ته

الله تعالی فرمایي:

(وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ طَهُورٗا)
(الفرقان: ۴۸)

ترجمه:
"او مونږ له آسمانه پاکې اوبه نازلې کړې دي."

دا آیت ښکاره کوي چې د باران اوبه طبیعي ډول سره پاکې دي. دا حقیقت اوس ساینس هم ثابت کړی چې د باران اوبه د تصفیه شوي اوبو تر ټولو غوره شکل دی.

۳- د ځمکې لاندې د اوبو ذخیره کول – قرآني اعجاز

الله تعالی فرمایي:

(وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمۡ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ)
(الحجر: ۲۲)

ترجمه :
"او مونږ بادونه د القاح ورکوونکو (باران راوستونکو) و لیږل، بیا مو له آسمانه اوبه نازلې کړې، نو تاسو ته مو هغه اوبه وڅښکولې او تاسو د دې (اوبو) ذخیره کوونکي نه یئ."

۴- د قرآن د آیت علمي تفسیر

مشهور مفسر ابن کثیر رحمه الله د دې آیت تفسیر کې وايي:

"یعنی الله تعالی پخپله اوبه نازلي کړي او د ځمکې لاندې یې د ذخیره کولو نظام برابر کړی، ترڅو انسانان یې وڅښي."

۵- د ساینس وروستی کشف – د ځمکې لاندې د اوبو طبیعي پاکوالی

ساینسپوهان وايي چې د ځمکې لاندې د اوبو ذخیره کول یو طبیعي تصفیه کوونکی عمل دی. مایکروبیولوژیست ډاکټر سایمون توز **(Dr. Simon Toze)** وايي:

"که اوبه د ځمکې لاندې څو میاشتې پاتې شي، ټول زیانمن میکروبونه، باکتریاوې، او ویروسونه له منځه ځي."

دا طریقه "جیوفیورېفیکشن **"(Geo-purification)** یعني د ځمکې له لارې پاکوالی نومیږي.

۶- د خاورې حیرانوونکی خاصیت – اوبو ته پاکوالی ورکول

ساینسپوهان حیران دي چې څنګه خاوره کولی شي اوبه تصفیه کړي. دوی وايي:

"مونږ پوهیږو چې کثافات له منځه ځي، خو نه پوهېږو چې څنګه!"

پوهان وايي چې دوړې **(Dust)** داسې مواد لري چې ټول باکتریاوې، ویروسونه، غوړ، تېل، او نور چټلي مواد جذبوي او له منځه يې وړي.

۷- د دې حقیقت قرآني تصدیق

الله تعالی فرمایي:

(وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ)
(الجاثية: ١٣)

ترجمه :
"او هغه څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي، ټول يې ستاسو لپاره تابع کړي دي، بېشکه په دې کې خامخا نښې دي د هغه قوم لپاره چې فکر کوي."

۸- پایله – د قرآن حیرانوونکی اعجاز

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د اوبو د پاکوالي او د ځمکې لاندې د اوبو ذخیره کولو حقیقت ته اشاره کړې وه.

ساینس یوازې اوس دا حقیقتونه کشف کړي دي، چې خاوره د اوبو طبیعي تصفیه کوونکی ده.

دا د الله تعالی رحمت دی چې انسانانو ته يې د پاکو اوبو د برابرولو حیرانوونکی نظام ورکړی.

ایا مونږ به د الله تعالی شکر ادا نه کړو؟




**د ځمکې لاندې اوبه او د اوبو دوران**

د ښېنلو وړ اوبو حقيقتونه او د قرآن کريم معجزه

سريزه

اوبه د ژوند اساسي عنصر دی، او د ځمکې پر مخ د ژوند دوام د اوبو له برکته دی .که څه هم د ځمکې ٪۷۱ برخه له اوبو ډکه ده، خو د ښېنلو وړ اوبه يوازې ٪ 0,3 تشکيلوي .دا محدود مقدار اوبه، چې د سيندونو، جهيلونو، چينو او ځمکې لاندې زېرمو کې شتون لري، د ژوند دوام ته حياتي ارزښت لري.

قرآن کريم د ښېنلو وړ اوبو د اصلي سرچينو يادونه کړې، او د باران، ځمکې لاندې اوبو، او د اوبو د دوران حيرانوونکي علمي حقيقتونه يې وړاندې کړي دي .دا حقايق نن ورځ ساينس تاييد کړي، خو ۱۴۰۰ کاله وړاندې، چې هيڅ علمي وسايل موجود نه وو، دا معلومات يوازې د الهي وحې له لارې ممکن وو.

١ .د څښنلو وړ اوبو فيصدي

د ځمکې ټولې اوبه داسې وېشل شوي دي:

97,5٪ سمندري او مالګينې اوبه دي، چې د څښنلو لپاره مناسبې نه دي.

٪ 2.5 تازه خوږې اوبه دي، خو له دې هم ٪۷۰ د يخچالونو او واورو په بڼه دي.

يوازې ٪0.3 د ځمکې پر سطحه د انسانانو د څښنلو لپاره شتون لري.

دا کوچنی مقدار د انسانانو د اړتيا وړ اوبه تشکيلوي، چې له باران، ځمکې لاندې زېرمو، چينو، سيندونو، او جهيلونو څخه ترلاسه کېږي.

٢ .د څښنلو وړ اوبو سرچينې

الف (د ځمکې پر سطحه تازه اوبه

سيندونه او جهيلونه – د باران، غرونو، او ځمکې لاندې چينو له لارې تغذيه کېږي.

چينې – طبيعي راوتلې اوبه چې د ځمکې لاندې زېرمو څخه راپورته کېږي.

باران او واورې – د اوبو دوران يوه مهمه برخه ده، چې تازه اوبه برابروي.

ب (د ځمکې لاندې اوبو زېرمې

څاګانې – د ځمکې لاندې اوبو د ترلاسه کولو لپاره کارېږي.

اوبه‌لاندې زېرمې – (Aquifers) دا هغه زېرمتونونه دي، چې د کلونو لپاره د باران او د ځمکې د سطحي اوبو له جذب وروسته جوړېږي.

ج (د سمندري اوبو نه کارول

سمندري اوبه د لوړې مالګینې اندازې له امله د څښلو وړ نه دي .که څه هم د اوبو د مالګې کمولو (Desalination) پروسه شته، خو دا یو ډېر قیمتي او د انرژۍ مصرفوونکی میتود دی، چې یوازې په ځانګړو هېوادونو کې کارول کېږي.

۳ .د قرآن کریم علمي معجزه :د اوبو دوران او د ځمکې لاندې اوبو جوړښت

الف (باران د خدای (ج) له لوري راځي

الله (ج) فرمایي:

"أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ * ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ"

(الواقعه :۶۸-۶۹)

ژباړه:

ایا پس وینئ تاسې هغه اوبه چې څښئ یې، ایا تاسو نازلې کړې مو دي دا اوبه له وریځو نه او که مونږه یې نازلونکي یو؟

ب (د ځمکې لاندې اوبو جوړښت

الله (ج) فرمايي:

"أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُۥ يَنَـٰبِيعَ فِى ٱلْأَرْضِ"

(الزمر :٢١)

ژباړه:

آيا نه وينې ته الله بيشکه نازلې کړي دي له (طرفه) د اسمانه اوبه، پس ننه ايستلی يې دي دا (اوبه) په چينو د ځمکې کښې...

دې آيت ته پاملرنه وکړئ:

الله (ج) فرمايي چې اوبه له آسمانه راځي، يعنې د باران له لارې.

بيا دا اوبه د ځمکې لاندې داخلېږي او د چينو په بڼه راووځي.

دا علمي حقيقت يوازې په وروستيو پېړيو کې کشف شو، خو قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندې يادونه کړې وه.

۴ .د اوبو دوران او د پخوانيو نظرياتو غلطيتوب

پخوا پوهانو د اوبو د دوران په اړه ناقص نظرونه درلودل:

طاليس باور درلود چې د سمندر اوبه د بادونو له لارې پورته ځي او بيا ځمکې ته راښکته کېږي.

ارسطو وويل چې د ځمکې څخه پورته شوي بخارونه په غرونو کې يخ کېږي او ځمکې لاندې زيرمې جوړوي.

دا نظریات فلسفي فکرونه وو، خو هیڅ ساینسي اساس یې نه درلود.

په حقیقت کې، په ۱۵۸۰ کال کې، برنارډ پالسی د اوبو د دوران سمه نظریه وړاندې کړه . هغه وویل چې د باران اوبه ځمکې ته ننوزي، هلته ذخیره کېږي، او بیا د چینو، ځاګانو، او سیندونو له لارې راپورته کېږي .دا نظریه نن ورځ ساینس تایید کړې.

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې دا حقیقت واضح بیان کړی و، چې دا د قرآن د علمي اعجاز یو څرګند ثبوت دی.

پایله

قرآن کریم د اوبو د دوران، د باران له لارې د ځمکې لاندې اوبو جوړېدو، او د څښلو وړ اوبو سرچینو په اړه حیرانوونکي علمي حقایق وړاندې کړي دي .که څه هم ساینس یوازې په وروستیو پېړیو کې دا حقیقتونه کشف کړل، خو قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندې دا بیان کړي وو.

دا ثابتوي چې قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، او دا علمي معجزې د هر دور لپاره د پوهې سرچینه دي




**بحرونه او سیندونه**

دننني ساینس د کشف په اساس هلته چې دو بحرونه سره یو ځای کیږی د هغو تر مینځ یو حایل شته دا حایل د دوو هغو بحرونه تر منځ چې متفاوته تودوخه ، مالګینتوب او کثافت لري شته د مثال په توګه د مدیتراني بحر اوبه نسبت د اتلانیک د بحر اوبو ته تودې، مالګینې او لږ کثافت لرونکي دي.

نو کله چې په ګبریال درشل کې د مدیتراني دبحر اوبه د اتلانیک بحر ته د څو کیلو مترو په اوږدوالي او د زرو مترو په پلنوالي ننوځي دا اوبه هلته ثابتې پاته کیږي د بحرغتي چپې ، مدوجذر او قوی جریانات دا اوبه نه سره ګډوي او دا اوبه د یو بل سره نه ګډیږي.

الله (ج) په قرآن کریم کې فرمایي:

«مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ»
«بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ۝»

«هغه دوه سمندرونه بهولي دي، په دې حال کې چې يوله بله سره ميلاوېږي، د دواړو په مينځ کې يوه پرده ده، چې په يو بل باندې نه ورګډېږي»
سورت الرحمن ۱۹-۲۰

خو کله چې قرآن کريم وايي د خوږو او ترخو اوبو تر منځ يو جلا کوونکی شته چې دوی نه پرېږي سره ګډې شي.

الله (ج) په قرانکريم کې فرمايي:

«وَهُوَ الَّذِىْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ۞»

**25-53**«او دی هماغه ذات دی چې دوه دريابونه يې خوشې کړې دي له يو بل سره جوخت (دا خوږ دی، ډېر خوږ) تنده ماتوونکی (او د ا) بل تريو دی، ښه تريو او د دواړو په مينځ کې يې يوه پرده او بند پيدا کړی دی چې منع کړی شوی دی»

که يو سوال وشي چې ولي قرآن کريم د خوږو او ترو اوبو تر منځ کښې مانع وايي ؟ او د بحرونو تر منځ بيا مانع او منع کوونکي حصه وايي؟

نننی ساينس دا کشف کړېده چې د بحر په هغه کوشنۍ برخه چې سيند ته ننوځي او هغه ځای کې تروې او خوږې او به سره يو ځای کيږی نو خوږې اوبه د تروو اوبو نه جلا وي او د

دوی تر منځ یو ( پیکنوکلین زون ) جوړیږي چې کثافت یې ددې دواړو اوبو نه توپیر لري ددې جلا کوونکي زون مالګه هم ددې خوږو او ترو و اوبو نه توپیر لري

ختی د سمندرونو په مینځ کې د سمندرونو لپاره همدا اصول دی او په همدې ترتیب له یو بل څخه جلا دی



دا معلومات اوس په دې وروستیو کلنو کې د ډیرو پرمختللو وسایلو چې د بحرونو تودوخه، د مالګې اندازه ،کثافت او په اوبو کې د منحل شوی اکسجن اندازه مالوموي کشف شوي دي د انسان په سترګو دا توپیرونه نه مالومیږی او ټوله ورته یو ډول ښکاري.

سوال:

لومړۍ دا چې رسول الله (ص) تګ هلته هیڅکله هم ندی شوی، او نه په هغه وخت کې د مکې خلکو ته دغه سمندرونه معلوم وو، او بیا ددې ادراک چې ولې سمندرونه سره بیل دی؟ په یو بل کې ولې نه سره ګډیږي؟ دا معلومات خو ختی ساینسپوهانو هم نشو معلومولی مګر د ټیکنالوجۍ د اسبابو په وسطه او بیا رسول الله (ص) خو ټولو ته پته شته چې هغه خو ختی په لیک او لوست نه پوهیده، ایا ممکنه ده چې دا د الله ج پرته بل چاته معلومه وي؟

نو معلومه خبره ده چې قرآن عظیم د باخبره ذات په علم سره نازل کړی شوی دی



## د سنمدري څپو جوړښت

اللَّهُ الَّذِي سَيَّرَكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّى إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُوا بِهَا جَاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنْجَيْتَنَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ

(یونس:۲۲)

ترجمه:

"دی هماغه دی چې تاسو په وچه او لمده کې ګرځوي تر هغه چې بېړیو کې (سپاره) شئ او بیا له پاک باد سره رواني شي دوی وړي، او دوی پرې خوشاله وي نو توند (مخالف) باد وربانډې راشي او له هرې خوا څپې څپانده شي او دوی وانګیري چې دا دی ګیر شولو نو دوی خپل دین یوازې د الله لپاره خالصوي او دعاګاني کوي چې که موږ دې له دې وژغورلو نو خامخا به له شکر ایستونکو څخه یو".

علمي تشریح:

په دې آیت کې یو ستر حقیقت بیان شوی چې د ساینس له نظره د سمندرونو د څپو د حرکت یو حیرانوونکی توضیح ده .دا څپې د باد، جاذبې، او د ځمکې د څرخېدلو له امله منځته راځي .ننني ساینس دا حقایق تأییدوي، خو ۱۴۰۰ کاله وړاندې څوک د دې جزئیاتو له بیانولو عاجز و، خو قرآن یې په روښانه ډول ذکر کړی.

١ .د باد اثر او د څپو جوړېدل:

کله چې باد د سمندر پر سطحه حرکت کوي، نو د موښل **(friction)** له امله د اوبو سطحه خړېږي، چې دا د څپو د جوړېدو لامل ګرځي .دا څپې ابتدايي کوچنۍ وي، خو که باد دوام وکړي، نو څپې غټېږي او د سمندر د بېلابېلو عواملو په سبب د پراخېدو لامل ګرځي.

٢ .طوفاني بادونه او خطرناکې څپې:

قرآنکریم په روښانه ډول وايي:

"جاءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَاءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ"

(يعنې سخت طوفاني باد راغی، او له هرې خوا څپې پرې راغلې).

دا یو داسې حقیقت دی چې اوسنی ساینس يې هم ثابتوي .کله چې یو شدید طوفان راشي، نو د **"storm surges"** یا **"rogue waves"** په نوم غیر معمولي څپې رامنځته کېږي، چې ناڅاپه له هرې خوا راپورته کېږي او کښتۍ له خطر سره مخ کوي.

قرآني اعجاز:

په دې آیت کې د سمندر د خطرناکو څپو تفصیل له هر علمي تحقیق څخه دقیق دی.

دا یو داسې حقیقت دی چې د هغه دور انسانان يې د درک توان نه درلود، خو قرآن يې ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی .دا د قرآن د الهي اعجاز یوه بله روښانه نښه ده.




## د بحرونو د تل چپې

الله (ج) په قرآن کریم کې فرمايي :

«اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِىْ بَحْرٍ لُّجِّىٍّ يَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَاۤ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ»

۲۴:۴۰ .«یا په شان د هغو تاریکیو دي په ژور بحر کښې چې پټ کړی وي سره یو موج د پاسه بل موج وي او د پاسه د دغه ( موج ) اوریځ وي تیارې دي چې ځیني ددې د پاسه د ځینو نورو دي کله چې را وباسئ لاس خپل نه وي نژدې چې ووینئ دغه ( لاس خپل ) او هر هغه چې نه وي ورکړی الله ده ته نور رڼا پس نشته ده ته هیڅ نور رڼا »

۱ .د بحرونو د تل تیارې – یو حیرانوونکی حقیقت

په پورته آیت کې د سمندرونو په تل کې د ژورې تیارې یادونه شوې، چې تر ۲۰۰ مترو ښکته پیلیږي، او تر ۱۰۰۰ مترو ښکته بیا هیڅ روښنایي نه وي .ساینس دا حقیقت یوازې د پرمختللو غواصانو، اوبو ته د ننوتونکو وسایلو **(submarines)** او نوري تجهیزاتو په مټ ثابت کړ.

**علمي حقيقت:**

د ۴۰ مترو څخه ښکته عادي انسان نشي تللی، پرته له ځانګړو وسايلو.

د ۲۰۰ مترو څخه ښکته روښنايي نه رسي، او د ۱۰۰۰ مترو نه ښکته مطلقه تياره ده.

قرآن دا حقيقت بيانوي، چې که يو انسان لاس را وباسي، نشي کولی هغه وويني**!**

په قرآن کريم کې د سمندرونو د داخلي څپو **(Internal Waves)** ذکر هغه حقيقت ته اشاره کوي، چې ساينسپوهانو يوازې په وروستيو لسيزو کې کشف کړی .دا څپې د سمندر د داخلي طبقو ترمنځ واقع کېږي او د سطحې د څپو **(Surface Waves)** په څېر حرکت کوي، مګر انسان يې نه شي ليدلی.

۱**.** د داخلي او سطحي څپو طبقاتي جوړښت

په دې آيت کې دوه ډوله څپې ذکر شوي:

**1** لومړی موج (اندرونی څپه)**:**

دا څپې د سمندر د داخلي ژورو اوبو او سطحي اوبو ترمنځ رامنځته کېږي.

دا څپې د اوبو د مختلفو کثافتونو **(Density)** له امله منځته راځي.

داخلي څپې د سطحې د څپو په پرتله سلګونه متره لوړوالی لري، مګر انسان يې د سترګو په واسطه نه شي ليدلی.

**2** دويم موج (سطحي څپه):

دا هغه څپې دي، چې د بحر په سر حرکت کوي او موږ يې د سترګو په واسطه ليدلی شو.

د دې څپو حرکت د باد، د ځمکې د جاذبې، او د اوبو د بهېدو له امله رامنځته کېږي.

**۲.** د داخلي څپو ساينسي وضاحت

د بحرونو داخلي څپې هغه وخت منځ ته راځي، کله چې:

د سمندر مختلفې طبقې بيلابيل کثافتونه لري.

د مالګينتيا **(Salinity)** او د اوبو د حرارت درجه **(Temperature)** توپير لري.

دا څپې د سطحې د څپو په څېر حرکت کوي، خو د سترګو له نظره پټې وي.

ساینسپوهانو دا څپې یوازې د پرمختللو تجهیزاتو (سونار، لېزر او انفرارېډ تکنالوژي) په مټ کشف کړې دي.

۳ . قرآن څنګه دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړ؟

ساینس یوازې په وروستیو لسیزو کې دا داخلي څپې کشف کړې، مګر قرآن کریم دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی .که دا کتاب د انسان له خوا لیکل شوی وای، نو دا معلومات به په هغه وخت کې ناممکن وو، ځکه هغه مهال خلک یوازې د سطحې د څپو څخه خبر وو.

دا د قرآن د علمي اعجاز ښکاره نښه ده، چې دا معلومات د وحی له لارې بیان شوي.

پایله

د بحرونو داخلي څپې د قرآن کریم د حیرانوونکو ساینسي اعجازاتو څخه دي .د قرآن کریم دا آیت د سمندرونو د داخلي جوړښت، د چپو د طبقو، او د ژورو تیارو حیرانوونکی حقیقت بیانوي، چې ساینس یوازې په وروستیو لسیزو کې کشف کړ .دا ښیي، چې قرآن یو الهي کتاب دی، چې داسې علمي حقایق پکې شته، چې د انسان له پوهې او وس څخه بهر وو



## Bioluminescence

**Bioluminescence** د ژونديو موجوداتو لخوا د رڼا توليد او اخراج دی .بايولومينسينټ مخلوقات په سمندري استوګنځايونو کې موندل کيږي، د سمندر له سطحې څخه تر ژور سمندري پوړ پورې.

بايولومينيسينس په سمندر کې خورا عام دی، لږترلږه د پيلاجيک زون (د اوبو کالم) کې، چيرې چې **80** سلنه حيوانات چې د **200** او **1000** مترو ( **656** او **3,280** فوټو) ژوروالی ترمنځ ژوند کوي بايولومينيسينټ دي

په قرآن کريم کې راغلي چې په ژورو اوبو کې چې انسان خپل لاس نه شي ليدلی، خو بيا هم الله جل جلاله کولای شي رڼا ورکړي .په دې سره ملخيدينو او ياهودو او عيسويانو ادعا وکړه چې هر چا چې قرآن ليکلی خطا کړې، د لمر وړانګې يوازې **200** مترو ته رسي .له دې څخه ژوره اور يا د رڼا کومه سرچينه شتون نلري نو د **200** مترو څخه ښکته هيڅ رڼا شتون نلري .نن ورځ ساينس پوهانو بايولومينسينټ حيوانات کشف کړل چې خپله رڼا توليدوي؛ په زرګونو مترو ژاورو کې .

## Bioluminescence

د **Bioluminescence** په پراخه پیمانه د خیواناتو په منځ کې واقع کیږي، په ځانګړې توګه په خلاص سمندر کې، په شمول:

د کب، جیلیفش، کامب جیلی، کرستاسیان، او سیفالوپډ مولسک؛ په ځینو فنګسي او باکتریا کې؛ او د ځمکې حشراتو په شمول په مختلفو ځمکنیو غیر فقاري حیواناتو کې .

په سمندري ساحلي استوګنځایونو کې، شاوخوا**2.5** ٪ ژوندی موجودات بایولومینسینټ اټکل شوي، پداسې حال کې چې په ختیځ آرام سمندر کې د پیلاجیک استوګنځایونو کې، د ژورو سمندري حیواناتو اصلي ټیکا شاوخوا **76** ٪ موندل شوي چې د رڼا تولیدولو توان لري .

د **700** څخه ډیر د ځارویو نسلونه د رڼا تولیدونکي ډولونو سره ثبت شوي .د سمندري رڼا ډیرای اخراج په نیلي او شنه رڼا طیف کې دي .په هرصورت، ځینې نرم ژامې ماهیان سور رنګ او انفراریډ رڼا خپروي، او د **Tomopteris** نسل ژیړه رڼا خپروي.

حیوانات کولی شي د بایولومینیسینس په واسطه خپله رڼا تولید کړي .دا ژؤي په دې وروستیو کالونو کې وپیژندل شو، مګر دا د کشف کیدو څخه **1400** کاله وړاندې په مقدس قرآن عظیم شان کې انځور شوی و :

الله تعالی فرمایي:

قرآن **:24:40** أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُجِّيٍّ يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِهِ مَوْجٌ مِنْ فَوْقِهِ سَحَابٌ ۚ ظُلُمَاتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا ۗ وَمَنْ لَمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِنْ نُورٍ<

**24-40:** یا (کافران او منافقان) د هغو تیارو په شان دي چې په ژور سمندر کې دي، چې دغه (سمندر) یو موج (چپې) پټ کړی وي، د هغه له پاسه بل موج (چپه) وي (بیا) د هغه له پاسه وریځ وي، تیارې دي چې د دوی ځینې د ځینو نورو له پاسه دي، کله چې دی خپل لاس رؤباسي (، نو) نژدې نه دي چې دغه ووینې او هر هغه څوك چې الله ده ته رڼا ورنه كړي، نو د هغه لپاره هېڅ رڼا نشته<<

"کله چې دی خپل لاس راوباسي (، نو) نژدې نه دي چې دغه ووېني او هر هغه څوك چې الله ده ته رڼا ورنه کړي، نو د هغه لپاره هېڅ رڼا نشته"

په دې آیت کې یو څوک د لمر د رڼا په واسطه خپل لاس نه شي لیدلی په ژاور سمندر کې خو بیا هم الله جل جلاله کولای شي رڼا ورکړي .دا پدې معنی ده چې په ژورو اوبو کې رڼا شتون لري مګر د لمر له رڼا نه !نن ورځ ساینس پوهان تاییدوي چې په ژورو اوبو کې حیوانات کولی شي د بایولومینیسینس په واسطه خپله رڼا تولید کړي.

لکه څنګه چې هره ورځ ساینس پوهان زموږ لپاره نامعلوم مخلوقات کشف کوي او دا هم دوی کشف کوي چې د دې مخلوقاتو سیستمونه د دې په واسطه نشي رامینځته کیدی، مګر یو دقیق پروګرام شتون لري چې دننه هرڅه کنټرولوي .ترټولو حیرانونکي شیان چې ما کله هم لیدلي دي هغه ژوندي موجودات دي چې په ژورو بحرونو کې (زرګونه کیلومتره د بحر لاندې) کې دي لکه څنګه چې خدای پاک د دې مخلوقاتو سره د پیچلو سیستمونو په واسطه ملاتړ کړی،ترڅو د رڼا وړانګې خوشې کړي

قران کریم فرمايي:

﴿قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَىۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ

(موسی) وویل :«زمونږ رب هغه ذات دی، چې هر شی ته یې د هغه خلقت (شکل او صورت) ورکړ، بیا یې هغه ته لاره وروښوده.» (طه :۵۰)

د سمندر لاندې په ۸۰۰۰ متری کې داسې کبونه دی چې څو کاله وړاندې یې انسانان په اړه هېڅ نه پوهېدل.

خدای (ج) دا حیرانوونکی کبونه پیدا کړی، ددوی بدن دننه ډیری کیمیاوي تعاملات رامینځته کیږي چې د هغې څخه د رڼا خوشې کیدو لامل کیږي .سره له دې چې ددوی په بادنونو باندې د اوبو فشار په دې وخت کې د غرونو په اندازه وی !دا پدې مانا ده چې د بدن په هر سانتي متر کې د غرونو په اندازه فشار شتون لري!!

پوښتنه دا ده چې دا کوچنی کب څنګه دومره لوی فشار برداشت کولی شي؟ څوک په دې ژور او تیاره کې د ژوند کولو لپاره مناسب دي؟ او څوک د هغوی د تغذیه کولو لپاره مناسب معیشت کاروي؟ دلته د روښنايي سیسټم شتون نلري، دا د دومره اندازه فشار څخه د

ساتنې په توګه کوم ځانګړي سوټ هم نه اغوندي او دا د سړو اوبو څخه د مخنیوي لپاره کوم ځانګړی سیستم نلري .یوازینی شی چې دوی ترلاسه کړی دی هغه کوچنی دماغ دی چې د اړتیا وړ برنامه لري چې په ژورو بحرونو کې خپلې لارې ته پرې لارښوونه وکړي .

دا بیولوژیکي رڼا د کب دننه د ځینو تعاملاتو له امله رامینځته کیږي، ځکه چې ځینې اتومونه د اکسیجن او کلسیم اتومونو سره یوځای کیږي، او د دې ادغام له امله الکترونونه د اتوم د داخلي مدار څخه خارجي مدار ته حرکت کوي ترڅو د رڼا فوتون خوشې کړي .الله سبحانه وتعالی دا مخلوقات نه دي هېر کړي چې اته زره متره د سمندر لاندې ژوند کوي، نو څنګه ممکنه ده چې د یو سړي دا خبره هېره کړي چې" له الله پرته بل خدای نشته."

هغه څه چې د حکمت څخه ډک دي هغه دا دي چې فرمایي :(او د چا لپاره چې الله رڼا نه وي ورکړی، د هغه لپاره هیڅ رڼا نشته) (.سورة النور آیت**40** ) لکه څنګه چې هغه ذات د لوړ شآن څښتن دی موږ ته ددې ویل غواړي چې هغه خپلو ځینو مخلوقاتو ته د روښنایي وړتیا ورکړې .

ایا موږ د الله جل جلاله د معجزو د پوهیدو لپاره دې خبرو ته په غور سره نه ګورو؟

الله تعالی موږ ته رڼا راکړي چې هغه قرآن او سنت دی ترڅو په دې نړۍ کې چې د الحاد او د خدای د ناپوهۍ له تیارو څخه ډکه ده خپله لاره روښانه کړو .الله جل جلاله د هر څه خالق دی، له هغه څخه غوښتنه کوو چې موږ ته د سمې لارې لارښوونه وکړي او موږ ته د دې دور په تیارو کې رڼا راکړي .یا الله زمونږ زړونو ته د قران کریم رڼا واچوه



## سمندري انرژي

۱ -د سمندر د څپو د رامنځته کېدو علمي عوامل

د سمندر څپې هغه اوبيز حرکتونه دي چې د باد، د ځمکې د ګرځېدو، او د تودوخې توپيرونو له امله منځته راځي .دا څپې نه يوازې د سمندر په سطحه بلکه د سمندر په ژورو برخو کې هم شته، چې د داخلي څپو **(Internal Waves)** په نوم ياديږي.

۲ -د څپو د انرژۍ قرآني اشاره

**الله تعالی فرمايي:**

(وَهُوَ ٱلَّذِى سَخَّرَ ٱلْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا۟ مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا۟ مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى ٱلْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ)

(سورة النحل :۱۴)

**ترجمه:**

"دی همغه ذات دی چې سمندر یې مُسخر کړی دی، د دې لپاره چې تاسو له هغه نه تازه غوښه وخورئ او له هغه نه ګاڼه (زېورات) راوباسئ چې تاسو یې اغوندئ او ته په ده کې بېړۍ وینې، چې اوبه څیرونکې وي او د دې لپاره چې تاسو د هغه فضل طلب کړئ او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ"

تحلیل:

دلته" سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ "اشاره کوي چې سمندر د انسان د ګټې لپاره برابر شوی، چې یوه ګټه یې د څپو انرژي ده.

څپې د اوبو د خوځښت سبب ګرځي، او انسانان یې اوس د برېښنا د تولید لپاره کاروي.

د داخلي څپو **(Internal Waves)** قرآني اعجاز

۱ -داخلي څپې څه دي؟

دا څپې د سمندر په ژورو برخو کې وي، چې د سطحي څپو څخه ډېرې پټې او غټې دي . ساینسپوهان دا څپې یوازې په ۲۰مې پېړۍ کې کشف کړې.

۲ -د داخلي څپو قرآني اشاره

الله تعالی فرمايي:

(أَوۡ كَظُلُمَٰت فِی بَحۡر لُّجِّیّ يَغۡشَىٰهُ مَوۡج مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡج مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَاب ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡض)

(سورة النور :۴۰)

ترجمه:

"یا (کافران او منافقان) د هغو تیارو په شان دي چې په ژور سمندر کې دي، چې دغه (سمندر) یو موج (چپې) پټ کړی وي، د هغه له پاسه بل موج (چپه) وي (بیا) د هغه له پاسه وریځ وي، تیاري دي چې د دوی ځینې د ځینو نورو له پاسه دي".

تحلیل:

د" مَوْج مِّن فَوْقِهِ مَوْج "مفهوم دا دی چې د سمندر ژورو کې هم څپې شته، نه یوازې په سطحه.

دا یو داسې حقیقت دی چې ساینسپوهان یې په ۲۰مې پېړۍ کې کشف کړ، خو قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې پرې اشاره کړې وه.

د مد **(Tides)** د انرژي تولید او قرآني اعجاز

۱ -د مد او جزر **(Tides)** د رامنځته کېدو لاملونه

مد او جزر د سپوږمۍ د جاذبې قوې له امله منځته راځي .کله چې سپوږمۍ د ځمکې اوبو ته نږدې شي، نو دا اوبه پورته کوي او مد رامنځته کېږي، او کله چې لرې شي، نو جزر راځي.

۲ -د مد د انرژۍ ګټه اخیستل

اوس ساینسپوهان د مد د خوځښت څخه د برېښنا د تولید لپاره کار اخلي.

۳ ـ د مد د قرآني اشاره

الله تعالی فرمايي:

(وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ لِتَجۡرِيَ ٱلۡفُلۡكُ فِيهِ بِأَمۡرِهِۦ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ)

(سورة الجاثية :۱۲)

ترجمه:

"او (الله) همدا بحر تاسو ته مسخر کړی دی، د دې لپاره چې کښتۍ پکې د هغه (الله) په حکم سره رواني شي او د دې لپاره چې تاسو د هغه فضل ولټوئ، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ".

تحليل:

د" سَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡبَحۡرَ "اشاره دا ده چې سمندر د انسان د ګټې لپاره دی، چې اوس د مد له خوځښت څخه انرژي توليدېږي.

د مد د انرژۍ سيستمونه د برېښنا يو مهم توليدي سيستم ګڼل کېږي، چې له اوبو څخه پاکه انرژي برابروي.

نتيجه:

د قرآن کريم د آيتونو له مخې، سمندر د څپو، مد، او داخلي څپو له لارې د انسان د فايدې لپاره برابر شوی.

ساينسپوهان اوس هم د سمندر له دې خوځښتونو څخه د برېښنا د توليد لپاره ګټه اخلي، چې دا د قرآن کريم د اعجاز يو روښانه دليل دی.

قرآن کريم داسې علمي حقايق بيان کړي چې انسان ته يې ۱۴۰۰ کاله وروسته څرګند شول، او دا د الهي وحي ښکاره نښه ده.

الله تعالی فرمايي:

(سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُۥ مُقۡرِنِينَ۝ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ)

(سورة الزخرف :۱۳-۱۴)

ترجمه:

"پاکي ده هغه ذات لره چې موږ ته يې دا (وسايل) تابع کړي دي، او موږ د دې توان نه درلود،

او بې‌شکه موږ خامخا خپل رب ته بېرته ورستنېدونکي يو".



**د سمندر فوم**

د سمندر د فوم اعجاز – قرآني او علمي حقيقتونه

۱ -د سمندري فوم **(Sea Foam)** پديدې تشريح

سمندري فوم یوه پېښلې پدیده ده چې د نړۍ په ټولو بحیرو کې پېښیږي .دا فوم د سمندر د عضوي موادو، مالګو، مړو بوټو، او خرابو شوو کبانو د شدیده اختلاط له امله رامنځته کېږي .ساینسپوهان یې د شیدو د مخلوط **(Mixer)** ته تشبیه ورکوي، چې کله سخت حرکت پیدا کړي، فوم جوړیږي.

د فوم ځینې ساینسي ځانګړتیاوې:

د تیزو څپو، توپانونو او سختو سیلابونو پر مهال جوړیږي.

ډېر سپک وي او د هوا له امله ژر لېرې کیږي.

ډېر لږ اوبه کولی شي ډېر فوم تولید کړي، یعنې دا هیڅ وزن او ارزښت نه لري.

۲ -د قرآني اعجاز څرګندونه

الله تعالی فرمایي:

(أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَسَالَتۡ أَوۡدِيَةُۢ بِقَدَرِهَا فَٱحۡتَمَلَ ٱلسَّيۡلُ زَبَدٗا رَّابِيٗاۖ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي ٱلنَّارِ ٱبۡتِغَآءَ حِلۡيَةٍ أَوۡ مَتَٰعٖ زَبَدٞ مِّثۡلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ وَٱلۡبَٰطِلَۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءٗۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ)

الرعد :۱۷

ترجمه:

"الله د باطل د له منځه وړلو او حق پاتې کېدلو لپاره له آسمانه د ورېدونکي باران بېلګه بیان کړې ده، تردې چې د لویوالي او کوچنوالي سره سمې ویالې پرې وبهیږي؛ نو سېل د اوبو پر سر خس او خځلې پورته کړي وي او بله بېلګه یې هغوی دواړو ته د ځینو هغه څه بیان کړې ده چې خلک یې له ارزښتناکه زېړمو څخه اور پرې بلوي تر څو یې اصل او هغه

څه ولتوي چې خلک ځانونه پرې ښایسته کوي، نو هغه خپل زګ داسې پورته کوي لکه دغه يې چې پورته کوي، په دغو دوو بېلګو سره الله د حق او باطل بېلګې بيانوي، نو باطل د خسو او د اوبو پر سر د غورځول شوي زړ غوندې وي او له زنګ څخه د معدن پاتې خيري غوندې وي، او حق د هغو پاکو اوبو غوندې وي چې څښل کيږي، مېوې، شينګيا او وابنه را شنه کوي او هغه چې په معدن کې له خيري وروسته وي، نو خلک ترې ګټه پورته کوي، لکه څنګه چې دغه دوې بېلګې بيان کړې، الله د خلکو لپاره بېلګې بيانوي چې حق پرې له باطله بېل کړي"..

٣ -د قرآني آيت علمي تفسير

د فوم جوړېدل د سيلاب د سخت حرکت له امله:

قرآن وايي" :فَٱحۡتَمَلَ ٱلسَّيۡلُ زَبَدٗا رَّابِيٗا "يعنې فوم د شديدو څپو له امله پورته کېږي .ساينس وايي چې فوم يوازې د سختو څپو پر مهال جوړېږي، چې دا د قرآني حقيقت تصديق دی.

د وزن قاعده:**(Law of Density)**

دا يو فزيکي قانون دی، چې درانه مواد لاندې پاتې کېږي او سپک مواد پورته ځي، لکه څنګه چې قرآن وايي" :وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي ٱلنَّارِ ... زَبَدٞ مِّثۡلُهُۥ "يعنې د اوسپنې د ذوب پر مهال هم کثافات پورته راځي، لکه د سمندري فوم.

د فوم بې ارزښتي – د فوم چټکتيا سره ختمېږي:

ساينسپوهان وايي چې د سمندر فوم په لږ باد سره ورکېږي، ځکه چې دا يوازې ببلونه **(bubbles)**دي .قرآن هم همداسې وايي" :فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءٗ "يعنې فوم لېږې کېږي او هيڅ ارزښت نه لري.

۴ -د نبي کريم ﷺ حديث – فوم او ګناهونه

رسول الله ﷺ فرمايي:

«مَن قالَ :سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، في يَومٍ مِائَةَ مَرَّةٍ، حُطَّتْ خَطايَاهُ، وإنْ كانَتْ مِثْلَ زَبَدِ البَحْرِ»

(رواه البخاري ومسلم)

ترجمه:

"څوک چې د ورځې سل ځله (سبحان الله وبحمده) ووايي، د هغه ګناهونه به معاف شي، که څه هم د سمندر د فوم په اندازه وي".

د حديث حيرانوونکی اعجاز:

پيغمبر ﷺ ۱۴۰۰ کاله وړاندې د فوم ځانګړتيا درک کړې وه، چې دا بې ارزښته او ژر ختمېدونکی دی، نو يې لوی ګناهونه ورته تشبيه کړي.

۵ -پايله – د قرآن کريم حيرانوونکی اعجاز

قرآن کريم د سمندر د فوم جوړېدل او علمي پروسه له ۱۴۰۰ کلونو مخکې بيان کړې، چې ساينس اوس کشف کړې ده.

دا د فزيک د وزن قاعدې **(Density Law)** سره مطابقت لري.

د حديث نبوي ﷺ علمي حقيقت دا دی چې د فوم تشبيه د ګناهونو لپاره غوره مثال دی.

ايا دا نه ده چې قرآن د الله له لوري يو حق کتاب دی؟



## سمندرونه په اور بدلیدل

سمندرونه په اور بدلیدل، د ځمکې دننه د اوري طبقې **(Mantle)** او د قرآن کریم اعجاز

قرآن کریم د ځمکې دنني جوړښت او د سمندرونو په اور بدلیدو ته ۱۴۰۰ کاله مخکې اشاره کړې، چې نن ساینسپوهان ورته رسېدلي دي. د ځمکې دننه د اوري طبقې **(Mantle)**موجودیت، د سمندرونو لاندې اور، او د قیامت پر مهال د سمندرونو بړاس کېدل، دا ټول هغه حقایق دي چې قرآن ته یې نسبت کېږي.

۱. د قرآن کریم اشاره د سمندرونو په اور بدلیدو ته

الله تعالی فرمایي:

"وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ"

(التکویر :۶)

ژباړه:

"او کله چې سمندرونه د اور په شان شي (یا بړاس شي)".

**ساینسي حقیقت:**

دا آیت د قیامت یوه نښه بیانوي، چې سمندرونه به اور واخلي یا به بړاس شي.

نن ساینسپوهان پوهیږي چې د سمندرونو لاندې د اور غرونه **(Mid-Ocean Ridges)** شته، چې لاوا **(Magma)** ترې راوځي.

دا ثابت شوي چې د ځمکې دننه خورا توده ماده **(Magma)** شتون لري، او که دا سطح ته راووځي، سمندرونه اور اخلي.

د سمندرونو لاندې د اور غرونه د ځمکې د تکتونیکي تختو **(Tectonic Plates)** د خوځښت له امله د لاوا د بهر راتلو سبب کېږي.

ساینس پوهانو کشفیات د سمندرونو د اور په اړه:

په سمندرونو کې د اور کشف

د ساینسپوهانو د څېړنو له مخې، د نږدې ۸۰٪ اور غورځوونکي غرونه د سمندرونو لاندې دي او په دوامداره توګه اور او لاوا خارجوي!

د **"Submarine Volcanoes"** څخه اورین مواد **(Magma)** راوځي، چې د سمندرونو اوبو ته ګرمي ورکوي.

ځینې وختونه دا اور غورځوونکي غرونه دومره فعال شي، چې د سمندرونو اوبه بړاس کوي او د نوي جزیرې **(Islands)** د رامنځته کېدو سبب کېږي!

د **NASA** څېړنه:

**NASA**د سمندرونو لاندې اورين فعاليت کشف کړی، او دا تاييدوي چې د ځمکې د پوښ لاندې د اور نه ډکې طبقې **(Mantle)** شتون لري.

د **2020** کال څېړنو ښودلې چې د ځمکې د تودوخې لويه برخه د سمندرونو لاندې د اور غورځوونکو غرونو له امله ده**!**

دا ټول د قرآن د" البحر المسجور "(بړاس شوي سمندر) سره مطابقت لري**!**

دا يو حيرانونکی ساينسي اعجاز دی، ځکه چې ۱۴۰۰ کاله مخکې څوک نه پوهېده چې د سمندرونو لاندې اور شته**!**

۲ **.**د ځمکې دننني اوري طبقه **(Mantle)** ته اشاره

الله تعالی فرمايي:

"وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ"

الطارق **:**۱۲

ژباړه:

"او قسم په چوديدونکي ځمکه باندې"**!**

ساينس:

دا آیت اشاره کوي چې ځمکه دننه شکېدلې ده، او دا د تکتونیکي تختو **(Tectonic Plates)**او د ځمکې د مګما طبقې **(Mantle)** شتون ته اشاره کوي.

نن ساینس ثابتوي چې ځمکه دننه سخته نه ده، بلکې مایع طبقه لري، چې د **"Mantle"** په نوم یادیږي، او د ځمکې دننه لاوا یا اورین مواد پکې جریان لري.

د ځمکې دننه دا طبقه د ویشل شویو تختو **(Tectonic Plates)** سبب کېږي، چې زلزلې، اور غورځونکي غرونه**(Volcanoes)** ، او د سمندرونو لاندې اوري غرونه**(Mid-Ocean Ridges)**رامنځته کوي.

۱۴۰۰ کاله مخکې د قرآن دا اشاره یو ساینسي اعجاز دی، ځکه چې خلکو فکر کاوه چې ځمکه یوازې یوه کلکه طبقه ده.

۳ **.**د سمندرونو لاندې اور ته اشاره

الله تعالی فرمایي**:**

**"**وَالطُّورِ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ فِي رَقٍّ مَنْشُورٍ وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ**"**

(الطور **:**۱-۶)

ژباړه**:**

**"**قسم په طور، او په لیکل شوي کتاب، په سپیني پاڼې کې خپور شوی، او په اباد کور (بیت المعمور)، او په لوړ چت (آسمان)، او په بړاس شوي سمندر**"!**

ساینس**:**

دا آیت د سمندرونو لاندې اور ته اشاره کوي.

نن ساینس ثابت کړې چې د سمندرونو لاندې د اور لاندې غرونه ( **Submarine Volcanoes**) شتون لري، چې لاوا ترې راوځي.

د **Atlantic Ocean Mid-Ocean Ridge** یو له مشهورو ځایونو څخه دی، چې د سمندرونو لاندې لاوا ترې راوځي.

۱۴۰۰ کاله مخکې د دې حقیقت ذکر کول د قرآن ساینسي اعجاز ثابتوي.

۴ .د قیامت پر مهال د سمندرونو بړاس کېدل

الله تعالی فرمایي:

"وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ"

الانفطار :۳

ژباړه:

"او کله چې سمندرونه وچودلی شي".

ساینس:

دا آیت اشاره کوي چې د قیامت پر مهال سمندرونه وچېږي د منټل د چودیدونکو لواو څخه یا ټول سمندرونه به اور اخلي.

نن ساینس وایي، که د ځمکې داخلي توده مواد سطح ته راووځي، نو سمندرونه به اور واخلي.

د ځمکې د تکتونیکي فعالیتونو له امله د سمندرونو تبخیر **(Evaporation)** او وچېدل ممکن دي، چې دا د قرآن د دې آیت د امکان تایید کوي.

د دې آیت ساینسي وضاحت د قرآن اعجاز ښکاره کوي.

۵ .د قرآن ساینسي اعجاز – لنډیز

د سمندرونو لاندې اور موجود دی، لکه څنګه چې قرآن ویلي (البحر المسجور).

د ځمکې دننه طبقه **(Mantle)** د اور طبقه ده، او قرآن اشاره کړې چې ځمکه شکېدلې ده (ذات الصدع).

د قیامت پر مهال سمندرونه اور اخلي یا وچېږي (وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ، وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ)

د قرآن دا آیتونه د ساینس لخوا تایید شوي، او دا د قرآن یو ښکاره اعجاز دی!

پایله:

قرآن کریم د ځمکې دنننۍ جوړښت، د سمندرونو لاندې اور، او د قیامت پر مهال د سمندرونو په اور بدلیدو ته ۱۴۰۰ کاله مخکې اشاره کړې، چې نن ساینسپوهان ورته رسېدلي دي .دا د قرآن یو حیرانونکی اعجاز دی







**"غرونه او بیړۍ"**

## "Buoyancy Force

په **1500** لسیزه کې، کله چې مشهور فزیک پوه او ستورپوه ګیلیلیو لومړی ځل دا نظریه وړاندې کړه چې ځمکه د لمر په شاوخوا کې ګرځي، نو هغه د کلیسا لخوا یو لوی لیونی او د بدعت په تور محکوم شو .هغه، ګیلیلیو، بیا په عمري بند محکوم شو او شاوخوا **9** کاله وروسته په کور کې د نظربندۍ لاندې مړ شو .خو که نن یو لس کلن ماشوم ته خپل ساینسي ښوونکی ورته حقیقت ووایي، هیڅوک حتی سترګې نه پټوي.

نو څه بدلون راغلی؟ ډیر شیان !

نړۍ نوي ټیکنالوژي رامینځته کړې چې موږ سره د ستورپوهنې په دقیق پوهیدو کې مرسته کوي.

نو هغه غریب زوړ ګیلیلیو لیونی نه و، هغه یوازې د خپل وخت څخه مخکې و .اوس ساینس پوهان ډیر پرمختللي وسایل او اسباب لري چې کولی شي د ګالیلیو په څیر د ورته برخلیک څخه مخنیوي کې مرسته وکړي مګر ځینې وختونه د دوی ادعاګانې لاهم موږ ته دوه ګونی کیږی کله چې موږ یې په لومړی ځل اورو په ځانګړي توګه کله چې موږ په ساینس او فزیک کې سابقه نلرو .راځئ چې یو مثال وګورو :دوه مختلف ساینس پوهانو، په خپل خپاره شوي کار کې، ټام ګیریسن او مایکل الابي دواړو غرونه د کښتیو سره پرتله کړي .

غرونه هغه لوړ لوی جوړښتونه دي چې د ځمکې څخه په داسې قوي ډول بهر ته راوتلي دی لکه په خلاصو سمندرنو کې کښتۍ او بیړۍ، دواړه سره په یو شان عجیب ترکیب لري . مګر د یوناني ریاضي پوه ارکیمیډز لخوا رامینځته شوی د بویانسي فزیکي قانون به بیا په بل ډول ووایی، دا ځکه چې د دواړو کښتیو او غرونو تر شا د چلولو ځواک یو شان او ورته دی چې همدغه ځواک ته بویانسي **(Buoyancy)**ویل کیږي .

اوس د بویانټ یا د پورته کوٌني **(floating)** کلمه یو څه ستونزمن کار دی چې پرې پوه شئ او لیدل یی هم کله چې موږ د غرونو په اړه فکر کوو

خو اټکل وکړئ چې څه پیښیږي کله چې د غرونو سطحې د یخ په یوه ګنده پوښل کیږي؟

کله چې په سمندر کې کښتۍ د بار وړونکو توکو څخه ډکې شي، نو کښتۍ ډوبیږي او په اوبو کې د بارکړای شوو شیانو د وزن په پرتله ژور سفر کوي.

په ورته ډول، کله چې د غره په سطحه د یخ یوه غټه ټوټه راټوله شي، همدغه غر د خپل وزن لاندې د ځمکې په کریسټ (یعنې د ځمکې په طابقه) کې ډوبیږي .

څه نو اوس، د غره له سطحې څخه د یخ د تودوخې

له لرې کولو وروسته څه پیښیږي؟

په ورته ډول لکه څنګه چې کښتۍ د کارګو له لرې کولو وروسته بیا راپورته کیږي ، د ځمکې کرسټ به د غره د کم شوي بار په ځواب کې یو ځل بیا راپورته شي .موږ دا ټول نن

د ساينس پوهانو لکه ټام ګيريسن او مايکل ايلابي لخوا په **(2013-14)** کې ترسره شوي څيړنو څخه پوهيږو .

مګر موږ بيرته څوارلس پيړۍ دمخه ځو کله چې قرآن نازل شو او موږ څه ګورو چې خدای (ج) څه فرمايي؟

«وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلۡجَوَارِ فِي ٱلۡبَحۡرِ كَٱلۡأَعۡلَٰمِ»

«او (بل) د هغه له نښانو څخه په سمندر کې د غرونو په شان چلېدونکې بېړۍ دي .»
سورت الشورى **32**

«وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَاٰتُ فِى الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ۚ»

**55-24**«او خاص هغه لره دي په سمندر کې بادبان پورته کړی شوي بېړۍ، لکه غرونه»

خبره یوازې دلته نه ختميږي...



مېټرهورن (Matterhorn) غره خوځېدل – علمي کشف

مېټرهورن چې د الپ غرونو یوه تر ټولو مشهوره څوکه ده (په سویس او ایټالیا کې موقعیت لري)، ساینسپوهانو معلومه کړې چې دا غر د لړو خوځښتونو سره لړزېږي یا" خوځېږي"، لکه څنګه چې یو لوړ ودانۍ یا ونه د باد په اثر لږ څه ښوریږي.

څنګه خوځېږي؟

علمي څېړنه:

د ETH Zurich او Technical University of Munich ساینسپوهانو د دې غره په څو برخو کې حساس سینسرونه لګولي وو .هغوی دا وموندله چې:

غر هره ثانیه کې یو ځل ډېر لږ خوځېږي.

دا خوځښتونه د باد، تودوخې، یا زلزلې د وړو څپو له امله رامنځته کېږي.

غر داسې خوځېږي لکه څنګه چې یو کښتۍ د څپو له امله سر ښوروي.

دا خوځښتونه د انسان له سترګو پټ دي، خو حساس آلات یې ثبتولی شي.

دا یو ډول "resonance" یا طبیعي ارتعاش بلل کېږي.

الله سبحان وتعالی فرمایي:

"وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ"

(سورت النمل، ۸۸)

ژباړه" :او ته غرونه وينې، فکر کوې چې ولاړ دي، حال دا چې دوی د وريځو په څېر حرکت کوي، دا د الله هغه صنعت دی چې هر څه يې په غوره ډول برابر کړي دي".

نو پوښتنه دا ده چې څنګه ممکنه ده چې يو کتاب په هغه وخت کې د اړينو ساينسي وسايلو او شواهدو په ښکاره نشتوالي کې و دا ډول دقيق ساينسي قياسات او معلومات په ګوته کړي؟

د دې پوښتنې يوازينی ممکن ځواب دا دی چې قرآن د کائناتو د خالق کتاب دی چې په هر څه پوه دی باريک بين ذات دی .

هغه څه چې په دې قرآن کې تر دې هم ډير حيرانوونکی دی دا دی چې عصري ساينس پوهانو ځينې ورته عيني مشابهتونه کارولي چې په لومړي ځل په قرآن کې **1400** کاله دمخه ليکل شوي.

نو څوک وايي چې دين او ساينس سره ټکر لري**!**

تر اوسه چې څومره ساينسي څيړنې شوي له اسلام سره موافقې دی. خو که بيا هم چيرته داسې څه سره رامنځته شول نو دا بيا ساينسي تيروتنه ده.

پاکی ده هغه ذات لره ده چې د ټولو کائناتو انتظام کونکی دی




**آستنوسفير**

د قرآن کريم او د ځمکې د تکتونيکي حرکت معجزه

(آيت" - **79:32** وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا")

قرآن کريم، چې د الله تعالی د وحی يوه بيلګه ده، د ځمکې د جوړښت په اړه داسې ساينسي حقيقتونه وړاندې کوي چې ۱۴۰۰ کاله وروسته يې علمي تاييدات ومانل شول .په آيت **79:32**کې چې فرمايي" **:**وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا "(او غرونه يی ټينګ کړل)، قرآن د غرونو د ټينګ پاتې کيدو د پديدې توضيح ورکوي.

آستنوسفير او ليتوسفير

د ځمکې د سطحې پرت (ليتوسفير) د آستنوسفير پر سر شنا کوي .آستنوسفير يوه نيمه مذابه او د ګرمۍ او فشار له کبله نرمې شوې لايه ده، چې د ځمکې د پورتنۍ خولۍ يوه برخه ده . دا لايه د ځمکې د سطحې پرت لاندې پروت دی، او د هغې ژوروالی د **80** نه تر **200** کيلومتره پورې کيدای شي.

د غرونو ټينګ پاتې کيدل

د قرآن په آیت کې چې د غرونو د ټینګ پاتې کیدو ذکر شوی، دا د ځمکې د تکتونیکي حرکتونو یوه واقعي پېښه ښيي .په دې لایه کې د تودوخې او فشار له کبله ډېرې نرمېږي او خوځښتونه پیل کوي .دا خوځښتونه په داسې ډول دي چې د ځمکې د سطحې پرت (لیتوسفیر) په خپل حرکت سره د آستنوسفیر په نرمې لایه باندې" شنا "کوي، لکه بېړۍ چې په اوبو کې حرکت کوي.

د آستنوسفیر او لیتوسفیر اړیکه

د آستنوسفیر او لیتوسفیر ترمنځ دا اړیکه د ځمکې د تکتونیکي تختو حرکت ته اجازه ورکوي، چې دا تختې د آستنوسفیر په حرکت کولو سره د ځمکې په سطحه ګډوډي او ژور حرکتونه رامنځته کوي .د دې حرکت له کبله، غرونه او د ځمکې سطحه د آستنوسفیر د نرمې لایې پر سر ټینګ پاتې کېږي.

د قرآن معجزه

د دې حقیقت څرګندونه د قرآن کریم په **79:32** کې شوې ده .هغه وخت، چې هیڅ ساینسي پوهه نه وه، قرآن د غرونو د ټینګ پاتې کیدو د راز په اړه داسې ښکاره حقیقت بیان کړ چې نن ورځ ساینسي شواهد یې تاییدوي .قرآن د" أَرْسَاهَا "کلمې له لارې د غرونو ټینګ پاتې کیدل د دې سره مشابه ګڼلی، لکه بېړۍ چې په اوبو کې ټینګ پاتې کېږي.

پایله

دا د قرآن کریم د معجزې یوه ښکاره نمونه ده چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې یو داسې ساینسي حقیقت بیان شوی، چې نن ورځ یې د ځمکې د تکتونیکي حرکاتو او آستنوسفیر په اړه د علمي څېړنو له لارې تایید ترلاسه کړې ده .قرآن کریم د دې پدیدې د ساینسي حقیقت د

ښودلو لپاره خورا دقیق او د باور وړ الفاظ کارولي دي، چې زموږ د پوهې پراختیا ته نوی رڼا ورکوي.




**د ځمکې طبقې**

"الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا"سورت الملک ۳"

"هغه ذات چې پیدا کړی دی اووه اسمانونه لاندې باندې(طبقې طبقې)

الله تعالی فرمایي :اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَوَاتٍ وَمِنَ الْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ <...سورت طلاق ۱۲

ژباړه :الله هغه ذات دی چې پیدا کړي دی اووه اسمانونه او په مثل ددې له ځمکې نه>...

د رسول صلی الله علیه وسلم سنت د اسلام دوهمه نازله شوی سرچینه ده .دا هم د قرآن عظیم شان په څیر،ساینسي معلومات لري چې **1400** کاله دمخه یې شتون نه درلود .له دې

معجزو څخه" اوه "ځمکې دي چې پیغمبر (ع) په خپلو څو ویناوو کې ذکر کړې .له دوی څخه لاندې یو څو اخدیث مبارک دي:

حدیث ۱ له ابو سلمه رضي الله عنه څخه روایت دی چې د ده او نورو خلکو ترمنځ د ځمکې د یوې ټوټې په اړه شخړه رامنځته شوه .کله چې یې عائشې (رضي الله عنها) ته دا خبره وکړه، هغې وویل :اې ابو سلمه !په ناحقه د ځمکې له اخستلو څخه ډډه وکړئ، ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي" :څوک چې د یو چا د ځمکې یوه فاصله هم غصب کړي، د اوو ځمکو ژوروالی به د هغه په غاړه کې وځړول شي ".(صحیح البخاري، کتاب د مظلومیت.)

حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم " مَنْ أَخَذَ شَيْئًا مِنَ الأَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهِ خُسِفَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ "صحيح البخاري ۳۱۹۶

بشر بن محمد موږ ته وویل، عبدالله موږ ته د موسی بن عقبه له قوله، د سلیم له قوله او د خپل پلار له قوله یې وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :هر څوک چې په ناحقه د ځمکې یوه ټوټه واخلی، د قیامت په ورځ به د ځمکې په اوو برخو کې ډوب شي.

حدیث ۲ سلیم رضي الله عنه له خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل" :څوک چې د بل چا ځمکه په ناحقه واخلي، د قیامت په ورځ به له اوو ځمکې لاندې شي ".(صحیح البخاري، کتاب د مظلومیت.)

پورتني حدیث په ټولیزه توګه له ظلم څخه منع کوي، په ځانګړې توګه د ځمکې یوه ټوټه په ناحقه اخیستل .

اووه ځمکې څه ته اشاره کولی شي؟

د جیولوجي په برخه کې څېړنو ثابته کړې چې ځمکه له اوو زونونو یا له طابقو جوړه ده، چې له داخلي څخه تر بهرنۍ طبقې پورې په لاندې ډول پیژندل شوي دي:

خدای ج فرمایي:

وَفِى ٱلْأَرْضِ قِطَعٌ مُّتَجَٰوِرَٰتٌ

او په ځمکه کې ځنګ په ځنګ پیوستې ټوټې دي (سورة الرعد :۴)

دا آیت د ځمکې د تکتونیکي تختو په اړه ځرګندوي، چې تختې یو له بل سره پیوستې دي .د ځمکې دا تختې په دوامداره توګه حرکت کوي، چې د ځمکې مختلف طبیعي پیښې، لکه زلزله، جوړوي.



لومړۍ :د ځمکې کلک داخلي کور : **(The Solid Inner Core of Earth)**

دا د ځمکې د وزن **1.7%** برخه جوړوي.

ژوروالی یې **6,370 - 5,150** کیلومتره ( **3,981 - 3,219**میل) دی.

داخلي کور **(Inner Core)** کلک جامېد کور دی او د مینټل **(mantle)** سره نمه ترلی دی، په خارجي کور کې درول شوی دی .

**(2)**د مایع بهرنی کور :دا د ځمکې د وزن**30.8** ٪ برخه جوړوي ؛ او د ځمکې لاندې یې ژوروالی **5,150 - 2,890** کیلومتره ( **3,219 - 1,806**میل) دی.

بهرنۍ کور یو ګرم کور دی، دا یو بریښنایی مایع دی چې دننه حرکت کوي .دا انتقالي طبقه د ځمکې د ګردش سره یوځای کیږي ترڅو د ډینامو اغیز رامینځته کړي چې د بریښنایی جریانونو سیستم ساتي کوم چې د ځمکې مقناطیسي ساحې په نوم پیژندل کیږي .دا

د ځمکې د گردش د فرعي ټکلو لپاره هم مسؤل دی .دا طبقه د خالص پرسيدلي اوسپنې په څير کثافت نلري، کوم چې د سپکو عناصرو شتون په گوته کوي .

**(3):**د **"D"** طبقه **: (D" Layer")**دا د ځمکې د وزن **3%** برخه جوړوي؛

دا طبقه **2,890 - 2,700** کيلومتره او ( **1,806 - 1,688**ميل) د ځمکی لاندی ژوروالی لری.

**(4)** ښکته منټل **:(Lower Mantle)**دا طبقه د ځمکې وزن**49.2** ٪ برخه جوړوي؛

د **2,890 - 650** کيلومتره **1,806- 406)** ميل (د ځمکی لاندی ژوروالی لري.

دا شايد په عمده توگه د سيليکون، مگنيزيم او اکسيجن څخه جوړه وي .دا شايد يو څه اوسپنه، کلسيم او المونيم هم ولري .ساينس پوهان دا کسرونه د دې انگيرنې له لارې رامينځته کوي چې ځمکه د کاسميک عناصرو ورته کثرت او تناسب لري لکه څنگه چې په لمر او لومړني ميټيوريټ کې موندل کيږي.

**(5**منځنی ختکی) **(Middle Mantle)**د ليږد سيمه **:(**دا د ځمکې د وزن**7.5** ٪ برخه جوړوي.

دا د ځمکی لاندې **650 - 400** کيلومتره ( **406-250**ميلونه) ژوروالی لری .

د مينټل کرسټ طبقه**11.1** ٪ ماس لري

او دا د بيسالټيک مگما سرچينه ده .پدې کې کلسيم، المونيم او گارنټ هم شامل دي، کوم چې يو پيچلي المونيم لرونکی سيليکيټ منرال دی .

(۶) پورتنی منټل **:(Upper Mantle)**دا د ځمکې د وزن **10.3%** برخه جوړوي؛

دا د **400 - 10** کیلومتره ( **250 - 6**میلونه) ځمکې لاندی ژوروالی لري.
پورتنۍ مینټل د مینټل کرسټ**15.3** ٪ ماس لري.

**(7)**لیتوسفیر**(Lithosphere)**سمندري کرسټ **:**دا د ځمکې**0.099** ٪ برخه وزن جوړاوی؛ د **0-10** کیلومتره ( **6 - 0**میله) د ځمکې لاندې ژوروالی لري.

د ځمکې تر ټولو سخته بهرنۍ طبقه چې کرسټ او پورتنۍ خوالۍ لري د لیتوسفیر په نوم یادیږي .د ځمکې ډیری برخه د آتش فشاني فعالیت له لارې رامینځته شوې.

د سمندري ریج سیسټم، د **40,000** کیلومتره ( **25,000**میل) د آتش فشانونو شبکه، په کال کې د **17** کیلومترو په کچه نوي سمندري کرسټ تولیدوي، د سمندر پوړ د بیسالټ سره پوښي .هاوایی او آیسلینډ د بیسالټ انبارونو د راټولولو دوه بېڅاری مثالونه دي.

براعظمي کرسټ د مینټل کرسټ چی**0.554** ٪ ماس **(mass)** لري .دا د ځمکې بهرنۍ برخه ده چې په اصل کې د کرسټال ډبرو څخه جوړه شوې ده .دا د ټیټ کثافت بویانټ منرالونه دي چې ډیری یې د کوارټز **(SiO2)** او فیلډسپارس (فلزي ضعیف سیلیکیټ) لخوا تسلط لري .کرسټ (دواړه سمندري او براعظم) د ځمکې سطحه ده؛ لکه څنګه چې دا زموږ د سیارې ترټولو سړه برخه ده .ځکه چې سړې ډبرې ورو ورو خرابیږي، موږ دې سختې بهرنۍ خوالی ته د لیتوسفیر (د ډبرې یا قوي طبقې) په توګه هم وایلی شو.

دویم حواله**:**

سجین او **(Inner core)**



## د ځمکې کلک داخلي کور

## (The Solid Inner Core of Earth)

### ۱ .پېژندنه:

د ځمکې داخلي جوړښت څو طبقې لري، چې تر ټولو داخلي ۷مه طبقه يي کلک داخلي کور **(Inner Core)**بلل کېږي .دا د ځمکې د مرکز اصلي برخه ده، چې شاوخوا ۱۲۲۰ کيلومتره قطر لري او د فلزاتو څخه جوړه شوې ده.

### ۲ .ترکيب:

دا طبقه په عمده توګه د اوسپنې **(Iron)** او نيکل **(Nickel)** څخه جوړه ده، مګر ممکن لږ مقدار نور درانده عناصر (لکه طلا، پلاتين، او سيليکون) هم پکې شامل وي.

### ۳ .فزيکي ځانګړتياوې:

کلک **(Solid)** جوړښت لري :سره له دې چې د داخلي کور تودوخې ګرموالی ختی د لمر سطحې ته نږدې ده چې (۵۰۰۰ - ۶۰۰۰**°C**)ته رسيږي دا عادي خبره نده ځکه زمونږ لمر د ځمکې څخه ۱۳۰۰۰۰۰ وارې لوی دی، بيا هم دا طبقه کلکه پاتې ده .علت يې دا دی چې

د ځمکې د پورته طبقو له امله پرې ډېر فشار واردېږي، چې د فلزونو د وېلې کېدو مخه نیسي

سجین او علیین

كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ

(هېڅکله نه !په حقیقت کې د ګناهکارانو د اعمالو حساب په سجین کې دی[ ۸۳:۷۱ ]

د سجین کلمه چې له سجن څخه اخیستل شوې ده .د قاموس په وینا د سجین کلمه د" ابدی قید "په معنی ده چې سجین یو ځانګړی ځای دی چې د کافرانو روحونه پاکې ساتل کیږي او په هماغه ځای کې د ټولو بدو اعمالو ریکارډ دی .دا هم ممکنه ده چې په دې کې د نړۍ د ټولو کافرانو اعمال ثبت وي .

دا کوم ځای دی؟

اللباب في علوم الکتاب (ابن عادل)، ج ۲۰، ص ۲۱۲:

عمر، قتاده، مجاهد، او ضحاک وایي" :سِجِّین "د اوومې ځمکې تر ټولو لاندې طبقه ده . رسول الله ﷺ وفرمایل" :سِجِّین د اوو ځمکو تر ټولو لاندې برخه ده ".عکرمه وایي : "سِجِّین "د سختې خسارې او ګمراهی[غذاب ]ځای دی.

د سیدنا براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې سجین د ځمکې د اوومې درجې لاندې دی او علیین د الهي عرش لاندې په اووم اسمان کې دی [ .بغوي او احمد وغیره لکه څنګه چې مظهري نقل کړي دي.]

بیهقي له سیدنا عبدالله ابن سلام رضي الله عنه څخه روایت کړی چې جنت په آسمان کې دی او دوزخ په ځمکه کې دی .

ابن جرير په خپل تفسير کې د سيدنا معاذ ابن جبل رضي الله عنه څخه روايت کوي چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د لاندې آيت د معنی په اړه پوښتنه وشوه **:وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ[89:23]**

>او په هغه ورځ به جهنم (دوزخ) وړاندې کړی شي <له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې جهنم به له کومه ځايه راوړل کيږي؟ هغه ځواب ورکړ **:**له اوومې ځمکې څخه **.**دا روايتونه په ډاګه کوي چې دوزخ به له اوومې ځمکې څخه راپورته شي **.**دا به ناڅاپه هلته رابښکاره شي، او ټول سمندرونه به د هغې په اور کې سره يوځای شي، او د ټولو په نظر کې به راشي **.**دا تفسير له هغو روايتونو سره همغږي دی چې سجين په دوزخ کې د ځای نوم تعريفوي[ **.**مهارې ]او الله ښه پوهيږي**!**

حضرت براء بن عازب رضی الله عنه يو لوی حديث راويت کوي چې خلاصه يي دا ده :

تردې چې د کافر روح لمړی اسمان ته ورسي او دروازه خلاصول غواړي مګر د ده لپاره دروازه نه خلاسيږي،

لکه چې الله جل جلاله فرمايلي**:**

( إِنَّ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا وَ اسْتَكْبَرُوا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَلَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ وَ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ) اعراف / ۴۰ ايت

ژباړه**:**باور ولرئ چا چی زمونږ ايتونه دروغ ګڼلي دي او د هغو په مقابل کښې يې سرغړولی دی د هغو له پاره به د اسمان دروازي هيڅکله پرانه نستل شی جنت ته د هغو تګ دومره نا ممکن دی لکه د ستني له سپم څخه د اوښ تيرېدل مونږ مجرمان په همداسي مجازات محکوموو<

بيا الله جل جلاله فرمايي دا په کتاب السجين کې وليکي، چې هغه د ټولو نه په لاندې ځمکه کې دی او د هغه روح د همغه ځای نه لاندې را وغورځول شي،

بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ايت تلاوت کړو**:**

« احْنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهِ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَاءِ فَتَخْطَفُهُالقَيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ») سورة حج (۳۱)

**ژباړه:** يوې خواته په مخ اړولو د الله مخلص بندګان شئ، له هغه سره څوك مه شريكوئ او څوك چې له الله سره شريك ونيسي نوداسې وګڼه چې هغه له اسمانه را وغورځيده اوس به يا هغه الوتونکی په الوزولو وتښتوي يا به يې باد داسې ژور ځای ته يو سي وبه يې غورځوي چې هلته به هغه تخوري تخوري لاړ شي <(مشكوة)

پايله :سجين او اووه ځمکې د اسلام او ساينس له نګه نه سره يو شان مطابقت لري او کوم تضاد يې نه تر سترګو کيږي .

د ځمکې پرتونه د پورته ذکر شوي حديث سره مطابقت لري .معجزه په دوو شيانو کې ده : (۱) د حديث بيان چې «هغه به د قيامت په ورځ اوه ځمکې ډوب کړي، «د دې» ځمکو «د يو مرکز په شاوخوا کې د طبقې په اړه دلالت کوي .(۲) هغه دقيقيت چې د اسلام پيغمبر د ځمکې اووه داخلي طبقو ته اشاره کړې ده .د صحرا اوسيدونکي لپاره يوازينی لاره چې دا حقايق **1400** کاله دمخه پيژندل شوي د خدای (ج) لخوا وحی ده.

والله اعلم

حوالې:


بيتی، جې کی او اې چايکين، ايډز .نوی شمسی نظام .ماساچوستس :اسکائی خپرونه، دريم چاپ، **.1990** پريس، فرانک او ريمونډ سيور .ځمکه .نيويارک **.W.H :** **Freeman and Company**، **.1986** تخمونه، مايکل **.A. Horizons** بيلمونټ، کاليفورنيا :واډسورت، **.1995** النجار، زغلول.

په سنتو کې خزانې :يوه علمي تګلاره :قاهره، الفلاح بنسټ، ۲۰۰۴.



## ځمکې داخلي جوړښت او زلزلې

قرآنکریم په خپلو مبارکو آیتونو کې د ځمکې د داخلي جوړښت او د هغې د پوښ په هکله داسې پوهه وړاندې کړې چې د بشري علم له پراخېدو مخکې د هغه پر علمي حقایقو باندې د پوهې هیڅ شواهد نه و موجود. یو له دغو مثالونو څخه د ځمکې د داخلي جوړښت په اړه قرآنکریم هغه معلومات دي چې ۱۴۰۰ کاله مخکې یې ورکړل، خو یوازې اوس د ځمکې د داخلي جوړښت په اړه د نوو څېړنو له مخې دا حقایق تایید شوي دي.

۱ .سورت الانشقاق (۳-۴):

وَإِذَا ٱلْأَرْضُ مُدَّتْ (٣) وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ

"کله چې ځمکه راښکلی شي او خپل درانه بارونه وباسي او خالي شي".

په دې آیت کې قرآنکریم د ځمکې د داخلي جوړښت او د هغې په هسته کې د درانه موادو ذکر کوي .دغه آیت د ځمکې د هسته او پوښ ترمنځ د موادو د حرکت او فشار په اړه خبرې کوي .څېړنې ښودلې چې د ځمکې د هسته په منځ کې د اوسپنې او نیکلې په څېر درانه فلزات موجود دي، کوم چې د ځمکې د پوښ په پرتله په خورا درانه توګه وجود لري .کله چې ځمکه سړه شي، دغه مواد بیا د ځمکې پوښ ته راځي، کوم چې د ځمکې د زلزلې او

پوښ د حرکتونو سبب ګرځي .قرآنکریم مخکې له مخکې دا حقیقت وړاندې کړی چې ځمکه خپل درانه بارونه بیرته راوباسي.

۲ .سورت الزلزل (۱-۲):

إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا (۱) وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا

"کله چې ځمکه په زلزلې سره ولړزیږي او خپل درانه بارونه دباندې وغورځوي".

په دې آیت کې قرآن د زلزلې په اړه د ځمکې د پوښ د حرکت او د موادو د بیرته غورځولو په اړه وضاحت ورکوي .د ځمکې په هسته کې اوسپنه، نیکل او نور فلزات شتون لري چې د ځمکې د پوښ د حرکت سبب ګرځي .کله چې ځمکه راښکلی شي یا په زلزلې سره ولړزیږي، دغه درانه مواد بیرته راوباسي، کوم چې د زلزلې اصلي لاملونه ګڼل کیږي .د ځمکې د زلزلې په ترڅ کې د ځمکې د پوښ د غځېدو، سستیدو او حرکت کولو له امله، دغه مواد د ځمکې له سطحې څخه دباندې غورځول کېږي.

۳ .علمي تایید:

نن ورځ، د ځمکې د داخلي جوړښت او د زلزلې د اصولو په اړه د پوهې پراختیا دنه دا تاییدوي چې قرآنکریم ۱۴۰۰ کاله مخکې داسې معلومات ورکړي چې په ډاګه کوي چې ځمکه د درانه موادو څخه ډکه ده چې د هغې په هسته او پوښ کې موقعیت لري .د ځمکې د داخلي جوړښت مطالعې او د زلزلې په اړه څیړنې داسې حقایق افشا کوي چې د قرآن وړاندوینې دقیقې وې .د ځمکې د پوښ د حرکت او د درانه موادو غورځولو موضوع همدا اوس د ځمکې د زلزلې په اړه یوه علمي حقیقت ګرځېدلې ده.

۴ .قرآنکریم د علمي حقیقتونو بیان:

قرآنکریم د ځمکې د جوړښت او د هغې د پوښ د حرکت په اړه داسې پوهه وړاندې کړې چې د وخت په تیریدو سره یې ساینسي تایید ترلاسه کړی دی .د قرآن دغه نوع علمي اعجاز د دې حقیقت غمازي کوي چې قرآن یوازې د روحانیت په اړه نه، بلکې د علمي حقیقتونو په بیانولو کې هم بې سارې پوهه لري .څومره چې علم پراخېږي، همدومره د قرآن آیتونه د دې حقیقتونو ملاتړ کوي او د دوی د ساینسي تایید او همغږۍ لپاره بنسټ جوړوي.



## زلزلې او وروسته شکونه

قرآني لیدلوری:

الله تعالی فرمایي:

يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ (۶) تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ (۷)

(پر هغه ورځ چې لومړنۍ زلزله به ولړزوي، او ورپسې دویمه زلزله به راشي) .النازعات : ۶ـ۷

د آیت لغوي تحلیل:

الرَّاجِفَةُ :دا لفظ د" رجف "څخه اخیستل شوی، چې د سختې زلزلې، لړزېدو، یا شدید حرکت معنا لري .دا اشاره کوي چې یو لوی اصلي زلزله واقعېږي.

الرَّادِفَةُ :دا د" رَدَفَ "څخه اخیستل شوی، چې د" وروسته راتلو "معنا لري .دا مفهوم ساینسي لحاظه د **Aftershock** سره سمون لري، چې د اصلي زلزلې وروسته، تعقیبي زلزلې راځي.

سایننسي کشف:

ساینسپوهان اوس پوهېږي چې کله یوه قوي زلزله **(Mainshock)** واقع شي، نو وروسته کوچني شاکونه **(Aftershocks)** راځي.

دا **Aftershocks** معمولاً د زلزلې مرکز ته نږدې راځي او شدت یې د اصلي زلزلې څخه کم وي، خو وخت ناوخت دومره شدید هم وي چې خلکو ته محسوس شي.

ځینې زلزلې په دوه پړاوونو کې واقعېږي، چې ورته **Doublet Earthquakes** وایي، یعنې دوه لویې زلزلې چې نږدې ورته شدت لري، او نږدې د یو شان زلزلهیي څپو سره راځي.

دا علمي حقیقتونه د **Wikipedia (Aftershock, 2021)** او د سیزمولوجي تحقیقاتو لخوا تایید شوي دي.

قرآني اعجاز:

د قرآن کریم دا آیت دقیقاً هغه څه بیانوي چې ساینسپوهان اوس کشف کړي دي، یعنې:

**الرَّاجِفَةُ :اصلي زلزله(Mainshock)**

**الرَّادِفَةُ :تعقيبي زلزله(Aftershock)**

**نتيجه:**

دا يو واضح قرآني اعجاز دی، ځکه چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې د انسانانو پوهه دومره نه وه چې **Aftershocks** وپېژني .دا حقيقت يوازې په وروستيو ساينسي څېړنو کې کشف شو . قرآن کريم د قيامت د زلزلو د ترتيب اشاره ورکړې، او دا اشاره اوس د زلزلې علم **(Seismology)** سره همغږې ده.




**د تکتونيکي تختو حرکت**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

قرآنکريم د انسان د هدايت لپاره نازل شوی، خو دا يوازې د روحاني لارښود کتاب نه دی، بلکې د علمي حقايقو خزانه هم ده .د ځمکې حرکت، زلزلې، د داخلي قشر **(mantle)** د تودوخې، او د تکتونيکي تختو فعاليتونه، ټول هغه حقيقتونه دي چې قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندې بيان کړي، او ساينس يې اوس کشف کوي.

۱ .د سورت الملک آیت او د ځمکې حرکت

الله سبحانه وتعالی فرمايي:
"أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ"
سورت الملک :۱۶

ژباړه:

"آيا په امن کې ياست له هغه ذات څخه چې په اسمان کې، چې ډوبه کړي په تاسو باندې ځمکه، پس ناڅاپه دا به ګرځي؟"
دا آيت يو څو مهم ټکي لري:

"يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ ← "ځمکه لاندې تلل يا ډوبېدل، چې د زلزلې، ځمکښويېدنې، ته اشاره کوي.

"فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ← "د ځمکې سخت خوځېدل او لړزېدل، چې علمي څېړنې يې د تکتونيکي تختو حرکت، اورغورځونې، او د ځمکې داخلي فعاليتونو سره تطبيق کوي.

۲ .د ځمکې د حرکت ساينسي حقيقت

ساينس وايي چې د ځمکې داخلي جوړښت داسې ترتيب لري:

**Crust**(قشر) ← نرۍ سطحه چې د تکتونيکي تختو څخه جوړه ده.

**Mantle**(منځنۍ طبقه) → ګرمه او نیمه مایع ماده، چې تختې پرې روانې دي.

**Outer Core**(بیرونی هسته) → مایع اوسپنه او نکل، چې مقناطیسي ډګر تولیدوي.

**Inner Core**(داخلي هسته) → جامد اوسپنه، چې د ځمکې مرکزي تودوخه پکې متمرکزه ده.

د تکتونیکي تختو تیوري

د ځمکې پوښ **(crust)** د څو تختو ټخه جوړ دی، چې تکتونیکي تختې ( **Tectonic Plates**) بلل کېږي.

دا تختې د ځمکې د لاندې **mantle** د ګرمو موادو پر سر حرکت کوي.

الله سبحان وتعالی فرمایي:

"وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ"

سورت النمل، ۸۸

ژباړه" :او ته غرونه وینې، فکر کوې چې ولاړ دي، حال دا چې دوی د وریځو په څېر حرکت کوي، دا د الله هغه صنعت دی چې هر څه یې په غوره ډول برابر کړي دي".

کله چې دا تختې ټکر وکړي یا جلا شي، نو زلزلې، اورغورځونې، او د ځمکې چاودېدل رامنځته کېږي.

ساینس دا هم ثابتوي چې د ځمکې دا داخلي حرکت د ژوند د بقاء لپاره ضروري دی، ځکه چې د مقناطیسي ډګر په تولید کې مرسته کوي، چې د لمر له خطرناکو وړانګو څخه ساتنه کوي.

دا هغه حقیقتونه دي چې قرآن یې ۱۴۰۰ کاله وړاندې یادونه کړې وه!

۳ .د" چودېدونکې ځمکې "قرآني اشاره

په سورت الانشقاق کې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

"إِذَا ٱلْأَرْضُ ٱنْشَقَّتْ"

سورت الانشقاق :۳

"کله چې ځمکه وچوي (چودیږي)"

همدارنګه، په سورت الزلزله کې راغلي:

"إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا"(سورت الزلزله :۱)

"کله چې ځمکه د خپل سخت زلزلې سره ولړزیږي"

علمي تطبیق

دا آیتونه د قیامت د نښو څخه دي، خو د ساینس له نظره هم دا څرګندوي چې ځمکه متحرک ده، او داخلي فشار یې کولی شي چاودې رامنځته کړي .ساینس وايي:

د ځمکې داخلي تودوخه ۴۰۰۰ – ۶۰۰۰ C°ته رسیږي، چې دا د **mantle convection**سبب کیږي.

د ځمکې پوښ **crust** نازک دی، او کله چې داخلي تودوخه او فشار زیات شي، نو دا چاودیږي.

د **rift zones** (چودېدونکې ځمکني سیمې) هغه ځایونه دي چې نوي ځمکني قشر جوړېږي، لکه د افریقا او عربستان ترمنځ د ریډ سی **(Red Sea)** جلا کېدل.

اورغورځونې د ځمکې د داخلي موادو د چودېدو یو ژوندی ثبوت دی.

په بل عبارت، قرآن د" چودېدونکې ځمکې "مفکوره وړاندې کړې، چې ساینس یې نن ورځ د زلزلو، اورغورځونو، او د تکتونیکي تختو د حرکت له لارې تاییدوي**!**

۴ **.**د قرآن اعجاز

(۱) د زلزلې حقیقت

قرآن" تمور "(ښورېدل) د زلزلو علمي حقیقت تشریح کوي.

زلزلې د تکتونیکي تختو د حرکت له امله رامنځته کېږي، چې علمي حقیقت دی.

(۲) د ځمکې داخلي چاودېدل

"إِذَا ٱلْأَرْضُ ٱنْشَقَّتْ "د ځمکې د داخلي چاودېدو اشاره ده، چې د **rift zones** او د اورغورځونو حقیقت څرګندوي.

(۳) د ځمکې خوځښت

د قرآن اشاره" تمور "(ګرځېدل) د ځمکې داخلي حرکت ته اشاره ده، چې نن ساینس د **mantle convection** له لارې ثابتوي.

د ځمکې داخلي جوړښت د قرآن د بیان سره سمون لري.

۵ .پایله او مهم ټکي

قرآنکریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې هغه علمي حقیقتونه بیان کړي، چې ساینس یې نن کشفوي.

د سورت الملک (۱۶م آیت) او د سورت النمل ۸۸م ایاتونه د ځمکې د داخلي حرکت، زلزلو، او تکتونیکي تختو سره مستقیم تطابق لري.

د" چودېدونکې ځمکې "مفهوم د زلزلې، اورغورځونې، او د ځمکې د قشر د ماتېدو حقیقت تشریح کوي.

دا علمي حقایق د رسول الله ﷺ اعجاز ثابتوي، چې هغه علمي حقیقتونه یې بیان کړي وو، چې ساینس یې یوازې اوس تصدیقوي




**لمر د مغرب څخه راپورته کیدل**

قرآنکریم او د لمر د مغرب څخه راختو نښه

الله ﷻ په قرآنکریم کې فرمايي:

(هَلۡ يَنۡظُرُوۡنَ اِلَّاۤ اَنۡ تَاۡتِيَهُمُ الۡمَلٰٓـئِكَةُ اَوۡ يَاۡتِىَ رَبُّكَ اَوۡ يَاۡتِىَ بَعۡضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ يَوۡمَ يَاۡتِىۡ بَعۡضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنۡفَعُ نَفۡسًا اِيۡمَانُهَا لَمۡ تَكُنۡ اٰمَنَتۡ مِنۡ قَبۡلُ اَوۡ كَسَبَتۡ فِىۡۤ اِيۡمَانِهَا خَيۡرًا ؕ قُلِ انْتَظِرُوۡۤا اِنَّا مُنۡتَظِرُوۡنَ ۝)

**6-158**دوی انتظار نه کوي مګر د دې چې دوی ته ملايك راشي، يا ستا رب راشي، يا ستا د رب ځيني نښې راشي، په کومه ورځ کې چې ستا د رب ځيني نښې راشي (نو) هېڅ يو نفس ته به د هغه ايمان راوړل فايده ورنه کړي چې له مخکې نه يې ايمان نه وي راوړی، يا يې په خپل ايمان کې څه خير نه وي ګټلی، ته (دوی ته) ووايه :تاسو انتظار کوئ، بېشکه مونږ (هم) انتظار کوونکي يو

ـ(الأنعام ١٥٨)

د رسول الله ﷺ حديث

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

"قيامت به تر هغې قائم نشي، تر څو چې لمر له مغرب څخه راوخېژي .کله چې خلک دا ووينې، ټول به ايمان راوړي، خو دا ايمان به هغوی ته هيڅ ګټه ونه کړي، که چيرې يې له دې وړاندې ايمان نه و راوړی".

(صحيح البخاري ۶۵۰۶)

په بل روايت کې راځي چې:

"تهجد کوونکی به تهجد وکړي، بیا به ویده شي، بیا به راپاڅي .ناڅاپه به خلک ویني چې سهار نه کېږي، هر چا ته به حیرانتیا وي .درې شپې به تیاره وي، او ناڅاپه به لمر د ورځې نیمایي ته ورسېږي، بیا به بیرته راشي".

علمي څېړنې – د ځمکې داخلي هسته او د هغې دوران

په وروستیو علمي څېړنو کې ویل شوي چې د ځمکې داخلي هسته، چې د اوسپنې او نکل څخه جوړه ده، خپلواکه دوران لري او دا دوران د ځمکې د مقناطیسي ساحې لخوا پرمخ وړل کېږي.

د نوي څېړنو پر بنسټ:

د ځمکې داخلي هسته **(Inner Core)** شاوخوا ۳۲۰۰ میله د ځمکې د کرست **(Crust)** لاندې ده.

دا د نیمه جامد مېنټل **(Mantle)** له لارې د مایع خارجي کور **(Outer Core)** سره بیلېږي.

د داخلي هستې سرعت د ځمکې د دوران سره فرق کوي، یعنې دا ممکن ورو شي یا حتی مخالف لوري ته وګرځي.

د ځمکې د هستې د دوران تم کېدل او بیرته راګرځېدل

په ۲۰۲۳ کال کې د چین د پیکینګ پوهنتون د څېړونکو یي یانګ او شیاودونګ سونګ څېړنه، چې د **Nature Geoscience** مجله کې خپره شوې، ښیي چې:

د ۲۰۰۹ کال شاوخوا د ځمکې داخلي هستې دوران ودرېد.

ممکن دا بیرته مخالف لور ته حرکت پیل کړي.

دا بدلون هر ۷۰ کاله یو ځل واقع کېږي، پدې معنی چې له دې وړاندې ورته یو بدلون د ۱۹۷۰ لسیزې په پیل کې شوی و.

بله ورته پېښه به د ۲۰۴۰ لسیزې په منځ کې واقع شي.

د علمي څېړنو او اسلامي نښو ترمنځ ارتباط

که چیرې د ځمکې داخلي هسته خپل دوران بدل کړي، نو دا به د ځمکې د مقناطیسي ساحې او د سیارې د دوران په نظام ژور اثر ولري.

د ځمکې د مقناطیسي قطبونو د بدلیدو احتمال موجود دی، چې دا به د لمر له مغرب څخه راختو ته یو علمي توضیح برابر کړي.

دا موندنې که څه هم لا نور تحقیق ته اړتیا لري، خو ښيي چې د ځمکې داخلي نظام داسې پیچلې پروسې لري چې د وخت په تېرېدو د بدلون امکان لري.

نتیجه

قرآنکریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د لمر له مغرب څخه راختو نښه بیان کړې، چې نن ساینس د ځمکې د داخلي هستې د بدلون احتمال سره ورته پایلې ته رسېدلی .دا یو بل ثبوت دی چې قرآني آیتونه د کایناتي نظام د حقایقو سره مطابقت لري.




## د غرونو خرکت

دا یو حیرانوونکی قرآني اعجاز دی، چې د غرونو د حرکت په اړه بحث کوي، کوم چې ساینسپوهانو یوازې په وروستیو پېړیو کې کشف کړی دی.

قرآني لیدلوری:

الله تعالی فرمایي:

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ

او ته غرونه وینې او ګومان کوې چې ثابت (او نه خوځېدونکي) دي، حال دا چې هغوی د وریځو په شان روان دي .دا د الله (ذات) صناعت دی، چې هر څه یې په کمال سره برابر کړي .بېشکه، هغه ستاسې له کړنو خبر دی .(النمل :۸۸)

لغوي تحلیل:

"تَحْسَبُهَا جَامِدَةً "(ته ګومان کوې چې دا غرونه ثابت دي) **:**دا اشاره کوي چې ظاهراً غرونه جامد ښکاري، يعنې د انسان سترګې يې حرکت نه محسوسوي.

"وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ "(حال دا چې دوی د وريځو په شان حرکت کوي) **:**دا جمله روښانه کوي چې غرونه حرکت کوي، لکه څنګه چې وريځې حرکت کوي، يعنې په نرمه، دوامداره، او منظمه بڼه.

ساينسي کشف**:**

د **Plate Tectonics Theory** د

وايي چې د ځمکې ليتوسفير (باندنۍ قشر) د ټيکټونيکي تختو څخه جوړ دی، چې په دوامداره ډول حرکت کوي.

دا تختې هر کال صفر څخه تر ۱۰۰ ملي

متره

(۱۰ سانتي‌متره) پورې حرکت کوي

د غرونو حرکت د دې ټيکټونيکي تختو د حرکت يوه برخه ده، ځکه چې غرونه د همدې تختو د ټکر، جلا کېدو، يا ښوېدو له امله جوړ شوي دي.

دا حقيقت يوازې په ۲۰مې پېړۍ کې له **Alfred Wegener** وروسته د ساينسپوهانو لخوا په رسمي ډول کشف شو.

قرآني اعجاز**:**

غرونه حرکت کوي :قرآن وايي چې غرونه نه دي ثابت، بلکې روان دي .ساينسپوهان اوس تصديق کوي چې غرونه د ټيکټونيکي تختو د حرکت له امله ورو ورو حرکت کوي.

د وريځو په شان حرکت :قرآن د غرونو حرکت د وريځو له حرکت سره تشبيه کوي، چې اشاره کوي چې دا حرکت نرم، تدريجي، او دوامداره دی–هماغسې لکه ځنګه چې ساينسپوهانو کشف کړی دی.

نتيجه:

دا حقيقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې هيچا ته نه و معلوم، خو قرآن کريم د نړۍ د حرکت يوه مهمه علمي موضوع بيان کړې ده، چې د عصري ساينس سره پوره سمون لري .دا قرآني اعجاز ثابتوي چې قرآن کريم د الله پاک وحي ده، نه د بشر ليکل شوی کتاب.



**د غرونو د ثابتوالي تثبيت رول**

د غرونو ساينسي اعجاز په قرآن کې – يو تفصيلي تحليل

١ .د غرونو د ثابتوالي (تثبیت) رول

قرآن کریم د غرونو یو مهم جیولوجیکي فعالیت ته اشاره کړې ده، چیرې چې الله ﷻ فرمایي:

"وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ"

(سورت الأنبیاء، ٣١)

ژباړه" :او موږ په ځمکه کې کلک غرونه کېښودل، ترڅو دا له دوی باندې ونه ښوري".

ساینسي وضاحت:

جیولوجیکي څېړنې ښيي چې غرونه د ځمکې د ټکتونیکي تختو د ټکر له امله رامنځته کیږي.

د غرونو یوه لویه برخه د ځمکې لاندې ژورې ته غځېدلې ده، کوم چې د" ایزوستاسي " **(Isostasy)**په نوم یادیږي.

د غرونو دا ډوبیدونکې برخه د ځمکې د کرسټ توازن ساتي او د ځمکې د زیاتېدونکي خوځښت (زلزلې) مخنیوی کوي.

په ساینسي اصطلاحاتو کې غرونه د" میخونو "یا" خنجرو "په شان دي، چې تختې یوځای ساتي او د ځمکې د کرسټ استحکام یقیني کوي.

ساینسي حقیقت او قرآني اعجاز:

قرآن د ۱۴۰۰ کلونو مخکې د غرونو د تثبیتولو نقش بیان کړی، چې ساینس یوازې په شلمه پېړۍ کې تثبیت کړ.

د" رَوَاسِيَ "کلمه د ثابتوالي مفهوم لري، چې دقیقاً د "**Isostasy**" ته اشاره کوي.

۲ .د غرونو حرکت او د قارهيي تختو خوځښت**(Continental Drift)**

الله ﷻ فرمايي:

"وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ"

(سورت النمل، ۸۸)

ژباړه" :او ته غرونه وينې، فکر کوې چې ولاړ دي، حال دا چې دوی د وريځو په څېر حرکت کوي، دا د الله هغه صنعت دی چې هر څه يې په غوره ډول برابر کړي دي".

ساينسي وضاحت:

په ظاهره غرونه ثابت ښکاري، خو په حقیقت کې دوی د ځمکې د کرسټ د حرکت له امله حرکت کوي.

د کانټینینټل ډرافټ نظریه **(Continental Drift Theory)** وايي چې د براعظمونه یو وخت سره وصل وو، خو بیا د ټکتونیکي تختو د حرکت له امله جلا شول.

د دې تیورۍ لومړنی وړاندیز الفریډ ویګنر **(Alfred Wegener)** د ۱۹۱۲م کال کې وکړ، خو ساینس پوهان یوازې په ۱۹۶۰م کې د دې نظریې حقیقت ته ورسیدل.

قرآني اعجاز او ساينسي حقيقت:

قرآن د ۱۴۰۰ کلونو مخکې د غرونو حرکت ته اشاره کړې، چې ساينس يوازې په وروستيو پېړيو کې کشف کړ.

د غرونو حرکت د ځمکې د کرسټ د حرکت پايله ده، چې هماغه څه دي چې قرآن يې بيان کړی.

پايله:

د غرونو تثبيتولو نقش او د غرونو حرکت دواړه ساينسي حقايق دي، چې قرآن کريم يې قرنونه مخکې بيان کړی.

د غرونو" ميخي جوړښت "د "**Isostasy**" ساينسي اصل ته اشاره کوي.

د غرونو حرکت د "**Continental Drift**" ساينسي نظريې ته اشاره کوي.

دا ټول حقايق د قرآن د ساينسي اعجاز څرګند مثالونه دي، چې يوازې د الهي وحې حقيقت تاييدوي.

اللهم زدنا علماً



## غرونه د میخونو په شکل

بسم الله الرحمن الرحيم

د اسلام اعجاز – د غرونو علمي اعجاز

(ساینسي معجزه :غرونه د مځکې د ثبات لپاره میخونه دي)

قرآني اعجاز:

الله سبحانه و تعالی په قرآن کریم کې فرمایي:

(أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا (٦) وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا)

(النبأ :۶-۷)

ژباړه :«آیا موږ مځکه فرش نه ده ګرځولې؟ او غرونه میخونه؟»

همداراز فرمايي:

"وَاَلْقٰى فِى الْاَرْضِ رَوَاسِىَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ"

۱۶:۱۵: او غورځولي یې دي پر مځکه بارونه (غرونه) لپاره ده دې چې و نه ښوربېږي مځکه پر تاسو باندي.

علمي توضيح:

۱ .د غرونو د جرړو موجودیت:

مشهور ساینسپوه پروفېسور فرانک پریس(Frank Press) ، چې د امریکا د ملي ساینسي اکاډمۍ مشر پاتې شوی، په خپل مشهور درسي کتاب Earth کې لیکي:

"غرونه ژورې جرړې لري چې د ځمکې لاندې غزېدلي دي، دا غرونه د میخونو (وتد) په څېر عمل کوي".

د نوموړي کتاب اوس هم د نړۍ په مخکښو پوهنتونونو کې تدریس کېږي .دده له نظره، غرونه د مځکې د توازن لپاره ژور بنسټونه لري، او همدغه مطلب قرآن کریم ۱۴ پېړۍ وړاندې بیان کړی دی.

۲ .د مځکې توازن ته د غرونو رول:

د ساینسي تیوریو له مخې، غرونه د مځکې قشر ثبات ساتي او د مځکې خوځښتونه (زلزلې، ټکانونه) کنټرولوي.

دا مفکوره لومړی ځل د سر جورج هیري لخوا په ۱۸۶۵م کال کې وړاندې شوه، چې ویې ویل:

"غرونه د ځمکې د قشر د ټینګښت او موازینې لپاره اړین دي".

بیا وروسته د پلیټ ټکتونیک نظریه (Plate Tectonics) چې په ۱۹۶۰م کې رامنځته شوه، دا خبره ثابته کړه چې غرونه د ځمکې د توازن او موازینې لپاره حیاتي اهمیت لري.

۳ .د غرونو ژوروالی:

د جیولوژي له مخې، د ځمکې شعاع شاوخوا ۶۳۷۱ کیلومتره ده .د سمندرونو لاندې قشر شاوخوا ۵ کیلومتره دی، خو د لویو غرونو لکه هیمالیا لاندې دا قشر تر ۷۰-۸۰ کیلومتره ژور تللی دی.

هر څومره چې د ځمکې قشر نری شي، هماغومره د زلزلې او خوځښت خطر زیاتیږي . غرونه ددې خوځښتونو ضد یو طبیعي ډال جوړوي.

قرآني پیشګویي چې علم یې تصدیق کړ:

د پیغمبر (ص) مبارک وخت کې، انسانان نه پوهېدل چې غرونه ژورې جرړې لري .هغوی به غرونه یوازې هغه باندنۍ سختې غونډۍ ګڼلې چې ښکاره وې .خو قرآن دا حقیقت داسې بیان کړی:

"او غرونه مو میخونه ګرځولي دي"

میخ د یوې برخې څخه یوازې سر لري، خو ډېره برخه یې دننه وي .عیناً همداسې غرونه دي؛ له پاسه ښکاریږي، خو اصل بنسټ یې د ځمکې ژورو برخو کې وي .دا یو ډېر واضح علمي اعجاز دی.

پایله:

آیا دا امکان لري چې یو نالوستی کس حضرت محمد (ص) له خپل ذهنه دا حقیقتونه بیان کړي وای؟

یقیناً نه .دا یو قاطع دلیل دی چې قرآن د الله تعالی کلام دی او دا علم یوازې هغه ذات لري چې مځکه او آسمانونه یې پیدا کړي دي.

غرونه – یو بل ستر دلیل دی د قرآن د حقانیت او الهي اصل لپاره.




**د وچو خوځښت**

د غرونو خوځښت – د قرآن کریم اعجاز

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ

اوغرونه چې جامد وینئ، حال دا چې هغه د وریځو په څېر خوځېږي.

(سورت النمل :۸۸)

دا آیت د قرآن یو له هغو حیرانوونکو ساینسي اعجازونو څخه دی، چې حقیقت یې د مدرن علم له پرمختګ سره څرګند شو .قرآن د غرونو خوځښت ته اشاره کړې، حال دا چې انسانان به تل غرونه جامد او ثابت ګڼل.

د غرونو خوځښت څنګه دی؟

د ځمکې سطحه یوازې یوه ساده جامده پوړ نه دی، بلکې د" تکتونیکي تختو "یا" صفحې " له نظام څخه جوړه شوې .د ځمکې د قشر لاندې، د" منټل "یا" پوښ "په نوم یو نیمه مذابه طبقه ده، چې دا تختې پرې شناورې دي .دا تختې هر کال څو سانتيمتره حرکت کوي، او له همدې امله د غرونو موقعیتونه هم ورو ورو بدلون مومي.

د وچو خوځښت – د وګنر نظریه

لومړی ځل، جرمني عالم الفرد وګنر د ۱۹۱۲م کال شاوخوا دا نظریه وړاندې کړه، چې یو وخت ټولې وچې سره یوځای وې، او بیا ورو ورو جلا شوې .دې نظر ته" د وچو خوځښت (**Continental Drift Theory**) "ویل کېږي .له دې وروسته، د ۱۹۶۰مو کلونو په شاوخوا کې، د" تکتونیکي تختو نظریه "ثابته شوه، چې د ځمکې قشر تل په حرکت کې دی.

قرآن د شلمې پېړۍ علمي کشفونه ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړي

د قرآن کریم دا آیت د غرونو حرکت ته اشاره کوي، چې د وخت له تېرېدو سره کوچني، خو دوامداره بدلونونه لري .د غرونو دا حرکت یوازې د زلزلو او تکتونیکي فعالیتونو پر مهال نه وي، بلکې دا یو پرلهپسې او منظم خوځښت دی.

نننی علم ثابتوي، چې د هیمالیا غرونه لا هم لوړېږي، ځکه چې د هندي او یورېشین تکتونیکي تختې یو له بل سره ټکر کوي .همداراز، د اطلس سمندر هر کال پراخېږي، ځکه چې د اروپا او امریکا وچې یو له بل نه لرې کېږي.

پایله

د قرآن کريم دا آيت، چې په ظاهري ډول یوازې یو عادي بيان ښکاري، د ځمکې د قشر حرکت ته واضح اشاره کوي، کوم چې یوازې د شلمې پېړۍ پوهانو درک کړ .دا یو نه هېرېدونکی اعجاز دی، چې د قرآن حقیقت او د الهي وحې صداقت ثابتوي



رنګين غرونه'Rainbow mountains'

د قرآن عظيم شآن ډيره ښکلی معجزه

«رنګين غرونه 'Rainbow mountains' »

په قرآن کريم کې د رينبو رنګه غرونو يادونه شوي قرآن کريم د جبرائيل(ع) فرشتې لخوا د عربو د دښتې په منځ کې په يوه پيغمبر باندې نازل شوی دی .رسول الله صلی الله عليه وسلم خو يو پيغمبر و چې خلکو ته يې د خدای(ج) کلام ورسولو او خلکو ته يې د خدای(ج) ، اسلام د لارې بلنه ورکړه.

هغو کسانو چې په کفر او تکبر کې يې مخ اړولی وو، پيغمبر صلی الله عليه وسلم يې د قرآن د آيتونو په جوړولو تورن کړ او هغه ته يې ننګونه وکړه چې دوی ته داسې نښې ورکړي چې نبوت يی ثابت کړي او دا چې قرآن په حقيقت کې د خدای کلام په توګه نازل شوی دی.

يوه پياوړې نښه چې د قرآن کريم معجزې ته اشاره کوي او دا چې د قرآن کريم کلمې په عربستان کې د محمد (صلی الله عليه وسلم) له خوا نه دې جوړې شوي، په قرآن کريم کې لاندې آيت دی.

دا په طبيعت کې موندل شوي ښکلي او عالي حيرانتياوې په تفصيل سره بيانوي .

دا د سورو او سپينو رنګينو غرونو او د دې رنګونو مختلف سيوريونو او د آبنوس د تور غرونو په اړه خبرې کوي.

د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ټول ژوند چې شاوخوا چيرته چې يې تېر کړی، کوم ځايونه چې هغه (ص) ليدلی، دښتې،د شګو دښتې، نسواري غونډی، ځينې بوټي او د کجورې ونې دی .خو مګر هغه (ص) کله هم د رينبو رنګه غرونه نه ليدلي او نه يی تصور هم کړی، خو بيا هم رسول الله صلی الله عليه وسلم په قرآن کريم کې هغه څه تلاوت کاوه، چې د خدای(ج) له لوري پر ده نازل شوي وه .

الله سبحان وتعالی فرمايي:

«اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ؕ وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيْضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ۟»

**35-27**«ايا تا نه دي ليدلي چې بېشکه الله له بره نه اوبه نازلې کړې دي، بيا مونږ په دغو سره داسې مېوې راوېستلې دي چې د هغو رنګونه مختلف دي او په غرونو کې ځينې سپينې او سرې لارې دي، چې د دغو (لارو) رنګونه سره مختلف دي او (ځينې په دوی کې) ډېرې تکې تورې دي»

په عربي کې هغه کلمه چې د سپينو او سور مختلف سيوريونو د تشريح کولو لپاره کارول کيږي د مختلف رنګونو جلا کرښو يا نمونو معنی لري .

ايا دا رنګين غرونه واقعيا شتون لري؟

او که داسې وي، دوی چيرته موقعيت لري؟

پلټونکو په پيرو او لويديځ چين کې دا زړه راښکونکي رينبو رنګه غرونه کشف کړی دي.

په پيرو کې، **Vinicunca** يا رينبو غر د آسنګيټ ته نږدې ځای دی .غرونه په جزوي ډول د رنګارنګ خاورو څخه جوړ شوي دي، کوم چې سايټ ته يو ځانګړی او حقيقتي بڼه ورکوي .

ټريور نيس په فوربس مجله کې ليکلي " :چې د چين د رينبو غرونه د ژانګی دانکسيا ليندفارم جيولوژيکي پارک کې د نړۍ جيولوژيکي حيرانتيا ده .دا مشهور چينايي غرونه د دوی د ښکلې له امله د **[tops of rolling mountains]** په نوم باندې پيژندل کيږي.

په هيڅ صورت کې حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) هلته نه و رسيدلی، مګر موږ ته هغه (ص) د دوی په اړه خبر راکړی دی، لکه څنګه چې په قرآن کريم کې د خدای (ج) لخوا نازل شوی



**نقلیه وسایل**

«نقلیه وسایل»

خدای ج په قران شریف کې فرمايي**]**:وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ **[**۱۶:۸**]:**

>(او پیداکړي **(**اسونه او قچرې او خره لپاره ددې چې سورېږی تاسې په دوی باندې او په زینت کولو سره او پیدا کوی**)**نور**(**څیزونه چې اوس يي نه پیژنئ تاسې**)**له نورو نواقلو څخه)<

په هغه وخت کې الوتکه، موټر، ریل، موټرسیکل او بایسکل او اپولو نه وه اختراع شوي او خلک په هغه نه پوهیدل نو دلته د هغو یادونه شوی ده، څکه چې دالیل دادی چې تراوسه الله

کوم نوی خیوان د سپرلۍ کولو لپاره ندۍ پیدا کړۍ بې غیر له معصر ټرانسپورټ څخه نو ځکه دغه ایات د معصر ټرانسپورټ په حق کې صدق کوي.

خدای ج په قران شریف کې فرمایي:

وَآيَةٌ لَهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ (۴۱)

وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِنْ مِثْلِهِ مَا يَرْكَبُونَ (۴۲)

۳۶:۴۲-۴۱>او یوه نښه دالیل د قدرت(الله)دوی ته دا ده چې بیشکه موږ سواره کړی مو دی اولاد ددوی په بیړۍډکه کړی شوی کې او پیدا کړي دي موږ دوی ته په شان ددغه (بیړۍ) هر هغه څه چې دوی پرې سواریږی(له نورو نواقلو څخه)<

په همدې باب یو شمېر اخدیث هم موجود دی

عن عمر قال قام فینا النبي ﷺمقاما فاخبرنا عن بدء الخلق حتی دخل اهل الجنة منازلهم و اهل النار منازلهم حفظ ذالك من حفظه و نسیه من نسیه

عمر(رض) وایي :یوه ورځ د الله پیغمبر(ص) له موږ سره کېناستلو هغه(ص) موږ ته هر یو شی وویل د کایناتو د پیدایښت څخه تر جنت ته ننوتونکي او د جنت اوسیدونکي او جهنم ته ننوتونکي او د جهنم اوسیدونکي په ورځ د قیامت، نو چاچې یاد کړه کوم برخه د هغه له وینا څخه هغه یي یاده کړه او چاچې هیره کړه کومه برخه د هغه له وینا څخه یی نو هغه یی هیره کړه.

سحیح بخاری .له بیدالخلق((1:453#3020))

په همدې ډول، ابو ذئد انصاري او ابو ساید خوداري(رض) روایت کوی، چې پیغمبر (ص) موږ ته وواېل: فحدثنا (و اخبر فیها) بما کان و بما هو کائن الی یوم القیامة فاعلمنا احفظنا

" د هر هغه څه په اړه کوم څه چې پيښ کيږی آن تر ورځې د قيامت پورې د پيښو په اړه، نو په مونږ کې تر ټولو لوی عالم هغه وو چا چې لويه برخه ددې وينا څخه ياده کړه".

سحيح مسلم(2:390#2892)؛مشکوة الماسبح

;(3:311#5936)الموجام الکبير[.(17:28#46)

له خضرت ابوزر(رض) څخه روايت دی:

لقد ترکنا محمد ﷺوما يحرك طائر جناحيه في السماء الا اذكر لنا منه علما

"او کله چې پيغمبر(ص) له مونږ سره په ونده کې وو تر هغه راڅخه ندی تللی تر څو چې يي ختی دا راته وويل چې په اسمان کې مرغان څه ډول په خپلو وزرونه حرکت کوي او خطی دا يی هم راته وايل"

[ ►".موسند احمد ;(5:153) تبقات الکوبره (2:354)

راوي :عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما

الفاظ" :سيكون في آخر هذه الأمة رجال يركبون على المياثر بدل السروج العظام".

"په نږدې راتلونکي کې به زما د امت په اخري زمانه کې خلک د غوښې او هډوکو د ځارويو په پرتله په نورو ډولونو (يعنې موټروان) سفر وکړي".

حواله:

کتاب :مستدرک الحاکم

حديث نمبر4/381 :

[ډاکټر محمد سليمان فراج په الوصول ها محبت رسول کې داسې بيانوي .مستدرک الحکيم ته يې اشاره وکړه].

عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :زما د امت په وروستیو کی به سړي د (مایسر) په شان په وسېلو سپاره وی، دوی به د دروازو د جوماتونو کې ترې ښکته کیږی.

[حاکم په المستدرک حدیث نمبر ۸۳۴۶ کې روایت کړی، ابن حبان]

"مایسر "یو ډیر قیمتي او ښه وربښم و چې په هغه وخت کې بډایه خلکو د خپلو آسونو د چوکیو پوښلو لپاره کارول .د دې حدیث مطلب دا دی چې دا چوکۍ چې سړي به په پای کې سپاره وي اصلي چوکۍ ندي چې د آسونو په شا کېښودل کیږي، یوازې د هغه چوکیو سره مشابه دي.

په پخوانیو وختونو کې اوښان، خره او اسونه د ټرانسپورټ وسیلو په توګه کارول کیده . هیڅوک نشي کولی چې په هغه وخت کی د میخانیکي وسایطو تصور وکړي لکه موټرسایکل، موټرې، او داسې نور .همدارنګه په پخوانیو وختونو کې خلک جوماتونو ته د لمانځه لپاره په اوښانو یا اسونو سولری کولو عادت نه و .کله چې کلي ډېر کوچني وو، نو خلك به جوماتونو ته پیاده تلل.

«واټنونه به کم شي»

حضرت ابو موسی اشعري رضی الله عنه د عصري ساینسي پرمختګ په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا په ځانګړې توګه د زمان او مکان د عصري مفاهیمو په حواله نقل کړي ده: لا تقوم الساعة حتى يتقارب الزمان

د قیامت ورځ به تر هغه وخته نه راځې تر څو چې د ځمکې فاصلې کمې نه شي او یو بل ته په ناشونې توګه نږدې نه شي

[ مجمع الزوائد ](7:279) د کتاب پر بنسټ -:سیرت الرسول صلی الله علیه وسلم د شیخ الاسلام ډاکټر طاهر القادري تصنیف.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اخري زماني د ځانګړتیاوو په اړه د ترانسپورت د پراختیا په اړه وویل :د قیامت ورځ تر هغه وخته نه قائمیږي تر څو چي وخت ژر تیر نشي.(بخاري) ￼ په شلمه او یوویشتمه پیړۍ کې، ټیکنالوژي واقعیا لوړې کچې ته رسیدلې

ده .په ځانګړې توګه د ترانسپورت ټیکنالوژۍ، معمارۍ او د انجینرۍ په مختلفو برخو کې، په زړه پورې پرمختګونه ترسره شوي .

:رسول الله (ص) فرمايي

لوی واټنونه به په لنډ وخت کې تیر شي

.(احمد، مسند)  په پورتني حدیث کې پیغام خورا څرګند دی .د پای وختونو په جریان کې، لوی واټنونه به په لنډ وخت کې د نویو موټرو له لارې تر سره کیږی .زموږ په وخت کې، سوپرسونیک الوتکې، ریل ګاډي او نور پرمختللي وسایط کولی شي، په څو ساعتونو کې، هغه فاصله چې په میاشتو میاشتو وخت نیسي، په اسانۍ، آرامۍ او خوندي توګه ترسره کړي. په دې معنی چې په حدیث کې اړونده نښه سمه راغلې ده.

ابو هریره (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) وفرمایل:

زما دي په هغه ذات قسم وي چي زما روح يې په واک کي دی چي زمانې به يو د بل

سره نژدې شي

بخاري، مسلم، اومشکوة دریم ټوک، جنت کتاب.

پورتنی خدیث کې پیغام څرګند دی ځکه د ټیکنالوجۍ په عصر کې زمانې د مکان له لارې سره نيږدې شوي دي موږ په ننۍ عصر کې وینو چې د میاشتو مزل یوازې او یوازې په یو څو سعتونو کې تیریږی

د مثال په توګه له مغربي هیوادونو څخه مشرقي هیوادونو ته او له مشرقي هیوادونو څخه مغربي هیوادونو ته د یو میاشتې په اندازه پیاده مزل دی مګر که همدغه فاصیله د د الوتکې په وسېله ووهل شي تقریباً تر **(8)** سعتونو به ډیر وخت ونه نیسي.

حوالې:

نړیوال منهاج القرآن هند-**https://minhaj.in/modern-vehicles-and-aviation-science-foretold-in-hadith/ ''**



**له ځمکې څخه د ځمکې شکل معلومول**

له ځمکې څخه د ځمکې شکل

د قرآن کریم ابدي اعجاز

آیا غواړئ چې د ځمکې شکل په خپلو سترګو د ځمکې څخه بې غیر د کوم ټیلیسکوف او کوم بل څه ووینئ

حیرانیږئ مه دا به په یقیني ډول په خپلو سترګو ووینئ

د ځمکې شکل یوه داسې موضوع ده چې د کالونو او د پیړیو راهیسی خلک ورپکې اختلاف کوې، هر څوک د خپل خیال مطابق رایا کروي.

آیا ددغې موضوع حل لاره شته او کنه؟

او که' وي 'نو څرنګه او څوک بایي حل کړي؟

ددې ځواب به څوک وایي؟

**ځواب:**

ددغه موضوع د حل کولو یوازینۍ لاره د کائناتو خالق سره ده .

ځکه هغه ذات چې د ځمکې خلقت یي په خپله ترسره کړی دی، او ترهغه هیڅوک هم ښه نه پوهیږي.

ایا تاسو څه فکر کوئ چې هغه ذات به د خپل مقدس کتاب د نازلولو سره د ځمکې شکل د سحره د اوسیدونکو لپاره بې غیر له کوم ټیلیسکوپ او ټیکنالوجۍ نه وي ښودلۍ؟

ددې ځواب قرآن عظیم شان وایي:

وَمَا هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ

۶۸:۵۲:او حال دا چې ندۍ دغه{ قران }مګر خو ذکر د ټولو عالمیانو لره.

هو بلکل ددې ځواب قرآن عظیم شآن ویلۍ، هغه هم ۱۴۰۰ کاله دمخا !خو په دالیل سره ]یعني مونږ کولۍ شو چې د ځمکې شکل په یقین سره په خپلو سترګو د ځمکې څخه بې غیر د کوم ټیلیسکوف او ټیکنالوجۍ معلوم کړو!

سبحان الله څومره د تعجب خبره ده !ایا ریښتیا هم دا ممکنه ده؟

هو بلکل که مونږ ختی که چیږته په یوه سحره کې هم اوسیږو بیا هم ممکنه ده چې معلومه کړو چې ځمکه کروي ده او څرخي خو په شرط ددې چې د الله ج په ایاتونو کې به تدابر هتمي وي.

دا زمونږ غلتي ده چې په قران عظیم شان باندې عمل او ورپکې تدابر مو ندی کړی.

لومړی غواړم چې د همغه ذات یو څو ایاتونه درباندې ولولم تر څو درته پوښتنه پیدا نشي، چې مونږ ته خو کوم آیات د تدابر په اړه نه و نازل کړی شوی .او وروسته له هغه به بیا خپلې موضوع ته بېرته راوګرځوو:

**[سُوۡرَةُ آل عِمرَان]190 :**

«إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلٰفِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَءَايٰتٍ لِّأُولِى الْأَلْبٰبِ»

د بی له شکه د اسمانونو او د ځمکي په پیدایښت کې او په مخلفت د شپې او ورځي کي د هغو پوهانو لپاره ډیري نښاني دي:

**[سُوۡرَةُ آل عِمرَان]191 :**

الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيٰمًا وَقُعُودًا وَعَلٰى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

چې په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښې خدای یادوي .او د اسمانونو او ځمکي په پیدایښت کښې غور او فکر کوي«.

ددې آياتونو څخه خو دا معلومه شوه چې موږ به په کائناتو، ستورو کې او په اختلاف د شپې او ورځې کې فکر او تدابر کوو.

الله (ج) فرمايي:

>وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ<

**۲۷:۸۸ ...**>او ته به غرونه وينې، ته به په دوی د کلکو ولاړو ګمان کوې، حال دا چې دوی به د وريځې د تېرېدلو په شان تېرېږي، (وګورئ) کاريګري د الله هغه چې هر شی يې محکم کړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ <**...**

اوس راشئ چې په همدغه ايات باندې عمل وکړو

او د ځمکې شکل او څرخيدل يوازې او يوازې په يو څو داقيقو کې معلوم کړو:

که ته همدا اوس د شپې په يوه کوټه کې قرار لرې، نو همدا اوس دباندې اووځه او د يو ديوال سره نېژدې ودرېږه او د خپلو قدمونو ځای د دقيق معلوم کړه او نظر د په آسمان کې په يو يا څو داسې ستورو کړه چې د ديوال سره د دريو يا څلورو ګوتو په اندازه لريوالی ولري، او په همغه ستورو د نظر تر دريو يا څلورو دقيقو پورې ښه ټينګ وساته نو ته خامخا په تحقيق سره ددوی خرکت ويني، چې د مشرق څخه د مغرب پر لوري دی، که ته همدغه ستورو ته يو ساعت يا دوه ساعته وروسته وګورې نو دوی به ډېر خرکت کړی وی، دا حرکت به تاته خامخا تعجب درولي،

دا همغه ستوري دي چې موږ يي له ماشوم توب څخه تر خپلې ځوانی دور پورې وينو،

او که په سبا شپه د همدغه وخت څخه لږ دمخا تاسو خپل نظر د اسمان پر لوري کړی، نو وبه وينئ چې همغه ستوري کوم چې مو په پارونی[تيره شوي ]شپه باندې ليدلی و، دوی به په همغه شکل په تدريج سره د مشرق څخه د مغرب پر لوري خرکت کوي.

ګټه به مو څه کړي وی؟

لومړۍ :تاسو به د ځمکې په خرکت باندې پوه شوي یاست، چې ځمکه متحرکه ده، نه لمر او سپوږمۍ

دوهم:تاسو به د ځمکې په خقیقی شکل باندې پوهیدلي یاست چې ځمکه کوروي ده نه هواره.

دریم :تاسو به د قرآن عظیم شآن ددغه ایآت په خقیقي تفسیر او معنا باندې پوهیدلي یاست

الله (ج) فرمایي:

>وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةٗ وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ صُنۡعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَيۡءٍۚ إِنَّهُۥ خَبِيرُۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ<

۲۷:۸۸ ...>او ته به غرونه وینې، ته به په دوی د کلکو ولاړو ګمان کوې، حال دا چې دوی به د وریځې د تېرېدلو په شان تېرېږي، (وګورئ) کاریګري د الله هغه چې هر شی یې محکم کړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ <...

نور نو هیڅا سره ددې موضوع اړوند اختلاف ما کوئ چې د ځمکې په شکل کې او یا یې په څرخیدلو کې نور څه بې ځایه بخث وکړي

د ځمکې دفالیېټ شکل دعوادران عسیویان دي، هغوی خو مجبور دي، چې د فالیېټ ځمکې دعوه وکړي

د عیسویانو کتاب (بائبیل) د یو سړي له حوا چې نوم یي فاؤل دی تحریف شوی دی.

نو ددوی کتاب د ځمکي فالېت شکل دعوه کړي.

بیشکه باطل چې دی،باطل دی، هیڅ کله باطل حق نشي جوړیدلی.

دا کله کېدای شی چې د انسان او العیاذب الله د خدای (ج) خبره د یو ډول پرتله کړای شی




**د انسان خلقت د خاورې،ختې،او اوبو څخه**

انسان د خاورې څخه پیدا شوی – یو ساینسي حقیقت او قرآني اعجاز

اوسنی ساینس دا ثابتوي چې د انسان په بدن کې ټول عناصر د خاورې **(Dust)** څخه اخستل شوي دي **!**دا یو حیرانوونکی حقیقت دی چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې قرآن کریم ذکر کړی و، په داسې حال کې چې هېڅ ساینسي وسیله نه وه چې دا حقیقت تایید کړي.

قرآني آيتونه او ساينسي حقيقت

انسان د خاورې څخه پيدا شوی:

الله تعالی فرمايي:

(وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ)

(الروم :۲۰)

ترجمه:

"او د هغه له نښو څخه دا ده، چې تاسو يې له خاورې پيدا کړي يئ، بيا ناڅاپه تاسو بشر يئ چې (په ځمکه) خورېږئ".

دا آيت څرګندوي چې د انسان اصل خاوره ده، او د خاورې عناصر د انسان په بدن کې شامل دي.

د انسان تخليق د خټو له نچوړ څخه:

الله تعالی فرمايي:

(وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ)

(المؤمنون :۱۲)

ترجمه:

"او يقيناً مونږ انسان د خټو له نچوړ څخه پيدا کړی دی".

ساينسپوهانو موندلې چې د خټو مهم کيمياوي عناصر، لکه کاربن، اکسيجن، هايدروجن، نايتروجن، او فلزات، ټول د انسان په بدن کې شته.

انسان د اوبو څخه پیدا شوی:

الله تعالی فرمايي:

(وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا)

(الفرقان :۵۴)

ترجمه:

"او همدغه (الله) دی چې له اوبو څخه يې انسان پيدا کړ، بيا يې ده ته نسب او واده جوړ کړ، او ستا رب ښه قادر دی".

ساينس هم تاييدوي چې د انسان بدن ۷۰٪ له اوبو څخه جوړ شوی دی، کوم چې د دې آيت تاييد کوي.

د ساينس او قرآن تطابق



اوس ساينسپوهان موندلې چې د انسان بدن هماغه عناصر لري، چې د ځمکې په خاورې او اوبو کې شته، لکه:

کاربن**(Carbon)**

اوسپنه**(Iron)**

کلسيم**(Calcium)**

فاسفورس**(Phosphorus)**

سلفر**(Sulfur)**

پوتاشيم**(Potassium)**

نايتروجن**(Nitrogen)**

دا څنګه ممکنه ده چې يو نالوستی پيغمبر (ﷺ) دا ساينسي حقيقت ۱۴۰۰ کاله مخکې بيان کړي وای؟

ځواب يواځې يو دی:

دا د قرآن معجزه ده !ځکه الله تعالی فرمايي:

(ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ فَٱعۡبُدُوهُۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ)

(الأنعام :۱۰۲)

ترجمه:

"همدغه (ذات) الله ستاسو رب دی، نشته هېڅ معبود مګر همدا (الله)، د هر شي پيدا کوونکی دی، نو تاسو باید همدا (الله) و عبادوئ، او همدا (الله) د هر شي کارساز دی".

سبحان الله **!**دا د قرآن ستر اعجاز دی**!**



**د انسان د جنین وده**

په قران کريم کې د انسان د جنين پړاونه داسې راغلي.

الله تعالی فرمايي:

الله تعالی فرمايي:

سورت المؤمنون ۲۳:۱۲-۱۴

۱۲ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ

او یقینًا موږ انسان له یوې خالصې ختې پیدا کړی دی.

۱۳ ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ

بیا مو دا نطفه په یوه ټینګه قرارګاه (قرار مَکین) کې وګرځوله.

۱٤ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ

بیا مو نطفه د وینې ټوټه (علقه) وګرځوله، بیا مو دا وینه د غوښو بوټۍ (مضغه) وګرځوله، بیا مو دا مضغه هډوکي وګرځول، بیا مو دې هډوکو ته غوښه ورواغوستله، بیا مو دا په بله پیدایښت سره پیدا کړ؛ نو بس ډېر برکتناک دی الله، چې غوره پیدا کونکی دی.

علمي تفسیر:

۱ .نطفه:

نطفه هغه سپینه مایع ده چې د نارینه او ښځینه د تناسلي حجرو یوځای کېدو سره د القاح پیل کیږي .قرآن دا پړاو د" نطفې "په نوم یاد کړی، او وایي چې دا نطفه په یوه" قرارِ مکین " کې ځای پر ځای کیږي .د رحم دیوال، عضلات، او د امینیوتیک مایع ډک کڅوړه دا ځای محکم ساتي.

۲ .علقه:

"علقه "یو جامع عربی لغت دی چې درې معناوې لري:

وینه څښونکی :ځکه چې جنین د مور له وینې تغذیه کوي.

ځړېدلی شی :ځکه چې جنین د رحم دیوال ته نښتی وي.

د وینې ټوټه :ځکه چې جنین په ظاهري بڼه سره د یوه د وینو کلک شوي ټوټې ته ورته وي.

۳ .مُضغه:

" مضغه "مانا ژبېښل شوی شی یا ژوول شوی مواد .دا اشاره کوي د جنین پر بڼې، ځکه په دې پړاو کې د جنین بڼه لکه د ژوول شویو موادو وي، چې چیرته چیرته ژورې نښې لري، لکه د غاښونو د نښانو.

۴ .عظام (هډوکي) او غوښه:

بیا قرآن دا بیانوي چې دا مضغه په هډوکو بدله شوه، او بیا دغه هډوکو ته غوښه وروا غوستل شوه .د نني علم مطابق، دا همداسې مراحل لري، چې لومړی هډوکي جوړیږي، وروسته پرې عضلات او غوښه وده کوي.

۵ .خلقا آخر:

دا اشاره ده د جنین وروستي پړاو ته چې د روح ورکولو، حس، حرکت او ځانګړې انساني پېژندنې ته داخلیږي.

د عصري ساینس تایید:

په ۱۶۷۷م کال کې، ليوينهوک او هم د انسان د نطفې (سپرم) کشف وکړ، خو هغوی هم دا غلطه ګومان درلود چې پوره انسان کوچنی په سپرم کې وي، چې په رحم کې وده کوي.

پيغمبر محمد (ص) نه يوازې دا چې له داسې وسايلو بې‌برخې و، بلکې لوستی هم نه و؛ سره له دې، دا پړاوونه په داسې دقيقه بڼه بيان شوي، چې دا يوازې د هغه چا کلام کېدای شي چې انسان يې پيدا کړی وي.

د ساينسپوهانو ګواهي:

۱ .پروفېسور کيت مور:(Keith Moore)

د کاناډا د ترانتو پوهنتون د اناټومي استاد، چې د "The Developing Human" مشهور کتاب ليکوال دی، وايي:

"دا واضحه ده چې دا معلومات، چې يوازې له الله نه راتللی شي".

۲ .پروفېسور ای .مارشال جانسن:

د امبريولوژي امريکايي پوه وايي:

"دا د حيرانتيا وړ ده چې دا بيانونه څومره دقيق دي .د اميري انسان له خوا دا نامکنه ده".

۳ .پروفېسور فيرسودې:(F.V. Anwerswade)

د کاناډا د ماشومانو متخصص وايي:

"قرآن کريم د هډوکو او بیا د غوښې اغوستلو پړاوونه په خورا حيرانوونکې توګه بيان کړي دي".

د خالق ځواک:

الله ج فرمايي:

سورت الانفطار (۸۲:۷-۸)

۷ ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ

هغه (الله) چې ته يې پيدا کړې، نو برابر يې کړې، پس موزون يې کړې.

۸ فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ

په هر شان (کامل) صورت سره چې يې وغوښتل، ته يې پيوند کړې.

پايله:

دغه پړاوونه د قرآني اياتونو له مخې، د ساينس د پرمختګ نه زرګونه کاله مخکې په خورا تفصيل بيان شوي .دا د قرآن يو داسې معجزه ده چې هېڅ بله انساني منبع يې وضاحت نه شي کولی.



**د مورپه رحم کې پړاونه اوتیارې**

د مورپه رحم کې پړاونه اوتیارې :

قران وایـی چې ماشوم ددرې ګونو تیارو په پړاوونو کې پیداکېږی

خدای (ج) فرمایي:
(يَخۡلُقُكُمۡ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ خَلۡقٗا مِّنۢ بَعۡدِ خَلۡقٖ فِي ظُلُمَٰتٖ ثَلَٰثٖۚ)

«تاسو یـی پړاو په پړاو دمور په رحم کې پیداکړی په درې ګونو تیاروکې». الزمر ۶

درې ګونې تیارې یا(ظلمات ثلث) درشیم د ودې په بهیر کې عبارت دی له:

۱. دبطن یا نس په جوف کې تیاره

۲. درحم دننه تیاره

**۳. دماشوم دغشا په مېنځ کې تیاره**

ننیبیولوژی ښکاره کړه چي درشیم اوماشوم وده څه ډول چې په مبارک ایت کې یاده شوې په درې پوښونو کې کېږی .برسېره پردې پوهې جوته کړې چې هریو له هغو نه له درې پوړونو پوښونو نه

جوړشوی.د بطن یا نس پوښ دپوستکي، دپوستکي لاندې اوعضلو پوښونه دي.

**1.**درحم پوښ دبهرنی برخي دعضلاتی برخې اودرحم دکورنی برخی چې رشیم په کې ځای په ځای کېږی جوړشوی دی .هغه پوښ چې ماشوم درحم په مېنځ کې په کې ځای په ځای شوی هم درې پوړه لری چې د**Amnion** ، **Chorion**او **Decidua** په نومونو سره یادېږی .

برسېره پردې پورتنی آیت کولی شی درحم په مېنځ کې دژوندانه درې پړاونو ته اشاره ولری .

چې دغه درې پړاوونه عبارت دی له : دوه نیمي لومړنی اونی یا درشیم دجوړیدو نه مخکینی پړاو تر اتو اوونیو پوری درشیم پړاو، او بیا تر زیږیدنې پورې جنینی پړاو.

- ۱ درشیم نه مخکې پړاو : **embryonic-Pre** چې دزایګوټ په لومړی پړاو کې تقسیمېږی او د حجرو په یوه څانګه بدلېږی چې ځان درحم دیوال باندې نښلوي چې دا حجرې په تدریجي توګه درې پوړه

جوړوي.

- ۲ د رشیم پړاو: **Embryonic** دغه پړاو پېنځه نیمی اوونی وی چې انساج او د عضویت بېلابېل غړي په مېنځته راتلو پیل کوي.

- ۳ جنینی پړاو : **Foetal** وروسته له اتمې اوونی نه وي چې په بشپړه توګه دیوه انسان له شکل سره ورته وی په داسې حال کې چې لومړی سر کې یواځې درې سانتی متره اوږدوالی لري دغه پړاو تر

درې اوونیو پورې او د ولادت تروختته پورې دوام مومي.

دمور په نس کې د ماشوم د ودې په اړوند معلومات یوائې دمډرنو وسایلو له لارې په څېړونو امکان وموند خو قرآن کریم لکه نورې په سلګونه موضوع ګانې دغه معلومات هم ډیر وړاندې روښانه کړی.




**د ۴۲ ورځني جنین حیرانوونکی ابتکار**

حدیث علمي اعجاز

دا د ۴۲ ورځني جنین یو حقیقي انځور دی، چیرې چې د سترګو او غوږونو تشکیلات پیل شوي، د انسان بڼه یې اخیستې، او د پوستکي او هډوکو حجرات یې جوړیدو ته داخل شوي. دا حیرانوونکی حقیقت نبي کریم صلی الله علیه وسلم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د یوې معجزانه وینا په ترڅ کې بیان کړی و.

د نبوي حدیث حیرانوونکی اعجاز

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«إذا مَرَّ بالنُّطفةِ ثِنتانِ وأربعونَ ليلةً، بعَثَ اللَّهُ إليها مَلَكًا، فصوَّرَها، وخَلقَ سَمعَها وبصرَها وجلدَها ولَحمَها وعِظامَها...»

(کله چې د نطفې باندې دوه څلوېښتې شپې تیرې شي، الله تعالی یو فرښته ورلیږي، نو هغه یې ښه جوړوي، غوږونه، سترګې، پوستکی، غوښه، او هډوکي یې پیدا کوي...) (مسلم، حدیث ۲۶۴۵)

د ساینس او نبوي حدیث تطابق

په ۴۲ ورځو کې:

د سترګو او غوږونو جوړیدل شروع کیږي.

د پوستکي، غوښې، او هډوکو حجرات شکل اخلي.

جنین د انسان ښه خپلوي.

ساینسپوهانو دا حقیقت یوازې د پرمختللي التراساؤنډ **(Ultrasound)** ټکنالوژۍ په مرسته کشف کړی، مګر نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی و!

پایله

دا نبوي حدیث یو حیرانوونکی علمي اعجاز دی، چې د جنین وده په دقیقه توګه بیانوي. د دې معلوماتو یوازینی سرچینه د الله وحی ده، ځکه چې دا حقیقت د انساني وس څخه پورته و، او یوازې نن ساینس دا ثابته کړې. سبحان الله! څوک کولی شي داسې دقیق معلومات ورکړي، پرته له الله جل جلاله؟



## جنس تعين

قرآني آياتونه:

وَاَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُ

مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ۪ۙ

۵۳:۴۵-۴۶>بيشکه هغه (الله) پيداکړي يي دي جوړې نر او ښځه له يوه څاڅکی اوبو(مني) څخه کله چې وڅڅاوه شي په رحم (تمنی)کې <

تر تفصيل دمخا دا چې :ددې سورت په ۴۶م ايات کې الله (ج) د جنس القاح په اړه بحث کوي کوم چې د انسان ۴۶ کرومزومونه دي ۲۳ له مور څخه راځي او ۲۳ له پلار څخه راځي

اوس رازو تشريخ ته:

د (نطفه) عربي مانا ده د مايع يو لږ مقدار (تمنى)مانا ده انزال يا بهر کيدل نو نطفه اشاره و سپرم ته ده چې خريجيږي او جنس تعينوي.

بيا الله تعالى فرمايي:

اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِىٍّ يُّمْنٰى

ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوّٰى

فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُ

(ايا نه وو دى يو څاڅکى له منى نه چه تويولى شوه(په رحم کې) بيا شوه چکه وينه پس برابر کړو خداى دى)د اندامونو يى (پس وئ ګرځولو له ده نه جوړې دوه نر او ښځه) سورت القيمة ٣٩-٣٨

علمي توضيح:

علمي څېړنې ښيي چې د انسان د جنس تعين يوازې د نارينه د سپرم (مني) په وسيله کيږي، نه د ښځې د تخمې (اووم) .

قرآني اعجاز:

قرآن کريم دا حقيقت له ١۴ پيړيو مخکې بيان کړى چې انسان له نطفې پيدا شوى، او له همدغه منى نه جوړيږي دوه جنسونه :نر او ښځه.

دا ثرګندوي چې جنس د هماغه تويېدونکي منى له منځه ټاکل کيږي، او دا ساينسي حقايق د قران کريم سره ١٠٠٪ مطابقه ده.

نه يوازې دا، بلکې قرآن دا هم وايي چې نطفه تويېږي ("تمنى")، چې د نارينه د سپرم د انزال واقعيت ته اشاره ده، نه د ښځې د تخمې ثابت موقعيت ته.

د ذهنونو اصلاح:

تر اوسه هم په ډېرو کلتورونو کې ښځې د زوی یا لور د پيدايښت" پړه "ګڼل کېږي، خو ساينس او قرآن دواړه دا څرګندوي چې د جنس تعين د نارينه د سپرم د X يا Y کروموزوم پورې تړلی دی.

نو که يو کس تل لونې زېږوي، دا نه د مور" قصور "دی، نه د طبيعت ظلم، بلکې دا د الله د قضا مطابق د نطفې جوړښت دی.

پايله:

جنس د ماشوم له پلار څخه تعينيږي، د مور هېڅ نقش نه لري.

قرآن کريم دا حقيقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بيان کړی، چې د قرآن علمي اعجاز بله روښانه بېلګه ده.

دا بيانونه د قرآن الهي سرچينه ثابتوي، ځکه چې هغه ذات چې انسان يې پيدا کړی، هغه يې د تخليق رازونه هم ښه پېژني.



## د ژوند حجرې

الله تعالی فرمايي:

١ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ

ای پېغمبره، د خپل رب په نوم چې پيدا يې کړئ، ولوله] العلق **[96:1]** هغه انسانان له يوې ترلې ټوټې څخه پيدا کړل .العلق**[96:2]**

د التبيان په کتاب کې دا تشريح شوی چې عصري طب کشف کړې چې د انسان سپرم (مايع) کوچني حجرې لري چې سپرم نوميږي .حجرې په سترګو نه ليدونکي دي څکه چې دوی يوازې د مايکروسکوپ په واسطه سره ليدل کيدای شي .د سپرم هره حجره يو سر، کونډه او لکۍ لري چې د يو غټ وينه لرونکي کيټرپلر سره ورته وي .ملګرتيا يې هغه وخت رامنځته کيږي چې سپرم د ښځې له هګۍ سره ګډ شي .کله چې د ملن کولو پروسه کافي وي، د رحم خلاصول ترل کيږي ترڅو هيڅ شی د رحم کڅوړې ته ننوځي او نور سپرمونه حجرې مړې شي .هغه حجرې چې په عصري طب کې بيان شوي په سورة العلق کې د وينې ټوټې ته ويل شوي.



**نطفه**

دا حقیقت دی چې 1400 کاله وړاندې هېڅوک نه پوهېدل چې د نارینه میلیونونه سپرم حجرې **(sperms)** یوازې یوه سپرم حجره د ښځې له تخمې **(egg)** سره یوځای کېږي او د حمل سبب کېږي. په داسې حال کې چې دا حقیقت په وروستیو پېړیو کې د ساینس او مایکروسکوپي وسیلو په مرسته کشف شو، قرآنکریم له همدې راز نه د نطفې په اړه اشاره کړې ده.

په سورة الانسان، آیت 2 کې الله تعالی فرمایي:

إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا.

(بېشکه موږ انسان د نطفې له ګډ شوي څاڅکي څخه پیدا کړی دی، څو هغه و ازمایو، نو موږ هغه اورېدونکی او لیدونکی جوړ کړ.)

اَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّنْ مَّنِىٍّ يُّمْنٰى

ایا یوه نطفه له انزال شوی منی څخه نه وه ( القیامه ).۳۷

معجزه:

نطفه امشاج: دا اصطلاح د نارينه سپرم او ښځې د تخمې ګډوالي ته اشاره کوي، چې له دوی څخه يو نوی ژوند پيل کېږي.

قرآن په دې ټکي روښانه کوي چې يوازې يوه سپرم حجره له ښځې د تخمې سره يوځای کېږي، په داسې حال کې چې په مني کې ميليونونه سپرم حجرې شتون لري. دا حقيقت د انسان د مايکروسکوپي څېړنو په مرسته يوازې په وروستيو پېړيو کې څرګند شو.

ساينس څرنګه تصديق کوي؟

علمي څېړنو څرګنده کړې چې په هر ځل انزال کې شاوخوا ۵۰ ميليونه څخه تر ۱۵۰ ميليونه سپرم حجرې شتون لري، خو يوازې يوه سپرم حجره د ښځې له تخمې سره يوځای کېږي.

دا د دې خبرې څرګندونه کوي چې د نوي ژوند پيل د ډېر دقيق او ټاکلي ترتيب سره ترسره کېږي، کوم چې قرآنکريم وړاندې څرګند کړی دی.

پايله:

دا څرګنده کوي چې قرآنکريم د الله تعالی کلام دی چې د هغه علمي حقايق وړاندې کوي چې د وخت هېڅ انسان نه شوای درک کولای. دا يو بل لوی اعجاز ده چې د قرآن الهي سرچينه ثابتوي.




## د مني (سپرم) پیدایښت

د سپرم (مني) اعجاز :د تخلیق د رازونو پردهپورته کول

قرآني آیاتونه:

فَلْیَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ ۝

86-5نو انسان دې وګوري چې دی له څه شي نه پیدا کړی شوی دی؟

خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ ۝

86-6 دی له ټوپ وهونکو اوبو نه پیدا کړی شوی دی

یَّخْرُجُ مِنْ بَیْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ ۝

## 86-7  چې د شا او له سينو د هډوکو له مينځ نه راوځي

علمي توضيح:

د جنين په لومړيو پړاوونو کې د نارينه توليدي غُرُفې (خصيې) او د ښځينه تخمدانونه (Ovaries)اصلاً د بدن په لوړې برخه کې، د بډوډو شاته او د شا تېر (Spine) او د سينې د هډوکو ترمنځ جوړېږي.

دا توليدي غړي د جنين د ۱۱م بند او د ۱۲مې پښتۍ تر منځ موقعيت لري.

وروسته دا غړي خپل ټاکلي ځای ته حرکت کوي :

خصيې د نارينه جنين په بدن کې کښته کېږي او د زيرېډو مخکې د (Inguinal Canal) له لارې سکروټم (Scrotum) ته رسيږي.

د خصيو عصبي رشتې او د وينې شريانونه لا هم خپل اصل موقعيت (د شا او سينې تر منځ) ته نښلول شوي وي، حتی کله چې دا غړي کښته شي.

د ښځې تخمدانونه په خپل داخلي موقعيت (حوضPelvis – ) کې پاتې کېږي.

دا دقيق تشريح د قرآن کريم د آيت سره په کامل ډول مطابقت لري، چيرته چې ويل شوي:

"چې د ملا تېر او د سينې د هډوکو تر منځ راځي"

دا نه یوازې د" مني د راوتلو ځای "ته اشاره ده، بلکې د سپرم د اصل سرچینه او تشکیلي موقعیت ته یو علمي نغوته ده، چې یوازې اوسني طب یې له لارې رسېدلی دی.

قرآني اعجاز:

د دې آیت ژور تحلیل دا رابښيي چې قرآن نه یوازې د سپرم د فزیکي راوتلو مسیر ته اشاره کوي، بلکې د هغه د جنیني اصل او جوړېدو ځای ته هم، کوم چې د ساینس له نظره د ملا د تېر (Spine) او د سینې د هډوکو (Ribs) ترمنځ دی.

د حیرانتیا خبره دا ده چې دا حقیقتونه یوازې د معاصر Anatomy او Embryology له پرمختللو وسایلو سره کشف شوي، خو قرآن کریم دا خبره ۱۴ پېړۍ مخکې کړې ده!

منطقي پوښتنه:

څنګه کېدلای شي چې یو امي (نا لوستی) انسان، چې ۱۴۰۰ کاله مخکې یې ژوند کاوه، دا ډول ژور بیولوژیکي او جنیني معلومات وړاندې کړي وای؟

ځواب یواځې دا دی:

"دا قرآن د خالق له لوري وحی شوی، هغه ذات چې انسان یې پیدا کړی، او د ده تخلیقي رازونه ښه پېژني".

پایله:

قرآن کریم د انسان د خلقت په اړه داسې حقیقتونه بیان کړي چې ساینس یې یوازې اوس تاییدوي.

د" دافق ماء "او" بين الصلب و الترائب "تعبيرات د جنين‌پوهنې له دقيقو مرحلو سره حيرانوونکې مطابقت لري.

دا د قرآن د علمي اعجاز ښکاره ثبوت دی، او د اسلام حقانيت نور هم روښانه کوي.



د انسان DNA

الله جل جلاله فرمايي:

مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُ فَقَدَّرَهُ
"له يوې نطفې څخه يې پيدا کړ، بيا يې د هغه اندازه وټاکله".
(سورت عبس :١٩)

د آيت ساينسي اعجاز

د نطفې مفهوم

د" نطفې "ذکر د انسان د خلقت د اصلي مرحلې ته اشاره ده، چې د سپرم (نطفه) او هګۍ د یوځای کېدو سره پیلېږي.

"فَقَدَّرَهُ – "ټاکنه او تنظیم

دا کلمه د خلقت د دقیق پلان ته اشاره کوي، چې په ساینسي ژبه کې **DNA** بلل کېږي .دا هغه کوډ دی چې د انسان ټول فزیکي، فکري، او بیولوژیکي ځانګړتیاوې تنظیموي.

– **DNA** د انسان د خلقت کوډ

دقیق تنظیم :هر انسان شاوخوا 3.2 بیلیونه **DNA** حروف لري، چې د ژوند ټول معلومات پکې کوډ شوي دي.

نه تکراربېدونکی نظم :د هر انسان **DNA** ځانګړی دی، حتی دوه کسان یو شان نه دي.

کوچنی کوډ، لویه پایله :که د **DNA** ټول معلومات پر کاغذ ولیکل شي، نو زرګونه کتابونه به جوړ شي، خو دا ټول معلومات د یوه حجرې په یوه کوچني هسته کې ځای شوي دي!

قرآني اعجاز

دا آیت هغه حقیقت ته اشاره کوي چې ساینس یوازې په وروستیو پېړیو کې کشف کړ .د "نطفې "ذکر د ژنیتیک اصل ته اشاره کوي، او" فَقَدَّرَهُ "د **DNA** د دقیق تنظیم حقیقت بیانوي .دا د قران یو روښانه اعجاز دی، چې د انساني خلقت د حیرانوونکي سیستم وضاحت کوي.




**د اورید و او لیدو حس**

قرآني آيتونه:

خدای (ج) په قرآن شریف کې فرمايي

«وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ»

۳۲:۹« او ويې ګرځول تاسې ته غوږونه او سترګې او
زړونه...»

« اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ ۖۗ نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۚ»

76-2« بېشکه مونږ انسان له ګډې وډې شوې نطفې نه پیدا کړی دی، چې مونږ به دی ازمایو، نو دی مونږ اورېدونکی (او) لیدونکی وګرځاوه »

«قُلْ هُوَ الَّذِىْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۗ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝»

67-23«ته (دوی ته) ووایه :دغه (الله) هغه ذات دی چې تاسو یې پیدا کړي یئ او تاسو لپاره یې غوږونه او سترګې او زړونه پیدا کړي دي (خو) تاسو ډېر لږ شکر وباسئ»

علمي توضیح:

د انساني جنین په وده کې تر ټولو لومړی حس چې فعاله کیږي د اورېدلو حس دی .ساینسي څېړنې ښیي چې:

د ۲۴ اونۍ وروسته جنین د مور په رحم کې د غږونو اورېدل پیلوي.

هغه د مور زړه درزا، د مور آواز، او حتی له بهر نه راتلونکي لوړ غږونه درک کولی شي.

د لیدلو حس بیا د ۲۸ اونۍ وروسته وده کوي، کله چې د سترګو پردې (Retina) د رڼا په وړاندې غبرګون ښیي.

دا په حیرانوونکې توګه د قرآن کریم له ترتیب سره سمون لري، چیرې چې تل" السمع " (اورېدنه) د" البصر "(لیدنه) نه وړاندې یادیږي.

ولې اورېدنه وړاندې فعاله کیږي؟

د ساينس له نظره:

د غوږ داخلي جوړښت له لومړيو جوړېدونکو حسونو څخه دی.

غږ د مایع له لارې هم انتقالیږي، نو حتی د رحم دننه هم اورېدل امکان لري.

لید د رڼا اړتیا لري، چې رحم کې نشته، نو وده‌یې وروسته کیږي.

قرآني اعجاز:

د قرآن کريم دا ژور نظم چې تل اورېدنه د ليدنې نه وړاندې راځي، د دقيقې فطرتي ترتيب او علمي واقعيت پوره انکشاف کوي .د داسې ترتيب شتون د وحی د اصل څرګند ثبوت دی.

دا آيتونه، چې ۱۴ پېړۍ وړاندې نازل شوي، نن د ۲۱مې پېړۍ د جنين پوهنې (Embryology)د حيرانتيا وړ کشفونه تاييدوي.

پايله:

د انسان حواس، چې د ژوند بنسټ جوړوي، په تدريجي ډول وده کوي.

د قرآن ترتيب له دې طبيعي بهير سره بشپړ مطابقت لري.

دا د قرآن د علمي اعجاز يوه ښکاره بېلګه ده، چې انسان ته د الله جل جلاله پر حکمت او قدرت د ايمان سبب ګرځي.




«د عجبِ ذنب هډوکی «**Tail bone**

په تصویر کې د انسان د ملا په تیر کې هغه اخېرني هډوکي ته اشاره شوې، چې په حدیث کې ورته (عجبِ ذنب) او د طبي ساینس په اصطلاح کې ورته ټیل بون (**Tail bone**) ویل کیږي. د ساینس په وینا: که د انسان مرگ په هر حالت کې وشي، که په اور کې وسوځول شي، که په اوبو کې غرق شي او ولو که په ځمکه کې له خاورو سره خاورې شي، لاکن د هر انسان په ملا کې د دغه (عجب ذنب) هډوکی جینیاتي وجود، تر لکونو او ملیونو کاله پورې هم نه خاورې کېږي او نه ضایع کېږي.

نوي ساینس پخپل تحقیق کې زیاتوي، چې د انسان د ملا په دغه هډوکي کې عجیب حکمت دا دی، چې: دغه هډوکی د انسان په وجود کې د میموري کارډ یا (توربکس) غوندې فعالیت لري،

یانې په دغه هډوکي کې د انساني تخلیق رازونه

**(DNA)**

قد و قامت، وزن، د خلیاتو تعداد، د وینې گروپ او حتٰی چې د گوتو تر نښانو پورې مکمل تفصیلات الله جل جلاله په دغه (عجبِ ذنب) هډوکي کې ساتلي دي. ځکه په قرآن او حدیث

کې له دغه هډوکي څخه د قيامت په ورځ بيرته د انساني نسل ژوند، تخليق او تکميل ته اشاره شوې ده.

الحديث

رسول الله (ص) فرمايي : كُلُّ اِبْنِ آدَمْ يَا كُلُهُ التُّرَابْ اِلَّا عَجْبِ ذَنَبِ مِنْهُ خَلْق وَفِيْهِ يَرْكَبُ o

ژباړه : ټول د آدم اولاده به له خاورو سره خاورى شي، پرته د (( عجب ذنب هډوکي)) انسان له هغه څخه تخليق شوى او بيا به هم تخليق کيږي ( د قيامت په ورځ)

حديثِ صحيح مسلم ۷۶۰۴ :

(راوى : حضرتِ ابو هريره رضى الله عنه)



**د انسان د هډوکو باندونه**

د حيرانتيا خبره دا ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د بدن د غړو شمېر دومره په دقيق ډول ذکر کړى، په داسې وخت کې چې هيچا د انسان د اناټومي په اړه فکر نه کاوه. حتى اوس په 21 پيړۍ کې، ډيرى خلک لاهم د خپلو بدنونو د غړو په شمير نه پوهيږي، په شمول د ارتوپيډيک ډيراى پروفيسوران. ما له دوى څخه ډيرى وپوښتل، او د دوى ځواب د 200 څخه تر 300 هډوکو، او شاوخوا 100-300 بندونو ترمنځ و. په ورته ډول، ډيرى نړيوال

پوهنځي په لويو ګروپونو يا فرعي ويشونو کې د طبقه بندي کولو له لارې د انسان کنکال(سکلټ) د هډوکو او بندونو دقيق شمير ورکولو څخه ډډه کوي.

انسائيکلوپيډيا بريټانيکا **(Encyclopedia Britannica)** دوی په دريو فرعي برخو ويشلي دي:

1- محوري **(Axial)**سکېلټون: کوم چې د فقري**(vertebral)**کالم هډوکي او کوپړۍ ډيرى هډوکي لري.

2- دواهم **Visceral Skeleton:**کوم چې د (سينې هډوکي او پښتۍ)، ښکته ژامه او د پورتنۍ ژامې ځينې برخې لري.

3- ضميمه کنکال: کوم چې د کون غېږ د کمر، اوږو او غړو هډوکو څخه جوړ دی.

د هاچينسن انسايکلوپيډيا، چې په 1995 کې خپره شوې، په خپله وينا کی وويل چې د انسان په کنکال کې د هډوکو شمير يوازې 206 دي.

ډاکټر حاميد احمد حاميد هغه په خپل کتاب "د انسان په بدن کې د ايمان سفر" کې يادونه کړې چې د انسان د هاډوکو بندونه 360 دی لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم 1400 کاله دمخه د انسان د هډوکو بندونو وړاندوينه ډيره په داقيق ډول کړی. د ډاکټر حاميد په وينا د دغو هډوکو جزيات په لاندې ډول دي:

انسان په بدن کې د هاډوکو باندونه

لومړی: د فقرات په ستون کې 147 جوړې

25 جوړې د **vertebrae** تر منځ بندونه.

72 بندونه د فقرات او د شا د غاړې تر منځ.

دوهم: په سينې کې 24 جوړې

2 بندونه د سټرنم هډوکي او د سينې پنجرې تر مينځ.
18 بندونه د **sternum** او فسونو تر منځ .
2 بندونه د ملاحظه او د سکپولا (اوږو تيغ).
2 بندونه د **scapulae** او **thorax** ترمنځ .

دريم: په پورتنۍ برخه کې 86 بندونه
د اسکاپولر هډوکو ترمنځ 2 بندونه.
6 بندونه د زنګنو تر منځ.
8 بندونه د لاسونو تر منځ .
د لاس د هډوکو تر منځ 70 بندونه.

څلورم: په لاندينۍ برخه کې 92 جوړې

2 د کولمو بندونه.
د زنګون د هډوکو تر منځ 6 بندونه.
د پښو تر منځ 6 بندونه.
د پښو د هډوکو ترمنځ 74 بندونه.

پنځم: په شريان کې 11 جوړې

د **coccyx vertebrae** ترمنځ 4 بندونه.
د هډوکو تر منځ 6 بندونه.

د **acetabul 1** د پبیک **sumphysis** ګډ بند.

"د بندونو ټول شمیر: 360"

عایشه رضی الله عنها روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هر څوک له درې سوه او شپیتو بندونو پیدا شوی دی، څوک چې د الله اکبر ذکر وکړي، د الله سبحانه وتعالی ذکر وکړي، د الله سبحانه وتعالی حمد ووایی، له الله تعالی څخه ښښنه وغواړي او د خلکو له لارې ډبرې لیرې کړي، د نیکو امر وکړي او له بدو کارونو منع وکړي. . نو د درې سوه شپیتو بندونو د اندازې په کچه به د قیامت په ورځ د جهنم د اور څخه لیری قدم وهي." صحیح مسلم 1007. د زکات کتاب (کتاب الزکات)، کتاب 005، 2199 ګڼه"

هغه بندونه چې په حدیث کې ذکر شوي، د انسان په بدن کې د حرکت وړ بندونه دي چې د فقري ستون ته وړتیا ورکوي او په دې توګه ټول بدن په آزاده توګه حرکت کوي. غیر منقول بندونه، لکه څنګه چې د کوپړۍ هډوکي سره یوځای کیږي، هغه دلته نه شمیرل کیږي ځکه چې د حرکت وړ ندی. حرکت کوونکی د " **"Synovial Joints**په نوم هم پیژندل کیږي، ځکه چې دوی یو مایع لري چې د " **"Synonvial fluid**په نوم پیژندل کیږي. دا مایع د مستقیم تماس په کمولو سره د هډوکو له رګونو څخه پاک حرکت ته اجازه ورکوي. د مثال په توګه، د هپ مشترکه، د فیمر د بال په څیر سر څخه جوړ شوی چې د ساکټ په څیر د **pelvis**هډوکي فشار سره سمون لري، د هپ او د ټولې پښې حرکتونه اسانه او انعطاف وړ کوي. بله بیلګه د هینج مشترکه ده، کوم چې انسان ته دا توان ورکوي چې په اسانۍ سره خپله پښه وخوري.

د بندونو بل ډول د "د ګلیډینګ" په نوم یادیږي لکه د رادیو کارپل (ملی) ګډ(بند) . په دې ګډ بند کې، د مخ د هډوکي سطحې په ډیری مواردو کې فلیټ (جامید) دي، چې هډوکي ته اجازه ورکوي چې په آزاده توګه په ځو لورو کې حرکت وکړي. د دوو پورتنیو فقرو تر منځ ګډ یو ځانګړی جوړښت لري. دا د سر د غړې حرکت ته اجازه ورکوي، د یوې فقرې د بال په څیر د سر د ګردش له لارې د ساکټ په څیر د ملا د بند فشار ته ځامینا برابراوي . که د الله جل جلاله دا راکړی بندونه نه وی، نو انسان به په خپل بدن کې د هډوکو د حرکت توان نه درلود. په یو ګډ(بند) کې نیمګړتیا د ډیرو دردونو او ستونزو لامل کیږي.

له بریده بن الحسیب رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: د انسان درې سوه شپیته بندونه دي چې هر یو یې باید صدقه ورکړي، خلکو ترې وپوښتل: څوک د دې کار توان لري؟

ویی فرمایل : کېدای شي په جومات کې بلغم (میرخیړی) وي کوم چې تاسو ښخ کړی او یا هغه څه چې له سړکه (لارې) لرې کړی؛ خو که داسې ونه مومی نو د ماسپښین دوه رکعته به درته کافي وي. (سنن ابوداود، عام سلوک )کتاب الادب(، کتاب 41، شمیره 5222)"

ابوذر رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په هر سهار کې ستاسو څخه د هر چا په بندونو کې صدقه ده، هر تسبیح (سبحان الله ) ویل صدقه ده، هر تحمید (الحمد لله) ویل صدقه ده. د الله لپاره) صدقه ده، هر تحلیل (لا اله الا الله) ویل، صدقه ده، هر تکبیر (الله اکبر ویل) صدقه ده، د بدو څخه منع کول صدقه ده ، که څه هم دا صداقه اجرا کړی نو دوه رکعته دوعا(لمونځ) کول ورلره کافي دي."

په خدیث کی د (سلما) لفظ راغلی په عربي کې د "سلما" کلمه ګډ (بند) ته اشاره کوي. دا د بدن د ټولو هډوکو او د هغوی تر منځ د بندونو لپاره هم کارول کیدی شي. د بدن ډیری هډوکي د حرکت وړ دي، مګر ځینې یې د کوپړۍ په څیر ثابت دي.

نوټ: تاسو کولی شئ چی په ګوګل کی په لویو طبي ویبسایټونو کې یی ښه په ډاډه زړه معالومات وکړئ،

د ویبسایټونو حوالې لاندې درکړل شوي ویي ګورئ:

□□□□□

حوالې:

**https://pmc.ncbi.nlm.nih.gov/articles/PMC10181577/**

□□□□□

**https://www.vedantu.com/evs/joints-in-human-body**

سبحان الله الله اکبر

نو آیا ددې څخه لویه معجزه غواړئ دا څومره د تعجب خبره ده چې ۱۴۰۰ کاله پخوا یو سړئ په یوه سحره کی چی په لیک او لوست ونه پوهیږي هغه ته بیا داسې څه درک څنګه وشي او ددې خبرې کول هغه (ص) ته په هغه وخت کی هیڅ ګټه هم نه کوله،

د حدیث تفسیر

حدیث په واضح ډول مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې د الله تعالی شکر وباسي، کوم چې انسان ته د یو مستقیم کنکال(سکلټ) په ورکولو سره، په نورو ټولو مخلوقاتو کې عزت او لوړ مقام ورکوي. دا بندونه انسان ته دا توان ورکوي چې ودریږي، کښیني، په خپل څنګ تاو شی، کږ شي، اوږد شي، او داسې نور. د خپل خالق څخه ډیر شکر، د دې ستر نعمت لپاره، چې پرته یې ژوند ناشونی و.



**د رسول الله ص د زړه عملیات**

څوارلسوه ۱۴۰۰ کاله دمخه دا خبره ډیره د تعجب وړ خبره وه او د هغې زمانې کوفارو ته د نه منلو وړ خبره ښکاریده چې د رسول ص سینه د څیري شي او زړه د یي ترینه بهر راوباسل شي او بیرته د سینه کې دفن شي یعنې د زړه عملیات یي وشي.

مګر اوسنۍ معاصر طب دا په اثباتو ورسوله

چې د زړه عملیات د په بریالیتوب سره ترسره کړي.

او اوس د زړه عملیات په عامه توګه ترسره کیږي.

د شق صدر (د سینه پرانستل) او د پاک زړه مینځلو پېښه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټول عمر کې څلور ځله پېښه شوې ده.

سیرت المصطفی د حضرت مولانا ادریس کاندهلوي، ټوک ۱، ۸۰ مخ، فصل: شق صدر کی اسرار). الله (سبحان الله) ښه پوهیږي دار الافتا دار العلوم دیوبند، هند

حَدَّثَنَا شَيْبَانُ بْنُ فَرُّوخَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَتَاهُ جِبْرِيلُ صلى الله عليه وسلم وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَهُ فَصَرَعَهُ فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ فَاسْتَخْرَجَ الْقَلْبَ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً فَقَالَ هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ . ثُمَّ غَسَلَهُ فِي طَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ لأَمَهُ ثُمَّ أَعَادَهُ فِي مَكَانِهِ وَجَاءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلَى أُمِّهِ - يَعْنِي ظِئْرَهُ - فَقَالُوا إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ . فَاسْتَقْبَلُوهُ وَهُوَ مُنْتَقَعُ اللَّوْنِ . قَالَ أَنَسٌ وَقَدْ كُنْتُ أَرَى أَثَرَ ذَلِكَ الْمِخْيَطِ فِي صَدْرِهِ . صحيح مسلم ۱۶۲

انس ب. مالک رضی الله عنه وایي چې جبرائیل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په داسې حال کې راغی چې له خپلو ملګرو سره يې لوبې کولې. هغه يې ونیوه او په ځمکه يې څملوه او سینه يې خلاصه کړه او زړه يې ترې راوایستل او بیا يې د هغه څخه د وینې یوه ټوټه راوایسته او ویې ویل: دا په تا کې د شیطان برخه وه. بیا يې د زمزم په اوبو سره د سرو زرو په حوض کې ومینځل او بیا يې سره یو ځای کړو او بیرته يې سینه وروګنډله او بیا يې ځای ته ورساوه. هلکان په منډه د هغه مور ته راغلل، **i. e.**ورته يې وویل: بیشکه محمد وژل شوی دی. انس رضی الله عنه وویل، دوی ټول د هغه په لور ورغلل (او هغه يې سم ومونډلو) د هغه رنګ بدل شو. ما پخپله د هغه په سینه کې د ستنې نښې ولیدلې.

دوهمه د اسراء په شپه وشوه. له ابوذر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما د کور چت هغه وخت خلاص شو چې زه په مکه مکرمه کې وم او جبرائیل علیه السلام لاندې راغی. او زما سینه يې خلاصه کړه، بیا يې د زمزم په اوبو ومینځله. بیا يې د عقل او ایمان څخه ډک د سرو زرو کڅوړه راوړه او زما په سینه کې يې خالي کړه. بیا يې مهر ورکړ یعنی ویې ګنډله ... " صحیح بخاري (۳۴۹) او حدیث مسلم (۱۶۳) روایت کړی. حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري (۷/ ۲۰۴) کې ویلي دي.

هرې پيښې جلا جلا لګښت درلود. د لومړي ځل لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم سینه هغه وخت وره شوه کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت حليمه رضي الله عنها سره اوسېده. ، او يو تياره ټوټه يې له سينې مبارکې را ايستل شوه چې په حقيقت کې د ګناه ماده وه چې له هغې څخه مقدس زړه پاک شوی و. دوهم ځل دا په لس کلنۍ کې پيښ شو. له دې څخه موخه دا وه چې د لوبې او تفريح مواد له مينځه يوسي ځکه چې دا د الله تعالی له ياد څخه غافل کوي. دريم ځل هغه وخت وشو چې د نبوت دنده ورته وسپارل شوه. دا په هغه وخت کې ترسره شو چې سپيځلی زړه د وحی او الهي پوهې د منلو وړ وي. او څلورم ځل د معراج (آسماني سفر) په جريان کې پيښ شو. دا د دې لپاره ترسره شو چې زړه د عالم ملکوت (د پاچاهۍ) سفر او د الله جل جلاله د ليدلو او د هغه د سندرو او د الله جل جلاله دعا او خبرې اترې ومني. (له لنډيز: سيرت المصطفی د حضرت مولانا ادريس کاندهلوي، ټوک ۱، ۸۰ مخ، فصل: شق صدر کی اسرار). الله (سبحان الله) بنه پوهيږي دارالافتا دارالعلوم ديوبند، هند



## ګرځنده "موبایل"

### د ټیکنالوجۍ په اړه د رسول الله (ص) اعجاز

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی! قيامت به تر هغه وخته نه قائميږي تر څو چې ښکاريان له خلکو سره خبري ونه کړي او تر هغه وخته پوري چې د سړي د څټکي او د بوټانو تړانګه ورسره خبري ونه کړي او ورون يې له هغه وروسته خبر نه کړي چې د هغه له کورنۍ سره د هغه وروسته څه شوي دي.»

دا وړاندوينه زموږ د وخت لپاره د ورځې د رڼا په څير روښانه ده ځکه چې موږ د غږ معاون سيسټمونه لکه سرى او جى پى ايس ګورو، او سافټويرونه چې زموږ د ګرځنده تليفونونو او وسيلو له لارې راسره خبرې کوي ، د موټر چلولو په حرکت کې راسره مرسته کوي او حتی د ټايپ کولو پرته آنلاين معلومات چمتو کوي. هغه بوټان چې خبرې کوي هم يو حقيقت شو وروسته له دې چې ګوګل خپل سمارټ بوټونه د ګوګل خبرې کولو بوټانو په نوم جوړ کړل. په حيرانتيا سره رسول الله صلى الله عليه وسلم يوازې د بوټانو د ويلو يادونه نه ده کړې، هغه په ځانګړې توګه د "د سينډل سټپس" يادونه کړې او هغه چپ چې اړيکه نيسي د بوټانو د ليز ساحه پورې تړلې ده. لکه د حديث د يوې برخې په اړه چې "د انسان ورون هغه ته خبر ورکوي چې له هغه وروسته د هغه کورنۍ ته څه پيښيږي" معنى چې زموږ له کوره

وټلو وروسته به خلک پوه شي چې د دوی په عیاب کې څه تیریږي. دا "ورون" په ښکاره ډول هغه څه دي چې موږ یې د ګرځنده تلیفون وسیله بولو چې تاسو خبر ساتي او د نوي پرمختګونو لکه وټساف او سکایپ سره ، تاسو حتی د کور څخه لرې د خبرو کولو پرمهال خپله کورنۍ هم لیدلی شئ. دا باید هیر نکړو چې موږ معمولا موبایل په خپل مخکینۍ جیب کې د ورون تر څنګ کېږدو او دا هغه څه دي چې ډیرای احتمال یې د "ورانه خبرتیا" معنی لري.

سبحان الله

حوالې:

جامع ترمذي 2181

د احمد (11809) او الحاکم (8442) لخوا راټول شوی چې د صحیح مسلم د معیارونو سره سم یې تصدیق کړی، او ذهبی متفق دی؛ البانی هم په السلسلة الصحیحة (۷۰۸۳) کې تصدیق کړی دی.




## **Portable Music Players &** Headphones

د ټیکنالوجۍ په اړه د رسول الله (ص) وړاندوینې:

## "Portable Music Players & Headphones"

په یوه حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "زما د امت خلک به شراب څښي، په بل نوم به یو بل ته غږ کوي، د موسیقۍ وسایل به یې په سرونو کې غږول کیږي او سندرغاړي به ددوی لپاره سندرې وایی، الله تعالی به دوی په ځمکه کې تیر کړي. او الله به دوی به په بیزوګانو او خنزیرانو بدل کړي"» سنن ابن ماجه 4020

[۳] د شمالي امریکا مشهور اسلامي عالم او د زیتونا انسټیټیوټ مشر شیخ حمزه یوسف په خپل لیکچر کې وایي چې د حدیث عربي کلمه "يُعْزَفُ عَلَى رُءُوسِهِمْ بِالْمَعَازِفِ وَالْمُغَنِّيَاتِ" - داسې ژباړل کیدی شي چې د موسیقۍ وسایل به د دوی په سرونو کې غږول کیږي" ددې ترجیح دې ته دی چې د ډیجیټل موسیقی به د قدم وهلو په جریان کې پر لارو غږوي . د واک مین، سي ډي چې لکه **iPod**ته وده ورکړه. ښکاره ده چې هغه کسان چې د داسې وسایلو په وسیله موسیقۍ ته غاړه کیږدي، زړونه یې د حق او باطل په اړه فکر نه کوي، دوی د څارویو په څیر غافل کیږي چې یوازې د خپلو فوري غوښتنو په اړه فکر کوي.

د پوهیدو لپاره چې الله تعالی دوی په "خنزیر او بیزوګانو" بدلوي ، مهرباني وکړئ مراجعه وکړئ - د زید شا ځواب ته چې ولې خدای د سبات ماتونکي په بیزوګانو او خنزیرانو بدل کړل؟



**لوډ سپیکر**

د ټیکناولجۍ په اړه د رسول الله (ص) وړاندوینې:

لوډ سپیکر یا میکروفون

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "په جوماتونو کې به غږونه لوړ شي." [2]

د عصري ټیکنالوژۍ او د لوډ سپیکرونو په معرفي کولو سره دا وړاندوینه په شلمه پیړۍ کې سمه شوه. خو علماء دا هم وايي چې دا په جوماتونو کې هغه لانجې او شخړو ته اشاره کوي چې د مسلمانانو تر منځ د تفرقې له امله رامنځته کېږي، دا هم سم ښکاري. او په اوسني عصر کې د لوډ سپیکر څخه په ټوله نړۍ استفاده کیږي.

او الله ښه پوهیږي.

جامع ترمذي ۲۲۱۱ د کتاب دننه حواله: کتاب 33، حدیث 54



**عصري الوتکې او د بادل کښت**

د ټيکناولجۍ په اړه د رسول الله (ص) وړاندوينې:

عصري الوتکې او د بادل کښت

 رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:" دجال په اخري زمانه کې هغه وخت راښکاره کيږي چې دين ته سپکاوی وشي. هغه به څلوېښت ورځې ولري چې په ټوله ځمکه کې سفر وکړي. په دې ورځو کې يوه به د کال په څير وي، بله به د مياشتې په څير وي، دريمه به د اونۍ په څير وي او پاتې نور به د عادي ورځو په څير وي. هغه به په خره سپور وي؛ د غوږونو تر منځ به يې څلوېښت سانتي پلنوالی وي. هغه به خلکو ته ووايي: زه ستاسو رب يم "[6]

په بل روايت کې راغلي چې صحابه کرامو پوښتنه وکړه: موږ پوښتنه وکړه چې يا رسول الله صلی الله علیه وسلم دجال به څومره ژر پر ځمکه وګرځي؟ هغه وفرمايل: د باد په څير هغه به خلکو ته ورشي او (د باطل دين ته) به يې واړوي، او هغوی به په هغه باندې ايمان راوړي او هغه به اسمان ته امر وکړي باران به وشي او ځمکې ته به امر وکړی حاصلات به ورکړي.» 2937 سحيح مسلم

دا په بشپړه توګه څرګنده ده چې د دجال "خره" باید د عصري الوتکې حواله وي. که موږ دا حقیقت ومنو چې دا "خره" دا ډول الوتکې ته اشاره کوي نو د "غوږونو" تر مینځ "څلویښت سانتي" فاصله باید د الوتکې وزرونو ته اشاره وي چې یو له بل څخه خورا پراخه وي ،دا یوه اړتیاده د الوتکی د الوتنې لپاره. په زړه پورې خبره دا ده چې په هغه وخت کې د اوښانو او حتی آسونو شتون سره سره، رسول الله صلی الله علیه وسلم په مثال کې د دجال د سوارلۍ لپاره خره یادونه کړې. د دې دلیل روښانه کیږي که چیرې یو څوک د آسونو او اوښانو سره پرتله کولو کې د خرو ځانګړتیاوې وګوري

قرآن كريم د تاريخ، علم او الهي وحى يوه نه ستړې كېدونكې خزانه ده .د قرآن اعجاز نه يوازې د علمي حقايقو په بيان كې دى، بلكې تاريخي موندنې هم د قرآن د كرهوالي ګواهي وركوي .يوه له دې نه هېرېدونكو معجزو د هامان ذكر دى، چې قرآن كريم هغه د فرعون يو نږدې ملګرى معرفي كړى، خو د يهودي او عيسوي متونو له مخې دا نوم د موسى عليه السلام د زمانې پر ځاى د فارس د پاچا سره تړلى دى .دا د اسلام مخالفينو ته د نيوكې يو ځاى و، خو د مصر د لرغوني خط (هيروغليف) كشف او د روزيتا ډبرې لوستل دا حقيقت افشا كړ چې هامان په واقعيت كې د فرعون د معمارۍ چارو مسؤول و.

قرآني يادونه - هامان څوک و؟

قرآن کريم څو ځله د هامان نوم د فرعون د نږدې کسانو په توګه ياد کړی، لکه:

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَل لِّي صَرْحًا لَّعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَىٰ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ

ژباړه" :او فرعون وويل :ای زما درباريانو !زه له ځان پرته بل معبود نه پېژنم، نو ای هامانه !پر خټه اور بل کړه او ما ته يو لوړ برج جوړ کړه، شايد زه د موسی خدای ته ورسېږم، او زه خامخا هغه دروغجن ګڼم "(القصص**38 :)**.

په دې آيت کې څو مهم ټکي دي:

فرعون خپل ځان د خدای په توګه معرفي کوي.

هامان ته د برج جوړولو حکم ورکوي.

د خټې او اور ذکر کېږي، چې د مصر د ښنتو جوړولو مهم تخنيک و.

په تورات او انجيل کې د موسی عليه‌السلام د زمانې په اړه د هامان نوم نه‌دی ذکر شوی، خو د بابل د يوه پاچا د وزير په توګه د زر کلونو وروسته پيدا کېږي .دا د اسلام مخالفينو ته يوه نيوکه وه، تر هغه چې د مصر د لرغونو متونو کشف دا ادعا ناسمه وښوده.

تاريخي موندنې - د هيروغليف ليک کشف

د هامان نوم په تورات کې نشته، خو په ۱۹ ميلادي پېړۍ کې د مصر د لرغونو کتيبو **(Hieroglyphs)**ترجمه پيل شوه، چې د ژان فرانسوا شامپوليون ( **Jean-François**

**Champollion**) لخوا ترسره شوه .وروسته، د لرغونو مصري کتیبو د اسنادو له مخې، "هامان "د فرعون د معمارۍ د چارو مشر و.

دا یو حیرانوونکی قرآني اعجاز دی، ځکه چې قرآن کریم په داسې یو وخت کې د" هامان " دنده د ودانیو جوړولو سره تړي، چې تر ۱۹ میلادي پېړۍ پورې د هیڅ یو کتاب له لارې نه وه ثابته شوې!

تر ۱۸مې پېړۍ پورې، د مصر لرغوني هیروغلیف لیک د هېچا لپاره د لوستلو وړ نه و . په ۱۷۹۹م کې د" روزیتا ډبره "کشف شوه، چې د درې مختلفو ژبو (هیروغلیف، دیوټیک، یوناني) لیکنې پرې کښل شوې وې .دا ډبره د لرغونپوهانو لپاره یوه ستره بریا وه، ځکه چې د یوناني ژبې پر اساس د هیروغلیف د معنا معلومول ممکن شول.

په همدې لرغونو لیکنو کې د" هامان "نوم وموندل شو، چې د فرعون د معمارۍ د چارو مسؤول و.

دا کتیبه، چې اوس د ویانا د هوف موزیم کې ساتل کېږي، ښیي چې هامان په واقعي توګه د فرعون د واکمنۍ پر مهال یو مهم شخص و، او د معمارۍ او ښتو جوړولو مسؤلیت ورسپارل شوی و.

د هامان مسؤولیت دا و چې دا برج جوړ کړي، او دا د هغه دنده وه، لکه څنګه چې د هیروغلیف لیکنو هم تائید کړه.

قرآني اعجاز - قرآن څنګه د هامان ریښتینی هویت بیان کړی؟

په تورات کې د هامان یادونه نشته، خو قرآن د هغه نوم د فرعون د نږدې ملګري په توګه ذکر کړی.

قرآن وایي چې هامان د برج جوړولو مسؤول و، او دا معلومات د مصر د لرغوني خط له کشف وروسته تایید شول.

د هامان نوم د روزیتا ډبرې له کشف وروسته، د مصر په کتیبو کې وموندل شو.

قرآن د ختو او اور ذکر کړی، چې دا د مصر د معماري تخنیک و، او دا معلومات د قرآن له نزول ۱۲۰۰ کاله وروسته کشف شول.

پایله - قرآن د تاریخ ریښتینی کتاب دی

دا موضوع ښکاره کوي چې قرآن د وحی کتاب دی، نه د انسان د لاس جوړ شوی اثر .
هیڅوک ۱۴۰۰ کاله وړاندې نه پوهېده چې هامان د مصر د معمارۍ چارو مسؤول و، خو قرآن کریم دا حقیقت بیان کړی و.

قرآن نه یوازې د دین، اخلاقو، او توحید کتاب دی، بلکې د تاریخي، علمي او لرغون پوهنیزو معجزو خزانه هم ده .د هامان کیسه د دې یو ژوندی ثبوت دی.

"سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ"

ژباړه" :موږ به دوی ته خپلې نښې په افاق کې او په خپلو ځانونو کې وروښیو، تر څو ورته جوته شي چې دا قرآن (حق دی) ".فصلت(53 :)



**د فرعون جرسه**

ډاکټر_موریس_بوکایل_اسلام ته_سفر ډاکټر موریس بوکایل چې خورا مشهور ساینس پوه و، هغه د فرعون د مړینې په اړه د څیړنې لپاره وټاکل شو، ترڅو د هغه د مړینې لامل ومومي، تر تحقیق مخکې هغه عیسوی و، او په بایبل کې ویل شوي چې فرعون ډوب شوی نه و، هغه په خپله مړ شو، خو کله چې ډاکټر موریس بوکایل تحقیق وکړ په بدن یې د سمندر مالګه کشف شوه .دا ښکاره ثبوت دی چې فرعون غرق شوی دی د تحقیق په جریان کې یو چا ډاکټر ته وویل چې د مسلمانانو په قرآن کې د فرعون په اړه یادونه شوې ده،) القرآن جلد **10**،ایات**90 ، 92**

خدای ج فرمایي :

"او موږ بني اسرائیل د بحر څخه تېر کړل، نو فرعون له خپلو لښکرو سره په دوی پاسې راورسیدلو په سرکشی او په ظلم سره ،تر دې چې کله ونیلو غرق والي، پس ویې ویل هغه : چې نشته بل معبود مګر همغه دی چې بني اسرائیلو پرې ایمان راوړی دی .او زه یو له مسلمانانو څخه یم (۹۰) ایا اوس د ایمان راوړو په داسې حال کې چې ته مخکې له ایمان څخه انکار کړی و او ته له فاسقانو څخه وې (۹۱) نو نن ورځ موږ ستا په بدن کې تا ته نجات ورکوو، د دې لپاره چې ته د هغو کسانو لپاره چې له تا وروسته دي یوه نښه شې، او بېشکه ډېر خلك زموږ له نښو څخه غافل دي "(۹۲)

نو کله چې ډاکټر موریس بوکایل دا خبره واوریده نو حیران شو او ویې ویل چې قرآن کریم د فرعون تر مړینې دوه زره کاله وروسته نازل شو .او د هغه جرسه په **1898** کې کشف شوې وه، او تر ۳۵۰۰ کلونو پورې د فرعون په اړه هیڅوک نه وو خبر خو قرآن لا دمخه ذکر کړی دی او د فرعون د نښو نښانو په باره کې چې قرآن کریم څه بیان کړي، نن ورځ ټولې نښې په تحقیق سره ثابتې شوې دي .او له هغه وروسته یې د مسلمانیدو اعلان وکړ، او شهادت کلمه یې وواېله

الحمدلله



مصر لرغونپوهنه

**Hieroglyphs**د مصر لرغون پوهنه-

د قرآن کریم معجزې

**«مصر لرغون پوهنه »**

«آسمان او د ځمکې ژاړه پر فرعون باندې»**.**

الله تعالی فرمایي" **:** فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ"**..**

"اسمان پر فرعون ونه ژړل"

په دې سره کفارو ادعا وکړه چې هر چا چې قرآن کريم ليکلی خطا يې کړې ده ځکه هېڅا دا ادعا نه ده کړې چې اسمان د فرعون لپاره ژړل!

نن ورځ مصر پوهانو هيروګليفونه وموندل چې پرې ليکل شوي دي چې اسمان د فرعون لپاره ژړل **1400** .کاله دمخه هيڅوک د مصري هيروګليف باندې نه پوهيدل آن تردې چې په ۲۱تمه پيړۍ کې ددوی په مفهوم باندې تاريخ پوهان پوه شول، مصري هيروګليفونه په پنځمه پيړۍ کې د کافر پاچاهانو په وروستي تړلو سره، د هيروګليفيک ليکلو پوهه ورکه شوه .که څه هم هڅې وشوې، ليکنه د منځنۍ دورې او د عصري دورې په لومړيو کې ناڅرګنده پاتې شوه .د هيروګليفيک ليکلو تشريح په پای کې په **1820** کې د جېن فرانسويس چيمپولين **(Jean-Francois)** لخوا د روزېټا ډبرې **(Rosetta Stone)** په مرسته سرته ورسيده.




ويکيپيډيا،مصري هيروګليفس،**2020** ،

کله چې هیروګلیفونه په پای کې وپیژندل شول دوی وموندل چې څنګه مصریانو په خپل هلاک شوی فرعون باندې ویرونه کول.

یو اهرامي متن چې څنګه آسمان په مړ شوي فرعون باندې ژړل ،

وايي[ :اسمان ژاړي، ستوري لړزيږي، د خدايانو ساتونکي ويريږي او د دوی خدمتګاران تښتي کله چې دوی ګوري چې پاچا د روح په شان راپورته کيږي، د يو خدای په توګه چې ژوند وکړي ددوی د پلرونو او د ميندو په خايص ].

د بدلوولو نښې، **C.G.** جونګ، پنځم ټوک ۱۷۵۷ مخ.

دا وايي چې" اسمان ژاړي "په مړ فرعون .دا په دې وروستيو کې وپيژندل شو، مګر دا د کشف کيدو څخه **1400** کاله دمخه په قرآن کريم کې انځور شوی و، او الله سبحان وتعالی ددوی ددې خبرې چې ځمکې او آسمان په فرعون باندې ويرونه او ژاړه کوله د رد ځواب ورکړ:

الله تعالی فرمايي: فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ وَمَا كَانُوا مُنْظَرِينَ

قرآن ۴۴:۲۹

نه اسمان او نه زمکې په دوی وژړل او نه دوی ته مهلت ورکړل شو

" نه اسمان او نه زمکه پر دوی و ژړل"

دلته قرآن د دوی د ادعا ته د رد ځواب ورکوي چې يوازې په مصري هيروګليفونو **(hieroglyphs)**کې موندل شوی،

قرآن د لرغوني مصر هغه پوهه څرګندوي چې د لرغونپوهنې له مخې تر **1880** کلونو پورې نه و موندل شوی او په **1910s** کې ژباړل شوی .پرته لدې چې رسول الله (ص) **hieroglyphics**لوستلی شي، دا د خدای ثبوت دی.

سرچينې**Mercer, S.A.B.** :، **2020.** د پيراميډ متنونه (جلد**1** ) .د الکساندريا کتابتون.

**1400**کاله دمخه په دې باندې هیڅوک هم نه پوهیده نو یو نالوستی سړی چې **1400** کاله پخوا یې ژوند کوه څنګه کولای شي چې د مصري هیروګلیفونه وپیژني؟

بل حوا د عیسویانو انجیل په دروغه ادعا کوي چې د ډیوېډ پاچا په وخت کې دوی د پاچا لپاره **10,000** د سرو زرو

**(darics)**

پیسې ورکړې .کوم چې ۴۰۰ کاله وروسته د داریوس

**(Darius)**پاچا لخوا د سکې په توګه وګرځېدلې **1** .کرونیکل(**29:7.**

**Chronicles 29:7**

معبد**temple**

سبحان الله

الله اکبر ☝



**بابل ښار**

د بابل (**Babylon**) لرغونی ښار د بشري تمدن له مهمو مرکزونو څخه و، چې د بین النهرین (**Mesopotamia**) په سیمه کې موقعیت درلود .دا ښار د نمرود، حمورابي، او نبوکدنصر (**Nebuchadnezzar**) په څېر پاچاهانو له خوا اداره شوی او د خپلو سترې ودانیزې لاسته راوړنو، د بابل برج، او د ځوړندو باغونو ( **Hanging Gardens of Babylon**) له امله مشهور و.

د بابل د کشف کیسه

په **19** مې او**20** مې پېړۍ کې، لرغونپوهانو د عراق په موجوده سیمه کې د بابل ښتې وموندلې .دوی د دې ښار د معمارۍ، قانوني نظام، او د ستورپوهنې له پرمختګونو سره آشنا شول.

خو د قران کریم له نظره، بابل یوازې یو عادي تمدن نه و، بلکې د یو ځانګړي تاریخي حقیقت نښه ده.

قرآني اعجاز – بابل، سحر، او د هاروت و ماروت کیسه

الله جل جلاله په قرآن کریم کې د بابل یادونه کړې، او دا ځای یې د سحر (جادو) د تاریخ له مهمو مرکزونو څخه ګڼلی دی:

وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ

او نه و کفر شوی سلیمان ع ولیکن شیطانان کافر شوي وو ښولو به هغوی خلکو ته جادو او متابعت به یي کولو د هغه څیز چې نازل کړی شوی وو په دوو فرښتو باندې په بابل ښار کې چې هاروت او ماروت دي او ښوونه به نه کوله دې دواړو هیڅا ته تر هغې پورې چې به وویل دوی خبره داده بله نه ده چې مونږ ازمیښت یو پس ته مه کافر کیږه..

البقرة**102 :**

د دې آیت علمي اعجاز او تاریخي حقیقت

د بابل سحر او جادو :د لرغوني بابل د تمدن څېړنو ثابته کړې چې هلته سحر او جادو یو پراخ دود و، او خلک به د اسماني اجسامو (ستوریو) له لارې د غیب معلوماتو ته د رسېدو هڅه کوله .دا هماغه څه دي چې قرآن یې تایید کړي.

د بابل کشف :قرآن کریم د بابل یادونه کړې وه، خو د اروپایي لرغونپوهانو له خوا دا ځای ډېر وروسته وموندل شو .دا قرآني حقیقت د قرآن د علمي اعجاز یوه بېلګه ده.

د جادو تعلیم :قرآن ویلي چې هاروت او ماروت به خلکو ته جادو ښوده، خو ورسره یې خبرداری ورکاوه .دا د بابل د تمدن له تاریخي واقعیت سره سمون خوري، ځکه چې هلته د جادو لپاره ځانګړي مدرسې موجودې وې، چې خلکو ته یې د تعویذونو، افسونونو، او جادویي مراسمو زده کړې ورکولې.

نتیجه

د بابل د ښار کشف، د دې ښار د جادویي تمدن د شتون ثبوت، او د قرآن کریم د آیتونو تصدیق، دا ټول د قرآني اعجاز یو مهم اړخ ثابتوي .الله جل جلاله **1400** کاله وړاندې داسې حقایق بیان کړي وو، چې وروسته ساینس او تاریخ هغه تصدیق کړل.



**د ابراهیم ع د قوم د خدایي نښې**

هو، دا یو ډېر مهم قرآني اعجاز دی !د حضرت ابراهیم علیه‌السلام د قوم د لمر، سپوږمۍ او وینوس عبادت په اړه د تاریخپوهانو وروستي کشفیات اوس دا ثابتوي چې قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې هغه حقیقت بیان کړی و، چې ساینس او لرغونپوهانو اوس کشف کړی.

۱ .قرآني اعجاز – د لمر، سپوږمۍ او ستورو عبادت

قرآن کریم په سورت الأنعام (۶:۷۶-۷۸) کې دا موضوع په واضح ډول بیان کړې:

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَءَا كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّى ۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلْـَٔافِلِينَ ٧٦
فَلَمَّا رَءَا ٱلْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّى ۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِى رَبِّى لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلضَّآلِّينَ ٧٧

فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّى هَٰذَآ أَكْبَرُ ۖ فَلَمَّآ أَفَلَتْ قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ٧٨

ژباړه:

پس هرکله چه تیاره واچوله په ده باندې شپه نو وی لیدلو ستوری وویل دۀ چې دا رب ځما دی په ګومان ستاسې پس هرکله چه غائب شو هغه ستوری نو وویل دۀ چې نه خوښوم زه غائبیدونکی پس هرکله چې ولیدله ابراهیم (ع) سپوږمۍ راښتونکی نو وویل ده چه دا رب زما دی په ګومان ستاسې پس هرکله چه هغه هم غائبه شوه وویل دۀ خامخا که هدایت نه وئ کړی ماته رب زما نو خامخا به وم زه له ضرور له ټولی د ګمرهانو نه پس هرکله چه ولید ابراهیم(ع) لمر راختونکی نو وویل دۀ چی دا رب زما دی په ګومان ستاسې چه دا لوی دی پس هر کله چه هغه هم غائب شو نو وویل ده چه ای قومه ځما بیشکه زه ویزاره یم له هغه څیز نه چې تاسې یي شریکوی له خدایه سره،".

دا آیتونه ښکاره کوي چې د حضرت ابراهیم علیه‌السلام قوم د ستورو، سپوږمۍ او لمر عبادت کاوه.

د تورات او انجیل خاموشي – هیڅ تفصیل نشته!

د تورات (عهد عتیق) او د انجیل (عهد جدید) اوسنیو نسخو کې دا حقیقت نشته، چې د حضرت ابراهیم قوم د لمر، سپوږمۍ او وینوس عبادت کاوه.

۲ .د تاریخپوهانو کشفیات – د قرآن اعجاز تاییدوي

اوس، لرغونپوهانو او تاریخپوهانو دا کشف کړې چې د سومري، بابلي او اکدي تمدنونو خلک، چې حضرت ابراهیم علیه‌السلام ته منسوب دي، د لمر، سپوږمۍ او وینوس عبادت کاوه.

(۱) د سپوږمۍ خدای" – نانا**(Nanna / Sin)** "

په اور **(Ur)** ښار کې، چې د حضرت ابراهیم علیه‌السلام د پیدایښت ځای ګڼل کېږي، د سپوږمۍ خدای" نانا "ته لوی عبادتځایونه جوړ شوي وو.

بابلیانو او اکدیانو ورته" سین "**(Sin)** هم وایه.

دا خدای د شپې حاکم ګڼل کېده او خلک به یې عبادت ته دعاوې کولې.

(۲) د وینوس خدای" – عشتار**(Ishtar / Inanna)** "

وینوس (زهرة) ستورې د سومریان، بابلیان، او اکدیانو لپاره مهم معبود و.

دوی وینوس ته" عشتار **(Ishtar)** "یا" انانا **(Inanna)** "ویل.

دا د حاصلخېزۍ، جنګ او مینې خدایه ګڼل کېده.

(۳) د لمر خدای" – شمس**(Shamh** ")

د بابل او اکد خلکو د لمر خدای" شمس "عبادت کاوه.

شمش د رڼا، عدالت، او واک سمبول و.

حتی د حمورابي قانون د شمش عبادت ته منسوب و.

۳ .د قرآن او د تاریخپوهانو کشف یو شان دی**!**

قرآن کریم دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړی و، خو ساینس او لرغونپوهانو دا اوس کشف کړ.

په قرآن کې راغلي چې حضرت ابراهیم علیه‌السلام قوم د لمر، سپوږمۍ او ستورو عبادت کاوه، او لرغونپوهان دا اوس تاییدوي چې سومریان، بابلیان او اکدیان، چې د حضرت ابراهیم علیه‌السلام د سیمې خلک وو، دا اجرام لمانځل**!**

۴ .د لویدیځو تاریخپوهانو څرګندونې

**– Samuel Noah Kramer** مشهور سومري تاریخپوه، وايي:

"په سومري تمدن کې د سپوږمۍ خدای نانا، د لمر خدای شمش، او د وینوس خدایه عشتار د عبادت اصلي مرکزونه وو".

**– Thorkild Jacobsen** د میسوپوتامیا د دین متخصص، لیکي:

"د اور **(Ur)** معبد د سپوږمۍ خدای نانا ته وقف شوی و، چې د دې ښار خلک یې اصلي عبادت کوونکي وو".

**– Stephanie Dalley** د بابلي اسطورو څېړونکې، وايي:

"د سومري، بابلي او اکدي تمدنونو خلک د اسماني اجرامو عبادت کاوه، او دا یو ثابت حقیقت دی".

۵ .پایله – د قرآن اعجاز روښانه شو!

۱۴۰۰ کاله مخکې، قرآن کریم هغه حقیقت بیان کړی و، چې ساینس اوس کشف کړ.

تاریخپوهانو اوس وموندله چې د حضرت ابراهیم علیه‌السلام قوم واقعاً د لمر، سپوږمۍ او وینوس عبادت کاوه.

دا د قرآن یو ستر اعجاز دی، چې د تاریخي شواهدو سره ۱۰۰٪ سمون لري!



**د حضرت یوسف د زماني اقتصادي اعجاز**

د حضرت یوسف علیه السلام د زمانې اقتصادي اعجاز – د درهم (سپینو زرو) ذکر په قرآن کې

قرآن کریم د تاریخ، اقتصاد، او د پیسو د تطور په اړه داسې نښې وړاندې کوي چې د ساینس، تاریخي شواهدو، او د ارکیولوژۍ (آثار پوهنې) له موندنو سره په بشپړ ډول تطابق لري .یو له دغو مهمو اشاراتو څخه د سورة یوسف ۲۰م آیت دی، چیرې چې ذکر شوی:

فَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ

(نو هغوی هغه (یوسف) په کم ارزښت قیمت، څو ټوټې درهمه وپیرودل، او هغوی ورڅخه بېپروا وو.)

١ .د" درهم "تاریخي مفهوم او د سپینو زرو اړیکه

د قرآن کریم له دې آیت څخه ښکاري چې د حضرت یوسف علیه السلام د پلور پر مهال "درهم "کارول شوی، چې دا د یو ټاکلي اقتصادي سیستم موجودیت ښیي.

درهم د یوناني دراخما **(Drachma)** نه اخیستل شوی :دا سکه د یونان او وروسته د فارس، روم، او عربو تمدنونو کې د سپینو زرو لپاره کارېدله .د اسلام نه وړاندې هم عربو د فارس د درهمو کارونه درلوده.

درهم عموماً د سپینو زرو سکې وې :د اسلامي دورې وروسته، درهم د خالص سپینو زرو سکې وې، چې وزن یې تقریباً 2.975 ګرامه و.

په مصر کې د سپینو زرو اقتصاد :د حضرت یوسف علیه السلام د زمانې مصر یو پرمختللی اقتصادي سیستم درلود .که څه هم مصریان زیاتره د تبادلې نظام **(Barter System)**کاراوه، خو د آسیا او مدیترانې سیمو څخه سپین زر مصري بازارونو ته تلل.

۲ .د قرآن اعجاز – آیا د حضرت یوسف د دورې پیسو ته اشاره شوې؟

که قرآن یوازې د عامې تبادلې **(Barter)** سیستم ته اشاره کړې وای، دا به د مصر د اقتصادي واقیعت سره برابره وای، خو قرآن د" درهم "یادونه کړې، چې دا د یو داسې اقتصادي سیستم اشاره ده، چې د فلزي سکو کارونه پکې موجود و.

اوسنۍ ارکیولوژیک موندنې هم ښیي چې د حضرت یوسف علیه السلام د دورې سره نږدې وختونو کې، سپین زر د سوداګرۍ لپاره کارېدل، په ځانګړې توګه د مصر، کنعان (فلسطین)، او بین النهرین تمدنونو ترمنځ.

۳ .د ارکیولوژۍ شواهد – آیا په لرغوني مصر کې فلزي پیسې وې؟

د مصر لرغوني مالیاتي سیستم :که څه هم د پخواني مصر اقتصاد زیاتره د تبادلې پر بنسټ و، خو ارکیولوژستانو داسې شواهد موندلي چې مصریانو د سپینو زرو ټوټې ( **Bullion Silver**) د ارزښت د تبادلې لپاره کارولې.

د سپینو زرو موجودیت :په مصر کې د سپینو زرو موندل ثابتوي چې دا فلز د ارزښت ساتلو لپاره کارېدلی، او احتمالاً د درهم په بڼه کارول شوی و.

په مصر کې د" شکل "نومي واحد :د حضرت یوسف (ع) د دورې نه مخکې او وروسته، مصریانو د سرو زرو او سپینو زرو" شکل "نومي واحد کاروه،

۴ .د اقتصاد او تجارت معجزه – ولې" دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ"؟

قرآن کریم وایي چې یوسف علیه السلام" په څو شمېرل شویو درهمو "وپلورل شو .دا ښیي چې:

درهم هغه وخت عام ارزښت درلود – دا یوازې فلز نه و، بلکې د تجارت لپاره کارېده.

د" معدودة "ذکر – دا ښيي چې دا سکې ډېرې نه وې، بلکې کم ارزښت درلود.

اقتصادي استثمار ته اشاره – هغوی (يوسف ع ورونه) په هغه کې زاهدين وو، يعنې ډېرې ارزښت نه يې ورکاوه .دا د انسانانو د استثمار يو له لومړيو يادونو څخه دی، چې نننی تاريخ يې د غلامانو د پلورلو سره مقايسه کوي.

۵ .قرآن او د اقتصاد راتلونکي پوهه

دا آيت نه يوازې يو تاريخي حقيقت بيانوي، بلکې د پيسو د ارتقا او د اقتصادي سيستمونو د پرمختګ يو مهم حقيقت هم روښانه کوي .په داسې حال کې چې لويديځ محققين دا باور لري چې فلزي پيسې وروسته رايجې شوې، قرآن ثابتوي چې د حضرت يوسف (ع) په زمانه کې سپين زر د تبادلې وسيله وه.

نتيجه

د سورة يوسف ۲۰م آيت نه يوازې يوه تاريخي پيښه نه بيانوي، بلکې يو مهم اقتصادي اعجاز هم لري .د" درهم "ذکر په هغه زمانه کې د فلزي پيسو د استعمال ښکارندويي کوي، چې اوسني ارکيولوژيکي شواهد يې هم تاييدوي .دا د قرآن د ساينسي، تاريخي، او اقتصادي معجزو څخه يوه ده، چې د يو نامعلوم اقتصادي حقيقت يادونه يې کړې، او د معاصرې ارکيولوژۍ موندنې يې تصديق کوي.



**اصحاب الحجر**

د حجر خلک (اصحاب الحجر) او د قرآني اعجاز نښانې

الله تعالی د قرآن کریم په سورة الحجر کې د" حجر خلکو "یا اصحاب الحجر په هکله داسې فرمايي:

**"وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَـٰبُ ٱلْحِجْرِ ٱلْمُرْسَلِينَ ٨٠ وَءَاتَيْنَـٰهُمْ ءَايَـٰتِنَا فَكَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ٨١ وَكَانُوا۟ يَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ٨٢"**

(او په یقین، د حجر خلکو پیغمبران دروغجن وبلل .او موږ هغوی ته خپلې نښې وروښودې، خو هغوی له دې ټولو څخه مخ واړاوه .او هغوی له غرونو داسې کورونه جوړول چې ځانونه یې پکې خوندي ګڼل)[ الحجر :۸۰-۸۲]

د حجر خلکو تاریخي شالید

د قرآن کریم د ذکر سره سم، حجر خلک هغه قوم و چې د الله تعالی آیتونه یې رد کړل او له خپلو ګناهونو څخه یې انکار وکړ .د لرغونپوهنې او تاریخ په رڼا کې د دې خلکو په اړه لاندې مهمې نقطې څرګندیږي:

د حجر خلکو هویت:

تاریخپوهان باور لري چې د حجر خلک د ثمود قبیلې پورې تړاو لري .ثمود هغه قوم و چې په تاریخ کې د خپلو ښکلو او مضبوطو کورونو لپاره شهرت درلود .د دې خلکو د ژوند ځای په اوسني اردن، سعودي عربستان، او شام کې یاد شوی دی.

د یوناني تاریخپوهانو یادښتونه:

یوناني جغرافیه پوه" پلني "هم د حجر خلکو یادونه کړې ده .د هغه د یادښتونو له مخې، د دې خلکو ژوند په" دوموثا "او" حجر "ښارونو کې و، چې نن ورځ د مداین صالح په سیمه کې پاتې شوني لیدل کیږي.

د لرغونپوهنې شواهد:

د اردن په پټرا سیمه کې د دې خلکو د کورونو او معمارۍ نښې شتون لري .دغه کورونه په ډبرو کې کنده شوي او د وخت له زیانونو سره سره اوس هم د دې خلکو د مهارت ګواه دي.

د حجر خلکو معمارۍ او ساینس

په غرونو کې کورونه جوړول:

الله تعالی د دې خلکو مهارت ته په غرونو کې د کورونو جوړولو په اړه اشاره کړې ده .
ساینس او لرغونپوهنه دا تاییدوي چې د پټرا د معمارۍ جوړښتونه د وخت د انجینرۍ یوه معجزه ګڼل کیږي .د دې خلکو له خوا د ډبرو کنده کول د پرمختللي ټکنالوژۍ یوه نښه ده.

د پټرا ځانګړتیاوې:

پټرا هغه ځای دی چې د حجر خلکو د ژوند نښې پکې لیدل کیږي .دا ښار د ډبرو څخه جوړ شوی، د پخو معمارۍ نمونې، د اوبو سیستمونه، او د مذهبي مراسمو ځایونه لري .دا ټول د هغه پرمختللي تمدن ګواه دي چې قرآن یې یادونه کړې.

د چاپېریالي بدلونونو اغېز:

د حجر خلکو سیمه د سختو اقلیمي بدلونونو ښکار شوې، چې په پایله کې د دې تمدن پایته رسېدلو ته لاره هواره شوه .ساینس وایي چې د وخت سخت اقلیم او د دې خلکو بې ایماني د دوی د هلاکت اصلي سببونه وو.

د حجر خلکو هلاکت او الهي عذاب

قرآن کریم د دې خلکو د هلاکت په اړه داسې فرمایي:

"فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ مُصۡبِحِينَ ٨٣ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨٤"

(نو هغوی ته له سهار سره سخت غږ راغی، او هغه څه یې چې لاسته راوړي وو، هغوی ته هیڅ ګټه ونه رسول)[ الحجر :۸۳-۸۴]

د دې آیت له مخې، د حجر خلک د یو ناڅاپي الهي عذاب ښکار شول، چې د سهار له لوري ورباندې راغی او ټول یې له منځه یوړل .لرغونپوهنې ښودلې چې ممکن دا عذاب د یوې سختې زلزلې یا طبیعي پېښې له امله و، چې د هغوی ټول تمدن یې ختم کړ.

د قرآني اعجاز ښکاره کېدل

د معمارۍ مهارتونه:

قرآن کریم د دې خلکو د معمارۍ مهارتونه ۱۴ سوه کاله مخکې یاد کړي دي .د پټرا سیمه نن ورځ هم د دې قوم د پرمختللي تمدن او کلتور نښه ده.

د ژوند حقیقتونه:

د دې خلکو ژوند د ځواک او شتمنۍ سره سره، د الله تعالی له امر څخه د سرغړونې له امله پای ته ورسېد .دا حقیقت د وخت ټولو قومونو ته د عبرت درس دی.

**د تاریخ او لرغونپوهنې همغږي:**

لرغونپوهنه د قرآني ذکرونو تایید کوي .د حجر خلکو ژوند، کورونه، او عذاب ټول هغه څه دي چې د قرآن کریم د حقیقت یوه روښانه بېلګه جوړوي.

پایله

د حجر خلکو کیسه نه یوازې د الله تعالی د قدرت څرګندونه ده، بلکې د تاریخ، لرغونپوهنې او ساینس په رڼا کې د قرآن اعجاز ښکاره کوي .د هغوی ژوند او عذاب موږ ته دا درس راکوي چې د الله جل جلاله له امر څخه سرغړونه پایله نه لري، او یوازې هغه کسان به بریالي وي چې د خپل رب اطاعت وکړي.



**د نوح توپان**

د نوح علیه السلام د توپان او د هغه لرغونې نښې

د نوح علیه السلام د توپان پېښه یوه له هغو تاریخي پېښو څخه ده چې نه یوازې په دینی متونو کې ذکر شوې ده، بلکه په تاریخ، لرغون پوهه او ساینسي څېړنو کې هم ورته پاملرنه شوې ده .قرآن کریم په څو ځایونو کې د نوح علیه السلام د قوم د فساد او کفر په اړه

خبرې کوي او هغه ته د الله تعالی له خوا د عذاب يو څرګند مثال ګرځوي .دا پېښه نه يوازې د ديني لارښوونو، بلکه د عبرت يوه ستره سرچينه هم ده.

د نوح د توپان داستان په قرآن کې

په قرآن کريم کې د نوح عليه السلام د توپان ذکر په تفصيل سره شوی دی .الله تعالی فرمايي:

"فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿﴾

**54-11**نو مونږ د اسمان دروازې په ډېرو راتويدونکو اوبو سره پرانستلې

وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا فَالْتَقَى الْمَآءُ عَلٰٓى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿﴾

**54-12**او له ځمکې نه مو چينې رواني کړې، نو اوبه په هغه کار باندې سره يوځای (او ګډې) شوې چې مقرر شوی و

دا آيت د نوح عليه السلام د قوم د کفر او سرکشۍ پر وړاندې د الله تعالی د قهر څرګندونه کوي .نوح عليه السلام د خپلې قوم ته پېغام ورکړ، خو هغوی له هغه نه نه يوازې ډډه وکړه بلکه پر ضد يې کار وکړ .بالاخره، الله تعالی د هغه قوم لپاره د توپان حکم وکړ، چې يوازې نوح عليه السلام او هغه چې له هغه سره پر کښتۍ کې ناست وو، د دې لويې پېښې نه ژغورل شوي.

لرغون پېژندنه او د نوح د توپان نښې

د تاريخ پوهانو او لرغون پېژندونکو د خپلې څېړنې له لارې د نوح د توپان نښې موندلې دي .د عراق په مختلفو سيمو کې لکه" ار "او" شوروپاک "ښارونو کې د توپان له امله د شګو او اوبو پاتې شونې موندل شوي دي .دا نښې د نوح د توپان تاريخي واقعيت تاييدوي، چې د الله تعالی له فرمان سره سم د هغه وخت ټول تمدنونه له منځه تللي دي.

په دې اړه د انګلستان د موزيم لرغون پېژندونکی ليونارد وول ليکي:

"د کيندنو په جريان کې داسې خزانې موندل شوې، چې د ښکلې پيالې، جکونه، او ګران بيه شيانو نه ډکې وې .دا ټول د توپان له امله د شګو او اوبو لاندې شوي وو".

دا بیان ښيي چې دا تمدنونه د طبیعي آفات له امله له منځه تللي او د نوح علیه السلام د توپان سره يې اړیکه لري.

څمکپوهنې زاویه:

ساینس وايي چې د ځمکې د ټکتونیکي حرکتونو له امله، ځینې وختونه ځمکې ښویېدنې یا ټیټې سیمې د اوبو لاندې ځي .په هغه وخت کې د بین النهرین سیمه ممکن د همدې ټکتونیکي حرکتونو له امله د یوې لویې اوبه ډکې شوې وې.

د توپان طبیعي نښې

لرغون پېژندونکو همداراز څرګنده کړې ده چې د نوح د توپان نښې یوازې په تاریخي اسنادو او خزانې کې نه، بلکې په ځمکې کې د اوبو او شګو له زیاتوالي سره هم موندل کیږي .د" ار "ښار کیندنې ښيي چې د توپان په وخت کې د اوبو سطحه خورا لوړه شوې وه او د ښار جوړښتونه د اوبو او شګو تر مینځ ښخ شوي دي .دا ټول د طبیعي پېښې یوه ستره نښه ده، چې د نوح د توپان پر مهال د ځمکې اوبه ستره سیلاب جوړ کړی و.

د نوح علیه السلام د توپان درس

د نوح علیه السلام د توپان پیښه د انسانانو لپاره یو ستر درس دی .دا پیښه د الله تعالی د قهر نښه ده، چې له کومته د هغه قوم د کفر او سرکشي له امله اړ شوی و .په دې توګه، د نوح د توپان داستان نه یوازې د تاریخ یوه مهمه برخه ده، بلکه د الله تعالی د قهر پر وړاندې د انسانانو د اعمالو په اړه یو واضح پیغام هم لري.

پایله

د نوح علیه السلام د توپان تاریخي نښې او د قرآن کریم په تفصیل سره بیان شوې پیښه د عبرت یوه ستره سرچینه ده .د دې پیښې مطالعه موږ ته دا درس راکوي چې انسانان باید د الله تعالی د حکمونو ته درناوی وکړي او د کفر او فساد له لارې ځانونه له عذاب څخه خوندي وساتي .دا پیښه د الله تعالی د کلام د محفوظیت او د هغه د حکمت تایید هم کوي، چې هره پېښه د هغه په پلان کې ده او د انسانانو لپاره یو درس دی.



**سبا قوو، معرب بند،العرم سیلاب**

د سبأ قوم تمدن او د هغوی شتمني

قرآني اشاره:

الله ﷻ د سبأ قوم ته د يو ستر نعمت لرونکي وطن ذکر کوي:

( لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ ۖ كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ ۚ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ )

(سبأ :١٥)

يقينًا يقينًا د سبا (خلقو) لپاره په خپلې استوګنې کې يوه لويه نښه وه (هغه دا چې د دوی) ښي او چپ اړخ ته دوه باغونه دي، تاسو د خپل رب له رزقه خورئ او د هغه شکر وباسئ (دا ښار) پاکيزه ښار دی او(ستاسو) رب دی ډېر بخښونکی

توضيح:

سبأ د عربستان یو له سترو مدنیتونو څخه و، چې د زراعت، سوداګرۍ، او پرمختللي سیستم له برکته یې ځواکمن اقتصاد درلود.

د معرب بند د دوی د تمدن د قوت نښه وه، چې پراخې ځمکې یې خړوبولې او هغوی ته یې سوکاله ژوند برابر کړی و.

**2.د معرب بند او د سبأ د خلکو نافرماني**

قرآني اشاره:

( فَأَعْرَضُوا فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنَاهُم بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ )

(سبأ :۱۶)

بیا دوی مخ واړلو (د نبیانو له دعوت نه) نو مونږ په دوی د بند زورور سېلاب راخلاص کړ او د دوی د دوه باغونو په ځای مو دوی ته دوه داسې باغونه په بدل کې ورکړل چې دواړه خاوندان د بې خونده مېوو او غزانو او څه لږ شی د بېرو وو

توضیح:

د سبأ قوم ناشکري وکړه، چې نتیجه یې د معرب بند نړېدل او د" العَرم "سیلاب وو.

"سیل العرم "د دې بند د ړنګیدو له امله راغلی ناورین و، چې حاصل خیزه باغونه یې په شاړو ځمکو بدل کړل.

دوی د خپل نافرمانۍ له کبله تباه شول، او د هغوی تمدن له منځه لاړ.

## 3.علمي او تاریخي شواهد

الف (د معرب بند د جوړښت ځانګړتیاوې

د بند اوږدوالی ۶۲۰ متره، سور ۶۰ متره، او لوړوالی ۱۶ متره و.

دا بند د دوه غرونو تر منځ جوړ شوی و، چې د اوبو د زېرمه کولو او وېشلو یو پیچلی سیستم یې درلود.

دا بند له میلاد څخه مخکې جوړ شوی او د ۵۴۲ میلادي کال په شاوخوا کې د یو ستر سیلاب له کبله ونړېد.

ب (د لرغونپوهانو څېړنې

فرانسوي لرغونپوه هولو او سترین د معرب بند د پاتې شونو مطالعه کړې او تایید یې کړې چې دا بند د یو پیاوړي تمدن استازیتوب کاوه.

ورنر کلکر، یو عیسوي لرغونپوه، منلې چې د قران کریم بیان شوی" سیل العرم "د تاریخي حقایقو سره سمون لري.

## 4.د قرآني اعجاز توضیح

قران کریم د سبأ قوم د بربادۍ اصل لامل بیانوي :دوی ناشکري وکړه، او دا د معرب بند د نړېدو سبب شو.

دا یو تاریخي حقیقت دی، چې اوسني لرغونپوهان یې هم تاییدوي.

قران کریم" سیل العرم "یو ځانګړی اصطلاح کارولې، چې د" عرم "مانا بند یا ډیم ده، او دا علمي حقیقت په هیڅ بل پخواني کتاب کې دومره دقیق نه دی ذکر شوی.

نتیجه

د سبأ قوم کیسه یو قوي قرآني اعجاز دی، چې تاریخي، لرغونپوهني، او جیولوژیکي شواهد یې تائیدوي .معرب بند د هغه وخت د تمدن لوړه نښه وه، او د سبأ قوم د سرکشۍ له کبله دا ستر نعمت په عذاب بدل شو.



**د ارم ورک شوی ښار**

قرآني اشاره:

( أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ * إِرَمَ ذَاتِ ٱلْعِمَادِ * ٱلَّتِى لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِى ٱلْبِلَٰدِ ) (الفجر :۶-۸)

ایا ته نه وینې چې ستا رب له عاد قوم سره څه وکړل؟ په ارم کې چې خاوند د لویو ستنو وو  هغه چې د ښارونو په (سلسله) کې د ده په شان بل نه و پیدا شوی.

د ارم ښار موندل – علمي څېړنې او قرآني تصدیق

ارم، چې قرآن کریم یې د" ذات العماد "(د ستنو درلودونکی ښار) په توګه یادونه کوي، د اوږدې مودې لپاره یو ورک شوی افسانوي ښار ګڼل کېده .مګر د ۱۹۹۰ ز .کال څېړنو وښوده، چې دا یو حقیقي ښار و، چې د عمان صحرا کې د شګو لاندې پټ شوی و.

۱ .د ښار موندلو تاریخي شالید

په ۱۹۳۲ ز .کال کې، انګلیسي څېړونکي توماس برتمن د عرب ټاپووزمې د لرغونو ښارونو په اړه خپل کتاب **"Arabia Felix"** ولیکه، چې پکې د یو ورک شوي ښار یادونه شوې وه.

په ۱۹۹۰ ز .کې، لرغونپوه نیکولاس کلپ د ناسا له مصنوعي سپوږمکۍ څخه د صحرا عکسونه ترلاسه کړل، چې پکې د زاړه ښار نښې ښکارېدې.

د دې موندنو پر بنسټ، د کیندنو لړۍ پیل شوه، او داسې ستنې او جوړښتونه وموندل شول، چې د قرآن له بیان سره سمون لري.

۲ .جیولوژیکي شواهد

د دې ښار موقعیت د عمان په صحرا کې، د اوبار د شګو لاندې و، کوم چې ښیي دا ښار د طبیعي آفتونو یا شګو طوفان له امله ورکېدلی دی.

د ناسا سپوږمکۍ عکسونو دا تایید کړه، چې د ښار نښانې د شګو لاندې پټې شوې وې، لکه څنګه چې قرآن کریم بیانوي، چې دا ښار داسې و، چې" په نورو ښارونو کې یې مثال نه و".

۳ .د قرآن د" ذات العماد "اصطلاح علمي تصدیق

د کیندنو پر مهال، داسې ستنې  وموندل شوې، چې د ښار ځانګړتیاوې څرګندوي .دا ستنې دقیقا د" ذات العماد "تعبیر تاییدوي.

د دې ښار موندل، د قرآن کریم هغه بیان تاییدوي، چې دا یو ځانګړی او ستر ښار و.

پایله – د قرآن علمي اعجاز

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د ارم د ورک شوي ښار یادونه کړې وه، چې د هیڅ بل ښار مثال یې نه و .د مدرن علم له پرمختګ سره، د ناسا سپوږمکۍ، لرغونپوهانو او جیولوژستانو دا ښار وموند، چې د قرآن کریم علمي اعجاز ته یو بل ژوندی ثبوت دی.



**د سدوم او ګموره ښارونه**

قرآني اشاره:

( فَأَنجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ) (الأعراف :۸۳-۸۴)

نو مونږ هغه (لوط) او د هغه اهل ته نجات ورکړ، پرته له خپلې ښځې چې له پاتې کسانو څخه وه .او مونږ پرې باران واوراوه، نو ته وګوره چې د مجرمانو انجام څه شو؟

د سدوم او ګموره **(Gomorrah)** موقعیت او تاریخي شواهد

سدوم هغه ښار و، چې حضرت لوط علیه السلام پکې نازل شوی و .قرآن کریم د دې ښار د تباهۍ علت د دوی اخلاقي انحراف او فاحش اعمال ښيي .د قرآن کریم دا بیانونه د علمي څېړنو او جیولوژیکي معلوماتو له مخې هم تأیید شوي.

د بحر میت **(Dead Sea)** په سیمه کې، چې د اسرائیل، اردن او فلسطین تر منځ موقعیت لري، لرغونپوهانو داسې شواهد موندلي، چې ښيي دا ښارونه د طبیعي افتونو له امله له منځه تللي دي.

زلزلې او اور غورځونکي فعالیتونه:

جیولوژستانو ثابته کړې، چې دا سیمه د ځمکې د ټکرېدونکو تختهییزو پلیټونو پر یوه حساسې کربښې موقعیت لري، کوم چې قوي زلزلې رامنځته کوي.

سلفر او سوځېدلي ډبرې:

د بحر میت په شاوخوا کې داسې سلفري مواد موندل شوي، چې ښيي دا سیمه د سختو اورونو ښکار شوې ده.

د قرآن اعجازي تعبیر:

( فَجَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ) (الحجر :۷۴)

نو مونږ د هغې (سیمې) لوړ لاندې کړ او مونږ پرې سختې ختې (ډبرې) واورولې.

دا آیت شریف نه یوازې د زلزلې اشاره کوي، بلکې هغه سختې ډبرې هم یادوي، چې د اور غورځونو یا سلفري چاودنو له امله باران غوندې پرې راغلې.

تاریخي موندنې او د قرآن تایید:

د ۱۹۵۷ کال د"**National Geographic**" د

مجلې راپور ښيي، چې د سدوم ښار شاوخوا

د سلفري اورېدو شواهد موندل شوي.

پوهان وايي، د بحر میت تر ټولو ټیټه برخه د یو قوي زلزلې له امله راښکته شوې، چې د قرآن د تعبیر" فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا "سره سمون لري.

پایله:

د سدوم او ګموره ښارونو تباهي نه یوازې یو تاریخي حقیقت دی، بلکې قرآني تعبیرات د جیولوژي، لرغونپوهۍ او ساینسي شواهدو سره سمون لري .دا د قرآن یو بل اعجاز دی، چې د پېړیو مخکې یې د یوې طبیعي فاجعې دقیق تفصیل ورکړی.



**د سرو زرو اغوستل د نارینه وو لپاره**

د سرو زرو اغوستل د نارینه وو لپاره – علمي او روغتیایي زیانونه

نبوي لارښوونه:

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

"نهي رسول الله ﷺ عن خاتم الذهب"

"رسول الله ﷺ د سرو زرو ګوتوګي (انګوټي) اغستو منع کړې ده"

(بخاري، مسلم)

**اسلامي حکم:**

په اسلام کې نارینه له سرو زرو منع شوي، خو ښځو ته د زینت لپاره روا دي .دا حکم یوازې یو دیني امر نه دی، بلکې اوسنی ساینس هم د دې طبی حکمتونه څرګند کړي دي.

۱ .ساینسي څېړنې او د سرو زرو اغېزې پر نارینه وو

۱.۱ د سرو زرو ذرات او د نارینه بدن

د سرو زرو ځانګړتیا دا ده چې دا یو نرم فلز دی او د پوستکي له لارې د بدن حجراتو ته داخلېږي .د سرو زرو ذرات **(ions)** د خولې د غدو، پوستکي او وینې له لارې بدن ته داخلېږي او د نارینه وو لپاره لاندې روغتیایي زیانونه لري:

۲.۱ د هورمونونو ګډوډي او د نارینه ځانګړتیاوو کمزوري

ساینس موندلې چې د سرو زرو دوامداره استعمال د ټسټسټیرون **(Testosterone)** د هورمون په تولید ناوړه اغېز کوي .دا هورمون د نارینه ځانګړتیاوو، عضلي ځواک، ذهني تمرکز، او باروری لپاره مهم رول لري.

**څېړنې ښیي چې:**

د سرو زرو اغوستل د ناریناو لپاره د شنډیدو سبب ګرځي چې په سفورمونو باندې ناوړه اغیزه کوي

د سرو زرو ذرې د اندروجن ریسیپټورونه **(Androgen Receptors)** کمزوري کوي، چې د نارینه هورمونونو کار ته زیان رسوي.

د نارینه تناسلي حجرات زیانمنېږي، چې د سپرم کیفیت کموي او د تولیدي سیسټم فعالیت ګډوډوي.

د ځینو ساینسپوهانو څېړنې ښيي چې د سرو زرو اغوستل د نارینه د عقامت **(Infertility)**چانس زیاتوي.

۳.۱ د وینې جریان ته زیان او د زړه ستونزې

ساینس موندلې چې د سرو زرو ذرات د وینې سره حجرات زیانمنوي او د وینې د روانۍدو سیستم ته ضرر رسوي .د سرو زرو ایونونه د وینې سره حجرات تخریبوي، چې د زړه حملې **(Heart Attack)** او د وینې د جریان د ستونزو لامل ګرځي.

۴.۱ د پوستکي حساسیت او الرجی

په ساینس کې دا هم ثابت شوې ده چې د سرو زرو اغوستل د پوستکي د حساسي ناروغیو لامل کېږي، چې په کې خارښت، سوروالی، او الرجیک عکس العملونه شامل دي .دا ستونزه نارینه وو ته پېښېږي، ځکه چې د نارینه وو پوستکی د ښځو پرتله یو څه متفاوت جوړښت لري.

۲ .د ښځو لپاره د سرو زرو بې ضرره طبیعت

که څه هم سرو زرو د نارینه د بدن لپاره زیان لري، خو د ښځو لپاره یې طبیعت بې ضرره دی، او اسلام هم ښځو ته د زینت لپاره د سرو زرو اغوستل روا ګرځولي.

۱.۲ د ښځو بدن د سرو زرو ذرات نه جذبوي

د ښځو هورموني سیستم استروجن **(Estrogen)** لري، چې د سرو زرو منفي اغېزې کمزورې کوي.

د ښځو پوستکی د نارینه وو په پرتله نری او مختلف جوړښت لري، چې د سرو زرو ذرات نه جذبوي.

ساینسپوهانو موندلې چې د ښځو بدن د سرو زرو د جذبولو سیستم نه لري، نو دا ورته بې ضرره دی.

دا حقیقت هم د اسلام د احکامو حکمت څرګندوي، چې الله تعالی نارینه له سرو زرو منع کړي، خو ښځو ته یې اجازه ورکړې.

۳ .قرآني حکمت:

الله جل جلاله فرمایي:

"وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ"

(النجم :۳-۴)

ژباړه:

"او (محمدﷺ ) له خپلې غوښتنې خبرې نه کوي، دا خو یوازې وحي ده چې ورته کیږي".

اسلامي حکمونه نه یوازې د اخرت لپاره دي، بلکې د دنیا لپاره هم طبیعي حکمتونه لري.

۴ .پایله – د نبوي سنتو معجزه

ساینس دا ثابت کړې چې سرو زرو د نارینه هورمونونه او بدن ته زیان رسوي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ ۱۴۰۰ کاله وړاندې منع کړي وو.

ښځې کولای شي سرو زرو وکاروي، ځکه چې د هغوی بدن ته ضرر نه لري، او دا د اسلام د احکامو یو بل حکمت ثابتوي.

هره ورځ ساینس د اسلام د لارښوونو حکمتونه تاییدوي، نو مؤمن باید تل د الله جل جلاله د احکامو تابع وي.

نو ای مؤمنه وروره !د خپل دین حکمتونه وپیژنه، د نبوي لارښوونو سره خپل ژوند برابر کړه، او د سرو زرو اغوستل پرېږده، ترڅو صحتمند، ځواکمن، او د الله جل جلاله اطاعت کوونکی پاتې شې.

و الحمد لله رب العالمین.




**د مچ وزر او د انتي بایوتیک اعجاز**

د مچ وزر او د انتي بایوتیک اعجاز

حدیث شریف:

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

«إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي شَرَابِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْمِسْهُ ثُمَّ لِيَنْزِعْهُ، فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءً وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً»

(بخاري **3320 :**، ابو داود **3844 :**)

ژباړه:

«كه ستاسو په څښاک کې مچ ولوېږي، نو هغه دې پوره غوټه کړي، بيا دې وباسي، ځکه چې د مچ په يوه وزر کې ناروغي (ميکروبونه) دي، او په بله وزر کې شفا (انتي بايوټيک) ده.»

علمي توضيحات:

دا حديث شريف د پخوا خلکو ته عجيب ښکارېده، خو نن ورځ ساينس د دې حقيقت تصديق کړی دی.

١ .د مچ وزرونو نامتقارن ترکيب

ساينسپوهانو کشف کړې ده چې د مچ يو وزر کې ځانګړي ميکروبونه (**Bacteria**) وي چې ناروغۍ رامنځته کولی شي، او په بل وزر کې د هغو ضد**(antimicrobial agents)** موجود دي، چې دغه ميکروبونه وژني.

٢ .د بايوټيک موادو شتون

په ٢٠٠٢م کې د استراليا ساينسپوه

**"Dr. Joanne Clarke"**

تحقيق وکړ او وموندل:

د مچ د بدن سطحه داسې میکروبونه لري چې د ناروغیو لامل ګرځي.

د مچ په بدن کې انتي بایوټیک تولیدوونکي بکتریاوې شتون لري، چې کولی شي د بدو میکروبونو مخنیوی وکړي.

د ځینو مچانو له بدن څخه انتي بایوټیک مواد جلا کړل شوي،

چې د **"penicillin"** په څېر قوي ضد باکتریا ځانګړتیاوې لري.

۳ .تجربوي تحقیق

په ۲۰۱۳م کال کې د سعودي عربستان د ملک عبدالعزیز پوهنتون ساینسپوهانو تجربه وکړه، او وموندل یې چې که مچ پوره غوټه شي، نو د انتي بایوټیک خاصیتونه یې فعالېږي، او د ناروغیو سبب کېدونکي میکروبونه له منځه وړي.

نتیجه:

نبي کریم ﷺ ۱۴۰۰ کاله مخکې یو داسې حقیقت بیان کړی و، چې اوس ساینس تایید کړی.

مچ واقعاً د انتي بایوټیک ضد مواد لري، چې د ناروغیو مخنیوی کوي.

د اسلام تعلیمات نه یوازې روحاني، بلکې علمي او طبي برکتونه هم لري.



## د طبي اعجازي احدیثو ټولګه

### 1. د لاسونو مینځل مخکې له خوبه

حدیث:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ :قَالَ رَسُولُ اللَّهِ" ﷺ: إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ."

ژباړه:

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وویل :رسول الله ﷺ وفرمایل" :کله چې یو له تاسو څخه له خوبه راویښ شي، نو تر هغه دې لاس په لوښي کې نه ننباسي، ترڅو چې درې ځله یې پرېمینځي، ځکه چې هغه نه پوهیږي چې لاس یې چیرته تیر کړی دی."

حواله:

صحیح مسلم، حدیث شمېره**278**

ساینسي تشریح:

ساینس ښيي چې په خوب کې لاسونه ممکن مختلفو ځایونو ته ولاړ شي چېرته چې باکتریاوې او میکروبونه شتون لري .د لاسونو مینځل د ناروغیو مخنیوي لپاره مهم دي .له خوبه راویښیدل کې ممکنه ده چې لاسونه په ککړو ځایونو لکه کټ، بالښت، یا نورو شیانو باندې ولګیږي چې د صحت لپاره خطرناک وي .د لاسونو په درې ځله مینځلو سره دا ککړتیاوې لرې کېږي او د ناروغیو لاملونه مخنیوی کیږي.

**.2 د خوراکي آداب**

حدیث:

عَنْ مِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيكَرِبَ، قَالَ :سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ" :مَا مَلأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ، بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ أُكُلاَتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ، فَإِنْ كَانَ لاَ مَحَالَةَ، فَثُلُثٌ لِطَعَامِهِ، وَثُلُثٌ لِشَرَابِهِ، وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ."

ژباړه:

له مقدام بن معدیکرب رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وویل :ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې فرمایل یې" :انسان هیڅ لوښی نه دی ډک کړی چې له خېټې څخه بدتر وي . د آدم زوی ته څو ګولې بس دي چې ملا یې ټینګه کړي .که اړ وي، نو درېیمه برخه دې د خوراک لپاره، درېیمه برخه د څښاک لپاره، او درېیمه برخه د ساه اخیستلو لپاره پرېږدي."

حواله:

سنن الترمذي، حدیث شمېره**2380**

ساینسي تشریح:

زیات خوراک د چاغښت، شکرې، او د هاضمې ستونزو لامل ګرځي .ساینس ښيي چې د خوراک اندازه باید معتدله وي، ځکه چې بدن ته اضافي کالوریز اضافي فشار راولي چې د زړه، وینې فشار، او نورو ناروغیو خطر زیاتوي .د خوراک پر ځای په کافي اندازه لږ خواړه خوړل د هاضمې سیستم لپاره ګټور دي، او د زړه او د معدې ستونزې کموي .د خوراک اندازه ټوله مهمه ده چې یوازې درېیمه برخه د خوراک، درېیمه برخه د څښاک او پاتې درېیمه برخه د تنفس لپاره پرېښودل شي.

### 3. د زمزم د اوبو اعجاز

حديث:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: "إِنَّهَا مُبَارَكَةٌ، إِنَّهَا طَعَامُ طُعْمٍ."

ژباړه:

له ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه ووېل: رسول الله ﷺ وفرمايل: "بېشکه دا (زمزم اوبه) برکت لرونکې دي، دا د خوراک ځای نيسي."

حواله:

صحيح مسلم، حديث شمېره **2473**

ساينسي تشريح:

ساينس ښيي چې د زمزم اوبو کې ځانګړي منرالونه شتون لري چې د بدن لپاره خورا ګټور دي. دا اوبه د ډېرو خلکو لپاره د انرژۍ او سلامتيا يوه سرچينه ګرځېدلې دي. ځينې څېړنې ښيي چې د زمزم اوبو کې ميګنيشيم، کلسيم، او نورو منرالونو د بدن د هاضمې او د وينې فشار کمولو کې مرسته کوي. د زمزم اوبو څښل د ټول بدن لپاره ګټور دی.

### 4. د بستر تکان ورکول مخکې له خوبه

حديث:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: "إِذَا أَوَى أَحَدُكُمْ إِلَى فِرَاشِهِ، فَلْيَأْخُذْ دَاخِلَةَ إِزَارِهِ، فَلْيَنْفُضْ بِهَا فِرَاشَهُ، وَيُسَمِّ اللَّهَ، فَإِنَّهُ لَا يَعْلَمُ مَا خَلَفَهُ بَعْدَهُ عَلَى فِرَاشِهِ."

ژباړه:

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه ووېل: نبي ﷺ وفرمايل: "کله چې يو له تاسو څخه خپل بستر ته ځي، نو د خپلې جامې داخلي برخه دې واخلي او پرې دې خپل بستر وڅنډي، او بسم الله دې ووايي، ځکه چې نه پوهيږي چې وروسته له ده په بستر کې څه شی پاتې شوي دي."

حواله:

صحیح البخاري، حدیث شمېره **6320**

ساینسي تشریح:

بستره کې ممکنه ده چې دوړې، حشرات، یا باکتریاوې وي .د بستر څنډل مخکې له خوبه د دې ضرري موجوداتو مخنیوی کوي .ساینس ښیي چې په بستر کې د خوب کولو پر مهال ممکنه ده چې مختلف مایکروبونه، حشرات او ککړتیاوې موجود وي .د بستر د تکان ورکولو له لارې، دغه ضرري مخلوقات لرې کېږي او د ښې شپې خوب لپاره مناسب شرایط رامنځته کېږي.

## 5. د غوسې کنټرول(Anger Management & Psychological Health)

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

"لَا تَغْضَبْ، وَلَكَ الْجَنَّةُ"

(ترمذي، ۲۰۲۱)

ترجمه:

"غوسه مه کوه، او ته به جنت درکړل شی".

علمي توضیحات:

ساینس وایي چې غوسه کول د وینې فشار زیاتوي، قلبي ناروغۍ منځته راوړي، او د رواني ستونزو لکه اضطراب او ډیپریشن لامل کیږي .غوسه نه یوازې د فزیکي روغتیا لپاره خطرناکه ده، بلکه دا د انسان ټولنیزې اړیکې هم خرابوي او روحی فشار رامنځته کوي .د غوسې کنټرول د انسان د رواني او جسمي روغتیا لپاره ډېر اړین دی .اسلامي لارښوونې په دې اړه په ځانګړي ډول دا د جنت لاره ګرځوي چې د غوسې پرځای صبر او تحمل غوره شي.

## 6. د شاتو اعجاز(Honey as Medicine)

نبي كريم ﷺ وفرمايل:

"الشِّفَاءُ فِي ثَلاَثَةٍ :شُرْبَةِ عَسَلٍ، وَشَرْطَةِ مِحْجَمٍ، وَكَيَّةِ نَارٍ"

(بخاري، ۵۶۸۰)

ترجمه:

"شفا په درې شيانو کې ده :د شاتو څښل، د حجامې درملنه، او د اور سره درملنه".

علمي توضيحات:

شات د طبيعت يو ځانګړی انټي بيوټيک دی، چې د بدن د مختلفو ناروغيو په درملنه کې مرسته کوي .شات د ويټامينونو، منرالونو، او انټي آکسيډنټونو منابع دي .دا د هاضمې لپاره ګټور دی، د زخمونو درملنه کې مرسته کوي، او د زړه او رګونو د ناروغيو مخنيوی کوي . شات د باکترياوو او ويروسونو پر وړاندې دفاعي ځواک هم لري، چې د مختلفو انتاناتو د مخنيوي لپاره کارول کېږي.

## .7د معتدل خوب ګټې(Sleep Cycle & Brain Function)

نبي كريم ﷺ وفرمايل:

"إذا نعس أحدكم في صلاته، فليرقد حتى يذهب عنه النوم، فإن أحدكم إذا صلى وهو ناعس لعله يذهب يستغفر فيسب نفسه"

(بخاري، ۲۱۰)

ترجمه:

"كه تاسو په لمانځه كې ستړي شوي ياست، نو بايد ويده شئ ترڅو له خوب څخه بيدار شئ . ځكه چې كه څوک په خمار حالت كې لمانځه وكړي، ښايي د ځان لپاره معافی وغواړي او ځان ته زيان ورسوي".

علمي توضيحات:

ساينس وايي چې مناسب خوب د دماغ فعاليت، حافظې او رواني حالت لپاره حياتي دی .كم خوب د حافظې كمزوري، ذهني فشار، او رواني ستونزو لكه اضطراب او ډيپريشن لامل كيږي .د خوب د مناسب وخت او كيفيت ته توجه كول د دماغ د ښه فعاليت او رواني سلامتی

لپاره اړین دي .اسلام هم پر خوب باندې تمرکز کړی او دغه حدیث د متوازن ژوند لپاره د مناسب خوب اهمیت روښانه کوي.

## .8 د اعتدال ساتل(Balance in Life & Health)

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

"وَإِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا"

(بخاري، ۱۸۶۷)

ترجمه:

"او ستاسو بدن پر تاسو حق لري".

علمي توضیحات:

د متوازن ژوند ساتل، چې پکې مناسب خوراک، ورزش، او کافي خوب شامل دي، د جسم او ذهن لپاره حیاتي دي .ساینس وایي چې مناسب تغذیه، فزیکي فعالیت او ښه راحتۍ د بدن سیستمونه لکه د زړه، هضمي او عصبي سیستم ښه ساتي .متوازن ژوند د رواني روغتیا لپاره هم ډېر مهم دی، ځکه چې دا د فشار او اضطراب کمولو سره مرسته کوي.

## .9 د تازه میوو خوړل(Fresh Fruits & Nutrition)

نبي کریم ﷺ د خرما ستاینه کړې او فرمایلي یې دي:

"بيت لا تمر فيه جياع أهله"

(مسلم، ۲۰۴۶)

ترجمه:

"هغه کور چې پکې خرما نه وي، د هغې کور اهل یې ګرسنه وي".

علمي توضیحات:

خرما د غذايي موادو يوه غوره سرچينه ده، چې د ويټامينونو، منرالونو، او فايبر په شمول مختلف مغذي توکي لري .دا د بدن انرژۍ لپاره يو قوي سرچينه ده، د هاضمې سيستم لپاره ګټوره ده، او د زړه او هډوکو د ساتنې لپاره اړينه ده .خرما کې انټي آکسيډنټونه هم شتون لري چې د بدن د حجرو او نسجونو ساتنه کوي .ساينس د خرما روغتيايي ګټې تاييد کړې دي، چې د دې حديث له مخې د صحتمند ژوند لپاره اهميت لري.



**اووه ساينسي حقايق چې د نبي کريم ﷺ صداقت ثابتوي**

ساينس هره ورځ نوي کشفيات کوي، خو دا کشفيات هغه څه تصديقوي چې نبي کريم ﷺ ۱۴۰۰ کاله مخکې ويلي وو .دا اووه ساينسي حقايق د نبوي حديثونو د حقيقت يوه بېلګه ده، چې ثابته کړي چې حضرت محمد ﷺ يو رښتينی پيغمبر و.

**۱ .د اسلام نړيوال خپرېدل**

**حديث:**

نبي کريم ﷺ وفرمايل:

"دا موضوع به هر ځای ته ورسيږي، لکه څنګه چې شپه او ورځ هر ځای ته رسيږي".

(رواه احمد)

ساينسي تحليل:

نن ورځ، اسلام د نړۍ په هر هېواد کې شتون لري، حتا په هغو سيمو کې چې مخکې چا تصور نهشو کولی .د احصايو له مخې، اسلام د نړۍ تر ټولو چټک خپرېدونکی دين دی، او تر ۲۰۲۵ کال پورې به تر ټولو لوی دين شي.

نتيجه:

۱۴۰۰ کاله مخکې، داسې خبره کول غيرمعمولي وه، خو نن ساينس او احصايې دا خبره ثابتوي.

**۲ .د خاورې پاکوونکی خاصيت**

حديث:

نبي کريم ﷺ وفرمايل:

"ځمکه ما ته د لمانځه ځای او د پاکوالي وسيله وګرځول شوه".

(رواه مسلم)

ساينسي کشف:

ساينسپوهانو موندلې چې ځمکه د انتيبيوتيک مواد لري، چې خطرناک باکترياوې وژني . تجربو ښودلې چې د ځمکې خاوره کولی شي د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې د سختو باکترياوو يوه ټوله کالوني له منځه يوسي.

نتيجه:

دا ثابته شوه چې خاوره واقعاً د پاکوالي وسيله ده، لکه څنګه چې نبي ﷺ وويل.

**۳ .د عربو د ځمکې بيا زرغون کېدل**

حدیث:

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

"قیامت به تر هغه نه راځي، ترڅو چې د عربو خاوره بېرته شنه او له سیندونو ډکه نشي".

(رواه مسلم)

سایني کشف:

ناسا **(NASA)** فضايي ځېړنو ښودلې چې د عربو صحراوې یو وخت د سیندونو، ځنګلونو، او حیواناتو کور وې .ساینسپوهانو دا هم موندلې چې د اقلیم بدلون به دا سیمه بېرته زرغونه کړي لکه څنګه چې د ۲۰۲۳ کال د بارانونو له امله د مکې غرونه تک شنه شوله.

نتیجه:

د حدیث نبوي وړاندوینه علمي مطالعاتو تصدیق کړه.

۴ **.د بریښنا** (lightning) **چټکتیا**

حدیث:

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

"آیا نه وینئ چې بریښنا راځي او بېرته ستنیږي، د سترګو د رپ په اندازه؟"

(رواه مسلم)

سایني کشف:

ساینسپوهانو موندلې چې بریښنا دوه پړاوونه لري:

کښته کېدل (له بادل څخه ځمکې ته)

بېرته پورته کېدل (له ځمکې بېرته بادل ته)

ساینسپوهانو هم معلومه کړې چې د برېښنا یو ځل چمک ۲۵ فېصدي ثانیې دوام کوي، چې د سترګو د رپېدو وخت ته ډېر نږدې دی.

نتیجه:

نبي ﷺ دا حقیقت هغه مهال بیان کړ، کله چې هیڅ وسایل د برېښنا د سرعت د معلومولو لپاره نه وو.

**۵ . د مغز د پیشاني (forelock) اهمیت**

حدیث:

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

"ای الله !زما پیشاني ستا په لاس کې ده".

(رواه احمد)

ساینسي کشف:

د انسان پیشاني برخه **(frontal lobe)** د فکر کولو، پرېکړو نیولو، او استدلال مرکز دی . ساینسپوهانو موندلې چې دا د انسان د شخصیت، مشرتابه، او خلاقیت تر ټولو مهمه برخه ده.

نتیجه:

نبي ﷺ ۱۴۰۰ کاله مخکې وویل چې د انسان پیشاني د الله تر کنټرول لاندې ده، او نن ساینس ثابتوي چې دا د عقل تر ټولو مهمه برخه ده.

**۶ .د ناڅاپي مړینې زیاتوالی**

حدیث:

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

"د قیامت له نښو څخه یوه ناڅاپي مړینه ده".

(رواه طبراني)

ساینسي کشف:

د روغتیا نړیوال سازمان (**WHO**) راپورونه ښيي چې د ناڅاپي مړینې پېښې (لکه د زړه حمله، دماغي سکته، او نورې ناروغۍ) په وروستیو کلونو کې ډېرې زیاتې شوې دي.

نتیجه:

د نبوي حدیث وړاندوینه ساینس تصدیق کړې ده.

**۷ . زړښت (senility) درملنه نه لري**

حدیث:

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

"ای د الله بندګانو !د خپلو ناروغیو درملنه وکړئ، ځکه چې هرې ناروغۍ ته درمل شته، پرته له زړښت څخه".

(رواه احمد)

ساینسي کشف:

ساینسپوهانو موندلې چې د عمر اوږدولو هڅې ناکامې دي، او زړښت یوه داسې پروسه ده چې نهشي درمل کېدای .حتا که انسان خپل عمر اوږد کړي، نو بدن ته به یې ناوړه اغېزې ورسېږي.

نتیجه:

د نبوي حدیث وړاندوینه ساینس تأیید کړې ده.

پایله

دا اووه علمي حقایق ثابتوي چې نبي کریم ﷺ ربښتینی پیغمبر و.

دا ثابتوي چې د حديثونو خبرې علمي بنسټ لري، او دا چې رسول الله ﷺ ته دا معلومات د وحې له لارې ورکړل شوي وو.

ځنګه کولی شو دا علمي معجزې خلکو ته ورسوو؟

د علمي اعجاز ليکنې په بلاګونو، ټولنيزو رسنيو، او ويب‌سايټونو خپرول

د ساينسپوهانو او تحقيق کوونکو سره بحث کول

د ځوان نسل ته د قرآن او سنت علمي اعجاز معرفي کول

د اسلام حقانيت ورځ تر بلې لا روښانه کېږي، ځکه چې ساينس د قرآن او حديث تصديق ته رسيږي .الحمدلله!




**هر ژوندی شی له اوبو جوړ شوی**

قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله مخکې يو داسې حقيقت بيان کړی، چې د ژوند د اساساتو له سترو ساينسي کشفياتو څخه شمېرل کېږي .دا آيت يوازې يو ساده حقيقت نه، بلکې د ژوند د

اصل، د حجراتو د بقا، د بیولوژیکي تعاملاتو، او حتی د سیارو د سپړنې لپاره یوه علمي قاعده ده.

١ . قرآني حقیقت – ژوند او اوبه

الله تعالی فرمایي:

وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ٣٠
(سورت الأنبیاء :٣٠)

ژباړه:
"او موږ له اوبو څخه هر ژوندی شی پیدا کړی، نو ایا هغوی ایمان نه راوړي؟"

دا آیت ښکاره بیانوي چې د ژوند اصل اوبه دي، او هر ژوندی موجود د اوبو پر بنسټ ولاړ دی.

٢ .د ژوند اصل – حجرات **(Cells)** او اوبه

(١ )د حجراتو ٧٠٪ څخه تر ٩٠٪ برخه اوبه دي

ټول ژوندي حجرات د اوبو له غشا**(Cytoplasm)**
څخه جوړ دي، چې د ژوند بنسټیزه کیمیاوي تفاعل پکې ترسره کېږي.
د انساني بدن حجرات ٧٠٪ اوبه لري، او ځینې باکتریاوې حتی ٩٠٪ اوبه لري!
که حجرات له اوبو محروم شي، ژوند ناشونی کېږي.

(۲) د**DNA**، **RNA** ، او پروټینونو لپاره د اوبو اهمیت

**DNA** چې د ژوند کوډ لري، یوازې په اوبو کې خپل جوړښت ساتي.

پروټینونه، انزایمونه، او نور بیولوژیکي مالیکولونه د فعالیت لپاره اوبو ته اړتیا لري.

د حجراتو دننه کیمیاوي تعاملات د هایډرولیسس **(Hydrolysis)** اوبیو کې ترسره کېږي، چې بې له اوبو ممکن نه دي.

۳ .د سیارو سپړنه – د ژوند لپاره د اوبو اهمیت

ناسا **(NASA)** او **ESA** (اروپایي فضایي اداره) د ژوند د موندلو لپاره د اوبو نښې لټوي.

که په مریخ، یوروپا، یا د زحل په انسلادوس سپوږمۍ کې اوبه موندل شي، دا د ژوند امکان ته اشاره کوي.

دا علمي قاعده چې" چېرته چې اوبه وي، هلته ژوند ممکن دی"، هماغه حقیقت دی چې قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړی و!

ساینس پوهان وایي :

**"No Water, No Life!"** یعنې بې له اوبو ژوند ناشونی دی!

۴ .د قرآن حیرانوونکی اعجاز – دا یوازې یو ساده کشف نه دی!

۱۴۰۰ کاله مخکې، انسانان نه پوهېدل چې حجرات څه دي

، **DNA** څه دی، او د ژوند کیمیاوي اصول څه دي.

قرآن کریم دا حقیقت هغه وخت بیان کړ، چې هیڅ انسان دا نه پوهېده!

نن ساینس تصدیقوي چې د ژوند اصل اوبه دي، او د دې حقیقت کشف د بایوکیمیسټري، بایوفزیک، او ستورپوهنې لپاره یو له سترو علمي پرمختګونو څخه دی.

پایله – قرآن د ساینس نه مخکې و!

دا حقیقت د قرآن عظیم شان اعجاز ثابتوي، چې د ژوند تر ټولو مهم علمي حقیقت یې ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړی و!

ایا دا یو عادي انسان ویلای شو؟ نه !دا یوازې د الله تعالی کلام دی!



## د سخت اواز تخریبي قوت

شدید اواز، سخت اثرات، او قرآني اعجاز

په قرآن کریم کې د قیامت د ورځې د سخت اواز (نفخ في الصور) ذکر شوی، چې دا اواز به دومره طاقتور وي، چې غرونه، ځمکه، او هر څه به له منځه یوسي .دا مفکوره یوازې مذهبي نه ده، بلکې ساینس هم ثابتوي چې شدید اواز فزیکي مواد زیانمنولی شي .راځئ، دا موضوع د علمي، فزیکي، او قرآني اړخونو څخه تحلیل کړو.

۱ **.**د فزیک له نظره **:**د اواز قوت او تخریبي اثرات

## ۱.۱ د غږ شدت **(Sound Intensity)** او د غږ فشار **(Sound Pressure Level - SPL)**

غږ یو میخانیکي څپېز حرکت دی، چې د هوا، اوبو، یا جامدو موادو له لارې خپرېږي **.**د غږ شدت د ډیسیبل **(dB)** په واحد اندازه کیږي**.**

نرم اواز **30 dB :**(زمونږ عادي خبرې)

لوړ اواز **90-100 dB :**(د طیارو غږ)

شدید اواز **150 dB :**(انسان ته زهرجن، د غوږ پرده شلولی شي)

فوق العاده اواز **190-200 dB :**(هر ډول ماده تخریبولی شي)

که غږ د **200 dB** حد ته ورسیږي، نو دا کولی شي جامد مواد له منځه یوسي، او حتی ساختمانونه ونړوي**.**

## ۲.۱ صوتي موجونه او زلزله **(Seismic Waves vs. Sound Waves)**

ځینې شدید صوتي موجونه کولی شي ځمکه ولړزوي، لکه څنګه چې د زلزلې څپې دا کار کوي **.**

کله چې زلزله راځي، نو دا د **Seismic Waves** له لارې

د ځمکې سطح ته انرژی لېږدوي، چې دا هم د میخانیکي موجونو یوه بڼه ده**.**

که یو سخت صوتي موج تولید شي، نو دا کولی شي داسې قوي کمپنې **(vibrations)** رامنځته کړي، چې غرونه، ودانۍ، او ځمکه یې تحمل نه شي کولی، او ړنګ شي.

٢ **.**د قرآن کریم اعجاز **:**د سخت اواز تخریبي قوت

قرآن کریم د قیامت د ورځې د شدید اواز په اړه داسې بیان کوي:

١**.**٢ د صور پوکل (نفخ في الصور) او د اواز اغېزې

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

(فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ۝ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ)

(المدثر **:**٨-٩)

ژباړه" **:**نو کله چې شپیلۍ وپوکل شي، دا به هغه ورځ وي، چې سخته ورځ به وي"**.**

د صور پوکل د سخت اواز تمثیل دی، چې انسانان به بې سده کړي، غرونه به خورې ورې شي، او ځمکه به ولړزوي.

٢**.**د غرونو له منځه وړل د سخت اواز له امله

فَاِذَا نُفِخَ فِى الصُّوۡرِ نَفۡخَةٌ وَّاحِدَةٌ ۙ **13-69**

نو کله چې په شپېلۍ کې پوکی وکړی شي، یو پوکی

وَّحُمِلَتِ الۡاَرۡضُ وَالۡجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ۙ**14-69**

او څمکه او غرونه پورته کړی شي، پس دغه دواړه ریزه ریزه کړی شي، یو ځلې ریزه کول

۳.۲ د صوتي موجونو تخریبي قوت ته اشاره

(وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَٰخِرِينَ)

(النمل :۸۷)

ژباړه" **:**او هغه ورځ چې کله په صور کې پوکل وشي، هر څوک به وډار شي، پرته له هغو چې الله یې وساتي، او ټول به هغه ته په عاجزۍ سره حاضر شي"**.**

دا د شدید غږ د انسانانو، ژوو، او طبیعت پر فزیکي تاثیراتو اشاره کوي**.**

۳ **.**ساینسي څېړنې د قرآن تصدیق کوي

۱.۳ د صوتي وسلو تجربې

اوسنی ساینس ښيي، چې صوتي وسلې **(Acoustic Weapons)** کولی شي خلکو ته زهرجن تاثیرات ورسوي، حتی د موادو جوړښت ته زیان ورسوي**.**

د امریکا نظامي څېړنې ښيي، چې **180-200 dB** سخت غږ کولی شي جامد مواد مات کړي**.**

**NASA**ښودلې چې شدید صوتي موجونه د زلزلې د څپو په څېر اغېزې لري**.**

## ۲.۳ د لوړ شدت صوتي موجونو طبيعي مثالونه

آتشفشانونه کله چې منفجر شي، نو داسې شديد صوتي موجونه رامنځته کوي، چې څو زره کيلومتره فاصله کې يې خلک احساسولی شي.

تندر او برېښنا کله چې راځي، نو شديد **Shock Waves** توليدوي، چې زلزله ته ورته غږونه جوړوي.

## ۴ .پايله

قرآن کريم د سخت اواز د تخريبي تاثيراتو په اړه واضح بيان لري، چې دا ساينس اوس کشف کړي.

شديد صوتي موجونه کولی شي غرونه او ځمکه وخوځوي، چې دا د قيامت د ورځې د صور پوکل سره مشابه ده.

ساينس ثابتوي، چې د **200 dB** څخه پورته اواز کولی شي جامد مواد له منځه يوسي، ودانۍ ونړوي، او حتی انساني مغز ته زيان ورسوي.

دا قرآني اعجاز يو بل ژوندی مثال دی، چې د ۱۴۰۰ کلونو مخکې بيان شوی و، او اوس ساينس يې تائيدوي.

وما علينا إلا البلاغ.




**سترګو د سپینوالي طبّي اعجاز**

د یعقوب علیه‌السلام د سترګو د سپینوالي طبّي اعجاز

آیت مبارک:

وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ ٱلْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ
(سورت یوسف :۸۴)

**ترجمه:**

او (یعقوب) له هغوی مخ واړاوه او ویې ویل :«ای زما افسوس د یوسف لپاره!» او د غم له امله یې سترګې سپینې شوې، نو هغه (د خپل درد) غمجن ساتونکی و.

د سترګو د سپینوالي طبّي اعجاز

په قرآن کریم کې دا یو له هغو نادره طبیعي حقایقو څخه دی چې معاصر طب یې تاییدوي .
دا آیت شریف د یعقوب علیه

السلام د سترګو د دید د کمېدو یا د نابینا کېدو یو علمي توضیح وړاندې کوي، چې موږ یې اوس د کټارکټ (**Cataract**) یا د سترګو د سپین‌والي ناروغۍ په نوم پېژنو.

۱ **.**د سترګو د سپینوالي طبیعي سببونه – د معاصرو څېړنو تایید

د سترګو د عدسې (**lens**) کدر کېدل د زړوالي، شدید احساساتي فشار، یا فزیکي زیان له امله رامنځته کېږي.

د ډېرو اوښکو تویېدل، دوامداره غم، او رواني فشار د سترګو د عدسې پروټینونه اغېزمنوي، چې په پایله کې د کټارکټ لامل کېږي.

معاصرې څېړنې ښيي چې شدید غم، رواني فشار، او ژړا د سترګو عدسه ضعیفه کوي، چې دا د یعقوب علیه‌السلام د حالت سره دقیقاً توافق لري.

۲ **.**د علمي څېړنو تایید

(۱) د ژور غم او کټارکټ ترمنځ اړیکه

ډاکټر جېمز اے .لي – (**Dr. James A. Lee**) د سترګو ناروغیو متخصص

څېړنه **:**ډاکټر جېمز اے .لي په خپل تحقیق کې ښيي چې د دوامداره فشار هورمونونه (**Cortisol**)د سترګو عدسه زیانمنوي او د کټارکټ د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

نتیجه **:**د سترګو ناروغۍ یوازې د زړوالي له امله نه، بلکې د رواني فشار له کبله هم رامنځته کېدای شي.

(۲) د احساسي صدماتو او بينايي کمزورتيا اړيکه

ډاکټر اندريو باستين – **(Dr. Andrew Bastain)** د نيورولوژۍ متخصص

څېړنه **:**هغه په ۲۰۱۶م کال کې خپله څېړنه خپره کړه، چې پکې ويل شوي **:**

ژور غم د **Sympathetic Nervous System** فعالوي، چې د سترګو د عدسې پر پروټينونو اغېز کوي**.**

دا فشار د لينس کدر کوي او د کټارکټ چټک پرمختګ ته لاره هواروي**.**

قرآني تطبيق **:**دا هماغه پروسه ده چې يعقوب عليه‌السلام ته ورپېښه شوه، څکه قرآن وايي**:**
**"**وَٱبْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ ٱلْحُزْنِ **"**(د غم له امله يې سترګې سپينې شوې)**.**

۳ **.**د سترګو بيرته رغېدل – يو بل اعجاز

کله چې د يوسف عليه‌السلام کميس يعقوب عليه‌السلام ته راوړل شو، او هغه کميس يې په سترګو کېښود، د هغه بينايي بېرته راګرځېده**:**

(سورت يوسف **:**۹۶)

فَلَمَّآ أَن جَآءَ ٱلْبَشِيرُ أَلْقَىٰهُ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ فَٱرْتَدَّ بَصِيرًا ۖ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّىٓ أَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ

(نو کله چې زېری راوړونکی راغی، هغه (کميس) يې د يعقوب پر مخ کېښود، نو هغه بېرته بينا شو**...**)

**(۱) د سترګو بېرته رغېدل او بويي درملنه(Olfactory Therapy)**

ډاکټر ريچارډ ايکسل **(Dr. Richard Axel)** او ډاکټرې ليندا باک **(Dr. Linda Buck)** – د نوبل جايزې ګټونکي (۲۰۰۴)

څېړنه **:** دوی وموندله چې بويي محرکات **(Pheromones)** کولای شي د انساني حجراتو فعاليت بدل کړي.

د قرآني ارتباط احتمال **:** د يوسف عليه‌السلام کميس يو ځانګړی معجزاتي بوی درلود، چې د يعقوب عليه‌السلام د سترګو رغېدو سبب شو.

پايله

دا علمي څېړنې د قرآن کريم د ساينسي اعجاز قوي تاييد کوي .د يعقوب عليه‌السلام د سترګو د سپينوالي او د بېرته روغېدو کيسه د طب معاصر تحقيق سره په عيني توګه برابره ده .دا ثابته شوې چې شديد غم د سترګو عدسه زيانمنوي، او همداراز بويي محرکات د بدن پر حجراتو مثبت اغېز کولی شي، کوم چې د قرآن د حيرانوونکي اعجاز يو روښانه دليل دی.



## حرارتي سیوري

د حرارتي سیوري اعجاز :د ساینس، تاریخ او قرآن له نظره

مقدمه

سیورى عموماً هغه ځاى ته ویل کیږي چیرته چې رڼا نه رسیږي، خو حرارتي سیورى د تودوخې او انرژۍ د اغیز له امله جوړیږي .دا پدیده، چې د هیروشیما د اتومي چاودنې پر مهال ثابته شوه، د فزیک، تاریخ، او قرآني اعجاز یو حیرانوونکى مثال دى.

آیا امکان لري چې یو عمل د تل لپاره فزیکي نښه پرېږدي؟

آیا د انسان وجود یوازې فزیکي ماده ده، که د انرژۍ یوه دائمي برخه؟

دا مقاله د حرارتي سیوري موضوع د قرآن کریم، ساینس، او تاریخي ثبوتونو له نظره څیړي.

١ . د سیوري مفهوم :فزیکي او قرآني وضاحت

سیوری یوازې د رڼا د مخنیوي له امله نه جوړېږي، بلکې د انرژي د تعامل له امله هم پاتې کېږي.

الف (فزیکي سیوری

عادي سیوری هغه دی چې یو جسم د رڼا مخه ونیسي، او تر شا یو تور ځای جوړ شي.

د حرارتي سیوري لپاره، د تودوخې وړانګې **(infrared radiation)** د یوې سطحې په توپیر سره ثبتېږي.

ب (د قرآن کریم لیدلوری

قرآن کریم د سیوري حرکت ته اشاره کوي، چې د فزیکي قوانین سره بشپړ تطابق لري:

اَلَمْ تَرَ اِلٰی رَبِّكَ كَیْفَ مَدَّ الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا
ۚ ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَیْهِ دَلِیْلًا ۙ

**25-45** ایا تا (د) خپل رب (قدرت) ته نه دي کتلي چې هغه سیوری څنګه غځولی دی او که هغه غوښتلی (نو) هغه به یې خامخا ولاړ (ساکن) ګرځولی وی، بیا مونږ په هغه باندې لمر دلیل وګرځاوه

د حرارتي سیوري اصول هم دا ثابتوي :سیوری ثابت نه دی، بلکې د چاپېریال د شرایطو له مخې بدلېږي.

۲ .د هیروشیما حرارتي سیوري :یو تل پاتې ثبوت

د ۱۹۴۵م کال د اګست پر ۶مه، د امریکا متحده ایالاتو د هیروشیما پر ښار اتومي بم وغورځاوه.

الف (د حرارتي وړانګو شدت

د بم د چاودنې مرکز ته نژدې، ۴۰۰۰-۶۰۰۰ درجې سانتي ګراد حرارت تولید شو.

د انسان وجود یو څو ثانیو کې تبخیر شو، خو د دوی حرارتي سیوری د دیوالونو او ځمکې پر سطحه پاتې شو.

ب (د سیوري ثبوتونه

د **Peace Memorial Park** کې، د یوه سړي سیوری د چاودنې د رڼا او تودوخې له امله دیوال ته نقش پاتې دی.

د **Atomic Bomb Dome** ته نژدې، د زینو **(stairs)** پر سر د یوه کس نښه پاتې ده.

ساینسپوهانو دا د حرارتي وړانګو د جذب نتیجه وبلله.

دا ښیي چې د انسان وجود فزیکي اثر لري، چې د سلګونو کلونو لپاره پاتې کېدای شي!

۳ .د قیامت تصور او د اعمالو ثبتېدل

قرآن کريم د قيامت ورځ داسې بيانوي:

(يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ) (الطارق :۹)
*(په کومه ورځ چې پټ شيان رابرسېره کړل شي.)

الف د اعمالو ثبتېدل د حرارتي سيوري مثال لري

که فزيکي چاودنه د انسان د بدن سيورى د تل لپاره پرېښوداى شي،

نو د قيامت پر ورځ زموږ اعمال، چې انرژي دي، څنګه پټ پاتېداى شي؟

ب د تل لپاره پاتې کېدونکى ثبت

قرآن کريم وايي:

(وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ كِتَٰبٗا) (النبأ :۲۹)
*(او هر شى، موږ هغه په کتاب کې شمېرلى) او محفوظ کړى دى.)

د حرارتي سيوري مثال ښيي چې دا اصول يوازې ديني نه دي، بلکې فزيکي حقايق هم دي.

۴ .د ساينس له نظره د بدن انرژي

الف (د بدن د حرارتي وړانګو توليد

هر انسان **infrared radiation** تولیدوي.

د **FBI** او نظامي ټکنالوژۍ حرارتي انځورونه **(Thermal Imaging)** د همدې اصولو پر بنسټ کار کوي.

ب **(**د جرمونو تحلیل او د پټو نښو کشف

د **FBI** جرم کشفونکو د تېرو شوو انسانانو د بدن نښې د حرارتي تحلیل له لارې موندلي.

دا ښيي چې د انسان وجود یوازې فزیکي نه دی، بلکې د انرژي نښې پرېږدي.

ج **(**د قرآني علمي اعجاز پیاوړتیا

که ساینسي ټکنالوژي نن د پټو نښو کشف کوي،

نو د قیامت پر ورځ به د انسان اعمال څنګه نه ښکاره کېږي؟

۵ **.**عصري ارتباط**FBI :**، نظامي څېړنې، او ساینس

**FBI**د جرمونو د تحلیل لپاره د حرارتي انځورونو کارول پیل کړي.
د نظامي څېړنو لپاره، حرارتي کشف د لېزري وسلو سره یو ځای کېږي.
د ساینس له نظره، د انسان هر عمل د انرژۍ بدلون لري، چې پاتې کېږي.

پایله **:**د حرارتي سیوري معجزه

د هیروشیما حرارتي سیوري یو تاریخي ثبوت دی، چې د انسان اعمال فزیکي نښې پرېږدي.

قرآن کریم له ۱۴۰۰ کلونو وړاندې ویلي چې هر څه ثبتېږي، او دا ساینسي حقیقت ثابته شوه.

دا موضوع ښیي چې د قیامت پر ورځ به پټې شوې نښې څرګندې شي، لکه څنګه چې فزیکي اصول یې نن ثابته کوي.

آیا تاسو باور لرئ چې هر عمل، که ښه وي که بد، د تل لپاره نښه پرېږدي؟



**د غوږونو حافظه**

په قرآن کریم کې راغلي:

لِّنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ

"ترځو موږ دا ستاسو لپاره پند وګرځوو، او (ترڅو) په یاد لرونکي غوږونه یې (په یاد ولري)".
(سورت الحاقه**12 :)**

سائنسي اعجاز

د حافظې د ثبتولو سیستم **:**علم ثابتوي چې غوږونه د اورېدلو معلوماتو د ثبتولو ځانګړی ځواک لري، او د دماغ د حافظې سره مستقیمه اړیکه لري.

د صوتي حافظې مهموالی **:**ساینس وايي چې د انسان د زده‌کړې مهمه برخه د اورېدلو له لارې ترسره کېږي، او دماغ د حافظې زیاتره برخې د اورېدلو معلوماتو ته ځانګړې شوې دي.

د قرآن د الفاظو دقیق انتخاب **:**په آیت کې" وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ "دا مفهوم ورکوي چې غوږونه د یاد ساتلو ځواک لري، چې دا د عصري علومو سره سمون خوري.

نتیجه

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې داسې حقیقت بیان کړی، چې ساینس اوس درک کړی .دا د قرآني اعجاز یوه ښکاره بېلګه ده، چې د انساني بدن د حیرانوونکو سیستمونو بیان کوي.



## Landslides د ځمکې ښويېدل

د ځمکې ښويېدل – **(Landslides)** د قرآن کريم علمي اعجاز

قرآن کريم، **17:68**

اَفَاَمِنْتُمْ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ اَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ وَكِيْلًا ۙ

**17-68** ايا نو تاسو له دې نه په امان کې يئ چې هغه تاسو د وچې ځمکې په يوه خوا کې ډوب (ښخ) کړي، يا پر تاسو باندې کاڼي وروونکی سخت باد راولېږي (او) بيا تاسو د خپل ځان لپاره هېڅ ساتونکی ونه مومئ

د ځمکې ښويېدل او د قرآن اشاره

ځمکې ښوېدل **(landslides)** د ځمکې د سطحې ناڅاپي بدلون ته ویل کېږي، چې د طبیعي یا انساني عواملو له امله رامنځته کېږي .دا پدیده د تکتونیکي تختو د حرکت، زلزلې، سختو بارانونو، یا د ځمکې لاندې تخریب له امله رامنځته کېږي .قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې دا حقیقت داسې بیان کړی" :يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ "چې معنی یې دا ده" :د وچې په غاړه کې تاسو سره ځمکه وښویېږي".

د شکه‌پرستو اعتراض او د ساینس ځواب

ځینې خلک ادعا کوي چې د قرآن د نزول پر مهال خلکو یوازې د شګو د غونډیو ( **sand dunes**) ښوېدل پېژندل، خو د کلکو غرونو د ښوېدو تصور نه و .مګر ساینس نن ورځ تاییدوي چې:

لویې ډبرې **(Rockfalls)** کولی شي د زلزلې یا نورو عواملو له امله راولوېږي.

د غره د بیخ بې‌ثباتي **(Deep-seated slope failures)** کولی شي د وخت په تېرېدو سره لوی ښوېدنې رامنځته کړي.

ګِل‌بهېدل **(Mudflows)** او ملبه‌یي سیلابونه **(Debris flows)** د بارانونو له امله د غرونو پر شا ښکته راتلی شي.

دا ټول حقایق قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړي وو، پداسې حال کې چې ساینس دا یوازې په وروستیو پېړیو کې درک کړ.

نتیجه

د قرآن کریم دا اعجازي بیان د ځمکې د ښوېدو یوه علمي معجزه ده، چې نن یې ساینس هم تاییدوي .دا یو ځل بیا ثابته کوي چې قرآن کریم د انسان له علم نه پورته، الهي وحی ده، چې د نړۍ د حقایقو انکشاف ورکوي.



**په فضا کې د اوبو شتون**

د حدیث شریف او علمي کشف ترمنځ اړیکه :په فضا کې د اوبو موجودیت

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د معراج په یوه حدیث شریف کې فرمایي :«بیا هغه (ص) دوه روان دریابونه په نږدې آسمان کې ولیدل،رسول الله ص وفرمایل یا جبرئل ع دغه دوه دریابونه د څشي دي؟ جبرئل ع وفرمایل دا د نیل او فې‌رات سرچینې دي. » (بخاري ۷۵۱۷).

دا حدیث په لومړي نظر کې شاید یو مذهبي او معنوي حقیقت وښیي، خو نن ورځ د ساینسي کشفونو له مخې، دغه خبره یوازې یو د روحانیت اړخ نه لري، بلکه دا یو حقیقت دی چې د کائنات د اوبو موجودیت ته اشاره کوي.

اوس چې موږ په ساینس کې پرمختګ لرو، یو تازه کشف موږ ته دا ښیي چې په فضا کې د اوبو لویه ذخیره شتون لري .په ۱۲ میلیارده نوره کې د **«APM 08279+5255»** کویزار په شاوخوا کې د اوبو بخار ۱۴۰ ټریلین ځله د ځمکې د سمندرونو اوبو ته برابرېږي .یوازې دا نه بلکې دا خقیقت چې دا د ځمکې د سمندرونو سرچینې دي نن ورځ ساینس دا تاییدوي چې د ځمکې د سمندرونو سرچینې د فضایي سمندرونو پورې اړه لري .

دا کشف د دې حقیقت تایید کوي چې اوبه یوازې د ځمکې پورې محدود نه دي، بلکه د کائنات په اوږدو کې موجودې دي.

دا کشف د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حدیث سره حیرانونکې تړاو لري، ځکه چې هغه د فضا په نږدې طبقه کې دوه روان سیندونه لیدلي، کوم چې د هغه وخت د خلکو لپاره یوازې د غیب یوه خبره وه .نن ورځ، ساینسي معلومات د دې حقیقت ښودنه کوي چې فضا کې اوبه شتون لري او په داسې ځایونو کې چې د سپرمسیو بلاک هولونو شاوخوا ځایونه دي، د اوبو بخار موجود دی.

په دې توګه، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دې حدیث د غیب علم د ساینسي کشفونو سره تایید شوی دی .د علمي ټیکنالوژۍ په مرسته، موږ پوهېږو چې اوبه نه یوازې د ځمکې پورې محدودې دي، بلکې د کائنات په ټولو برخو کې موجودې دي، او دا ښیي چې د ژوند جوړولو لپاره اړین مواد په کائنات کې پراخ شتون لري.

د حدیث په اړه د پوهې له مخې، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغه وخت خلکو ته یو داسې مفهوم وړاندې کړی و چې نن ورځ ساینسي تحقیقونه یې تاییدوي .دې کشفونو د فضا او اوبو په اړه زموږ پوهه یو نوې پړاو ته ورسوله، او موږ ته د قرآن او حدیث د اعجازونو په اړه لا زیات درک رکوي.



**د الله د ویرې نه تیږي راغړیدل**

د الله د وېرې له امله د تیږو رغړېدل – قرآني اعجاز او د **"Dead Valley"** حیرانوونکې پدیده

قرآني بنسټ

**الله جل جلاله فرمايي:**

**"ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِىَ كَٱلْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ ٱلْمَآءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ"**

(سورة البقرة**74** )

**ترجمه:**

"بیا له دې نه بعد ستاسو زړونه سخت شول، نو هغه د تیږو په شان دي، یا په سخت والي کې نور هم زیات دي او بې‌شکه یقیناً ځینې تیږې هغه دي چې له هغو نه وَلِې بهېږي او بې شکه یقیناً ځینې هغه دي چې چوي، نو له هغو نه اوبه راوځي، او خامخا یقیناً ځینې هغه دي چې د الله له وېرې نه رارغړي، او الله ستاسو له عملونو نه کله هم غافل نه دی"**.**

د **"Dead Valley"** د خوځېدونکو تیږو حیرانونکی راز

د امریکا په کالیفورنیا ایالت کې **"Dead Valley"** (مړه دره) د نړۍ له عجایبو څخه ده، چیرې چې تیږې پرته له ظاهري لامل څخه حرکت کوي**!**

د تیږو خوځېدو پدیده – څنګه او ولې؟

ساینس پوهانو کلونه کلونه د دې پدیدې تحقیق وکړ، او لاندې مهم فاکتورونه یې وموندل**:**

د یخ نرۍ پوړ **:**د شپې یخنۍ کې د ځمکې پر مخ یو نری یخ جوړېږي، چې د تیږو لاندې یو نازک پوړ پرېښودل کېږي**.**

د لمر تودوخه **:**کله چې ورځ شي، دا نرۍ یخ اوبه کېږي او تیږې په دې لنده سطحه باندې حرکت کوي.

د باد اغېز **:**توند بادونه د یخ او اوبو له ترکیب سره یوځای د تیږو حرکت ته دوام ورکوي.

د حیرانتیا نقطه – دا تیږې منظمه لاره غوره کوي**!**

ساینس پوهانو تمه درلوده چې که تیږې د طبیعي عواملو له امله حرکت کوي، نو باید بې نظمه وي، مګر برعکس، دا تیږې یوه منظمه او مستقیمه لاره جوړوي، لکه چې څوک یې په قصد سره تنظیم کړي وي**!**

د قرآني اعجاز سره ژور ارتباط

الله جل جلاله وايي" **:**وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ "(او ځینې تیږې د الله له ویرې رغړیږي)**.**
که ساینسي حقایق ته وګورو، نو لاندې ټکي د دې آیت سره مستقیمه اړیکه لري**:**

د طبیعي لاملونو تر شا الهي نظام

ساینسي دلایل یوازې د حرکت شرایط تشریح کوي، خو دا نشي ویلای چې ولې تیږې منظم حرکت کوي.

قرآن د دې پدیدې ته ژور روحاني لامل ورکوي **:**د الله ویره، چې د هستۍ هر شی پرې واک لري.

د تیږو" هوښیار "حرکت – د الهي قدرت نښه





که چیرې دا یو تصادفي پدیده وای، نو باید تیږې هر لور ته بې نظمه تللې وای، مګر دا منظمه بڼه نیسي، چې دا د خالق جل جلاله یو حیرانوونکی قدرت ښیي.

دا ښیي چې نه یوازې انسانان، بلکې جامد شیان هم د الله اطاعت کوي.

قرآن موږ ته د طبیعت روحاني اړخ ښیي

ساینس یوازې د فزیکي عواملو تحلیل کوي، خو قرآن موږ ته د کائنات د هر ذره روحاني واک ته اشاره کوي.

که سختې تیږې د الله له وېرې خوځېږي، نو انسان ته لا څومره د الله وېره لازمه ده؟

پایله – د قرآن یو بل حیرانونکی اعجاز

ساینس یوازې اوس دا کشف کړی چې تیږې ځنګه حرکت کوي، خو قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې وویل:

"وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ "(او ځینې تیږې د الله له وېرې رغړېږي).

دا نه یوازې یو علمي حقیقت دی، بلکې دا موږ ته دا هم ښیي چې د هستۍ هر ذره د خپل خالق جل جلاله تابع دی، نو انسان ته لا څومره د الله اطاعت پکار دی؟

یو مهمه پوښتنه – دا معلومات له کومه راغلل؟

اوس پوښتنه دا ده چې رسول الله ﷺ په ټول عمر کې د امریکا

**"Dead Valley**

"ته نه و تللی، نه یې له یوناني یا رومي فیلسوفانو دا معلومات اخیستي، او نه هغه وخت دا علم چا درلود.

نو بیا دا معلومات له کومه راغلل؟

یوازې یوځواب شته **:**دا د الله کلام دی، چې هېڅوک یې نشي ردولای**!**

سبحان الله !د قرآن هره کلمه یو معجزه ده!



**په خوب کې خوځښت او د غوږونو بندول**

د قرآن کریم د اصحاب کهف کیسه نه یوازې د روحاني معجزې په توګه مهمه ده، بلکې د ساینس په رڼا کې یې هم د طبیعي پدیدو معجزې شتون لري، چې د بدن سیستمونو د کارونې په اړه د پام وړ معلومات وړاندې کوي.

**1.** د غوږونو بندول (په خوب کې)

د قرآن د آیت په دې برخه کې چې ویل کیږي" :بیا د څو کلونو لپاره مو د دوی غوږونه بند کړل "(الکهف11 )، د خوابدی حالت کې د غوږونو بندول یوه ځانګړې معجزه ده .ساینس دا ډول فزیکي حالت د مغزي فعالیتونو له لارې تشریح کوي.

په عمومي ډول، د انسان د بدن د حسیاتو فعالیدل او یا هم غیر فعالیدل په مغز پورې تړاو لري .کله چې یو انسان ویده شي، د مغز ځینې برخې چې د حسیاتو اداره کوي، لکه د غږ احساس کول، خاموشیږي .د دې سره، انسان د خپل چاپیریال غږونه نه اوري .د اصحاب کهف د غوږونو بندول د دې په معنا دی چې د الله تعالی لخوا دوی یوازې د غوږونو له حسیاتي فعالیت پرته په ویده حالت کې پاتې شوي، څو دوی د خپل چاپیریال غږونه ونه

اوري، که څه هم د دوی بدن ویده و، خو د مغزي فعالیت به تر یوې ځانګړې کچې محدود شوی و.

د عصري ساینس له مخې، دغه ډول فزیکي حالت چې د غږ احساس کولو حس بند شي، د طبي تحقیق له مخې کولی شي د یو ځانګړي حالت سره تړاو ولري، لکه د ځانګړو عصبي سیستمونو د فعالیت کمښت یا ځنډ .دې ته ورته حالتونه په نورو طبیعي او مصنوعي شرایطو کې هم رامنځته کیدای شي، لکه په ځانګړو دوایونو یا د ځانګړو عصبي ناروغیو له امله.

## 2 . د خوځښت اهمیت (په خوب کې د بدن اړول)

د قرآن کریم په بل آیت کې ویل کیږي" :وَ نُقَلِّبُهُمْ ذاتَ الْيَمِينِ وَ ذاتَ الشِّمَالِ "(الکهف18 ) . دا آیت د دې خبرې څرګندونه کوي چې اصحاب کهف په ویده حالت کې پر ښي او کیڼ اړخ اړول شوي دي .د دې عمل په علمي تشریح کې د جسماني ستونزو له مخې، دا خوځښت د بدن د داخلي فعالیتونو لپاره اړین دی.

ساینس ښیي چې کله یو شخص اوږدې مودې لپاره په یو ځای کې پاتې شي، د بدن د خونرسانۍ سیستم اغیزمن کیږي .په ځانګړې توګه، د بدن هغه برخې چې د بستر سره تماس لري، ممکن د وینې جریان کم شي، چې دا کولی شي د نسجونو کمزوري او حتی مرګ سبب شي .همداراز، د عضلاتو ضعف، وینه ټینګیدل، او د پوټکي زخمونه هم رامنځته کیدای شي.

دا چې اصحاب کهف په ویده حالت کې د الله تعالی لخوا پر ښي او کیڼ اړخ اړول شوي، یو علمي دلیل لري .د دې عمل په اړه څیړنې ښیي چې په ویده حالت کې د بدن اړول د وینې دوران ته ګټه رسوي، او دا د بدن په انساجو کې د اکسیجن او غذايي موادو رسېدنه بهتره کوي .د دې پر اساس، کله چې یو کس په یو حالت کې اوږده موده پاتې شي، د هغه حالت بدلول د روغتیا ساتنه کوي.

د عمر یا زاړښت ساتنه

ساینس وایي چې د انسان عمر یا زړښت په لمر پورې تړاو لري که چېرته یو انسان د لمر څخه تل په امان اوسي نو ځواني او بدن ته یې د زاړښت کوم ځیان نه رسیږي که به لنډ

ووايو لمر د انسانانو لپاره د خداى ج څخه د اندازه شوي عمر سبب جوړ شوى په داسې خالت کې چې د انسان بادن د لمر وړانګو ته مختاج دى تر څو لمريزه انرجي د شپې خوشي کړي او د ورځې بيا چارج شي.

نو که موږ قران کريم ته توجو وکړو ګورو چې اصحاب کهف د غار په مينځ کې قرار لري او ددوى د ښي او چپ طرفته د اوښتو خوزښت د لمر څخه ددوى د مخونو او بادنونو پناګاه جوړه کړي.

نو دا داليل او د نن عصر د ساينس له نګاه منل شوى خقيقت او د قران کريم ښکاره اعجاز دى چې د دوى د عمر او زړښت مخافظت خداى ج په دې ترتيب کړى وي.

پايله:

د قرآن کريم د اصحاب کهف کيسه يوازې د مذهبي معجزې په توګه نه، بلکې د طبيعي پديدو او فزيکي حقيقتونو د علمي تشريح لپاره هم د پام وړ ده .د دوى غوږونو بندول او د بدن اړول د عصري ساينس له مخې د فزيکي او حسياتي فعاليتونو په اړه د پوهې ښکارندويي کوي .د دې آيتونو علمي معجزې د الله تعالى د پوهې او حکمت څرګندونه کوي، چې د انسان بدن ته د ځانګړو شرايطو سره سم د محافظت او روغتيا تدابير ورکوي.



## د حوت (ماهي)

د حوت (ماهي) د معجزې قرآني اعجاز او علمي حقيقت

په سورة الکهف کې د موسی علیه السلام او خضر علیه السلام د ملاقات کیسه ذکر شوې، چې پکې د یو حیرانوونکي کب (حوت) یادونه شوې .دا کب له مړینې وروسته بېرته ژوندی شو او په اوبو کې په عجیب ډول روان شو.

**.1**د قرآني اعجاز حیرانوونکې نښه

د قرآن کریم الفاظ ډېر دقیق دي، چیرې چې وایي:

"فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِی الْبَحْرِ سَرَبًا "(الکهف**61 :**)

"هغه (ماهی) په سمندر کې (د) سرنګ (په شان) خپله لار ونیوله"

وروسته، کله چې حضرت موسی علیه السلام له خپل خدمتګار یوشع بن نون (رض) سره د سمندر د دوه څنډو یوځای کېدو ځای ته ورسېد، نو خدمتګار وویل:

"وَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِی الْبَحْرِ عَجَبًا "(الکهف**63 :**)

"او (ماهی) په عجیبه توګه سمندر کې خپله لار ونیوله"

✦د" عَجَبًا "کلمه ښیي چې دا یو فوق العاده (معجزوي) کار و، چې یو مړ کب بېرته ژوندی شي او د سمندر په منځ کې خپله ځانګړې لار پیدا کړي.

## 2.علمي کشف او د حیرانوونکو ماهیانو حقیقت

دا قرآني کيسه اوس له ساينسي حقايقو سره حيرانوونکې اړيکه لري.

❖اوسنی ساينس وايي چې ځينې ماهيان داسې ځانګړي ځانګړتياوې لري، چې کولی شي له مړينې وروسته بېرته ژوندي شي، يا د سختو شرايطو سره تطابق وکړي.

### (1) د **Lungfish** معجزوي ژوند

دا ماهی د وچکالۍ پر مهال د خټو لاندې پټېږي او کلونه ويده پاتې کېږي.

کله چې اوبه راشي، بېرته ژوند ته راګرځي، چې دا د مړينې او بيا راژوندی کېدو يو مثال دی.

### (2) د **"Killifish"** عجيب خاصيت

دا يو ډول ماهی دی چې کولی شي خپل بدن **"Pause"** کړي، يعنې که شرايط مناسب نه وي، نو ژوند يې ودرېږي، او کله چې شرايط بېرته عادي شي، نو بېرته ژوند ته راګرځي!

د دې کب **DNA** داسې دی چې د اوږدې مودې لپاره ژوند کولای شي.

### (3) د **"Walking Catfish"** حيرانوونکې ځانګړتيا

دا ماهی کولی شي د اوبو څخه بهر هم ژوندي پاتې شي او ځمکه پرې ووهي، تر څو بېرته اوبو ته لاړ شي.

**(4)** د "**Zombie catfish**"دا ماهیان وروسته له مړينې ختی د سکلیټ کیدو څخه په اوبو سره بیا ژوند ته راځي.

**.3**قرآني معجزه او علمي حقیقت

دا حقیقت چې یو مړ شوی کب بېرته ژوندی شو او خپله لار یې واخیسته، له علمي کشفونو سره سمون لري.

که څه هم دا د معجزې یوه بڼه وه، خو اوس ساینس داسې ماهیان کشف کړي، چې کولی شي ژوند ته بېرته راشي.

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې داسې حقیقت بیان کړی، چې اوس ساینس ورته حیران دی.



**خوب او مرګ**

انسان هره شپه ویده کېږي، خو ایا موږ کله هم فکر کړی چې خوب زموږ د ژوندانه له ستر اسرارونو څخه دی؟ قرآن کریم د خوب او مرګ ترمنځ یو ژور تړاو بیانوي، او ساینس

اوس دا حقیقت درک کړی، چې خوب د مرګ یو موقتي شکل دی. دا قرآني اعجاز هغه وخت لا روښانه کېږي، کله چې موږ د عصري ساینس موندنې ورسره پرتله کړو.

**1.** قرآني آیت – د خوب او مرګ اړیکه

الله جل جلاله فرمايي:

"ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَا فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ"

(الزمر :۴۲)

ترجمه:

"الله نفسونه (ساکانې) قبضوي د هغو د مرګ په وخت کې او هغه (نفس) چې مړ نه وي د (هغه ساه) د خوب په وخت کې(قبضوي)، بیا هغه (ساه) ساتي چې په هغې یې د مرګ فیصله کړې وي او هغه بله تر مقررې نېټې پورې راخوشې کړي، بېشکه په دغو (قبض، ساتلو او پرېښودلو) کې خامخا لویې نښې دي د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي.

وَهُوَ الَّذِىْ يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ لِيُقْضٰى اَجَلٌ مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ

**6-60** او دی همغه ذات دی چې تاسو په شپه کې وفات کوي او هغه پوهېږي پر هغه څه چې تاسو یې د ورځې کوئ، بیا به هغه تاسو په هغې (ورځې) کې راژوندي کوي، د دې لپاره چې ټاکلی وخت پوره کړی شي، بیا به خاص د هغه په طرف ستاسو واپسي وي، بیا به هغه تاسو پر هغو عملونو خبر کړي چې تاسو به کول

**2.** سائنسي حقایق – خوب او مرګ

الف (د مغز فعالیت د خوب پر مهال

ساینس پوهان وايي چې د انسان مغز د خوب پر مهال د **NREM Non-Rapid Eye (Movement**او **REM (Rapid Eye Movement)** مرحلو ته ځي.

د **NREM** په مرحله کې، انسان تقریبا د مرګ غوندې یو حالت ته ځي، چیرته چې مغز ډېر لږ فعالیت لري.

دا هماغه څه دي چې قرآن کریم یې د روح وتل بولي!

ب (د خوب او مرګ پرتله

دا علمي موندنې د قرآن کریم د ذکر شوي حقیقت عین تایید کوي.

**3.** د ۱۹۵۹ کال ساینسي کشف – د قرآن اعجاز

په ۱۹۵۹ کال کې، دوه فرانسوي نیورولوژیستان، **Pierre Mollaret** او **Maurice Goulon**، د **"Coma Dépassé"** اصطلاح معرفي کړه، چې وروسته یې د مغزي مړینې **(Brain Death)** اساس کېښود.

د دوی کشف څه و؟

دوی وموندله چې یو شخص ممکن د زړه ضربان ولري، خو که مغز یې فعالیت ونکړي، نو دا د مرګ یو حالت دی.

دوی دا حالت "**Coma Dépassé**" ونوماوه، چې معنی یې ده" هغسې کوما چې بېرته ژوند ته نه راګرځي".

دا کشف د قرآني حقیقت سره عجیبه ورته والی لري، ځکه قرآن کریم وایي چې روح د مرګ پر مهال اخیستل کېږي، او که بېرته راستون نشي، نو مرګ یقیني دی.

د قرآن او ساینس حیرانوونکی تطابق

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې وویل:

"ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَا فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ "(الزمر :۴۲)

ساینس اوس وایي:

په عمیق کوما کې، مغز فعالیت له لاسه ورکوي، او که بېرته راونه ګرځي، نو مرګ یقیني دی.

په عادي خوب کې، مغز بیا بیداریږي، ځکه ژوندلی شخص دی.

دا د قرآن هغه مفهوم تاییدوي، چې خوب یو موقتي مرګ دی، او مرګ یو ابدي خوب دی!

پایله – د قرآن کریم حیرانوونکی اعجاز

د قرآن کریم علمي اعجاز له دې نه هم څرګندېږي چې هغه حقیقتونه چې ساینس یوازې اوس درک کړي، قرآن ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړي وو .ساینس یوازې دا موندلي چې خوب د مرګ یو موقتي شکل دی، خو قرآن لا وړاندې دا حقیقت واضح کړی و.

د دې قرآني حقیقت درې مهم ټکي:

خوب د مرګ موقتي حالت دی، او مرګ د خوب ابدي حالت دی.

مغز د خوب پر مهال داسې حالت ته ځي، لکه د مرګ حالت.

۱۹۵۹ کال کې، ساینس پوهانو د" مغزي مړینې "کشف وکړ، چې د قرآن بیان سره دقیق تطابق لري.

سبحان الله !دا قرآني اعجاز موږ ته ښيي چې قرآن کریم د الهي علم سرچینه ده، او دا یو داسې کتاب دی، چې علمي، فلسفي او روحاني حقایق یې د قیامت تر ورځې پورې تازه دي.

الله جل جلاله فرمایي:

"إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ "(الزمر :۴۲)

"په دې کې د تفکر کوونکو لپاره نښې دي"!



## د داروین د تکامل د نظریې تیروتنه او د قرآنکریم حقیقت

١. د قرآنکریم بیان :خلقت له نیستي څخه

قرآنکریم واضح بیانوي چې الله (ج) مخلوقات له نیستي څخه پیدا کړي، او دا تخلیق د" کن فیکون "په امر ترسره شوی دی:

"إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ"

(یس :٨٢)

ژباړه:

"کله چې دیو شي اراده وکړي، نو ورته وایي' وشه'، او هغه شي".

قرآنکریم خلقت یو قصدي، منظبط، او الهی بهیر بولي، نه دا چې مخلوقات د تصادف او طبیعي انتخاب پایله وي.

٢ . د داروین د تکامل د نظریې ستونزې

(الف) د اتفاق پر بنسټ خلقت؟

د تکامل نظریه ادعا کوي چې ژوند د تصادفي پېښو پایله ده.

که ژوند د تصادف له لارې رامنځته شوی وای، نو ولې دومره دقیق نظم، معلوماتي DNA، او مشخص سیستمونه پکې شتون لري؟

نن ورځ علم ثابتوي چې د DNA کوډ دومره منظم او هوښیار دی، چې اتفاقي ایجاد یې ناممکن دی.

(ب) د فوسیلي موندنو نشتوالی

که تکامل ریښتینی وای، باید د منځګړو مخلوقاتو فوسیلونه موندل شي.

تر اوسه د داسې مخلوق فوسیل نه دی موندل شوی، چې د یوې بڼې څخه بلې ته د تکامل مرحله وښیي.

داروین خپله اعتراف کړی و چې که فوسیلونه د منځګړو مخلوقاتو نشتوالی ثابت کړي، نو د ده نظریه غلطه ده.

(ج) د پیچلي جوړښتونو ناممکنه تکامل

په بدن کې ډېر پیچلي جوړښتونه شته، چې نشي کولی د تصادف له لارې رامنځته شي.

د مثال په توګه، د سترګې جوړښت دومره پیچلی دی چې د تدریجي تکامل له لارې یې تشریح ناممکنه ده.

د "**Irreducible Complexity**" (نه کمېدونکې پیچلتیا) مفکوره دا ثابتوي چې ژوندی موجود باید له لومړۍ ورځې څخه بشپړ کار کوونکی جوړښت ولري، نه دا چې د تصادفاتو په پایله کې رامنځته شي.

۳ . د تکامل د نظریې علمي ردونه

پروفیسر مایکل بیهي **(Michael Behe)** د "**Darwin's Black Box**" کتاب لیکوال، وایي:

"ژوند دومره پیچلی دی چې نشي کولی د تصادفي بدلونونو له لارې رامنځته شي".

مارک چارنکي، چې د تکامل پلوی و، اعتراف کړی:

"د تکامل د نظریې تر ټولو لویه ستونزه دا ده چې فوسیلونه یې نه تاییدوي".

۴ . د قرآنکریم الهي اعجاز

قرآنکریم د خلقت د اصلي حقیقت بیان کوي، چې الله (ج) هر څه د خپل ځواک او علم پر بنسټ پیدا کړي.

"اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ "(الزمر :۶۲)

"الله د هر شي پیدا کوونکی دی".

نو که علمي حقایق هم دا تاییدوي، ولې ځینې خلک لا هم د تکامل غلطه نظریه تعقیبوي؟

پایله :د تکامل نظریه نه علمي ثبوت لري، نه فوسیلونه یې تاییدوي، او نه منطقي ده .
برعکس، قرآنکریم د خلقت حقیقت بیانوي، چې ټول ژوندی موجودات د الله (ج) د" کن فیکون "په حکم پیدا شوي دي.



**د اختلاف نشتوالی او د الهي وحی ثبوت**

د قرآن کریم اعجاز :د اختلاف نشتوالی او د الهي وحی ثبوت

۱. د قرآنکریم آیتونه د اختلاف د نشتوالي په اړه

۱ " .أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا"
(النساء :۸۲)

ژباړه:

"ايا دوی د قرآن په اړه غور نه کوي؟ که دا د الله پرته د بل چا له لوري وای، نو بې شکه به دوی پکې ډېر اختلاف موندلی وای".

۲" .وَمَا كَانَ هَـٰذَا الْقُرْآنُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ اللَّهِ وَلَـٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ الْعَالَمِينَ"

(يونس :۳۷)

ژباړه:

"دا قرآن د الله پرته د بل چا له لوري نه دی جوړ شوی، بلکې دا د مخکنيو کتابونو تصديق کوونکی او د الهي احکامو تفصيل ورکوونکی دی، پرته له شکه، دا د عالمونو د رب له لوري دی".

۳" .وَهَـٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ"

(الأنعام :۱۵۵) ژباړه:

"دا يو بابرکته کتاب دی، چې موږ نازل کړی دی، نو له هغه پيروي وکړئ او (د الله) څخه ووېرېږئ، ښايي پر تاسو رحم وشي".

۲ .د قرآنکريم اعجاز :د اختلاف نشتوالی

(الف) که دا کتاب د انسان له لوري وای، اختلاف به پکې و

د انسان د هر کتاب، نظريې يا فلسفې سره اختلاف موندل کېږي، ځکه چې انسان خطا کېدونکی دی.

قرآنکریم ۱۴۰۰ کاله کيږي، چې بې بديله پاتې دی، او هيڅ ډول داخلي اختلاف پکې نشته، سره له دې چې په بېلابېلو وختونو کې نازل شوی دی.

(ب) د قرآن علمي، تاريخي او ژبنيز ثبوت

قرآن کريم داسې علمي حقايق بيان کړي چې يوازې په وروستيو پېړيو کې ثابتيږي، لکه د ستوريو جوړښت، د اوبو دوران، د جنين وده، او نور.

هيڅ يو علمي حقيقت چې قرآن يې يادونه کړې، ناسم نه دی ثابت شوی، برعکس، نوي علمي موندنې يې حقيقت لا زيات څرګندوي.

د قرآنکريم ژبه، ترتيب، نظم، او بلاغت داسې دی، چې هيڅوک ورته ورته کتاب نشي راوړلی.

(ج) د قرآن د الهی والي زبات

قرآن داسې تحدي کوي چې هيڅوک ورته نه شي ځواب ويلای:

قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَـٰذَا الْقُرْ آنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا (الإسراء :۸۸)

ژباړه" :ووايه :که ټول انسانان او پېريان سره راټول شي، چې د دې قرآن مثل راوړي، نو هغوی به د دې مثل را نه وړي، که څه هم چې يو له بل سره مرسته وکړي".

۳ . پايله

قرآنکریم د اختلاف نشتوالي، علمي معجزو، تاریخي حقایقو، ژبني نظم، او بې ساري بلاغت له امله د وحی الهي کتاب دی .دا کتاب د عالمونو د رب له لوري دی، او د انسان لپاره هدایت، رحمت، او الهي رڼا ده.

نو آیا خلک د قرآن په اړه تدبر نه کوي؟



**په قرآن کې د قافیو عالي ماهیت**

اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِیْثِ کِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِیَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ۚ ثُمَّ تَلِیْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰی ذِکْرِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِکَ هُدَی اللّٰهِ یَهْدِیْ بِهٖ مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَمَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝

**39-23** الله یو ډېر غوره کلام نازل کړی، داسې کتاب چې (آیتونه یې) یو بل ته ورته او بیا بیا لوستل کیږي، د هغو کسانو پوستکي ترې لړزیږي چې خپل رب نه وېره کوي، وروسته یې پوستکي او زړونه د الله یادولو په لور نرم شي، دا د الله لارښوونه ده، چا ته چې الله وغواړي په دې سره یې لارښوونه کوي، او هغه چې الله یې بې لارې کړي نو بیا د هغه لپاره لارښود نشته

قرآن کریم یو بې ساری کتاب دی چې نه یوازې د خپل محتوا بلکه د الفاظو، ژبې، او قافیو په لحاظ هم معجزه ګڼل کېږي .په قرآن کې د قافیو استعمال د هغې ژورې بلاغت او

فصاحت نښه ده چې د انسان له توانایی څخه بهر دی .قرآن کریم د قافیو له اړخه داسې یوه ځانګړې جوړښت لري چې د نورو ژبو او کتابونو په پرتله بې مثاله دی.

د قافیو اعجاز:

قافیو د قرآن ځانګړی جوړښت :په قرآن کې قافی نه یوازې د ښکلا لپاره کارول کېږي، بلکه د معانیو، مفاهیمو او پیغامونو د ژورولو لپاره هم ځانګړې ارزښت لري .د قرآن کریم په هر سورې او آیت کې قافی د معنا د ټینګولو، ذهني تفکر د هڅولو او د روحاني تاثیر لپاره کارول کېږي .دا کار د قرآن ژبې ته ځانګړی ځواک ورکوي چې د مسلمانانو او حتی د غیر مسلمانانو ذهنونه را جلب کړي.

د" ن "توری ځانګړې کارونه :قرآن کریم کې د" ن "توری د قافیو یوه ځانګړې برخه تشکیلوي .د قرآن کریم په ۲۹ سورې کې چې په مقطعاتو پیل شوې دي، د" ن "توری شتون لري، لکه ص، ط، ح، ی، س، ق، ل، م، ک، ع، ن، ر، ه .دې سورې د دې توري په استعمال کې د قرآن د بې ساري بلاغت نښه ګڼل کېږي .پروفیسور عادل عباس، یو مشهور انګلیسي ساینس پوه، د قرآن په قافیو او تورو باندې ژوره څېړنه کړې ده چې د" قران د قافیو معجزې "په نوم یې کتاب لیکلی دی.

د قافیو احصایې :د قرآن کریم کې د" ن "توري د مختلفو سورتونو لکه" قلم "(8.88٪)، "شعرا "(6.84٪)،" النمل "(32.90٪)، او" القصص "(5.92٪) کې د قافیو سره تړل شوي .ټول ټال په قرآن کې 58.50٪ توري د" ن "توري سره قافیه شوي دي .دا یو حیرانونکی حقیقت دی چې په هیڅ بل ژبه او کتاب کې نه موندل کېږي، او نه شونې ده چې له نیمایي زیات ټوله کتاب په یوه ځانګړي توري مقفی شي.

د قافیو د بې ساري جوړښت معجزه :د قرآن د قافیو دا ډول استعمال او جوړښت د دې کتاب یوه لویه معجزه ده .که څه هم قرآن په عربي ژبه کې نازل شوی دی، خو د دې قافیو د جوړښت او ډول د عربي ژبې د معمول او دودیزو قافیو سره هیڅ تړاو نه لري .د قرآن قافی داسې هنر ښیي چې یوازې د الله تعالی لخوا ممکنه ده او د بشري ژبې توانایي یې نه لري.

## پایله:

د قرآن کریم قافی د هغې د فصاحت، بلاغت، او اعجاز یوه نښه دي . د قرآن په قافیو کې دا ډول د تورو او معانیو تړاو چې د" ن "توري څخه اغیزمن دي، د بشري ځواک او فهم له لړۍ څخه بهر دی .د قرآن د قافیو دغه جوړښت او ترتیب د دې کتاب د ځانګړي او بې ساري معجزې یوه لویه برخه جوړوي.



## له ادبیاتو له اړخه د قرآن کمال

قرآن کریم نه یوازې د دیني او روحاني هدایت لپاره یو لوری دی، بلکه د ادب او فصاحت په برخه کې هم بې سارى کمال لري .قرآن کریم خپل ځانګړی ادبي جوړښت او ژبه لري چې د بشر د توان څخه بهر دی، او د دې کمال د تقلید امکان نه لري .د قرآن د قافیو او جمله بندۍ د بې مثاله ښکلا او تاثیر له امله، دا کتاب د بشري ادبیاتو په تاریخ کې بې مثاله پاتې شوی دی.

د قرآن د ادبي اعجاز ځانګړنې:

د قرآن بې سارى فصاحت :قرآن کريم د يوې داسې ژبې په قالب کې نازل شوی دی چې هم د معانيو د څرګندولو، هم د فصاحت او هم د تاثير د اړخه بې سارى دی .د قرآن ژبه يوه داسې پاکه او غوره ژبه ده چې د هر عمر او هر فکر لرونکو خلکو لپاره په خپل ځای پوهېدونکی او د جذب وړ ده .حتی د عربي ژبې د لويو استادانو لپاره هم قرآن په داسې ډول بيان شوی چې د هغه د تقليد کولو توان نه لري.

د تقليد ناتواني :قرآن کريم خپله بې ساري ځانګړنه دا ده چې هېڅوک يې تقليد نه شي کولی .که څه هم د بشري ادب په ټولو اړخونو کې د تقليد هڅې شوې، خو قرآن يې يوه بيلګه وړاندې کوي چې هېڅ کس نه شي کولی د دې کتاب د ژبې، فصاحت او معانيو په کچه يو ورته اثر وړاندې کړي .په قرآن کې دا حقيقت په مختلفو آيتونو کې ذکر شوی چې که څوک شک لري، نو په څلور لارو يې د قرآن د ورته سوره جوړولو لپاره هڅه وکړي، خو داسې کار به هېڅکله امکان ونه لري.

د" ن "توري اعجاز :د قرآن د يوې ځانګړې ځانګړتيا په توګه، د" ن "توري کارونه يې د بې ساري بلاغت نښه ګڼل کېږي .دا توري په داسې کمال سره د قرآن د جملو او قافيو سره تړل شوي چې دا کتاب د بشري ادبياتو د يوې بې ساري معجزې په توګه وړاندې کېږي .د دې تورو او قافيو کارونه د دې کتاب ځانګړی هنر دی چې د بې ساري بلاغت په لټه کې د انسانانو ذهنونه جذبوي.

د قرآن د کمال څرګندونه په نورو کتابونو کې :د" ن "د توري کاروني په اړه پروفيسور اربوتنات په خپل کتاب کې ليکلي چې قرآن يوه" خالصه عربي بلبله "ده چې نيمه شعري او نيمه نثري بڼه لري .دا د قرآن د فصاحت او بلاغت يوه لويه نښه ده .هغه اشاره کوي چې د قرآن جوړښت او ژبه د بې ساري ښکلا او تاثير څخه برخمنه ده، او هيڅ بل انسان نه شي کولی چې په دې ډول د قرآن له جوړښت سره مشابه څه وليکي.

د قرآن د تاثير وړتيا :قرآن د معجزې په توګه خپل فصاحت، د قافيو ترتيب او د جملو جوړښت سره انسانان د خپل اثر لاندې راوړي .داسې ښکاري چې قرآن د هر انسان لپاره د فکر کولو او غور کولو يوه ژوره لاره ده .د دې کتاب معجزه نه يوازې د دې په ټکو کې

بلکې په هغې ځانګړې ژبه کې هم ده چې د انسان ذهن ته داسې اغېز کوي چې هغه هیڅکله نشي کولی په دې ډول مشابه څه ولیکي.

پایله:

قرآن کریم د ادب، فصاحت، او بلاغت یوه بې ساری معجزه ده چې نه یوازې د دیني هدایت لپاره بلکه د انسان د ژبې، فکر او ذهن د ودې لپاره هم د لامحدود قدرت نښه ده .د دې کتاب ژبه د تقلید له هر اړخه بې ساری او بې مثاله ده، او د دې اعجاز د اوږدې مودې په ترڅ کې يې هیڅوک هم نه دی توانېدلی چې ورته ورته اثر وړاندې کړي.



**دالله  په یاد سره زړونه ارم مومي**

د الله په یاد سره زړونه سکون مومي، دا خبره د داوید رسن په څېړنو کې په ډاګه شوې ده چې د امریکې د څېړنې مرکزونو کې ترسره شوې .د دغه څېړنې له مخې، د مؤمنو او بې

دینو خلکو ترمنځ د زړه د ناروغیو، د وینې لوړ فشار، او ځان وژنې د امکان لږوالی په ګوته شوی دی .دا څیړنې څرګندوي چې مؤمن کسان د بې دینو په پرتله په زیاته کچه روغتیا لرونکي دي .د عقلي طب نړیواله مجله هم داسې رپوټ ورکوي چې بې عقیدې خلک زیات ناروغه کیږي او د ژوند اوږدوالی یې کم دی.

د معاصر طب او روانشناسي پوهان هم تاییدوي چې د دیني عقایدو شتون د انسان روان او جسم لپاره ګټور دی .د هربرت هنس په څیړنو کې چې د امریکې د هاروارډ پوهنتون د څیړنې مرکز کې ترسره شوي، داسې پایلې ترلاسه شوې چې د الله تعالی عبادت او ایمان د انسان روغتیا ته تر بل هر څه زیات اغیزه لري.

ډاکټر هربرت، سره له دې چې خپله عقیده نه لري او یو ملحد دی، په خپلو څیړنو کې دې نتیجې ته رسېدلی چې د الله تعالی یاد او عبادت انسان ته هغه ډول سکون او ځواک ورکوي چې هېڅ بلې عقیده یې نه ورکوي .هغه باور لري چې جسم او روح داسې تنظیم شوي چې باید پر الله تعالی ایمان ولري، او دا حقیقت د طب پوهانو لخوا هم تایید شوی دی.

د قرآن شریف آیت (الرعد**28 :**) هم دغه حقیقت ته اشاره کوي چې **:**«أَلا بِذِكْرِ اللَّـهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ»،

یعنې «بې شکه د الله تعالی په یاد کې زړونه سکون مومي» دا د دې ښودنه کوي چې د الله تعالی یاد او ایمان نه یوازې روح ته آرام ورکوي، بلکې د انسان جسماني روغتیا ته هم ګټه رسوي.

معاصر طب او روانپوهنه دا تاییدوي چې د دیني عقایدو شتون د انسان دماغي او جسماني روغتیا لپاره یو منطقي او جوړونکي فکتور دی .د دې څیړنو او شواهدو پراساس، ایمان د انسان د ژوند او روغتیا لپاره یو حیاتي عنصر ګڼل کیږي.



**د دین نه مراعات او د رواني فشار اغېزې**

قرآن کریم په ښکاره توګه څرګندوي چې له دین څخه غفلت، د الله تعالی د احکامو نه مراعات، او د ایمان کمزورتیا د انسان په ژوند کې د ستونزو، خپګان او رواني فشار سبب ګرځي . الله تعالی فرمايي:

"وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ"

(او څوک چې زما له ذکر څخه مخ وګرځوي، نو خامخا د هغه لپاره به تنګ ژوند وي، او د قیامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو.)

**[طه :۱۲۴]**

د دین نه مراعات اغېزې

روانې فشار او خپګان:

هغه کسان چې د الله تعالی له ذکر او د هغه له احکامو څخه مخ اړوي، له داخلي تشې سره مخ کېږي .دا حالت انسان ته دوامداره خپګان، اندېښنه او رواني ناروغۍ را منځته کوي . الله تعالی فرمايي:

"وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ"

(څوک چې الله غواړي سمه لار وروښيي، د هغه سینه د اسلام لپاره پراخوي، او څوک چې غواړي ګمراه یې کړي، د هغه سینه تنګوي لکه چې آسمان ته خېژي.)

[الأنعام :١٢٥]

جسماني ناروغۍ:

د رواني فشار، خپګان او زړه تنګۍ پایله د جسماني ناروغیو په بڼه ښکاره کېږي .دا ناروغۍ کېدای شي د زړه ناروغۍ، لوړ فشار، هضمي ستونزې، او د معافیت د سیستم کمزورتیا شامل وي .ساینس وايي چې دوامداره خپګان د بدن د معافیت سیستم کمزوری کوي، چې پایله یې د نورو جدي ناروغیو پیدا کېدل دي.

د ژوند کیفیت خرابېدل:

هغه خلک چې دین ته پاملرنه نه کوي، د ژوند معنوي اړخ له لاسه ورکوي، چې د دوی په ټولنیزو اړیکو او د ژوند په کیفیت بدې اغېزې کوي .دوی په ډېرو برخو کې بې برکتي او ناخوښي تجربه کوي.

د دین او ایمان مثبت اغېز

رواني ارامتیا:

هغه څوک چې د الله تعالی ذکر کوي او د هغه احکامو ته غاړه ږدي، په ژوند کې روحي سکون او ډاډ ترلاسه کوي .الله تعالی فرمایي:

"ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ"

(هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او زړونه یې د الله په ذکر ډاډمن کېږي .پوه شئ چې د الله په ذکر زړونه ډاډمن کېږي.)

[الرعد :٢٨]

**د ستونزو سره مقابله:**

ایمان لرونکي خلک پوهېږي چې هر څه د الله تقدیر دی او د دوی لپاره یوه ازموینه ده .دا باور دوی ته د ستونزو او مصیبتونو پر وړاندې ځواک ورکوي او له رواني فشارونو څخه یې ژغوري.

**جسماني روغتیا:**

هغه کسان چې د ایمان له برکته له رواني فشارونو خلاص دي، دوی جسماني روغتیا هم ترلاسه کوي .ساینس دا ثابتوي چې رواني ارامتیا د جسماني ناروغیو د مخنیوي لپاره بنسټیز رول لوبوي.

د رواني فشار او خپګان درملنه په دین کې

**د الله تعالی ذکر:**

د الله تعالی یادونه د خپګان او رواني فشار تر ټولو ښه درملنه ده .په قرآن کې راغلي:

"فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ"

(نو زما یادونه وکړئ، زه به ستاسې یادونه وکړم، او زما شکر وباسئ او کفر مه کوئ.)

**[البقرة :۱۵۲]**

**نماز:**

نماز د مومن د روح غذا ده او د ژوند ټولو ستونزو ته یوه الهامي چاره ده .الله تعالی فرمایي:

"يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ"

(اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړئ .په یقین، الله د صبر کوونکو سره دی.)

**[البقرة :۱۵۳]**

توبه او دعا:

توبه او د الله تعالی سره رابطه د انسان زړه ته سکون او ارامتیا ورکوي .هغه څوک چې له خپلو ګناهونو څخه توبه باسي او د الله څخه مرسته غواړي، د ژوند په هره برخه کې برکتونه ترلاسه کوي.

پایله

د دین نه مراعات او د الله له ذکر څخه غفلت د انسان په ژوند کې د رواني فشار، خپګان، او جسماني ناروغیو سبب ګرځي .له دې حالته د خلاصون لپاره اړینه ده چې د الله تعالی احکامو ته غاړه کېږدو، د هغه ذکر وکړو، او د ژوند په هره برخه کې د هغه رضا وساتو . د دې لارې، انسان نه یوازې رواني سکون ترلاسه کوي، بلکې د دنیا او آخرت بریاوې هم خپلوي.



**د قرآن کریم اعجاز او انسان اراده**

په قرآن کریم کې الله تعالی داسې ویلي دي:

"وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ"

(سوره انسان، آیت ۳۰)

او تاسو هیڅ هم نه غواړئ پرته له هغه څه نه چې الله (ج) یې وغواړي.

یعنې تاسو هېڅ نه غواړئ پرته له هغه څه چې الله غواړي .دا آیت زموږ د ارادې او پرېکړو د مشیئت په اړه د الله تعالی قدرت څرګندوي، او دا یادونه کوي چې زموږ هره اراده د الله تعالی په مشیئت پورې تړلې ده.

پروفیسور بینامین لیبټ او د ارادې تیوري

پروفیسور بینامین لیبټ، چې په ۱۹۷۳ کال کې یې د کلفورنیا پوهنتون کې د دماغ د فعالیتونو په اړه څېړنې پیل کړې، د انسان د تصمیم نیولو په اړه په زړه پورې موندنې کړې دي .د هغه د څېړنو له مخې، انسانانو ته چې د تصمیم نیولو پروسه وړاندې کړل شوه، معلومه شوه چې زموږ فیصلې مخکې له دې چې موږ پرې شعور ولرو، زموږ په دماغ کې تنظیم کیږي .شعور یوازې وروسته له فیصلې فعالیږي.

د دماغ د فعالیتونو اړوند تجربې

پروفیسور لیبټ د خپلو تجربو په ترڅ کې دا موندلې چې انسانان یوازې هغه وخت پر خپل تصمیم پوهیږي چې دماغ یې مخکې له دې چې دوی پرې پوه شي، تصمیم نیولی وي .هغه په یوه تجربه کې ګډون کوونکو ته داسې شرایط وړاندې کړل چې دوی باید یوه ګوته په بل باندې فشار کړي .دا فعالیت دماغ ته مخکې له دې چې شخص پرې پوه شي، ورکړل شوی و .د دې آزموینې پایله ښيي چې د فیصلو ترسره کول مخکې له دې چې شعور پرې پوه شي، په دماغ کې پېښیږي.

د خداي اراده او انسان اراده

دا څېړنې د قرآن کریم سره په حیرانونکي توګه تطابق لري .لکه څنګه چې په قرآن کې بیان شوی دی، انسان یوازې هغه څه غواړي چې الله تعالی یې غواړي .د لیبټ څېړنې دا ثابتوي چې زموږ فکرونه، احساسات، او فیصلې د الله تعالی په مشیئت پورې تړلې دي او هغه پریکړه کوونکي ځواک دی چې زموږ هر حرکت او تصمیم ته لارښوونه کوي.

نتیجه

پروفیسور لیبټ د خپلو څېړنو له لارې دا حقیقت څرګند کړ چې زموږ هر فکر، احساس او عمل د یوه مخکې ټاکل شوي فیصلې نتیجې دي چې په نهایت کې د الله تعالی په اراده پورې تړلې دي .په دې توګه، انسان باید پوه شي چې زموږ اراده د یوه لوی او بې پایانه حکمت تابع ده، او د الله تعالی مشیئت په هر څه کې شتون لري.



**عفوه**

د قرآن کریم د عفوه او بخښنې په اړه چې څېړنې او علمي شواهد وړاندې کوي، د اعجاز نښانې په لاندې ډول دي:

د رواني او جسماني روغتيا په اړه اعجاز:

د قرآن کريم چې عفو ته لومړيتوب ورکوي، څېړنې دا ثابته کړې چې د عفوه کولو سره نه يوازې د انسان رواني سکون زياتېږي بلکه د هغه جسماني روغتيا هم ښه کېږي .د قرآن کې د بخښنې پر اهميت ټينګار

خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ۝

**199-7** ته معاف کول راونيسه (د عفوه کولو طريقه راخپله کړه) او د نېکۍ حکم کوه او له جاهلانو نه مخ وګرځوه

وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ عَفَا وَاَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ۝

او د بدۍ بدله همغسې بدي ده (نه زياته) خو څوک چې تېر شي او سوله وکړي نو اجر يې پر الله دی، بېشکه هغه ظالمان نه خوښوي

بې له دې چې د دې لارښوونې ساينسي توجيه موجوده وه، نن ورځ د معاصر طب له لارې د دې علمي او روغتيايي ګټو تاييد کيږي .دغه حقيقت د قرآن د اعجاز ښودنه ده چې د روحاني او جسماني روغتيا ترمنځ اړيکه وړاندې کوي.

2. د انساني بدن او ذهن په جوړښت کې د الله تعالی پلان:

په قرآن کې الله تعالی د انسان بدن او روح د هغه د يادونې لپاره جوړ کړی دی، چې د" عفو غوره ده "له وينا سره، د انسان د ټولنيز او رواني جوړښت لپاره د الله تعالی لارښوونې همغږي دي .دا د قرآن د علمي اعجاز يوه نښه ده، چې معاصر علم يې له نوو څېړنو سره تاييد کړی دی.

### 3. د عفوه او غصې د ساینسي اغیزو تحلیل:

څیړنې د غصې د زیاتوالی او د هغې په اثر د زړه ناروغیو او عمر کمېدو سره تړاو لري . قرآن چې عفو او بخښنه د انسان په روحانیت او روغتیا باندې مثبت اغېزونه ښیي، ساینسي څیړنې بیا دا د ژوندانه حقیقت ثابتوي، چې د غصې په پرتله عفو کول د زړه او نورو ناروغیو مخنیوی کوي .دا د قرآن د معجزې په توګه ښودل کېږي.

### 4. د قرآن او معاصر ساینس ترمنځ همغږي:

د قرآن کریم د" عفو "مفهوم د معاصر ساینس د څیړنو سره همغږی ښکاري .قرآن کریم چې په عفو ټینګار کوي، نن ورځ د رواني سکون، د زړه ناروغیو او عمر اوږدولو له اړخه د ساینسي څیړنو له مخې تایید کیږي .دا له ساینسي زاویې قرآن کریم ته یوه معجزه ښکاره کوي.

### 5 د اخلاقو او فزیولوژي ترمنځ اړیکه:

قرآن په دې ټینګار کوي چې" عفو غوره ده "او دا یوه اخلاقي لارښوونه ده، چې د انسان روغتیا ته مثبت اغېز لري .د معاصر طب له مخې، هغه کسان چې عفو کوي، نه یوازې د رواني فشار کمښت تجربه کوي، بلکې د زړه ناروغیو خطر هم کموي .د دې علمي تایید سره، د قرآن دغه لارښوونه د فزیولوژۍ او اخلاقیاتو ترمنځ معجزه ښکاري.

په دې توګه، د قرآن د بخښنې او عفوه په اړوند چې څیړنې یې تاییدوي، موږ ته د قرآن علمي اعجاز څرګندوي.



**دعا**

آیت شریف:

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ (غافر**60 :**)

ترجمه:

او ستاسو رب وفرمایل" :ما ته دعا وکړئ چې زه به تاسو ته ځواب درکړم . بېشکه هغه کسان چې زما عبادت څخه پراخه والی کوي، هغوی به جهنم ته داخل شي په پوره توګه".

لیکنه:

عبادت او دعا د انسان او الله ترمنځ اړیکه ښیي .الله سبحانه وتعالی فرمايي" :دعا وکړئ، زه به تاسو ته ځواب درکړم ."دعا او عبادت له الله ته رجوع کول او د هغه څخه مرسته

غوښتل دي . ناروغي يوه داسې حالت دی چې انسان ځان اړ بولي او د الله لور ته راکاږي . دا يوه ازموينه ده، چې انسان ته د خپل ايمان د قوت ښودلو او د ژوند فاني بڼه يادونه کوي.

د ناروغۍ په ترڅ کې، انسان د الله سبحانه وتعالی د رحمت لپاره دعا کوي، خو له بلې خوا، ناروغي د الله له لور څخه د انسان د تېروتنو لپاره د پاملرنې يوه وسيله هم کيدای شي .دا د ايمان لپاره د ثواب او د ګناه لپاره د بخښنې وسيله ده .د هغو کسانو لپاره چې سم ايمان نه لري، شفا يوازې د طبيب او معاصرې طب ټکنالوژۍ په برخه کې شتون لري .خو دوی نه پوهيږي چې الله سبحانه وتعالی د دوی جسمونه روغ پيدا کړي او هغه دی دی چې درمل او طبيب پيدا کړی دی.

ډيری خلک هغه وخت الله ته راګرځي کله چې د طبيب او درملو څخه نا اميد شي، او يوازې له الله څخه مرسته غواړي .لکه څنګه چې په قرآن کريم کې بيان شوې، کله چې انسان په زيان کې وي، په هر حالت کې چې وي، ناست، ولاړ، يا پرځای شوی، موږ ته دعا کوي . خو کله چې له رنځ څخه رهايی ومومي، داسې له الله څخه غفلت کوي، ګواکې هېڅکله يې نه غوښتل.

دعا او عبادت بايد د عمل سره يوځای وي .لکه څنګه چې ناروغ بايد دعا وکړي، بايد د طبيب سره هم اړيکه ونيسي او درمل واخلي .الله سبحانه وتعالی هر څه په دنيا کې د اسبابو سره تړلي کړي دي .نو، انسان بايد د صبر او تحمل سره د الله څخه مرسته وغواړي او د ښې پايلې لپاره انتظار وکړي .ډاکټران د دعا او عبادت په اړه مثبتې اغيزې تاييدوي او وايي چې دا د روغتيا لپاره غوره وسيله ده .د **Newsweek** مجلې په **2003** کال کې يوه مقاله خپره کړه چې وښودله" :د دين او ايمان د سمو درملنو سره، ناروغۍ د ګړنديتوب لامل کيږي".

څېړنې ښيي چې هغه کسان چې ايمان لري، د رواني فشار او روحی انحطاط کمښت تجربه کوي . د شيکاګو پوهنتون څېړنې ښيي چې په هغو خلکو کې چې لمونځ کوي، بې وخته مړينه تر نورو**25** ٪ کم ده.

دعا بايد يوازې د ناروغيو او ستونزو د رفع کولو لپاره نه وي. يو مخلص مسلمان بايد تل د الله رضا غوښتونکی وي .لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمايي" :وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ "(البقره**186** :)، چې کله زما بندګان له تانه وپوښتي، ووايه چې زه هغوی ته نږدې يم او هر دعاکوونکی ته ځواب ورکوم.

له دې امله، دعا او عبادت بايد يوازې د ناروغيو او ستونزو د حل لپاره نه بلکې د الله لور ته د رجوع يوه لاره وي، چې انسان ته په هر حالت کې د ايمان او صبر اهميت ښيي.



**قرآن کریم — یو الهي کتاب چې د انساني لیکوال نښې نه لري**

قرآن کریم – یو الهي کتاب چې د انساني لیکوال نښې نه لري

ډاکټر میلار، چې یو ریاضي‌پوه و او وروسته یې اسلام قبول کړ، له دې امله حیران شو چې کله یې د قرآن کریم تلاوت پیل کړ، هغه تمه درلوده چې پکې به د رسول الله ﷺ د ژوند، د هغه د میرمنو، اصحابو یا شخصي کیسو یادونه وي .خو برعکس، هغه وموندله چې قرآن یو بشپړ سورت د مریم (علیهاالسلام) لپاره ځانګړی کړی دی!

د قرآن کریم ځانګړتیا – ولې د حضرت مریم نوم ډېر ذکر شوی؟

ډاکټر میلار حیران شو چې په انجیلونو (بایبل) کې د مریم (علیهاالسلام) نوم نه یوازې دا چې ډېر کم ذکر شوی، بلکې یو ځانګړی فصل یا سورت هم ورته نه دی ځانګړی شوی.

خو په قرآن کې:

د مریم (علیهاالسلام) نوم ۳۴ ځله ذکر شوی.

د حضرت عیسی (علیه السلام) نوم ۲۵ ځله ذکر شوی.

د مسیح (عیسی) لقب ۱۱ ځله یاد شوی.

په مقابل کې، د محمد ﷺ نوم یوازې ۴ ځله ذکر شوی!

دا ولې مهمه ده؟

که محمد ﷺ پخپله (نعوذ بالله) قرآن لیکلی وای، نو ولې به یې د خپلو عزیزانو (لکه د خپلې مېرمنې خدیجې رضي الله عنها) پر ځای د حضرت عیسی او حضرت مریم ته دومره اهمیت ورکړی؟ دا یوازې هغه څوک کولی شي چې د خپل ځان لپاره نه، بلکې د خدای ج د وحیې د رسولو لپاره خبرې کوي!

د قرآن الهي اسلوب – ولې الله" موږ "وایي؟

کله چې موږ قرآن کریم ته ګورو، په زیاترو آیتونو کې الله سبحانه وتعالی د ځان لپاره "موږ "(جمع) کارولی دی، نه" زه "(مفرد)، لکه:

(إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ)

"بېشکه، دا موږ یو چې ذکر (قرآن) مو نازل کړی، او همدا موږ یې ساتونکي یو " (الحجر :۹)

(إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ)

"بېشکه، دا موږ یو چې ژوند ښنوو او مرګ راولو، او زموږ لور ته وروستی ستنېدل دي "(ق :۴۳)

که محمد ﷺ (نعوذ بالله) دا آیتونه لیکلي وای، نو ولې به یې د" زه "پر ځای د" موږ " اسلوب کارولی وای؟ دا ښکاره کوي چې دا د الله سبحانه وتعالی وحي ده، نه د انسان خبرې!

د قرآن حقیقت – د تورات او انجیل تحریف ته ځواب

په تورات او انجیل کې، انبیاوو ته داسې نسبتونه ورکړل شوي چې د الله سپېڅلي پیغمبران پرې نه ښایي .د بېلګې په توګه، ځینې توراتي روایتونه ادعا کوي چې انبیاوو (نعوذ بالله) زنا، شراب څښل، درواغ، او خیانت کړی!

خو په قرآن کریم کې:

ټول انبیا (علیهم السلام) د لوړ مقام، عزت، او تقوا خلک معرفي شوي دي.

د مریم (علیهاالسلام) په اړه د یهودو غلط تورونه رد شوي، او الله یې پاکه معرفي کړې.

الله سبحانه وتعالی حقیقي دین تشریح کړی، چې له انساني تحریفاتو خلاص دی.

ولې محمد ﷺ دا اصلاحات وکړل؟

پوښتنه دا ده، که محمد ﷺ پخپله قرآن لیکلی وای، نو ولې به یې دا غلط معلومات اصلاح کول؟

ولې یې د تورات او انجیل ټولې کیسې نه منلې؟

ولې یې یوازې رښتیني معلومات وړاندې کړل؟

دا معلومات له کومه راغلل؟

ځواب ډېر ساده دی:

" وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ . إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ"

"هغه (محمدﷺ ) د خپل زړه (خپلو خواهشاتو) مطابق خبرې نه کوي .دا نه دي، مګر وحي چې ورته کیږي ".(النجم :۳-۴)

د قرآن الهي پیغام – ولې الله اولاد نه لري؟

قرآن دا عقیده ردوي چې الله سبحانه وتعالی دې زوی ولري، ځکه چې دا د هغه ذات لپاره مناسبه نه ده.

(لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ)

"نه یې څوک زیږولی، او نه پخپله زیږول شوی دی "(الاخلاص :۳)

ولې الله زوی ته اړتیا لري؟

که الله ته زوی پکار وای، نو د څه لپاره؟

آیا زوی به یې هم خدای وای؟ که نه، نو بیا د خدای زوی ولې وای؟

ولې حتی کوچني ماشومان د توحید عقیده په فطري ډول مني؟

دا ټولې نښې موږ ته ښیي چې اسلام د فطرت دین دی، چې د عقل، منطق، او حقیقت پر اساس ولاړ دی.

نتیجه – قرآن د خدای کتاب دی، نه د انسان!

ډاکټر میلار د قرآن کریم د دې حیرانوونکو حقایقو له مخې په دې قانع شو چې دا کتاب د الله سبحانه وتعالی وحي ده، نه د انسان جوړ کړی کتاب.

قرآن کریم یوازې د یوه قوم یا شخص لپاره نه دی، بلکې د ټول بشریت لپاره دی.

په قرآن کې نه یوازې اسلامي انبیا، بلکې عیسی (علیه السلام) او مریم (علیهاالسلام) ته هم ځانګړی درناوی شوی دی.

دا کتاب د الله سبحانه وتعالی د قدرت ښکاره نښه ده، چې د انسان له عقل، منطق، او فطرت سره مطابقت لري.

آیا دا ټولې نښې کافي نه دي چې انسان پرې پوه شي چې قرآن د خدای کتاب دی، نه د انسان؟




**سجده**

## سجده د ساینس له نظره

### سجده او د بدن فزیولوژي:

کله چې انسان سجده کوي، نو دا وضعیت بدن ته د یوې ګټورې فیزیو لوژیکي برخې په توګه عمل کوي .سر ته وینه رسولو کې مرسته کوي، ځکه چې په دې حالت کې سر د بدن په پرتله ټیټ وي .دا د وینې جریان اسانه کوي او د دماغ لپاره مهم اکسیجن وړاندې کوي، چې په پایله کې د ذهني فعالیتونو لپاره ګټوره ده.

### د پرنجۍ خطر:

په هغه حالت کې چې انسان پرنجۍ کوي (یعنې په ناڅاپي یا زیات فشار سره سر پورته کړي)، دا کولای شي چې د وینې جریان کې اختلال راولي او د سر رګونو ته زیان ورسوي، چې دا کولی شي د مرګ سبب شي .د دې خطر څخه د بچ کولو لپاره باید د بدن حرکات په احتیاط سره ترسره شي او د ناڅاپي فشار څخه ډډه وشي.

### سجده او د بدن لپاره ګټې:

د ملا د درد اعلاج: د هارورډ پوهنتون څېړنو کشف کړي چې سجده کول د ملا د درد لپاره غوره اعلاج دی

د زړه فعالیت ته وده ورکول :د سجده کولو سره د زړه لپاره یو ښه تمرین رامنځته کیږي چې د وینې جریان په منظم ډول تنظیموي .زړه وظیفه لري؛ چې د بدن ټولو برخو ته وینه پمپ کړي، خو سر ته وینه رسول ورته ډېر سخت دي، ځکه دا داسي مثال لري، لکه لوړ غره ته چې د ماشین په واسطه اوبه پورته کوئ.

خو کله چي انسان پر سجده شي؛

نو سر ته دویني رسول ورته ډیر اسان شي.

سجده د اسلام یو مهم عمل دی چې نه یوازې د روحانیت او عبادت لپاره بلکې د بدن لپاره هم ګټور دی .د ساینس له نظره، سجده کولی شي په بدن کې مهم بدلونونه راولي چې د زړه د فعالیت، وینې د جریان، او د مختلفو عضلاتو په فعالیت کې مرسته کوي.

د دماغ اکسیجن ته زیات لاسرسی **:**کله چې سر ټیټ وي، نو د دماغ ته د اکسیجن جریان زیاتېږي چې د تمرکز او فکر کولو لپاره ګټور دی.

د بدن عضلاتو ته ګټه **:**سجده کولی شي د بدن مختلف عضلات، لکه د اوږو، کمر، او پښو، ته لږ فشار ورکړي او هغوی ته راحت ورکړي.

سبحان الله **!** د اسلام دین د انسانانو لپاره یو بشپړ سیستم وړاندې کوي چې نه یوازې روحانیت ته وده ورکوي بلکه د بدن لپاره هم ګټور او صحي دی



**د قرآن کریم اورېدو علمي او روحي ګټې**

## د قرآن کریم اورېدو علمي او روحي ګټې

### د قرآن کریم اعجاز:

قرآن کریم یوازې یوازینی کتاب دی، چې د ژوند لاربښود دی د انسان روح، ذهن، او بدن ته بې شمېره ګټې لري .د دې کتاب اعجاز د علمي څېړنو په رڼا کې لا زیات څرګند شوی، چې د دې تلاوت د انسان په فزیکي او روحي حالت باندې ژور اغېز لري.

۱ . د بدن فزیکي روغتیا او حجروي درملنه:

د قرآني تلاوت صوتي څپې ځانګړي تاثیرات لري .څېړنو ښودلې چې د درې ساعتونو لپاره د قرآن کریم اورېدل د بدن د معافیت نظام پیاوړی کوي، چې ناروغیو ته د بدن مقاومت زیاتوي .دا تلاوت د زړه او دماغ د ساتنې لپاره هم خورا ګټور دی، ځکه چې دا د بدن حجرو فعالیتونه بیا تنظیموي او هغوی ته نوي ځواک ورکوي .د قرآني څپو ځانګړي ارتعاشات هغه ناروغۍ هم درملوي چې نننۍ درملنه یې ګران ګڼي، لکه د زړه حمله او سرطان.

۲ . د روحي سکون سرچینه:

قرآني تلاوت د انسان په روح او ذهن کې یو ډول ارامي پیدا کوي .د قرآن اورېدلو پر مهال د انسان دماغ داسې فریکونسي ترلاسه کوي چې د فشار، تشویش، او ژور خپګان درملنه کوي .دغه الهي کلام د انسان ذهن او زړه ته هغه اطمینان ورکوي چې په نړۍ کې یې بل هیڅ بدیل نشته.

۳ . قرآني حکم او علمي اهمیت:

الله تعالی فرمایي:

وَإِذَا قُرِئَ ٱلۡقُرۡءَانُ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ

(کله چې قرآن تلاوت شي، نو ورته غوږ ونیسئ او چوپ پاتې شئ، ترڅو په تاسو رحم وشي) (.الاعراف :۲۰۴)

دا آیت د قرآن کریم اورېدو اهمیت ته اشاره کوي او موږ ته دا حکم کوي چې د دې کتاب تلاوت ته په پوره پام غوږ ونیسو، ځکه چې دا نه یوازې د الله رحمت راښکته کوي، بلکې زموږ بدن او روح ته هم ځانګړې ګټې رسوي.

پایله:

د قرآن کریم اورېدلو ځانګړي علمي او روحي اغېزونه د دې الهي کلام د اعجاز ښکاره ثبوت دی .د دې تلاوت په مرسته موږ کولی شو خپل بدن، ذهن، او روح روغ او ارام وساتو .نو راځئ چې د قرآن کریم تلاوت او اورېدلو ته زموږ په ورځني ژوند کې ځانګړې ځای ورکړو، ترڅو نه یوازې د الله د رحمت حقدار شو، بلکې زموږ صحت او ژوند هم په مثبته توګه بدل شي.



**د نبوي لارښوونو طبي او ساینسي اعجاز**

**۱ . د خوب پر مهال د څراغونو بندول**

ساینسپوهان وايي، که انسان د خوب پر مهال څراغونه روښانه پرېږدي، نو دا د مغز طبیعي بیولوژیکي پروسو ته زیان رسوي، د هورموني توازن اختلال رامنځته کوي، او د چاغوالي لامل ګرځي .همداراز، د څراغونو بندول د بدن او دماغ د ارامۍ لپاره اړین دي.

رسول الله ﷺ ۱۴۰۰ کاله وړاندې فرمایلي:

"إِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوا السُّرُجَ"

(ترمذي، حديث ۱۸۱۹)

ترجمه" :کله چې تاسې ویده کېږئ، څراغونه مړه کړئ".

دا علمي حقیقت چې نن ساینس کشف کړی، رسول الله ﷺ له ډېر پخوا څخه بیان کړی و.

۲ . پاکي د ایمان نیمه برخه ده

رسول الله ﷺ فرمایلي:

"الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ"

(صحیح مسلم، حدیث ۲۲۳)

ترجمه" :پاکي د ایمان نیمه برخه ده".

نن ساینس ثابتوي چې نظافت د انسان روغتیا ته مهم دی او له ډېرو ناروغیو مخنیوی کوي . منظم اودس، د لاسونو مینځل، او د بدن نظافت د پوستکي، تنفسي، او هضمي ناروغیو مخنیوي ته ګټور دي.

**۳ . د اوبو ناپاکول منع کول**

رسول الله ﷺ فرمایلي:

"لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لَا يَجْرِي، ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ"

(صحیح مسلم، حدیث ۲۸۲)

ترجمه" :تاسې دې هیڅکله هم په ولاړو اوبو کې ادرار نه کوئ، بیا پکې غسل نه کوئ".

نن ساینس وایي چې د انسان ادرار میکروبونه لري چې که په اوبو کې شامل شي، نو د کولرا، ټایفاید، او پولیو ناروغیو د خپرېدو سبب کېږي.

**۴. د لاسونو مینځل**

رسول الله ﷺ فرمایلي:

"إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا"

(بخاري ۱۶۲، مسلم ۲۷۸)

ترجمه" :کله چې تاسې له خوبه راویښ شئ، خپل لاس تر درې ځلو نه پرېمنځئ، مه یې په کاسې کې ننباسئ".

ساینس وایي چې د لاسونو منظم مینځل د میکروبونو او ناروغیو مخنیوي ته ډېر مهم دي، او دا نبوي سپارښتنه د حفظ الصحې یو مهم اصل دی.

**۵ . د بدن پاکوالی او غسل**

اسلام انسان ته د بدني پاکوالي تاکید کړی، او هره جمعه غسل کول مستحب دي .نن ساینس وایي چې غسل کول د پوستکي له ناروغیو، میکروبونو، او د بدن له زهري موادو څخه د خلاصون لامل کېږي.

**۶ . د زړښت مخنیوی نه کېدل**

رسول الله ﷺ فرمایلي:

**"یَا عِبَادَ اللَّهِ !تَدَاوَوْا، فَإِنَّ اللَّهَ لَمْ یَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ دَوَاءً إِلَّا دَاءً وَاحِدًا، الْهَرَمُ".**

(مسند احمد، حدیث ۱۸۳۹۷)

ترجمه" :اې د الله بنده ګانو !تداوي وکړئ، ځکه الله تعالی هېڅ ناروغي نه ده نازله کړې مګر دا چې د هغې لپاره یې علاج نازل کړی دی، پرته له یوې ناروغۍ، او هغه زړښت (عمر زیاتوالی) دی".

نن ساینس وایي چې زړښت یوه طبیعي پروسه ده، او هېڅ تخنیک دا نشي درولی، کوم چې د نبوي حدیث تصدیق کوي.

**۷ . د حجامت طبي ګټې**

رسول الله ﷺ فرمایلي:

**"إِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَدْوِيَتِكُمْ خَيْرٌ، فَفِي شَرْطَةِ مِحْجَمٍ"**

(بخاري، حدیث ۵۶۹۶)

ترجمه" :که ستاسو په درملنه کې خیر وي، نو په حجامت کې دی".

ساینس وایي چې حجامت د وینې دوران ته وده ورکوي، زهرجن مواد باسي، او د عضلاتي دردونو، سر درد، او فشار کمولو کې مرسته کوي.

**۸ . د وبا مخنیوی او قرنطین**

رسول الله ﷺ فرمایلي:

**"إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ فِي أَرْضٍ، فَلَا تَدْخُلُوهَا، وَإِذَا وَقَعَ وَأَنْتُمْ فِيهَا، فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا".**

(بخاري، حدیث ۵۷۲۸؛ مسلم، حدیث ۲۲۱۹)

ترجمه" :که تاسو واورئ چې په کومه سیمه کې طاعون راغلی، نو هلته مه داخلیږئ .او که چیرې تاسو پخپله هماغه سیمه کې یاست، نو له هغې مه وځئ".

نن ساینس وایي چې د قرنطین سیستم د وبا د خپرېدو مخنیوي ته تر ټولو مؤثره لاره ده، چې نبوي حدیث یې ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی و.

**۹ . سجده او د بدن روغتیا**

ساینسپوهانو موندلې چې سجده کول د وینې دوران ښه کوي، دماغ ته کافی اکسیجن رسوي، او روحي ارامتیا زیاتوي .رسول الله ﷺ فرمایلي:

"فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ".

(مسلم، حدیث ۴۸۹)

ترجمه" :نو له ما سره مرسته وکړه، د ډېرو سجدو په کولو سره".

**۱۰. د غاښونو برش کول (مسواک)**

رسول الله ﷺ فرمایلي:

"لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ".

(بخاري، حدیث ۸۸۷؛ مسلم، حدیث ۲۵۲)

ترجمه" :که زما امت ته سختي نه وای، نو ما به هغوی ته د هر لمانځه پر مهال د مسواک کولو امر کړی وای".

ساینس وایي چې د غاښونو پاک ساتل حافظه قوي کوي، میکروبونه له منځه وړي، او بدن ته د ناروغیو د انتقال مخنیوی کوي.

پایله:

د رسول الله ﷺ ټولې نبوي لارښوونې چې موږ ته د صحت، پاکوالي، او حفظ الصحې لپاره راکړل شوې، نن ساینس یې د ګټو تصدیق کوي .دا نبوي احادیث د اسلامي اعجاز څرګند مثالونه دي، چې د انساني روغتیا لپاره ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان شوي او اوس ساینس دا ثابتوي.




## د روژې طبي او ساینسي اعجاز

روژه یوازې یوه مذهبي فریضه نه ده، بلکې یوه طبیعي او علمي پروسه ده چې د بدن پاکوالي او بیا رغونې ته یې ځانګړې ګټې ثابتې شوې دي .د بدن د حجروي پاکوالي (اتوفاګي) او د نوو حجرو بیا جوړېدو پروسه هغه څه دي چې ساینس یې نن ورځ په تفصیل څېړي او د روژې په علمي ګټو باندې زیات ټینګار کوي .دا لیکنه د روژې له ساینسي اړخه په علمي دلایلو رڼا اچوي، ترڅو د دې طبیعي میکانیزم ژور اهمیت وښیي.

اتوفاګي :د بدن پاکولو حیرانوونکې پروسه

اتوفاګي د یوناني ژبې څخه اخیستل شوی، چې معنا یې ده" :ځان خوړنه ."دا هغه پروسه ده چې بدن د لوږې یا کالوري محدودیت په حالت کې خپل زړې، خرابې یا غیر ضروري حجرې او د هغوی اجزاوې له منځه وړي او په نوي انرژي یې بدلوي.

په ۲۰۱۶ کال کې د جاپاني ساینس پوه یوشینوري اوسومي دې موضوع ته یوه ځانګړې نوې رڼا واچوله، چې نوموړي د اتوفاګي د کشف لپاره د نوبل جایزه وګټله .ده ثابته کړه چې کله بدن له بهرني خوراک څخه د انرژۍ په اخستلو کې ناکام شي، نو داخلي زیرمې فعالوي او د زړو حجرو څخه نوي مواد ترلاسه کوي .دا د بدن پاکوالي او د ناروغیو مخنیوي یوه حیاتي پروسه ده.

اتوفاګي څنګه کار کوي؟

کله چې بدن لوږه تجربه کوي، د انرژي د برابرولو لپاره بدن زړو او خرابو حجرو ته مراجعه کوي.

دغه خرابې حجرې او د هغو دننني اجزاوې له منځه وړل کېږي او په پروټينونو او نورو موادو بدلېږي.

دا نوې پروسه د بدن د بيا رغونې سبب ګرځي، چې نه يوازې د ناروغيو مخه نيسي بلکې بدن ته تازه ځواک ورکوي.

د روژې د طبيعي پاکوالي ګټې

١. د زړو او خرابو حجرو پاکوالی

اتوفاګي په زړو او خرابو حجرو تمرکز کوي، لکه هغه حجرې چې خراب پروټينونه لري، د فشار لاندې وي يا د ناروغيو سبب ګرځي .دا پروسه نه يوازې د عمر زياتوالي په جريان کې د خرابو حجرو د زياتېدو مخه نيسي، بلکې بدن د داسې خطرناکو ناروغيو لکه سرطان، الزايمر او نورو څخه خوندي کوي.

3. د حجروي بيا رغونه

کله چې خراب حجرې له منځه ځي، بدن نويو حجرو ته ځای ورکوي .دا د پوستکي، وينې، عضلاتو او نورو حجروي سيستمونو د بيا رغونې لپاره حياتي ده، چې د بدن ځوان ساتلو کې مرسته کوي.

**3.** د سرطان مخنیوی

د خرابو او بې کنټروله وده کوونکو حجرو له منځه وړل د سرطان مخنیوي یوه اساسي لاره ده .کله چې بدن په اتوفاګي بوخت وي، د داسې حجرو د وده مخه نیسي چې سرطان ته لار هواروي.

4. ذهني روغتیا او د حافظې ځواکمنتیا

ساینسپوهانو ښودلې چې د لوږې پر مهال په مغزو کې ځانګړي کیمیاوي مواد لکه **BDNF (Brain-Derived Neurotrophic Factor)** تولیدیږي، چې د حافظې ښه کولو او د عصبي حجراتو د بیا جوړېدو سبب کېږي .دا د الزایمر او نورو ذهني ناروغیو د مخنیوي لپاره یو مهم میکانیزم دی.

5. د وزن کنټرول او د شکرې ناروغۍ مخنیوی

کله چې بدن په لوږه کې انرژي ترلاسه کوي، د انسولین سطحه راټیټېږي، چې د وینې د شکرې تنظیم او د وزن زیاتېدو مخنیوی کې مرسته کوي .د بدن د انسولین حساسیت زیاتېږي، چې د شکرې خطر کموي.

د روژې او ساینس اړیکه

د روژې دا علمي اړخونه په قرآن او احادیثو کې هم په غیر مستقیم ډول یاد شوي دي .د بېلګې په توګه، نبوي حدیث" روژه نیسئ چې صحت مند شئ "(رواه الطبراني) د همدې میکانیزم علمي وضاحت کوي .دا د بدن هغه طبیعي عمل ته اشاره کوي چې د روژې پر مهال فعالیږي او بدن د داخلي پاکوالي پروسې ته اړ باسي.

پایله : د روژې یوه طبیعي نسخه

روژه د انسان بدن ته د ارام، پاکوالي او بیا رغونې فرصت ورکوي .دا د طبیعت له مهمو رازونو څخه ده چې ساینس یې نن یوازې یوه برخه درک کړې ده .روژه نه یوازې د روح لپاره یوه عبادتي طریقه ده، بلکې د فزیکي روغتیا لپاره هم د خالق یوه ځانګړې نسخه ده . که موږ د روژې په فلسفه پوه شو او په سمه توګه یې ونیسو، نو زموږ بدن به له دننه پیاوړی او تازه پاتې شي.

د لا زیاتو څېړنو لپاره، ساینسپوهانو د اتوفاګي په اړه زیات معلومات وړاندې کړي دي، چې د بدن د حجروي روغتیا اهمیت په ډاګه کوي .دې موضوع باندې فکر وکړئ، زده کړئ، او خپل ژوند ته یې عملي کړئ.



**په بازارونو کې تګ او د انسان پر صحت یې اغېزې**

د قرآن او نبوي سنت اعجاز

ساینسپوهانو یوه تازه څېړنه کړې چې ثابتوي په بازارونو کې تګ راتګ د انسان پر فزیکي او رواني روغتیا مثبت اغېز لري .دا څېړنه پر یو شمېر خلکو ترسره شوې، چې پایله یې دا شوه :هغه کسان چې بازار ته ډېر نه ځي او یوازې نادراً یې کوي، هغوی د فزیکي او رواني لحاظه کمزوري دي .برعکس، هغه کسان چې په منظم ډول بازار ته ځي، د ذهني فشار څخه خلاصون مومي، له خلکو سره تعامل کوي، او رواني وضعیت یې ښه کېږي.

قرآني اشاره:

الله تعالی فرمايي:

(وَقَالُواْ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأۡكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشِي فِي ٱلۡأَسۡوَاقِ ۙ لَوۡلَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَلَكٞ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا)

(سورت الفرقان :۷)

ترجمه:

"او هغوی وویل :«دا رسول څنګه دی؟ خواړه خوري او په بازارونو کې ګرځي !ولې پر هغه یو فرښته نه ده نازله شوې چې له هغه سره یو خبرداری ورکونکی وای؟»

د قرآن او نبوي سنت اعجاز

پیغمبران د عادي خلکو په څېر بازار ته تلل:

کفارو به د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ د رد لپاره ویل،" هغه په بازارونو کې تګ راتګ کوي"!، یعنې هغوی فکر کاوه چې رسول باید له خلکو جلا وي.

قرآن بیا دا حقیقت بیان کړ چې په بازارونو کې تګ، راکړه ورکړه، او د ټولنې سره تعامل کول یو طبیعي عمل دی.

نبوي طریقه:

رسول الله ﷺ به بازار ته تله، له خلکو سره به یې معاملات کول، او هغوی ته به یې د اسلام دعوت ورکاوه.

دا عمل موږ ته ښيي چې بازار ته تلل نه یوازې فزیکي حرکت دی، بلکې دا د خلکو سره د ټولنیزې اړیکې، تعامل، او د ژوند د طبیعت برخه هم ده.

ساینسي حقایق:

تازه علمي څېړنو دا ثابت کړې چې په بازارونو کې تګ راتګ د بدن فزیکي فعالیت زیاتوي، د زړه او رګونو روغتیا ته ګټه رسوي، او د ذهني فشار کمولو کې مرسته کوي.

له خلکو سره تعامل د ذهني او احساساتي توازن د ساتلو لپاره مهم دی، او دا ټولې ګټې په نبوي سنتو کې له ۱۴۰۰ کلونو راهیسې شته.



**د لمانځه اعجاز**

د اسلامي لمانځه اعجاز – د ذهن، بدن، او روح لپاره یوه بشپړه درملنه

ساینس او دین دواړه دا ثابتوي چې لمونځ نه یوازې یو روحاني عمل دی، بلکې د بدن، ذهن، او دماغ لپاره یوه بشپړه نسخه ده .وروستیو څېړنو ښودلې چې د عبادت، دعا، او ذکر پر مهال، دماغ خپل فعالیت تنظیموي، تمرکز زیاتېږي، استرس کمېږي، او حتی د بدن فزیکي روغتیا ته وده ورکوي.

په دې لیکنه کې به دا وڅېړو:

د لمانځه ساینسي اغېز پر مغز او بدن

د لویدیځو څېړنو پایلې او د اسلامي لمانځه ځانګړتیا

د قرآن او نبوي حدیثونو علمي تصدیق

## ۱. د لمانځه اغېز د انسان پر مغز

لمونځ د دماغ فعالیت بدلوي

په یوه څېړنه کې، ډاکټر انډریو نیوبرګ، چې د امریکا د پنسلوانیا پوهنتون نیوروساینس متخصص دی، وموندله چې عبادت کول او ذکر د دماغ فعالیت ته ژور بدلون ورکوي.

څه پېښېږي کله چې انسان لمونځ او ذکر کوي؟

د دماغ مخکینۍ برخه **(Frontal Lobe)** ډېره فعاله کېږي – دا برخه د تمرکز، تصمیم نیولو، او تخلیقي تفکر لپاره مهمه ده.

د دماغ شاتنۍ برخه **(Parietal Lobe)** کم فعاله کېږي – دا د ځای او وخت احساس کموي، او د داخلي سکون او روحاني تجربو سبب کېږي.

د بدن د استرس هورمونونه کمېږي، چې د ذهني آرامتیا او خوشحالۍ لامل ګرځي.

نو، که بودایي راهبانو ته مراقبه دا ګټې لري، نو د اسلامي لمانځه اغېز به څومره لوی وي؟

## ۲. د اسلامي لمانځه فزیکي او رواني ګټې

فزیکي روغتیا

سجده کول دماغ ته تازه اکسیجن رسوي، چې د حافظې او تمرکز لپاره مهم دی.

د بدن وینه ښه جریان پیدا کوي، چې د زړه او رګونو روغتیا ته وده ورکوي.

د رکوع او سجده حرکتونه د مفصلونو لپاره ګټور دي او د کمر درد مخنیوی کوي.

د فشار **(Blood Pressure)** کچه تنظیموي او د زړه ضربان متوازن کوي.

رواني روغتیا

ذهن ته آرام ورکوي – د مغز هغه برخې فعاله کوي چې د خوشحالی هورمونونه توليدوي.
د خپګان **(Depression)** او اضطراب **(Anxiety)** مخنيوی کوي.
د تصميم نيولو مهارت ښه کوي، ځکه چې لمونځ د مغز تخليقي تفکر ځواک پياوړی کوي.
ذهني سکون زياتوي، چې دا د عصبي ناروغيو مخنيوی کوي.

**٣.** د لويديځو څېړنو حيرانوونکې پايلې

د نيوبرګ څېړنه

ډاکټر انډريو نيوبرګ د بودايي راهبانو، عيسوي راهبو، او نورو مذهبي ډلو پر مغز څېړنه وکړه.
هغه ومونده چې لمونځ او ذکر د انسان د دماغ تنظيموي.
هغه دا هم وويل چې" **:**څومره چې ستا ايمان ژور وي، هومره به ستا دماغ سالم وي"**!**

د اسلامي لمانځه څېړنې

الف **(**د ايران د طبي علومو پوهنتون څېړنه (٢٠١٣)**:**
لمونځ د بدن د غړو لپاره فزيوتراپي ته ورته تمرين دی.
د اسلامي لمانځه حرکات د ملا، زنګون، او عضلاتو لپاره ګټور دي.
ب **(**د ماليزيا د پوهنتون څېړنه (٢٠١٨)**:**
سجده کول د مغز د اکسيجن جريان زياتوي، چې د ذهني ځواک او تخليقي تفکر لپاره مهم دی.
ج **(**د امريکا د طبي انستيتيوټ **(NIH)** څېړنه**:**

لمونځ د استرس، فشار، او وېرې کمولو لپاره غوره طبيعي درملنه ده.

۴. د قرآن علمي تصديق – لمونځ د انسان لپاره ضروري دی

قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله مخکې وويل:

"أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ"

"خبر اوسئ !يوازې د الله په ذکر سره زړونه ارام مومي ".(الرعد :۲۸)

دا آيت د علمي څېړنو سره په بشپړ ډول مطابقت لري، ځکه چې ساينس هم ثابته کړې چې لمونځ د ذهن، دماغ، او بدن لپاره غوره نسخه ده.

نبوي حديث هم وايي:

"لمونځ وکړئ، ځکه چې لمونځ د انسان بدن ته شفا ده".

(بخاري، مسلم)

۵. ولې اسلامي لمونځ تر ټولو غوره دی؟

د اسلامي لمانځه ټول حرکات متوازن دي – دا د بدن د ټولو غړو لپاره تمرين دی.

د قرآن تلاوت د مغز لپاره مثبت اثر لري – ساينس ښيي چې ذکر او دعا د ذهن لپاره آرام بخښونکی اثر لري.

د اسلامي لمانځه پر مهال انسان د الله سره مستقيم اړيکه لري، چې دا روح ته قوت ورکوي.

سجده کول د مغز مخکينۍ برخه فعاله کوي، چې دا د تفکر، تمرکز، او ښه پرېکړو لپاره مهمه ده.

۶. څېړنه چې بايد ترسره شي!

که د بودايي مراقبې ساينسي څېړنې دا ښيي چې دا د دماغ لپاره ګټور دی، نو ولې د اسلامي لمانځه ساينسي څېړنې نه ترسره کېږي؟

که ډاکټر نيوبرګ د اسلامي لمانځه د مغز پر فعاليت اغېز وڅېړي، نو پايلې به نړۍ ته د اسلام اعجاز ښکاره کړي.

دا يوه ستره ساينسي آزموينه ده چې نړۍ ته به وښيي چې اسلام د حقيقي فطرت دين دی.

۷. وروستۍ پايله – لمونځ د بدن، ذهن، او روح لپاره غوره درملنه ده

ايمان د انسان د بدن، ذهن، او روح لپاره ژوند ښونکی قوت لري.

اسلامي لمونځ د بدن، ذهن، او روح لپاره بشپړه نسخه ده.

ساينس ثابته کړې چې عبادت کول د انسان د دماغ لپاره ضروري دي، او لمونځ د اسلامي عبادت تر ټولو مهمه برخه ده.

که لويديځ ساينسپوهان د اسلامي لمانځه ساينسي څېړنه وکړي، نو دا به نړۍ ته دا حقيقت ښکاره کړي چې اسلام د حقيقي فطرت دين دی، او لمونځ د انسان لپاره تر ټولو غوره درملنه ده.

نو، آيا موږ چمتو يو چې د لمانځه اهميت درک کړو او خپل ژوند د قرآن او سنتو مطابق جوړ کړو؟



## لوڅې پښې ګرځېدل

لوڅې پښې ګرځېدل – یو نبوي سنت او ساینسي اعجاز

نن ورځ ساینسپوهانو موندلې ده چې لوڅې پښې ګرځېدل **(Barefoot Walking)** د انسان لپاره ګټې روغتیایي ګټې لري .دا سنت، چې رسول الله ﷺ پرې عمل کړی، د عصبي، فزیکي، او رواني روغتیا لپاره ډېرې مهمې ګټې لري.

ساینسي څېړنې څه وايي؟

د بدن برېښنايي توازن ساتي:

ساینسپوهانو ثابته کړې چې د ځمکې سره مستقیم تماس د انسان د بدن برېښنايي توازن تنظیموي او بدن له منفي انرژیو څخه پاکوي.

دا عمل **"Earthing"** یا **"Grounding"** نومېږي، چې د زهرجنو برېښنايي څپو له ضرر څخه انسان ساتي.

د عصبي سیستم پیاوړتیا:

لوځې پښې ګرځېدل د پښو لاندې نازک عصبي حجرات **(nerves)** فعالوي، چې د دماغ او ټول بدن د حساسي ارتباطاتو ته وده ورکوي.

دا کار د فشار کمولو، د رواني ثبات، او د فکري تمرکز لوړولو کې مرسته کوي.

د وینې دوران ښه کوي:

څېړنې ښیي چې لوځې پښې ګرځېدل د پښو د طبیعي حرکاتو سبب ګرځي، چې دا بیا د وینې دوران ته وده ورکوي او د زړه روغتیا ته ګټه لري.

د ملا او بندونو دردونه کموي:

کفشونه، په ځانګړي ډول سخت بوټان، د پښو طبیعي شکل ته زیان رسوي او د ملا او زنګونونو د دردونو سبب ګرځي.

لوځې پښې ګرځېدل د بدن اصلي توازن برقراره ساتي او د دردونو مخه نیسي.

نبوي سنت او د لوڅو پښو ارزښت

رسول الله ﷺ به کله ناکله لوځې پښې ګرځېده، لکه څنګه چې د صحابه کرامو روایتونه ښیي.

عبدالله بن برید رضی الله عنه روایت کوي:

"رسول الله ﷺ به کله ناکله خپل بوټان وباسل او لوڅې پښې به ګرځېده".

(ابو داود، حدیث :۴۱۳۷)

قرآني اشاره

په قرآن کریم کې هم موږ ته دا اشاره شته چې د ځمکې سره مستقیم تماس برکت لري.

الله تعالی فرمایي:

(فَٱخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى)

(طه :۱۲)

ترجمه:

"نو خپل بوټان وباسه، بېشکه ته د مقدس طوی په دره کې یې"!

دا آیت موږ ته ښیي چې له ځمکې سره مستقیم تماس ته ځانګړې اهمیت ورکړل شوی.

ایا دا تصادفي ده؟

اوس پوښتنه دا ده :څنګه ممکنه ده چې رسول اللهﷺ ، چې نه یې عصري ساینس لوستی و، د لوڅو پښو ګرځېدو ګټې درک کړې وې؟

ځواب یوازې یو دی:

د قرآن او نبوي سنتو هر حکم د حکمت او اعجاز څخه ډک دی، چې ساینس یې یوازې اوس کشفوي!




**د نبي کریم ﷺ د اوبو څښلو طریقه** او ساینسي اعجاز

د اسلام او ساینس له نظره، په درې ساګانو اوبه څښل**!**

له عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی، چې

رسول الله ﷺ فرمایلي دي**:**

"د اوښ په شان په یوه ساه کې اوبه مه څښئ، په تحمل سره په دوه یا درې ځل ساه سره اوبه وڅښئ .په بسم الله سره یې څښئ او له څښلو وروسته الحمدلله وایاست"**.**

(جامع الترمذي، حدیث**1885** )

**1** د اوبو په درې ساه کې څښلو ساینسي اعجاز

د معدې او بدن لپاره غوره توازن**:**

کله چې انسان په یوه ساه ډېرې اوبه وڅښي، نو دا اوبه د معدې تودوخه ناڅاپه ټیټوي، چې دا د معدې اسیدیت **(Acidity)** زیاتوي او د هاضمې ستونزې رامنځته کوي .مګر په تدریجي ډول اوبه څښل دا خطر کموي**.**

د بډوړو **(Kidneys)** ساتنه**:**

ساینس ثابتوي چې که چیرې اوبه ناڅاپه په یوه ساه وڅښل شي، نو دا په بډوډو (کلیو) منفي اغېز کوي او کولی شي د اډیما **(Edema)** یا د بدن د رطوبت د ګډوډۍ سبب شي .مګر که اوبه په درې ساګانو وڅښل شي، نو د بډوډو فعالیت نورمال پاتې کیږي.

د وینې فشار تنظیموي:

په ناڅاپي ډول ډېرې اوبه څښل د وینې جریان ته ناڅاپه ډېر فشار ورکوي، چې د زړه ضربان ته زیان رسولی شي .مګر که اوبه په تدریجي ډول وڅښل شي، نو بدن ته یې جذب تدریجي او طبیعي وي.

**2** د بسم الله او الحمدلله ساینسي ګټې

ذهني آرامتیا:

څیړنو ثابته کړې چې په ابو باندې بسم الله ویل د ابو خراب کریسټل ښه او غوره شکل ته اړوي

ساینس ثابته کړې چې که یو انسان د خوړو او څښاک پر مهال ذهنی تمرکز ولري، نو دا د بدن د هاضمې سیستم ښه کوي" .بسم الله "د الله جل جلاله ذکر دی، چې انسان ته برکت، سکون او ذهن ته د خوړو اهمیت یادوي.

شکر ګټور تاثیر لري:

"الحمدلله "ویل د نعمت شکر ادا کول دي، او ساینس ثابته کړې چې شکر ګټور د انسان په دماغو کې مثبت تاثیرات لري او د خوښۍ احساس زیاتوي.

**3** د حدیث ساینسي تصدیق

روغتیایي څېړنې ثابتوي:

د ناڅاپي ساه اخیستلو سره د اوبو څښل د معدې لپاره زیانمن دي.

د اوبو په درې ساه کې ښځنل بدن ته ښه جذب ورکوي.

دا طریقه د هاضمې نظام او بډوډو ته ګټوره ده.

نتیجه

د نبي کریم ﷺ لاربښوونه نه یوازې د دیني فضیلت له مخې ارزښت لري، بلکې ساینس هم تایید کړې چې دا طریقه د بدن روغتیا ته ډېره ګټوره ده .موږ باید د رسول الله ﷺ سنتو ته عملي بڼه ورکړو، ځکه چې دا یوازې د دیني حکمت پر اساس نه، بلکې د فطرت له اصولو سره هم توافق لري.

یا الله !موږ ته توفیق راکړه چې د رسول الله ﷺ سنت عملي کړو او د هغه په برکت موږ روغتیا وساتو .آمین.




**د معدې ظرفیت**

"ابن ماجه (رح) په خپل کتاب" سنن ابن ماجه "کې دا حدیث نقل کړی دی چې حضرت میقادم بن مدیکرِب وایي" :ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل' :هیڅ انسان له خپل نس څخه بد تر بل څه نه ډکوي .انسان ته یوازې څو لقمو خوراک کافي دي تر څو خپله ملا پرې ټینګه کړي .خو که هغه غواړي چې معده ډکه کړي، نو باید یوه دریمه برخه خوراک، یوه دریمه

برخه څښاک او یوه دریمه برخه هوا لپاره پرېږدي ".ابن ماجه **3349** د پیغمبر (ﷺ) د خوړو په اړه چې کومه توصیه کړې ده، په دې کې یو ستر علمي او روحاني اعجاز پټ دی .که موږ دې توصیې ته د قرآن او ساینسي معلوماتو له نظره وګورو، نو یو داسې معجزه څرګندیږي چې د پیغمبر (ﷺ) خبرې له ساینسي حقیقتونو سره سمون لري.

**.1** د معدې ظرفیت او ساینسي اعجاز:

پیغمبر (ﷺ) فرمایي چې انسان هیڅ بدترین چیز په خپل بدن کې نه ډکوي لکه د معدې .دغه توصیه د معدې د ظرفیت او هغه پیغام سره سمون لري چې د هغې یوه معقول او مناسب اندازه باید وي .له ساینسي نظره، د معدې ظرفیت تقریباً ۱-۱.۵ لیتره دی .خو کله چې د دې ظرفیت څخه زیات خوراک وشي، نو معده نور نه شي کولی چې بشپړ هضم ترسره کړي، کوم چې د بدن په نورو برخو کې فشار راولي.

**.2** درې برخې د خوراک لپاره – ساینس او اعجاز:

پیغمبر (ﷺ) د معدې درې برخې وېشل :یوه برخه د خواړو، یوه برخه د اوبو او یوه برخه د هوا لپاره، د بدن د صحي فعالیت لپاره خورا سمه توصیه ده .د دې توصیې سره سم، د بدن اړتیاوې پوره کیږي پرته له دې چې معده ډکه او بې ځایه بار شي.

ساینس یې څرنګه تاییدوي؟

د خواړو برخه :د بدن لپاره د کافي انرژۍ ترلاسه کولو لپاره خواړه باید په اعتدال کې وشی .که چېرې زیات خواړه وخوړل شي، نو دا د هاضمې سیسټم باندې فشار اچوي، چې بیا د ډیرو ناروغیو لکه شکر، د زړه ناروغۍ او هاضموي ستونزو لامل ګرځي.

د اوبو برخه :اوبه د بدن د هر اړخیز فعالیت لپاره ضروري دي، ځکه چې اوبه د هاضمې پروسې او د بدن د سم کار کولو لپاره اړین دي.

د هوا برخه :دا برخه د بدن د اوکسیجن اړتیاوې پوره کوي .هوا یا تنفس د بدن ټولو پروسو ته ځواک ورکوي، او که چېرې دا برخه خالي نه وي، نو بدن ته د اکسیجن اړین جریان به درناوی کیږي.

### 3. د ذهني او فزیکي وضاحت اعجاز:

د پیغمبر (ﷺ) توصیه د دې لپاره ده چې انسان په خپل بدن باندې زیات بار وانګوي او نه د زیات خوړو د خوړلو پر مهال مغز د خپګان او خستګۍ سره مخ شي .ساینسي څېړنې ښیي چې د زیات خوراک خوړل د مغز فعالیت کموي، ذهنی وضاحت راکموي، او انسان د خپلو غوښتنو او ارادې په کنټرول کې ستونزې لري .دا هغه څه دي چې پیغمبر (ﷺ) د خوراک په اعتدال کې د بدن د ذهني وضاحت او روحي سکون په اړه ورته اشاره کړې ده.

### 4. روحاني معجزه:

د دې توصیې روحاني اړخ هم خورا مهم دی .د پیغمبر (ﷺ) فرمایش د دې سبب ګرځي چې مسلمانان خپل بدن او روح په متوازن او اعتدالي توګه تغذیه کړي، ترڅو د بدن د اړتیاوو سره سم، روحاني سکون هم ولري .کله چې انسان د ځان په سمه توګه فکر او عمل کوي، د روحاني سکون له لارې خپل ژوند تنظیموي، نو دا د انسان د داخلي سکون او الهی رضا په لور د یو بل مهم ګام په توګه پېژندل کیږي.

### 5. ټولیزه معجزه:

په دې ډول، د پیغمبر (ﷺ) د خوړو په اړه توصیه یوازې د فزیکي صحت لپاره نه بلکې د ذهني، عاطفي او روحاني سکون لپاره هم یو لویه معجزه ده .د دې ساینسي حقیقت او روحاني پیغامونو بشپړ تطابق د قرآن او حدیث معجزه پیاوړې کوي، چې دا د انسانانو د فطرت او نړۍ د نظام سره په کمال سمون لري.




**په څښلو شی کی پوکی کول**

د تنفسي ناروغيو علاج او د نبي کريم ﷺ ساينسي لارښوونې

**1** د نبي کريم ﷺ حديث او د تنفسي ناروغيو مخنيوی

**نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:**

**"کله چې يو څوک اوبه څښي، نو په لوښي کې دې تنفس نه کوي".**

(حديث ترمذي)

ساينسي تحقيق څه وايي؟

ساينس ثابته کړې چې که يو څوک د اوبو څښلو پر مهال په ګلاس، جام يا لوښي کې تنفس وکړي، نو باکترياوې او ويروسونه په اوبو کې پاتې کيږي، چې بيا د ناروغيو لامل ګرځي، لکه:

انفلوینزا **(Flu)** او زکام

سږو ته خطرناک باکتریاوې لکه ټي بي**(TB)**

د ویروسي او بکتریایي ناروغیو چټک خپرېدل

سایننسي تجربه :

دا تجربه د کیمیا د شاهي ټولنې لخوا د کاربن ډای اکسایډ او اوبو ترمنځ د عکس العملونو په اړه ترسره شوې وه .د اوبو او کاربن ډای اکسایډ ترمنځ د عکس العملونو د لیدلو لپاره، پخپله تنفس شوی ساه کارول شوې وه .د ضعیف اسید جوړښت رامینځته شو چې پایله یې د شاخص (تیزاب-بنسټه) د رنګ بدلولو سره څرګنده شوه .کاربن ډای اکسایډ د اوبو سره عکس العمل کوي او د کاربونیک اسید رامینځته کیدو لامل کیږي .موږ پوهیږو چې کله کاربونیک اسید جلا شي، نو هایدروجن آیونونه او بایکاربونیټ آیونونه جوړوي .هایدروجن آیونونه د محلول تیزابیت زیاتوي .د تجربې او څیړنې دا څرګندونې ښیي چې هغه اوبه چې موږ یې تنفس کړې وي، د څښلو پر وخت منفي اغیزې لري .تنفس شوی هوا د کاربن ډای اکسایډ لوړه کچه لري .کله چې موږ په هغه اوبو کې تنفس کوو چې موږ یې څښو، کاربن ډای اکسایډ د اوبو سره عکس العمل کوي او کاربونیک اسید جوړوي .کله چې کاربونیک اسید بدن ته ننوځي، نو د وینې **pH** ټیټوي ځکه چې په کاربونیک اسید **(H2CO3)** کې د هایدروجن آیون **(H+)** شتون لري .د وینې **pH** ټیټوالی د اسیدوسس لامل کیږي، کوم چې ممکن د پښتورګو د ناکامۍ لامل شي.

نبي کریم ﷺ د پاکوالي عالي اصول وړاندې کړي:

د شریعت لارښوونې یوازې د دین لپاره نه، بلکې د صحت لپاره هم دي.

ساینس نن ثابته کړه چې د پیالو، ګلاسونو، اوبو بوتلونو کې تنفس کول ناروغۍ خپروي، خو دا حقیقت نبي کریم ﷺ ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی و.

**2** د تنفسي ناروغیو مخنیوي لپاره نبوي سنتونه

په پاک چاپېریال کې اوسېدل

له ناروغانو څخه ځان ساتل (رسول الله ﷺ وفرمایل" :د طاعون ځای ته مه ننوځئ، او که چیرې هلته یاست، مه وځئ - ".بخاري، ۵۷۲۸)

د ماسک یا خولۍ کارول (په لاس یا لباس ټوټه کې ټوخېدل او پرنجېدل)

له لاس وینځلو وروسته د خولې، پزې او سترګو له لمس کولو څخه ډډه کول

په اعتدال سره خوراک او پاکې اوبه څښل

**3** د تنفسي ناروغیو لپاره نبوي درملنه

شات (عسل) د سږو پاکوالي لپاره ډېر ګټور دی

حبه السوداء (کالونجي) د تنفسي سیستم تقویه کوي

بخور (بخارات) اخیستل د سږو د پاکوالي لپاره ښه دي

د زیات یخ خوراک او سړې اوبه نه څښل

نتیجه

حدیث په عملي کولو سره موږ نه یوازې د دین سنت تعقیب کوو، بلکې د تنفسي ناروغیو مخنیوی هم کوو. ساینس هره ورځ نوي کشفیات کوي، مګر قرآن او حدیث ۱۴۰۰ کاله وړاندې ټول ضروري اصول وړاندې کړي دي.



**د جمعې لمونځ او قیلولې طبي اعجاز**

**حدیث:**

له سهل بن سعد رضي الله تعالی عنه نه روایت دی، وايي:

«كُنَّا نُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الجُمُعَةَ، ثُمَّ تَكُونُ القَائِلَةُ.»

(بخاري، حدیث(**940 :**)

**ترجمه:**

"موږ به د نبي کریم ﷺ سره د جمعې لمونځ ادا کاوه، بیا به مو قیلوله (د غرمې لنډ خوب) کوله".

١. د حدیث ساینسي اعجاز

په دې حدیث کې یو مهم طبي اصول ته اشاره شوې، چې د اسلام لارښوونې د انساني بدن د فطري اړتیاوو سره بشپړ توافق لري.

(الف) د قیلولې طبي ګټې:

عصري ساینس ښيي چې د غرمې لنډ خوب (قیلوله) لاندې مهمې روغتیایي ګټې لري:

ذهني ځواک :څېړنو ثابته کړې چې قیلوله حافظه پیاوړې کوي، د زده‌کړې وړتیا زیاتوي او د تمرکز ځواک لوړوي.

د زړه روغتیا :څېړنو ښودلې چې د ورځې لنډ استراحت د زړه د حملې او فشار خطر کموي.

بدني انرژي :قیلوله د بدن ستړیا کموي، د عضلاتو قوت زیاتوي، او د نوې انرژۍ سبب کېږي.

(ب) د بیولوژیکي ساعت **(Circadian Rhythm)** سره توافق:

ساینس وایي چې د ورځې په منځ کې (غرمه مهال) د انسان بدن طبیعي ډول ستړی کېږي، او قیلوله د دې طبیعي حالت سره موافقه ده.

همدارانز، د نبي کریم ﷺ دا طریقه ښيي چې د قیلولې وخت د بدن طبیعي اړتیاوې پوره کوي، او دا د اسلام اعجاز دی.

۲. د جمعې د لمانځه او قیلولې ترتیب

د حدیث له مخې، رسول الله ﷺ به د جمعې لمونځ د ورځې په لومړۍ برخه کې ادا کاوه، بیا به یې صحابه کرامو ته د قیلولې فرصت برابر کړ .دا ترتیب ښيي چې:

د عبادت او راحت ترمنځ تعادل: اسلام انسان ته هم د روحاني آرامتیا (عبادت) او هم د جسمي راحت (قیلوله) توصیه کوي.

د نبوي سنتو ساینسي حکمت: نن‌سبا روغتیایي تحقیقات ښيي چې د غرمې لنډ استراحت د بدن بیولوژیکي نظام ته ګټه لري، او دا سنت د انسان د فطرت مطابق دی.

۳. پایله

دا حدیث ثابتوي چې اسلام د انسان فطري اړتیاوو ته پوره پاملرنه کوي. د رسول الله ﷺ سنت نه یوازې د دیني برکتونو سبب دي، بلکې د روغتیا، بدن، او ذهن لپاره هم حیرانوونکې علمي ګټې لري. نن ورځ ساینس هغه حقیقتونه ثابتوي، چې نبوي لارښوونو ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړي وو.

دا د اسلام اعجاز دی!

**مسواک - طبی، ساینسي او دیني اعجاز**

نبوي لارښوونه:

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

"لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ كُلِّ وُضُوءٍ"

(مسلم، ۲۵۲)

ژباړه:

"که زما امت ته دا ګرانه نه وای، نو ما به هغوی ته د هر اوداسه سره د مسواک کولو امر کړی وای".

دا حدیث شریف د مسواک ارزښت او د نبوي سنتو حکمت څرګندوي .ساینس اوس ثابته کړې چې مسواک نه یوازې د خولې پاکوالی ساتي، بلکې د بدن لپاره ګڼې روغتیایي ګټې لري.

### ۱ .د مسواک ساینسي اعجاز

#### ۱.۱ د غاښونو او خولې روغتیا

مسواک طبیعي انټي بایوټیک لري، چې د غاښونو باکټریاوې له منځه وړي.

د فلورایډ طبیعي مواد لري، چې د غاښونو د مینځ پوښ پیاوړی کوي او د سوري کېدو مخنیوی کوي.

د مسواک فایبرونه د برش په څېر کار کوي، چې د غاښونو مینځل اسانه کوي.

#### ۲.۱ د خولې بوی ختموي

د مسواک کارول د خولې بوی ختموي، ځکه چې د طبیعي موادو انټي سیپټیک **(Antiseptic)**اغېز لري.

د مسواک یو مهم عنصر سیلیکا **(Silica)** د خولې باکتریاوې کموي او تنفس تازه ساتي.

#### ۳.۱ د هاضمې نظام ته ګټه

د خولې پاکوالی د معدې روغتیا سره مستقیم ارتباط لري.

مسواک د هاضمي اسيدونه متوازنه ساتي، چې د معدې د تيزابيت او بد هاضمې مخنيوی کوي.

۴.۱ د زړه روغتيا ته ګټه

څېړنې ښيي چې د غاښونو ناروغۍ د زړه حملې **(Heart Attack)** او د شکرې **(Diabetes)**خطر زياتوي.

مسواک کارول د غاښونو ناروغۍ کموي، چې په پايله کې د زړه ناروغۍ مخنيوی کوي.

۵.۱ دماغي روغتيا ته ګټه

د مسواک تازه کوونکې خاصيت ذهني تمرکز زياتوي او د سټريا احساس کموي.

د طبيعي اړين معدني مواد (مثلًا کلورايډ او سيليکون) دماغ ته ارام ورکوي.

۲ .د مسواک کارولو ديني برکتونه

مسواک د الله تعالی رضا او د رسول الله ﷺ سنت دی.
مسواک د لمونځ لپاره د خولې پاکوالی زياتوي، چې عبادت ته روحاني صفا ورکوي.
د حديث مطابق، مسواک کارول د مرګ پر مهال د ملايکو خوښي راولي.
رسول الله ﷺ فرمايلي:
"السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ، مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ"

(بخاري، ۸۸۹)

ژباړه:

"مسواک د خولې پاکوالی دی، او د الله تعالی رضا ده".

## ۳. ساینس څنګه د نبوي سنت تصدیق کوي؟

ساینس اوس ثابته کړې چې د مسواک طبیعي مواد د غاښونو لپاره تر کیمیاوي پیسټونو غوره دي.

د مسواک منرالونه د غاښونو د خرابېدو مخنیوی کوي، چې د رسول الله ﷺ د سنتو معجزه ثابتوي.

د نړۍ نامتو ډاکټران او د غاښونو متخصصین هم د مسواک د ګټو تایید کوي.

له همدې امله، د نبوي سنتو پیروي یوازې د اخرت لپاره نه، بلکې د دنیا لپاره هم برکت لري.

## ۴ . پایله - د نبوي سنتو اعجاز

مسواک یو کوچنی، مګر د ارزښت وړ طبیعتی نعمت دی، چې اسلام ۱۴۰۰ کاله وړاندې خلکو ته راپېژندلی.

دا د اسلام یو بل ساینسي اعجاز دی، چې اوسنی ساینس یې حقیقتونه ثابتوي.

راځئ، د مسواک عادت خپل کړو، ترڅو هم د دنیا روغتیا ومومو او هم د اخرت اجر ترلاسه کړو.

و الحمد لله رب العالمین.



## ځلوېښت کلنۍ

د انسان د ذهني ودې او زوال قرآني اعجاز

ساينسپوهانو موندلې چې د انسان دماغي وده تر ځلوېښت کلنۍ پورې دوام مومي، او له هغې وروسته ذهني وړتياوې ورو ورو کمېږي .دا حقيقت د يوه بريتانوي څېړنې له مخې ثابتيږي چې وايي، د انسان مغز تر ځلوېښت کلنۍ پورې وده کوي، خو وروسته يې فعاليت ورو ورو کمزورې کېږي.

د قرآن عظيم الشان حيرانوونکی اعجاز:

دا حقيقت چې اوس ساينس کشف کړی، قرآن کريم ۱۴۰۰ کاله وړاندې بيان کړی و .الله تعالی فرمايي:

(وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَٰنًا ۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۖ وَحَمْلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهْرًا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَصْلِحْ لِى فِى ذُرِّيَّتِىٓ ۖ إِنِّى تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ)

(سورت الأحقاف :۱۵)

ترجمه:

"او موږ انسان ته د خپل مور و پلار سره د ښېګڼې کولو سپارښتنه کړې ده؛ مور يې هغه د سختۍ سره حمل کوي او د سختۍ سره يې زيږوي، او د هغه حمل او پرېښودل يې دېرش

میاشتې دي، تر دې چې کله خپل قوت ته ورسېږي او څلوېښت کلنۍ ته ورسېږي، نو وايي :«ای زما ربه !ما ته الهام راکړه چې زه د هغه نعمت شکر وباسم چې تا پر ما او زما پر مور و پلار لورولی، او دا چې زه نېک عمل وکړم چې ته ترې راضي شې، او ما ته زما په اولاد کې اصلاح راکړه، بېشکه زه تاته توبه ګار شوم، او بېشکه زه له مسلمانانو څخه یم.»"

قرآني حقیقتونه چې نن ساینس ثابت کړي:

ذهني وده تر څلوېښت کلنۍ پورې:

ساینس وايي چې د مغز د ودې تکامل تر څلوېښت کلنۍ پورې دوام مومي، وروسته یې فعالیت ورو ورو کمیږي.

قرآن دا حقیقت په دې آیت کې بیان کړی چې انسان" خپل قوت ته رسېږي "او دا په حقیقت کې د ذهني، بدني، او روحي پیاوړتیا پړاو دی.

د انسان فکري بدلونه له څلوېښت کلنۍ وروسته:

څېړنې ښیي چې له څلوېښت کلنۍ وروسته د حافظې کمزورتیا، د تصمیم نیولو وړتیا کمېدل، او د ذهني توازن ضعف پیل کېږي.

قرآن دا حقیقت په ښکلي ډول بیان کړی چې کله انسان څلوېښت کلنۍ ته ورسېږي، نو د شکر، توبې، او اصلاح غوښتنه کوي، ځکه چې د عمر دا مرحله د ژور فکر، تجربې، او ژوند د پای ته رسېدو شعور پیدا کوي.

ایا دا تصادفي ده؟

دا پوښتنه هغو کسانو ته مطرح ده چې د اسلام په حقانیت شک لري **:**څنګه ممکنه ده چې رسول اللهﷺ ، چې لیک لوست يې نه و زده ، ۱۴۰۰ کاله وړاندې دا ساینسي حقیقت بیان کړی وي؟

دا د قرآن کریم يو له هغو اعجازونو څخه دی چې ثابته کوي دا کتاب د الله تعالی له لوري نازل شوی، او هر هغه علمي حقیقت چې ساینس يې نن کشف کوي، قرآن يې لا دمخه بیان کړی و.




## سرکه

خلکیت او صحت ته د سرکه **(Vinegar)** ګټې

ساینس پوهانو ثابت کړي چې سرکه د بدن لپاره يو ډېر ګټور ماده ده، او دا په دوامداره توګه د نوو ګټو په کشف کولو کې مرسته کوي.

د سرکې ګټې:

د اسهال مخه نیول:

سرکه په خپلو جوړښتونو کې د موادو په لرلو سره د اسهال مخه نیسي.

هضم ښه کول:

د سرکې منظم او کم مقدار مصرف د معدې او هاضمې لارې پاکوي، د هضم پروسه فعاله کوي او د کولمو کې د کرمونو **(parasites)** وژنه کوي.

د انتي بيوټيک ځانګړتياوې:

سرکه د انتي بيوټيک په توګه عمل کوي او د ګينجيوايټس او د غاښونو کبيدو درملنه کې کارول شوې ده.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايش:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

"سرکه د خوړو په توګه نرموي ".(رواه مسلم)

"نرموي "دلته د دې معنی لري چې سرکه د خوړو سره مرسته کوي ترڅو هضم اسان او بهتر شي.

د قرآن کريم او حديث د علمي اعجاز وضاحت:

په دغه حديث کې، رسول الله صلى الله عليه وسلم سرکه د خوړو لپاره يوه غوره ماده ګڼلې چې د بدن لپاره ګټوره ده.

د دې حديث علمي توضيح دا ده چې سرکه د هاضمې په بهير کې مرسته کوي، د کولمو د کثافاتو له منځه وړلو او د بدن د پاکوالي په برخه کې يې اثرات ثابت شوي.

د قرآن او حديث تطابق سره حيرانونکې اړيکه:

دا ټول ګټې چې سانسي څېړنې يې ثابتې کړي دي، هغه څه دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته د الله له لوري د وحی له لارې ښوولي دي.

د سرکې د ګټو په اړه دې معجزوي پوهې ته د ساينس او د دين ترمنځ اړيکه يوه بل پياوړی مثال دی.



**د شاتو ګټې**

د شاتو ګټې – د قرآن کريم اعجاز

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

"ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ"

(النحل :۶۹)

ژباړه:

"بیا ته له هر ډول مېوو خوراک وکړه او د خپل رب اسانه لارې ونیسه .له هغې ګېډو څخه یو ډول شربت (شات) راوځي، چې بېلابېل رنګونه لري، پکې د خلکو لپاره شفا ده .په دې کې خامخا د فکر کوونکو لپاره نښه ده".

د شاتو معجزوي ګټې د ساینس له نظره

١. شات د طبیعي انټي بیوټیک حیثیت لري

شات هایډروجن پراوکسایډ **(Hydrogen Peroxide)** تولیدوي، چې باورجنه، ویروسونه او فنګسونه له منځه وړي.

د زخمونو او سوځېدو درملنه کوي.

٢. شات د هاضمې نظام ښه کوي

د معدې تیزابیت کموي، د کولمو باکتریاو ته ګټه رسوي، او د معدې زخمونه ښه کوي.

د قبض، اسهال، او هاضمي ستونزو لپاره ګټور دی.

٣. د شاتو انټي اکسیډنټ خاصیت

د شاتو طبیعي انټي اکسیډنټونه د بدن حجرې له زهرجنو موادو ساتي، د زړښت مخه نیسي، او د سرطان ضد اغېز لري.

۴ . شات د زړه د روغتیا لپاره ګټور دي

د شاتو فایټونیوټرینټونه د وینې جریان تنظیموي، د وینې فشار کنټرولوي، او د زړه حملې خطر کموي.

۵ . د شاتو انرژي ببښونکی خاصیت

د شاتو طبیعي شکرې ګلوکوز او فروکټوز بدن ته فوري انرژي ورکوي، د ستړیا مخه نیسي او ذهني تمرکز زیاتوي.

۶ . د شاتو د پوستکي او ویښتو لپاره ګټې

شات د پوستکي رطوبت ساتي، د جوانیو مخه نیسي، او د زخمونو درملنه کوي.

د ویښتو تویېدنه کموي او د وریښمینوالي سبب ګرځي.

۷ . شات د ساه وهنې او ستوني درد لپاره غوره درمل دي

شات د ټوخي، ستوني درد، او د سږو ناروغيو لپاره يو طبيعي درمل دی.

۸ . شات هيڅکله نه خرابېږي

شات طبيعي محافظت لري، ځکه د اوبو مقدار يې کم دی او اسيدي خاصيت لري.

د قرآن کريم اعجاز

۱ . قرآن وويل، چې شات د" شفا "وسيله ده، ساينس نن دا حقيقت تاييدوي!

۲ . شات د سلګونو ناروغيو لپاره طبيعي درمل دي، چې د الله تعالی يو حيرانوونکی نعمت دی!

۳ . شات نه خرابېږي، او د طبيعي انټي بيوټيک په توګه کار کوي، چې دا د قرآن يو ښکلی اعجاز دی!

سبحان الله !قرآن هره خبره علم ثابتوي، او هره معجزه يې د انسانيت لپاره ګټه لري!



**اينځر**

اينځر – د قرآن او ساينس په رڼا کې

الله سبحانه وتعالی د سورة التين په لومړيو آيتونو کې قسم کړی:

"وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ"

(قسم په اینځر او زیتون)

د دې قسم په ترڅ کې د دې میوو ځانګړې ارزښت او حکمت څرګند شوی. اوسنی ساینس هم د دې میوو حیرانوونکي غذایي ګټې ثابتې کړې دي، چې د الله تعالی د کلام اعجاز یې نوره هم ښکاره کوي.

اینځر – د غذایي ګټو یوه خزانه

اینځر د فایبرو یوه بډایه منبع ده، چې د هاضمې نظام ته ځانګړې ګټې رسوي .څېړنو ښودلې چې د اینځر د فایبرو لاندې روغتیایي ګټې دي:

د هاضمې لپاره مرسته:

په اینځرو کې موجود فایبر د کولمو حرکت تنظیموي او د قبض مخنیوی کوي .په دې توګه، بدن د فضله موادو په اسانۍ سره دفعه کولو وړتیا پیدا کوي.

د سرطان وقایه:

په اینځرو کې ناګډېدونکي فایبر د غټو کولمو د سرطان په وړاندې دفاع کوي، او ګډېدونکي فایبر د اضافي کلسټرول په جذب کې مرسته کوي، چې د زړه د ناروغیو خطر کموي.

د وینې قند کنټرول:

په اینځرو کې موجود فایبر د شکر په جذب کې مرسته کوي، چې په دې سره د وینې د قند کچه د ناڅاپي لوړوالي څخه خوندي پاتې کېږي.

د انټي اوکسیدانت ځانګړتیاوې:

ښيېږنو څرګنده کړې چې اینځر له نورو میوو څخه ډېر انټي اوکسیدانت لري، لکه فینول، چې د بدن حجرې د زهرجن موادو له زیان څخه ساتي او د ناروغیو په وړاندې دفاعي ځواک زیاتوي.

د ګټورو غوړو اسیدونو شتون:

اینځر د اومیګا-۳، اومیګا-۶، او فایټوسترولونو بډایه سرچینه ده، چې د زړه د روغتیا لپاره ډېر مهم دي.

اینځر – د منرالونو یوه قوي سرچینه

په ۴۰ ګرامه وچ اینځر کې لاندې مهم منرالونه موجود دي:

کلسیم :د هډوکو د ځواکمنتیا لپاره.

پوتاشیم :د وینې فشار کنټرولوي.

اوسپنه :د وینې د سرو حجرو د جوړښت لپاره اړینه ده.

د اینځر طبابت او د قرآن حکمت

اینځر د اسلام له نظره نه یوازې یوه غذا، بلکې یوه شفا هم ده .دا د ټیټې انرژۍ، ټوخي او ساه لنډۍ په درملنه کې کارول کېږي .د قرآن کریم دغه اشاره د دې میوې فوق العاده ګټې په سلګونو کلونو مخکې وړاندې کړې ده، چې ساینس یې نن ورځ په بشپړ ډول تائیدوي.

پایله

اینځر د الله تعالی یو ځانګړی نعمت دی، چې د انسان د روغتیا لپاره په کې نه ختمېدونکې ګټې نغښتې دي .د سورة التين آیتونه موږ ته د دې میوې د اهمیت یوه ژوره یادونه کوي، چې زموږ د بدن اړتیاوې په طبیعي توګه پوره کوي .دا د قرآن اعجاز دی، چې د دې میوې ارزښت یې سلګونه کاله وړاندې بیان کړی، او نن ورځ ساینس یې حکمت په ښکاره ډول ثابتوي.

"فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَـٰلِقِينَ "(نو مبارک دی الله، تر ټولو غوره پیدا کوونکی.)



**زیتون**

زیتون – یو روغتیا ښونکی نبات

د قرآن کریم اعجاز

زیتون یو له هغه مبارکو نباتاتو څخه دی، چې الله ﷻ یې په قرآن کریم کې یادونه کړې. دا یوازې یو خوندور خواړه نه دی، بلکې د انسان د روغتیا لپاره یوه مهمه طبیعي سرچینه ده.

**الله ﷻ فرمایي:**

(وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ)

(سورة التين :١)

**ترجمه:**

قسم دی په اینځر او زیتون

همدارار، الله ﷻ د زیتون غوړ" مبارک "بللي دي:

(يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ)

(سورة النور :٣٥)

**ترجمه ټیم:**

(چې دا څراغ) د مبارکې زیتوني ونې (په تېلو) بلېږي، چې نه شرقي ده او نه غربي.

د زیتون روغتیایي ګټې

پوهان وايي چې زیتون د بدن لپاره یو له تر ټولو ګټورو غذاګانو څخه دی. دا طبیعي غوړي لري، چې د انسان روغتیا ته ډېرې مهمې ګټې لري:

١. د زړه او رګونو ساتنه

زیتوني غوړي کلسټرول نه لري، بلکې زیانمن کلسټرول کموي.

د اومیګا ٣ او اومیګا ۶ متوازن ترکیب لري، چې د زړه د ناروغیو مخنیوی کوي.

د امریکا د زړه انجمن توصیه کوي، چې د زیتون غوړ د زړه د ناروغیو مخنیوي لپاره غوره انتخاب دی.

۲ . د سرطان وقایه

څېړنو ښودلې، چې زیتون د پروستات، کولمو، او معدې د سرطان مخنیوی کوي.

دا د انتیاوکسیدانتونو یوه بډایه سرچینه ده، چې د سرطاني حجرو وده کمزورې کوي.

د اکسفورډ پوهنتون څېړنو ښودلې، چې زیتون د کولمو د سرطان احتمال کموي.

۳ . د مفصلونو د التهاب مخنیوی

هغه کسان چې زیتون خوري، د مفصلونو درد او التهاب ته نه ښکاري.

دا د روماتیزم او هډوکو د خرابوالي مخنیوی کوي.

۴ . د هډوکو وده او ساتنه

د ویټامین

**A ،D ،E ، اوK**

بډایه سرچینه ده، چې د هډوکو د قوي کېدو لپاره اړین دي.

د کلسیم ضایع کېدل مخنیوی کوي،

نو د هډوکو کمزوري

**(Osteoporosis)** نه راځي.

۵ . د زړښت مخنیوی

زیتون د پوستکي د تازه ساتلو لپاره غوره دی.

د ویټامین **E** له کبله، د بدن حجرو زوړوالی کموي.

د بدن انساجو ته ځواني ښښي او د ژر بوډاتوب مخنیوی کوي.

۶ . د ماشومانو وده

زیتوني غوړي د اومیګا ۶ له کبله، د ماشومانو د وده لپاره غوره دي.

د مور د شیدو ترکیب ته ورته مواد لري، چې ماشوم ته ډېرې ګټې لري.

میندې که د شیدو کمښت ولري، نو د زیتون غوړي د ګټور بدیل په توګه کارولی شي.

۷ . د وینې فشار کموي

څېړنې ښیي، چې زیتوني غوړي د لوړ فشار د کنټرول لپاره غوره دي.

د ۲۰۰۰ کال څېړنو ثابته کړه، چې دا طبیعي غوړي د رګونو نرم ساتلو ته مرسته کوي.

۸ . د هاضمې لپاره ګټې

د معدې تیزابیت کموي.

د ګېډې او کولمو ټپونه ښه کوي.

صفرا پاکوي او د صفرا د ډبرو مخنیوی کوي.

د ځیګر د فعالیت ښه کولو کې مرسته کوي.

نتیجه

زیتون د قرآن یو له هغو خوراکي نعمتونو څخه دی، چې الله ﷻ یې برکت یاد کړی دی . ساینسي څېړنې هم ثابتوي، چې دا د بدن، زړه، ذهن، پوستکي، هډوکو، او ماشومانو د ودې لپاره حیرانوونکې ګټې لري .دا ثابتوي، چې قرآن کریم یوازې د ایمان کتاب نه، بلکې د روغتیا او طبیعت یو علمي معجزه هم ده.



**التحنیک**

التحنيک – د نبوي سنتو ساينسي اعجاز

**نبوي سنت:**

رسول الله ﷺ به د نوي زيږېدلي ماشوم د تالو مسح کولو لپاره خرما ژووله، بيا يې نرموله او د ماشوم په تالو يې لګوله.

دې ته" تحنيک "ويل کېږي، چې د اسلامي سنتو يوه برکتناکه طريقه ده.

ساينسي څېړنه او نبوي سنت

اوس ساينس هم دې ته ورته ميتودونه وړانديز کوي!

## BBC News

راپور له مخې، متخصصينو ويلي دي چې د شکر يو خوراک د جيل په بڼه، چې د ماشوم د خولې له دننه مسح شي، د وخت دمخه زيږېدلو ماشومانو د دماغي زيان مخنيوي لپاره مؤثره لاره ده.

د طبي څېړنو له مخې، شکر (ګلوکوز) د ماشوم د وينې د کمزورۍ مخنيوی کوي او د دماغي فعاليت لپاره ضروري انرژي برابروي.

خرما طبيعي ګلوکوز، فريکټوز او سکروز لري، کوم چې د ماشوم لپاره ګټور تغذيه حسابېږي.

پايله – د نبوي سنتو اعجاز

ساینس پوازې اوس کشف کوي چې د ماشوم د تالو مسح کول د ګلوکوز سره روغتیا ته ګټور تمامیږي، خو رسول الله ﷺ ۱۴۰۰ کاله وړاندې دا سنت رواج کړی و!

دا د اسلام د حقانیت او د نبوي سنتو د ساینسي اعجاز یو روښانه ثبوت دی.

مسلمانان د پیغمبر ﷺ د لارښوونو پیروي کوي، ځکه چې دا د الهي وحې پر بنسټ ولاړ علمي حقیقتونه لري.

سبحان الله !اسلام د تل لپاره د پرمختګ او هدایت دین دی!



**د مور شیدې د ماشوم لپاره تر دوه کالونو پورې**

د مور شیدې د ماشوم لپاره تر دوه کالونو پورې – د قرآن اعجاز او ساینسي څېړنې

د قرآن کریم یو له مهمو اعجازاتو څخه د مور شیدو ارزښت، موده، او طبي ګټې دي .قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړي چې مور دې خپل ماشوم ته دوه کاله شیدې ورکړي، چې دا وروسته ساینس هم تایید کړی.

۱ .د قرآن کریم آیتونه

آیت ۱:

"وَٱلْوَٰلِدَٰتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَ ۚ"

(البقرة :۲۳۳)

ژباړه:

"او میندې دې خپل اولادونه دوه کاله مکملو شیدو ورکولو ته تیاري ونیسي، د هغه چا لپاره چې غواړي تاسې د شیدو ورکولو موده پوره کړئ".

آیت ۲:

"وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَٰلُهُ فِى عَامَيْنِ"

(لقمان :۱۴)

ژباړه:

"او موږ انسان ته د خپلو مور او پلار (خدمت) سپارښتنه کړې ده؛ مور یې په کمزوري پسې کمزوري سره (د حمل او زیږون تکلیفونه) برداشت کړي، او د هغه د شیدو پرېښودو موده دوه کاله ده".

۲ . د قرآن اعجاز او ساینسي څېړنې

الف :د دوه کلونو لپاره د مور شیدو طبي ګټې

ساینس پوهانو دا تایید کړې چې د دوه کلونو لپاره د مور شیدې ورکول د ماشوم لپاره تر ټولو غوره انتخاب دی.

د ماشوم د معافیت **(Immune System)** پیاوړتیا

د مور شیدې د انتي باډي **(Antibodies)** او لیوکوسایټونو **(White Blood Cells)** څخه ډکې دي، چې د ماشوم بدن د ویروسونو او باکتریاوو پر ضد ساتي.

د شیدو کولوسټرم **(Colostrum)** چې په لومړیو ورځو کې تولیدیږي، د ماشوم د معافیت لپاره خورا مهم دي.

د ماشوم ذهني وده

د مور شیدو کې **DHA (Docosahexaenoic Acid)** او **ARA (Arachidonic Acid)**موجود دي، چې د ماشوم د دماغي ودې لپاره اړین دي.

څیړنو ښودلې چې هغه ماشومان چې دوه کاله شیدې خوري، د هغوی **IQ (Intelligence Quotient)**لوړ وي.

د ماشوم هاضمه ښه کوي

د مور شیدې داسې انزایمونه لري چې ماشوم ته د خوراک هضمول اسانه کوي، پداسې حال کې چې مصنوعي شیدې هاضمي ته ضرر رسولی شي.

ذهني او عاطفي ثبات

مور ته نږدې پاتې کېدل د ماشوم د عاطفي ودې لپاره مهم دي، او دا اړیکه د دوه کلونو شیدو ورکولو له امله لا قوي کېږي.

د مور روغتیا ته هم ګټه لري

دوه کاله شیدې ورکول د مور لپاره هم ډېرې ګټې لري، لکه :

د رحم چټکه رغېدنه**(Uterine Contraction)**

د سینې او تخمدانونو د سرطان خطر کمېږي

وزن کموي او د مور هډوکي پیاوړي کوي

۳ .ولې دوه کاله؟ د ساینس نظر

دوه کاله د مور شیدې ورکول طبیعي موده ده، ځکه چې:

د ماشوم هاضمي سیستم شاوخوا دوه کلنۍ ته پوره وده کوي او وروسته کولای شي هر ډول خواړه هضم کړي.

د ماشوم دماغي او عصبي سیستم ته پوره وده ورکوي.

د نړیوال روغتیايي سازمان **(WHO)** او یونیسف **(UNICEF)** هم همدا سپارښتنه کوي چې ماشوم ته دې دوه کاله مور شیدې ورکړل شي.

۴ . د قرآن اعجاز – ۱۴۰۰ کاله مخکې حقیقت

د قرآن کریم دا حکم چې" دوه کاله د شیدو ورکولو موده پوره کړئ"، د علمي څېړنو سره ۱۰۰٪ مطابقت لري.

۱۴۰۰ کاله مخکې، هیڅوک نه پوهېدل چې ولې باید دوه کاله ماشوم ته شیدې ورکړل شي.

اوس ساینس دا ثابته کړه چې دا تر ټولو غوره موده ده.

دا څرګندوي چې قرآن کریم د الله پاک کلام دی، او هیڅ شک پکې نشته**!**

۵ . پایله

قرآن کریم د دوه کلونو شیدو ورکولو اهمیت بیان کړی، او ساینس دا ثابته کړې چې دا تر ټولو غوره موده ده.

ماشوم ته د مور شیدې ورکول د بدن، دماغ، او معافیت سیستم ته پوره ګټه رسوي.

دا قرآني حکم د علمي اعجاز ښکاره بیلګه ده**!**

سبحان الله !الله پاک د انسان د فطرت مطابق احکام نازل کړي، او ساينس يې حقانيت ثابتوي.




**د خوک د غوښې روغتيايي زيانونه**

الله تعالی فرمايي:

"إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ"

(البقره**173 :**)

ترجمه:

"يقيناً الله پر تاسو حرامه کړې ده مرداره (مړه شوې) غوښه، وينه، د خوک غوښه، او هغه چې د الله پرته د بل نوم پرې اخيستل شوی وي .نو که څوک بې له سرغړونې او تېري نه اړ شي (نو خوړل يې روا دي)، بېشکه الله ښښونکی او مهربان دی".

د خوک طبيعت او د هغه بد عادتونه

خوک يو مردار خوړونکی، ناپاک او ناولي حيوان دی .دا حيوان تل له خپلو غايطه موادو (فضلې) سره لوبې کوي، هغه خوري، او په چټليو کې ژوند کوي .د همدې امله، خوک د

نورو څارویو په پرتله ډېرې انټي بادي ګانې تولیدوي، ځکه چې بدن یې د خطرناکو مکروبونو او ناروغیو پر وړاندې مقاومت ته اړتیا لري.

د خوک غوښه او د هغې خطرناک ترکیبات

د خوک په غوښه کې ډېر خطرناک مواد موندل شوي، چې انسان ته جدي روغتیایي ستونزې پیدا کولی شي:

د کلسټرول لوړه کچه:

د خوک غوښه د کلسټرول او ضرري غوړو **(Fats)** تر ټولو لوړه کچه لري، چې د زړه د رګونو بندیدو، د وینې فشار لوړېدو او د زړه حملې سبب ګرځي.

هورموني بدلونونه:

د خوک بدن طبیعتاً داسې هورمونونه تولیدوي چې د انسان په بدن کې د سرطان د خطر د زیاتوالي لامل ګرځي.

خطرناکې ناروغۍ او مایکروبونه:

د خوک غوښه د **Trichina** په نوم یوه خطرناکه چنجي لري، چې د انسان په عضلو او زړه کې ځای نیسي او د مړینې سبب کېدای شي.

دغه راز، د خوک غوښه د ویروسونو او باکتریاوو یوه لویه سرچینه ده، چې انسان ته د سوائن فلو**(Swine Flu)** ، د جلد ناروغیو او هضمي ستونزو لامل ګرځي.

د خوک د غوښې روغتیایي اغېزې په لویدیځو هېوادونو کې

په امریکا، جرمني او نورو لویدیځو هېوادونو کې، چیرې چې خلک د خوک له غوښې زیات استفاده کوي، لاندې ستونزې ډېرې عامې دي:

د زړه حملې او د شکرې ناروغي کچه خورا لوړه ده.

د هضمي سیستم ناروغۍ ډېرې عامې دي.

د جلدي ناروغیو او التهاباتو (سوزش) خطر زیات دی.

قرآني حکمت او علمي کشفونه

اسلام ۱۴۰۰ کاله وړاندې د خوک غوښه حرامه وګرځوله، حال دا چې ساینس یوازې په وروستیو پېړیو کې د هغې زیانونه ثابت کړل .دا د قرآن کریم د اعجاز یوه بله ښکاره نښه ده، چې هغه حقایق یې خلکو ته څرګند کړي وو، چې د ساینس او ټکنالوژۍ له پرمختګ پرته چا نشو موندلی.

پایله

خوک یو ناپاک، ناروغۍ لېږدونکی حیوان دی، چې غوښه یې انسان ته جدي روغتیایي زیانونه رسوي .الله تعالی د خپل حکمت له مخې، دا حیوان او غوښه یې پر مسلمانانو حرامه کړې ده، تر څو د هغوی روغتیا، بدن او ایمان خوندي پاتې شي .علمي څېړنې هم دا تاییدوي، چې د خوک غوښه نه یوازې ناپاکه ده، بلکې د خطرناکو ناروغیو لامل هم ګرځي.

الحمد لله چې موږ ته يې د حلالو خوراکونو لارښوونه کړې ده، او له ضرري او ناپاکو شيانو يې منع کړي يو!



**د شرابو منع کول**

د قرآن اعجاز او ساينسي حقيقتونه

قرآني آيت – د شرابو حرمت

**قُرآن کريم فرمايي:**

**"يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ"**

"ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی !بېشکه شراب، قمار، بوتان، او د قسمت ټاکلو غشي (ازلام) د شيطان له ناپاکو کارونو څخه دي، نو له دې څخه ځان وساتئ، ترڅو بريالي شئ ".(المائده**5:90** )

د آيت تشريح

قرآن شراب د شیطان کار بللی، ځکه چې دا د خلکو ترمنځ کینه، دښمني، او اخلاقي فساد رامنځته کوي.

اسلام د شرابو تحریم په تدریجي ډول راوست، ترڅو خلک ورو ورو د دې خطر درک کړي.

دا آیت د شرابو حرمت وروستی حکم دی، چې د هغوی استعمال مطلقاً حرام ګڼي.

ساینسي حقایق – د شرابو ضررونه

ډاکټران وايي" :که ته د شرابو سره روږدی شې، نو حتمي به د دې له امله مړ شې".

۱ . د زړه ناروغۍ او د بدن تخریب

شراب د زړه د ضربان ګډوډي رامنځته کوي – حتی که لږ مقدار هم وڅښل شي، انسان د زړه د نامنظم ضربان شکایت کوي.

د اوږدمهاله استعمال پایله؟ – د زړه مرګوني ناروغۍ چې آن د درملنې امکان یې کم دی.

۲ . د دماغ حجرې **(Brain Cells)** وژني

یوازې یو یا دوه جامه شراب د مغز ځینې حجرې وژني، کوم چې هیڅکله بېرته نه احیا کېږي!

د دوامداره استعمال پایله؟ – حافظه کمزورې کېږي، عقل ته زیان رسېږي، او ذهني ناروغۍ پیدا کوي.

۳ . د ځيګر لپاره تباه کوونکی

شراب د کورني تشدد، جرمونو، ترافیکي پېښو، او دندې له لاسه ورکولو لوی لامل دی.

په نړۍ کې سلګونه زره خلک هر کال د الکول له امله مري.

قرآن ولې ۱۴۰۰ کاله مخکې دا حقیقت بیان کړ؟

دا آیت د ساینسي واقعیتونو تصدیق کوي، چې نن ډاکټران پرې متفق دي.

ساینس یوازې اوس درک کړې چې شراب د انسان بدن ته شدید زیان لري، خو اسلام دا حقیقت له پیله واضح کړی و.

دا د قرآن یو معجزوي اعجاز دی، ځکه چې په هغه وخت کې هیڅوک د شرابو د خطرونو ساینسي توضیحات نه پوهېدل.

نتیجه–

قرآن کریم د انسان د فطرت، صحت، او ټولنې د خیر لپاره لارښوونه کوي.

د شرابو تحریم یوازې یو مذهبي حکم نه دی، بلکې یو ساینسي حقیقت دی چې د انسان د بدن، دماغ، او ټولنې لپاره ګټور دی.

دا اعجاز موږ ته دا ښیي چې قرآن یوازې د انسان خبرې نه دي، بلکې دا د الله سبحانه وتعالی وحی ده!




## AI او خیواناتو ژبه

د **AI** او حیواناتو ژبه – د ساینس او نبوي اعجاز حیرانوونکی اتصال

انسان تل هڅه کړې چې د خپل چاپېریال سره اړیکه ونیسي، که هغه د خپلو همنوعو سره وي او که د حیواناتو سره. د تاریخ په اوږدو کې، موږ پوهیدلي یو چې ځینې حیوانات ځانګړي غږونه تولیدوي، خو تر اوسه دا ممکنه نه وه چې د دوی ژبه په واضحه توګه درک کړو.

په همدې حال کې، ساینسپوهان د مصنوعي هوښیارتیا **(AI)** په مرسته د حیواناتو ژبه تحلیلوي، او دا د یوې حیرانوونکې کشف لور ته روان دی، چې له نبوي اعجاز سره حیرانوونکی تړاو لري.

د نبوي حدیث حیرانوونکې وړاندوینه

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

"قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې دی! قیامت به تر هغه وخته نه قائمیږي، تر څو چې ښکاریان له خلکو سره خبرې ونه کړي، او تر هغه وخته پورې چې د سړي د

څټکي او د بوټانو تسمې ورسره خبرې ونه کړي، او ورون یې له هغه وروسته خبر نه کړي چې د هغه له کورنۍ سره د هغه وروسته څه شوي دي".

(جامع ترمذي ۲۱۸۱)

دا حدیث یوه حیرانوونکې نښه وړاندې کوي، چې حیوانات او ځینې شیان به د انسانانو سره خبرې پیل کړي—یو داسې واقعیت چې په معاصر ساینس کې هم د تحقق په درشل کې دی.

د **AI** او د حیواناتو ژبه – یوه علمي معجزه

نن ورځ، د مصنوعي هوښیارتیا **(AI)** او مشین لرننګ **(Machine Learning)** په مرسته ساینسپوهان هڅه کوي چې د حیواناتو ژبه درک کړي .ځینې حیرانوونکي پرمختګونه عبارت دي له:

۱ . د خفاشانو ژبه **"The Bat Whisperer"**

ساینسپوهان د یوسی برکلي پوهنتون کې د **"The Bat Whisperer"** پروژه پرمخ وړي، چې د خفاشانو غږونه تحلیلوي .څېړنې ښيي چې خفاشان تر ۵۰ +مختلف غږیز سیګنالونه لري، چې یو له بله سره د دوستۍ، جګړې، او خواړو شریکولو په اړه معلومات تبادله کوي **AI** .هڅه کوي دا ژبه ترجمه کړي!

۲ . د دلفینانو او نورو حیواناتو ژبه

دلفینان، زنبوران، پیشوګانې، سپي، او حتی میږیان ځانګړې اړیکې لري:

د دلفینانو غږونه د انسان له ژبې سره ورته پیچلتیا لري.

زنبوران د نڅا له لارې يو بل ته د خوړو ځای ښيي.

میږیان د کیمیاوي موادو (فرومونونو) له لارې خبرې کوي.

۳ . د **AI** پروژه – د حیواناتو ژبې کشف

ځينې شرکتونه، لکه **"Earth Species Project"** او **"Zoolingua"** ، هڅه کوي چې د حیواناتو غږونه کوډ کړي او د **AI** په مرسته يې ژباړه ممکنه کړي.

آيا دا د قيامت د نښو نږدې کېدل ښيي؟

په نبوي حديث کې ذکر شوي چې شيان چې عادي ډول خبرې نه کوي، به د انسانانو سره خبرې پيل کړي .که څه هم ساينس لا د دې پوره اثبات ته نه دی رسيدلی، خو دا حقيقت چې **AI** اوس د حيواناتو ژبه تحليلوي او انسان ته يې ترجمه کوي، يو حيرانوونکی پرمختګ دی، چې د نبوي پيشګويو سره عجيبه ورته والی لري.

نتیجه–

کله چې موږ د ساينس وروستي کشفونه ګورو، د نبوي اعجاز ښکلا راڅرګنديږي. دا حديث نه يوازې يو عجيب امکان وړاندې کوي، بلکې موږ ته دا ښيي چې هغه شيان چې پخوا ناممکن ګڼل کېدل، د تکنالوژۍ په پرمختګ سره ممکن کېږي.




## ژوند او مرګ ترمنځ حیرانوونکی توازن

د خوړو دوران – د ژوند او مرګ ترمنځ حیرانوونکی توازن

(إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰ ۖ يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ ٱلْمَيِّتِ مِنَ ٱلْحَىِّ)

(سورة الأنعام**95** :)

**ترجمه:**

بېشکه الله د دانې او هسته (د تخمونو) شکاف کونکی دی، ژوندي له مړي راباسي، او له ژوندي مړی را باسي.

د آيت علمي اعجاز:

د خوړو دوران:**(Nutrient Cycle)**

کله چې ژوندي موجودات مړه شي، باکترياوې او ميکروبونه يې تجزيه کوي او د عضوي مواد‌و په بڼه يې بيرته طبيعت ته ورکوي.

دا تجزيه شوي مواد بيا خاوره، نباتات، او د نوو ژوو د ودې لپاره غذايي عناصر برابروي.

که دا دوران نه وای، خاوره به زر وچه شوې وای، او د ځمکې پر مخ ژوند ناممکنه کېده!

د باکترياوو حيرانوونکی رول:

ځينې باکترياوې د مړو بدنونو پروټينونه، غوړ، او نور عضوي مواد په نايتروجن، فاسفورس، او معدني موادو بدلوي، چې د نباتاتو د ودې لپاره اړين دي.

ځينې ژوي، لکه چونګښې، ځينې کب، او شمالي قطب کې ځينې حيوانات، په ژمي کې کنګل شي، خو د باکترياوو له برکته يې بدن ته کافي انرژي برابرېږي!

دا ټول په طبيعت کې د ژوند دوام ته حيرانوونکی تنظيم ښيي.

د ژونديو او مړو تبادله:

ژوندی له مړي :نباتات د خاورو له معدني موادو څخه د فوتوسنتېز (Photosynthesis) له لارې خواړه توليدوي، چې بيا يې ژوي او انسانان خوري.

مړی له ژوندي : ژوي او انسانان د مرګ وروسته تجزيه کېږي، چې خاوره پرې بډايه شي او د نويو نباتاتو د ودې سبب وګرځي.

دا یو نه قطع کېدونکی دوران دی، چې پرته له دې ژوند ممکن نه دی!

د تخم (Seed) وده:

"فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰ "(د دانې او هستې شکاف کونکی د تخم د ودې حیرانوونکی نظام ته) ته اشاره کوي.

کله چې تخم په ځمکه کې ښخ شي، الله ورته د ودې انرژي ورکوي، او دا د خاورو، اوبو، او لمر د انرژۍ له برکته شنه کېږي.

نن ورځ ساینس ثابته کړې چې هر تخم ځانګړې داخلي انزایمونه او میکانیزمونه لري، چې د الله جل جلاله د قدرت ښکلی نظام ښيي!

د خوړو دوران – عقلي دلایل او فلسفي تحلیل

١ . د طبیعت توازن:(Balance of Nature)




که مړي نه تجزیه کېدای، نو ځمکه به ډکه شوې وای!

که د ژوو او نباتاتو مړي نه تجزیه کېدای، نو د ځمکې پر مخ به په ملیاردونو ټُنه مړي جمع شوي وای، او هیڅ نوی ژوند به نه و پیدا شوی.

د قرآن کریم دا حقیقت ثابتوي :مړی د نوي ژوند لپاره لاره هوارويِ.

که د خوړو دوران نه وای، د ځمکې سرچینې به ختمې شوې وای!

که مړه نباتات او حیوانات نه تجزیه کېدای، نو خاوره به د مغذي موادو له لاسه ورکولو له کبله وچه شوې وای، او د نباتاتو وده به بنده شوې وای.

که نباتات نه وای، نو هوا به بې اکسیجنه وای، او ټول ژوي به له منځه تللي وای.

۲ . د ژوند او مرګ ترمنځ تړاو:**(Interconnection of Life and Death)**

که مرګ نه وای، نو نوی ژوند به نه پیدا کېده!

که زاړه نباتات او ژوي نه وای مړه کېدل، نو د نویو ځای نه وای، او ځمکه به د زړو موجوداتو ډکه وای.

د خوړو دوران ثابته کړه، چې مرګ د ژوند لپاره ضروري دی، نه یوازې د پای ټکی.

د قرآن د" ژوندی له مړي "او" مړی له ژوندي "فلسفه:

ژوندی له مړي :د مړو ژوو بدنونه تجزیه کېږي، خاوره بډایه کوي، او نوی نباتات، چې ژوند لري، ترې پیدا کېږي.

مړی له ژوندي :نباتات د ژوو د تغذیې سرچینه ده، او کله چې دا ژوي مړه شي، هغوی بیرته خاورو ته ځي.

دا یو نه ماتېدونکی دوران دی، چې نه یې ساینس تخریب کولی شي، او نه یې انسان بدلولی شي.

۳ . د مرګ او ژوند حکمت – د الهي تنظیم نښه:

مرګ د هستۍ لازمي برخه ده!

که انسانان، حیوانات، او نباتات نه وای مړه کېدل، ځمکه به له ژوندي موجوداتو ډکه شوې وای، او ټول طبیعي منابع به ختمې شوې وای.

الله تعالی په خپل حکمت دا دوران ترتیب کړی، چې ژوند ته تسلسل ورکړي.

د ژوند تکرار او دوام، د هوښیار خالق دلیل دی!

دا سیستم په دومره کچه دقیق دی، چې هیڅ بې نظمي پکې نه راځي.

که دا یو تصادف وای، یو وخت به دا سیستم کار پرېښی وای، خو ساینس ثابته کړې چې د خوړو دوران بې له وقفې روان دی، چې دا د الهي تنظیم ښکاره نښه ده.

پایله:

د خوړو دوران یوازې یو ساینسي حقیقت نه دی، بلکې یو عقلي دلیل دی، چې مرګ او ژوند لازم دي، او د طبیعت تنظیم یو خالق ته اړتیا لري.

قرآن ۱۴ پېړۍ وړاندې دا حقیقت بیان کړی، چې نن ساینس ورته حیران دی!

دا قرآني اعجاز دی، چې ۱۴ پېړۍ وړاندې يې د خوړو دوران، د مړي او ژوند تبادله، او د تخم د ودې حيرانوونکي ساينسي حقايق بيان کړي، چې نن ساينس ثابته کړه!



**د قرآن کريم د چاپېريالي اعجاز**

د قرآن کريم د چاپېريالي اعجاز تفصيلي تحليل

قرآني آيت:

(ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ)

(فساد په وچه او سمندر کې ښکاره شو، د هغو اعمالو له امله چې د خلکو لاسونو تر سره کړي، تر څو (الله) هغوی ته د هغوی د عملونو ځينې عواقب وڅکي، شايد چې دوی را وګرځي) (.الروم : ۴۱)

چاپېریالي فساد څه ډول رامنځته کېږي؟

د قرآن کریم دا مبارک آیت بیانوي چې فساد او ککړتیا د انسان د اعمالو پایله ده .د نن زماني ساینسپوهان وایي چې دا فساد په ځمکه، فضا، او اوبو کې د انسان د بېپروایي له امله پراخ شوی دی .ځینې مهمې بیلګې دا دي:

۱ . د فضا ککړتیا**(Atmospheric Pollution)**

نن سبا د فضا یا اتمسفیر ککړتیا د نړۍ یوه لویه ستونزه ده، چې د لاندې سرچینو له امله رامنځته کېږي:

د موټرو ګازات :د سون موادو (ډیزل، پټرول) سوځېدل کاربن ډای اکسایډ( **($CO_2$** ، نایتروجن اکسایډ**(NOx)** ، او سلفر ډای اکسایډ ( **$SO_2$)** تولیدوي، چې د هوا ککړتیا او د اقلیمي بدلون **(Climate Change)** سبب ګرځي.

فابریکې او صنعتي تاسیسات :د کارخانو دود د فضایي تودوخې زیاتوالی ( **Global Warming**) رامنځته کوي.

د اټومي بټیو فاضله مواد :اټومي بټۍ راډیواکټیف **(Radioactive)** ګازات تولیدوي، چې د انسانانو، حیواناتو، او نباتاتو لپاره زهرجن دي.

۲ . د ځمکې فساد**(Land Pollution)**

کیمیاوي سرې او حشره وژونکي دواوې :د کرنې لپاره کیمیاوي سرې او دواوې کارول د ځمکې حاصلخېزتیا ته ضرر رسوي او ځمکه مسموموي.

پلاستيکي ککړتيا :پلاستيک د ځمکې طبيعي پروسې ته زيان رسوي، ځکه چې دا زرګونه کاله نه تجزيه کېږي.

ناسمه ښاري پراختيا :ځنګلونه وهل، غيرقانوني کانکني، او د کرنې لپاره د ځمکو غلط استعمال د ځمکې طبيعي توازن خراب کړی دی.

٣ . د سمندرونو او اوبو فساد

**(Water Pollution)**

د صنعتي فاضله موادو تويول :فابريکې خپل زهرجن کيمياوي مواد سيندونو او سمندرونو ته خوشې کوي، چې د سمندري ژوند لپاره خطرناک دي.

د کښتو تېل :د تېلو ټانکرونه کله ناکله سمندر ته تيل تويوي، چې د کبانو، مرجانو، او نورو سمندري موجوداتو ژوند ته سخت زيان رسوي.

پلاستيکي کثافات :هر کال مليونونه ټنه پلاستيک سمندرونو ته غورځول کېږي، چې د سمندري ژوند لپاره مرګونی خطر لري.

د قرآني آيت ساينسي اعجاز

١ " .ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ"

د چاپېريال نننۍ ستونزې ثابتوي چې فساد واقعاً هم په

ځمکه**(Land)**

او هم په سمندر**(Sea)**

کې څرګند شوی . دا فساد د تېرو پېړيو په پرتله اوس خورا شديد شوی دی.

۲" .بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ"

ساینسپوهان دا مني چې د چاپېریالي فساد اصلي لامل انسان دی . که د انسان فعالیتونه لکه صنعتي انقلاب، فابریکې، د تېلو کارول، او کیمیاوي تولیدات نه وای، نو چاپېریال به روغ پاتې وای.

۳" .لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟"

د دې فساد پایلې اوسنی انسان عملاً ویني

چاپېریالي تغیرات**(Climate Change)** ، د ګرمښت زیاتوالی ( **Global Warming**)، خطرناک طوفانونه، وچکالي، او سمندري طوفانونه ټول هغه عذابونه دي چې انسان ته د خپلو اعمالو سزا ورکوي.

۴" .لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ"

الله تعالی دا فساد د دې لپاره نه دی رامنځته کړی چې انسان تباه شي، بلکې دا د تنبیه لپاره دی، تر څو خلک د خپلو ناسمو کړنو څخه توبه وباسي، چاپېریال ته زیان نه رسوي، او د قرآن لارښوونې تعقیب کړي.

پایله

دا آیت نه یوازې د چاپېریالي علومو یوه معجزه ده، بلکې د انسان لپاره یوه اخلاقي لارښوونه هم ده، چې باید د چاپېریال ساتنه وکړي .نن ساینسپوهان وايي که انسان خپل ناوړه عادتونه بدل نه کړي، نو د نړۍ راتلونکی به ناورین وي .خو قرآن کریم له ۱۴۰۰ کلونو مخکې دا حقیقت بیان کړی و، چې فساد د انسان د اعمالو له امله رامنځته کېږي، او د حل یوازینۍ لاره د اصلاح، رجوع، او چاپېریال ته پاملرنه ده.

ایا دا د قرآن عظیم شان اعجاز نه دی؟



**له حیات نه تقلید**

له حیات نه تقلید – د ژوو له جوړښت نه د تخنیکي طرحو الهام

قرآني اشاره:

الله ﷻ فرمایي:
(وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً)
(سورة المؤمنون :٢١)

ترجمه
او بېشکه ستاسو لپاره په حیواناتو کې عبرت شته.

(وَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ فَأَىَّ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ)
(سورة غافر**81 :**)

ترجمه:

او (الله) تاسو ته خپلې نښې ښيي، نو د الله له نښو څخه په کومو نښو انکار کوئ؟

۱ . له طبیعت څخه د انسان تقلید – بیومیمتیکس**(Biomimetics)**

پوهان مخکې له دې چې څه اختراع کړي، طبیعي مخلوقات څېړي، د هغوی ځانګړتیاوې تحلیلوي، او بیا له هغوی څخه الهام اخلي.

بیومیمتیکس **(Biomimetics)** هغه علمي څانګه ده، چې له طبیعت څخه د تقلید پر اصولو ولاړه ده .د دې مفهوم بنسټ جنین بنیوس **(Janine Benyus)** کېښود، او اوس ساینسپوهان هڅه کوي، چې د ژوندیو موجوداتو طبیعي جوړښت د انسان لپاره په ټکنالوژۍ بدل کړي.

۲ . د طبیعت حیرانوونکې تقلیدي بڼې

الف . الوتنه او حرکت

مچخوړونکی مرغه :دا مرغه په درې ګرامه سون‌توکي د مکزیکو خلیج ته سفر کوي . ساینسپوهان هڅه کوي، چې دې ته ورته انرژيمصرفي الوتکې جوړې کړي.

بمبیري ملخ **:(Dragonfly Helicopter)** دا حشره د نړۍ تر ټولو پیاوړې الوتونکې ده، چې د څرخېدونکو وزرونو سیستم لري .له دې الهام اخیستل، نوې څرخې الوتکې جوړې شوې.

خفاشي راډار **:(Bat Sonar System)** خفاش په تیاره کې د غږ څپو په مرسته هدف مومي .انسان د دې میکانیزم تقلید کړی، او ځواکمن راډارونه یې جوړ کړي.

ب . د انرژي مصرف او جوړښت

وينې – (Termites) طبيعي هوايي سيستم :ترميتاني (موريانې) داسې ساختمانونه جوړوي، چې د انرژي کم مصرف او ښه هوايي سيستم لري .دا طرحه په عصري ساختماني انجنيرۍ کې کارېږي.

د شمال سمندر کبان او چونګښې :دا ژوي په ژمي کې کنګل کېږي، خو بيا ژوندی کېږي !ساينسپوهان هڅه کوي، چې د انسانانو لپاره د کنګل کولو تکنالوژي جوړه کړي.

روښانېدونکې حشرات :(Bioluminescence) ځينې حشرات، لکه جلبکونه، د څراغ مېږې او ځينې کبان خپل بدن روښانه کوي .د دې الهام څخه بېټرۍ او روښانه مواد جوړ شوي.

ج . د ژوند انعطاف‌پذيري

بوقلمون او ځانګړی کب :دا ژوي د چاپېريال له رنګ سره ځان برابروي .دا ځانګړتيا د پوځي جامو او مخفي ټکنالوژۍ په پرمختګ کې کارېدلې.

نهنګان او پينګوينان :دا ژوي د ساعتونو لپاره تر اوبو لاندې پاتې کېږي، بې له دې چې اکسيجن ماسک ته اړتيا ولري .ساينسپوهان هڅه کوي، د غو غواصانو لپاره نوي سيستمونه جوړ کړي.

د . د طبيعی حافظې حيرانتيا

د شاتو مچۍ، مرغۍ او الوتونکي :دا موجودات پرته له نقشې خپل مسیر مومي .دا ځانګړتیا په جيپيایس (GPS) او هوښیار روباتونو کې کارول شوې.

۳ . د قرآني عبرت اشاره – ساینس ته الهام

قرآن کریم د څارویو جوړښت او د هغوی د عبرت اړخ ته اشاره کړې .ساینسپوهان یوازې اوس دې ته متوجه شوي، خو دا حقیقت زرګونه کاله مخکې قرآن بیان کړی و.

۴ . راتلونکې ټکنالوژي – د طبیعت الهام

هوښیار روبوټونه چې د انسان د عضلاتو تقلید کوي.

خپل ځان جوړېدونکي مواد چې د ژویو د ځان رغولو له قدرت څخه الهام اخلي.

کیمیاوي توکي چې د روښانېدونکو حشراتو غوندې په انرژۍ کم مصرف لري.

نتیجه

طبیعت د بشري ټکنالوژۍ سرچینه ده، او قرآن زرګونه کاله مخکې انسان ته ویلي، چې د مخلوقاتو له جوړښت څخه عبرت واخلي.

د بیومیمتیکس ساینس د قرآن د دې آیت ښکلی تفسیر وړاندې کوي.

انسان د الله ﷻ د خلقت تقلید کوي، خو لا هم د طبیعت له بشپړوالي څخه ډېر لرې دی!



**د اعتدال سره خوراک او څښاک**

د اعتدال سره خوراک او څښاک - يو ساينسي حقيقت او قرآني اعجاز

اوسني ساينسپوهان وايي چې د مناسب خوراک او څښاک اصول نه يوازې روغتيا ته گټه رسوي، بلکې د انسان عمر هم زياتولی شي**!**

د فنلنډی څېړونکو يوه وروستۍ څېړنه ښيي چې که يو انسان خپل خوراک کنټرول کړي او زيات خوراک ونه کړي، نو د وينې فشار **(Blood Pressure)** او کوليسټرول **(Cholesterol)**کچه ټيټېږي، چې دا دواړه د ناڅاپي مرگ اساسي عوامل دي**.**

قرآن کريم د دې حقيقت يادونه ۱۴۰۰ کاله وړاندې کړې ده**!**

الله تعالی فرمايي**:**

(وَكُلُوا وَٱشْرَبُواْ وَلَا تُسْرِفُوٓاْ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ)

(الأعراف **:** ۳۱)

ترجمه:

"او خورئ او څښئ، خو اسراف مه کوئ، بېشکه چې هغه (الله) اسراف کوونکي نه خوښوي".

ساینسي توضیحات او د قرآني اعجاز وضاحت

۱ . د زیات خوراک زیانونه:

د زیات خوراک کولو عادت د بدن وینې فشار لوړوي او د زړه د حملې امکانات زیاتوي.

د کولیسټرول لوړوالی د شریانونو بندېدو او ناڅاپي مرګ لامل کېږي.

د معدې د ناروغیو او شکري **(Diabetes)** سبب ګرځي.

۲ . د متوازن خوراک ګټې:

د بدن قوت ساتي، د ژوند موده زیاتوي، او بدن له ناروغیو ژغوري.

د انرژي تولید ته ښه شرایط برابروي.

د عقل، بدن، او روح تعادل ساتي.

د نبوي سنتو لارښوونه:

رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

«مَا مَلأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ، بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ أُكُلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ، فَإِنْ كَانَ لَا مَحَالَةَ فَثُلُثٌ لِطَعَامِهِ وَثُلُثٌ لِشَرَابِهِ وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ»

(رواه الترمذي، حديث ۲۳۸۰)

ژباړه: د آدم زوی هېڅ لوښی دومره نه ډکوي لکه خپله معده، خو که اړتیا وي، نو د خوراک لپاره درېیمه برخه، د څښاک لپاره درېیمه برخه، او د ساه اخیستلو لپاره درېیمه برخه پرېږدي.

پایله: قرآني اعجاز

اوس ساینسپوهان دا ثابتوي چې د خوراک اعتدال د عمر زیاتوالي، روغتیا، او بدن د ساتنې لپاره اړین دی، حال دا چې قرآن کریم دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی و!



"کادو" يقطين

يقطين (کدو) او د یونس علیه السلام کیسه - د قرآن کریم علمي اعجاز

الله تعالی په قرآن کریم کې د یونس علیه السلام کیسه داسې بیان کړې ده:

"فَنَبَذْنَاهُ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ۝ وَأَنبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ"

(الصافات :۱۴۵-۱۴۶)

"بیا موږ په ناروغه حالت ډاګ میدان کې وغورځولو

او د کدو یو بوټی مو وربانديې را زرغون کړ"

دې آیت کې الله تعالی د یونس علیه السلام لپاره د کدو بوټي (یقطین) د ځانګړي استعمال یادونه کړې .نننۍ ساینس د دې حیرانوونکي حقیقت د رازونو افشا کوي.

یقطین (کدو) - د علمي څېړنو په رڼا کې

۱ . د بدن بیا رغونه او سیوری

کله چې یونس علیه السلام له کب څخه راووت، د هغه بدن ډېر کمزوری و، او د ناروغۍ له امله یې د پوټکي پوستکې حساسیت درلود .یقطین (کدو) یو داسې بوټی دی چې پراخې پاڼې لري، کومې چې د سیوري جوړولو لپاره خورا مناسب دي .ساینس وايي چې سیوري او یخ چاپېریال د پوستکي د رغېدو لپاره ګټور دي.

۲ . د زخمونو رغونه

یقطین کې ویټامین**A** ، ویټامین**E** ، او انټي اکسیډنټ مواد شته، چې د زخمونو په رغولو او د پوستکي په بیا جوړولو کې مرسته کوي .دا هغه څه دي چې یونس علیه السلام ورته اړتیا لرله، ځکه چې د هغه بدن د کب په معده کې زیات زیانمن شوی و.

۳ . د هضم اسانوالی

يقطين (کدو) ډېر نرم او اسان هضمېدونکی خوراک دی .دا هغه وخت ناروغ بدن ته مناسب وي، ځکه چې سخت خواړه د بدن لپاره ستونزې جوړوي.

۴ . د التهاب کمول

يقطين طبيعي ضد التهاب ځانګړتیاوې لري، چې د بدن د خارښت او داخلي کمزورتیا په درملنه کې مرسته کوي.

۵ . د ناروغۍ پر وړاندې مقاومت

يقطين د بدن د معافيت سيستم تقويه کوي، ځکه چې دا د ويټامين سي، منرالونو، او انټي اکسيډنټونو ښه منبع ده.

د قرآن علمي اعجاز

په هغه وخت کې چې هيڅوک د يقطين طبي ګټې نه پېژندلې، قرآن کريم دا حقيقت بيان کړ . اوس ساينس د يقطين بوټي هغه ټولې ځانګړتیاوې تاييدوي، چې يونس عليه السلام ته ګټورې وې . دا يوازې يو تصادف نه دی، بلکې د قرآن علمي اعجاز دی چې د الله تعالی د کلام حقيقت ښکاره کوي.

پايله

د يقطين ذکر په قرآن کې د يونس عليه السلام د کيسې په برخه کې د دې ښکاره کوي چې قرآن د الهي علم يو بې جوړې کتاب دی .د دې علمي حقايق نه يوازې د قرآن معجزه ده، بلکې زموږ لپاره د زده کړو او تفکر يوه دروازه هم ده.




## د بوی لیږد

د یوسف علیه السلام د بوی احساس د قرآني اعجاز له نظره یو ډېر ژور او په زړه پورې موضوع ده .دا موضوع نه یوازې د حسي ادراکاتو یو عادي مثال دی، بلکې د قرآني نازک تعبیراتو، د انسان د حواسو پیچلي جوړښت، او د راتلونکو ساینسي پرمختګونو وړاندوینه هم پکې نغښتې ده.

۱ . د آیت ژباړه او قرآني إعجاز

الله تعالی فرمایي:

(وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلۡعِيرُ قَالَ أَبُوهُمۡ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَۖ لَوۡلَآ أَن تُفَنِّدُونِ)

(او کله چې کاروان[ له مصر څخه ]ووت، نو د هغوی پلار وویل :«زه د یوسف بوی محسوسوم، که تاسو ماته د کم عقلی نسبت نه کوئ.») یوسف**94** :

په دې آیت کې څو مهم ټکي د قرآني اعجاز څرګندوي:

د بوی لرې لیږد - یو غیر معمولي حقیقت:

يعقوب عليه السلام د يوسف عليه السلام بوی په داسې حال کې محسوس کړ چې کاروان لا له مصر څخه راوتلی و، او هغه لا تر فلسطين (کنعان) پورې نه و رسېدلی .دا يو داسې حقيقت دی چې د عامو مادي قوانينو سره سم نه توجيه کېږي، ځکه چې بوی يوازې د هوا د جريان له لارې انتقالېږي او د اوږدو فاصلو لپاره دوام نه شي کولی.

د انساني حواسو فوق العاده وړتياوې:

علمي څېړنو ثابته کړې چې ځينې خلک فوق العاده حواس لري .د مثال په ډول، **"Hyperosmia"** يوه داسې پديده ده چې ځينې خلک پکې غير معمولي بوی پېژندلی شي، حتی د ډېرو کمزورو بويونو احساس کولی شي.

همداراز، داسې احتمالات شته چې بعضې بويونه د ځانګړو حافظوي محرکاتو له امله ذهن ته انتقال شي، لکه څنګه چې ځينې بويونه يو انسان ته د ماضي يادونه راژوندۍ کوي.

د راتلونکي تکنالوژۍ وړاندوينه - الکترونيکي پوزه:

نن سبا ساينسپوهان هڅه کوي چې الکترونيکي پوزه جوړه کړي، چې د بوی ماليکولونه تشخيص کړي او معلومات د کمپيوټر له لارې پروسس شي .دا يوه حيرانوونکې موضوع ده، ځکه قرآن دا مفهوم ۱۴۰۰ کاله مخکې بيان کړی.

که چيرې د بوی برېښنايي ليږد ممکن شي، نو دا به د يعقوب عليه السلام د کيسې يو ساينسي تفسير ته لار هواره کړي.

۲ . د اعجاز ساينسي اړخ

الف (د بوی ليږد د **"Quantum Biology"** له نظره

په ساینس کې یو نوی مفهوم چې **"Quantum Entanglement"** (کوانټمي اتصال) بلل کېږي، ښيي چې ذرې د فزیکي فاصلو سره سره یو له بله سره ارتباط ساتي .که چیرې بوی هم د کوانټمي میکانیزم له لارې انتقالېدای شي، نو دا به د یعقوب علیه السلام د بوی احساس ته یو نوی ساینسي توضیح وي.

ب **(**د انسان د بوی پېژندلو پیچلی سیستم

د انسان په پوزه کې د بوی اخیستلو حجرې **(Olfactory receptors)** شته چې هره یوه یې یوازې یو مشخص مالیکول ته حساسه ده.

کله چې بوی د پوزې حجرې تحریک کړي، نو د برېښنایي سیګنالونو له لارې دماغ ته انتقالېږي، او انسان هغه بوی احساسوي.

دا پروسه دومره پیچلې ده چې ساینسپوهان یې لا هم په بشپړ ډول نه دي درک کړي.

۳ **.** د اعجاز روحاني اړخ - د نبوي فراست برکات

قرآن دا پېښه په داسې ډول بیانوي چې دا یوازې یو طبیعي حس نه، بلکې یو روحاني فراست هم ښيي .د یعقوب علیه السلام قوي ایمان، د زوی سره عاطفي اړیکه، او د نبوت برکات دا امکان رامنځته کوي چې هغه یو داسې بوی احساس کړي، چې عام انسانان یې نه شي احساسولی.

۴ **.** پایله - د قرآني اعجاز نوې څېړنه

دا آیت د بوی د انتقال یو معجزانه حقیقت ته اشاره کوي.

ساینس لا هم د بوی لیږدولو دقیقا میتودونه نه دي موندلي،

خو د **Quantum Biology**، الکترونیکي پوزې، او **Hyperosmia** مفاهیم ښيي چې دا نظریه ممکنه ده.

قرآن د انساني حواسو په اړه داسې معلومات وړاندې کوي چې ساینس ورته یوازې اوس رسي.

دا آیت د علمي، روحاني، او نبوي اعجاز یوه ښکاره نښه ده،

چې د قرآن عظیم الشأن معجزه نور هم څرګندوي.



**شپه – د آرام، سکون او بدن د بیا رغونې حیرانوونکی نعمت**

(وَجَعَلَ ٱلَّيْلَ سَكَنًا)

(سورة الأنعام: **96**)

او شپه یې د سکون (او استراحت) لپاره وګرځوله.

د آیت علمي اعجاز:

د" سَکَن "کلمه **:**دا کلمه د" سکون، استراحت، کراري، او د خوځښت کمښت "معنی لري، چې د بدن، طبیعت، او فزیکي قوانینو سره سمون لري.

د میلاتونین **(Melatonin)** افراز:

میلاتونین یو هورمون دی چې د شپه جوړېدو سره افرازيږي، بدن ته د آرام سيګنال ورکوي، او خوب ته لاره هواروي.

د دې هورمون تر اثر لاندې زړه ورو ټکوي، ساه اخستل کراريږي، وينه کم فشار ته ځي، او عضلې آراميږي.

د خوب پرمهال د بدن بیا رغونه:

د بدن حجرې په شپه کې ترميميږي او د بدن د بیا رغونې پروسې چټکې کيږي.

د معافيت سيستم په شپه کې پياوړی کيږي، ځکه چې د بدن د دفاعي هورمونونو افراز زيات وي.

د شپه نه خوب کولو خطرونه:

که يو څوک ۲ شپې بې خوبه شي، تمرکز به يې ضعيف شي، او که ۳ شپې بې خوبه شي، نو مغز به غلطې مشاهدې **(hallucinations)** وکړي**!**

اوږدمهاله بې خوبي معافيت کمزوری کوي، د زړه ناروغۍ، شکر، فشار، او دماغي ګډوډۍ رامنځته کوي.

**د نباتاتو استراحت:**

نباتات په شپه کې فوتوسنتېز **(Photosynthesis)** نه کوي، ځکه چې د دوی حجرې استراحت ته اړتیا لري.

که شپه نه وای، ډېر نباتات به وچ او له منځه تللي وای**!**

**د مالیکولونو او اتومونو سکون:**

د فزیکي قوانینو له مخې، اتومونه او مالیکولونه د لمر په شتون کې زیات فعاله وي، خو په شپه کې یې انرژي کمېږي، او آرام ته ځي.

دا ثابته کوي چې آن د ذراتو په کچه، شپه د سکون لپاره تنظیم شوې ده**!**

دا قرآني اعجاز دی، چې د ۱۴ پېړیو مخکې یې شپه د سکون او آرام وخت بللی، او نن ساینس دا حقیقت ثابتوي**!**



**ارتیزن څاه**

د موسیٰ علیه السلام معجزه او د ارتیزن څاه ساینسي حقیقت

د قرآن کریم اعجاز

**الله ﷻ فرمايي:**

(وَإِذِ ٱسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ فَقُلْنَا ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ فَٱنفَجَرَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۖ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ مِن رِّزْقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ)

(سورة الأعراف :۱۶۰)

**ترجمه:**

او کله چې موسیٰ د خپل قوم لپاره اوبه وغوښتې، نو موږ ورته وویل :«خپله لکړه پر ډبره ووهه.» پس له هغې دولس چینې وبهېدې، هرې ډلې خپل د څښاک ځای وپېژاند .(ورته مو وویل:) «د الله له رزق څخه خورئ او څښئ، او په ځمکه کې فساد مه کوئ.»

د آیت ژور تحلیل

په دې آيت کې څو مهم ټکي شته، چې د قرآن کريم ساينسي اعجاز ته اشاره کوي:

**"اضْرِبْ "د مانا تحليل:**

دا کلمه يوازې د وهلو مانا نه لري، بلکې د حرکت ورکولو، فشار واردولو، او استخراج مفهوم هم لري .دا ښيي چې موسیٰ عليه السلام ته داسې امر شوی و، چې د يوې ځانګړې ميتود له لارې اوبه راوباسي.

**"فَٱنفَجَرَتْ "د مانا تحليل:**

دا کلمه د شديد بهېدو، ټوکېدو، يا د فشار لاندې اوبو راوتو ته اشاره کوي، چې د ارتيزن **(Artesian)**چينو ساينسي حقيقت ته ورته ده.

د اوبو کمښت، معاصر بحران

اوبه د ژوند اساس دی، خو نن ورځ نړۍ د اوبو له جدي کمښت سره مخ ده .د نړيوالو احصائياتو له مخې:

۱ ميليارده خلک پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري.

2,5 ميلیارده خلک د مناسب تشناب له اسانتيا بېبرخې دي.

اټکل کېږي چې په ۲۰۲۵ کال کې به ۵ ميلیارده خلک د اوبو کمښت احساس کړي.

هر کال ۱۲ ميليونه کسان د اوبو د کمښت له امله ژوند له لاسه ورکوي، چې ۳ ميليونه يې ماشومان دي.

ارتیزن څاه – د ځمکې لاندې اوبو استخراج علمي حقیقت

ارتیزن څاه **(Artesian Well)** هغه میتود دی، چې د ځمکې لاندې د اوبو زېرمو څخه د اوبو د فشار له لارې استخراج کوي، پرته له دې چې پمپ ته اړتیا ولري .دا ډول اوبه د ځمکې لاندې د رسوبي ډبرو تر منځ راټولېږي، او کله چې یوې کتلې ته سوري شي، نو د اوبو فشار دا چینه پورته راوباسي.

د موسیٰ علیه السلام معجزه او ارتیزن څاه – یو علمي حقیقت

کله چې موسیٰ علیه السلام ته امر وشو چې خپله لکړه پر ډبره ووهي، نو له هغې څخه دولس چینې راووتې .دا د قرآن یو حیرانوونکی اعجاز دی، ځکه چې دا پروسه د ارتیزن څاه طریقه ښیي:

د ځمکې لاندې رسوبي ډبرې د اوبو زېرمه کوي.

کله چې فشار ته یو وړه لاره ورکړل شي، نو اوبه په لوړ فشار راوځي، لکه د ارتیزن څاه.

د" فَٱنفَجَرَتْ "کلمه د دې بهیر علمي واقعیت تاییدوي.

تاریخي شواهد – د ارتیزن څاه لومړنی کارونه

۱۱۲۶ زیږدیز کال :لومړی ځل ارتیزن څاه په فرانسه کې وازمویل شوه.

لرغونی مصر :لرغونی مصریان د ځمکې لاندې اوبه استخراجول.

میانمار :د ځمکې لاندې چینې د ارتیزن طریقه کاروي.

نتیجه

دا چې قرآن ۱۴۰۰ کاله وړاندې د موسیٰ علیه السلام معجزه داسې بیان کړې، چې نن ورځ د ارتیزن څاه له ساینسي اصولو سره برابره ده، دا د قرآن یو حیرانوونکی اعجاز دی. دا حقیقت ښیي، چې د قرآن هره جمله له علمي واقعیتونو سره توافق لري، او دا یو ښکاره ثبوت دی، چې قرآن د الله کلام دی.




**د ملخانو ډله**

د ملخانو د ډلو حیرانوونکی جوړښت او د قیامت د منظر سره یې ورته والی

(خُشَّعًا أَبۡصَٰرُهُمۡ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ كَأَنَّهُمۡ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ)

(سورة القمر7 :)

په داسې حال کې چې سترګې یې ټیټې (او ډارېدلې) وي، له قبرونو به راوځي، داسې لکه خورېدونکي ملخان.

## د آیت علمي تحلیل:

**د ملخانو د ډلو حرکت :**ملخان ټول په یوه وخت له ځمکې سر راپورته کوي، چې د قیامت د ورځ د وېرې له حالت سره ورته دی.

**د هوا پراخ پوښښ :**د ملخانو یوه ډله تر ۲۰۰ کیلومتره پراخیدای شي، چې د قیامت د ورځ د پراخې ګډوډۍ تصور راکوي.

**د قیامت ورځ د خلکو صحنه :**د آیت مطابق، خلک به داسې وي لکه د ملخانو پراخې ډلې، چې حیران، بېنظمه، او له خپلو قبرونو راوځي.

**د ملخانو د ژوند ساینسي حقیقت :**د ملخانو هګۍ د وخت په تیریدو سره په خاصه درجه تودوخې کې وده کوي، او بیا ټول په یوه وار له ځمکې راوځي–لکه قیامت کې خلک له قبرونو**!**

دا قرآني اعجاز دی چې ۱۴ پېړۍ مخکې یې د قیامت د ورځ صحنه د ملخانو د ژوند د حیرانوونکي حقیقت سره تشبیه کړې**!**



**د ډبرو سکاره**

دا آیت د دوزخ د اور سختي بیانوي، چې د کافرانو لپاره چمتو شوی دی، او دا وایي چې د دې اور سونګ به خلک او کاڼي وي.

قرآني ليدلورى:

الله تعالى فرمايي:

فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ

"که مو دا کار ونه کړ – او هېڅکله به يې و نه کړئ – نو د هغه اور (له عذابه) ووېرېږئ، چې سونګ يې خلک او کاڼي دي، او دا د کافرانو لپاره چمتو شوى دى ". (البقره :۲۴)

لغوي تحليل:

"وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ "(د اور سونګ خلک او کاڼي دي) :دا ټکي يو ژور مفهوم لري، چې ساينسي بحث ته لار هواروي.

"الحِجَارَةُ "کاڼي :(پخوا خلک دا عام کاڼي بلل، مګر اوس پوهيږو چې ځينې کاڼي سوځېدونکي دي، لکه سکاره.**(Coal)**

ساينسي کشف:

سکاره :**(Coal)** دا يو عضوي رسوبي کاڼی دی، چې د نباتي موادو د ساتلو او راټولېدو له امله جوړېږي.

سکاره د اور لپاره سوځېدونکی کاڼی دی، چې تر ټولو مهم فوسيل سونګ بلل کېږي.

سکاره په پراخه کچه د برېښنا د توليد، صنعت، او تودوخې لپاره کارول کېږي.

قرآني اعجاز:

د سوځېدونکو کاڼو يادونه :قرآن د يو داسې اور ذکر کوي، چې د خلکو او کاڼو په وسيله بلېږي .اوس موږ پوهېږو چې ځينې کاڼي، لکه سکاره، واقعاً د اور د سونګ مواد دي.

په ۱۴۰۰ کاله پخوا کې دا نه وه معلومه :هغه وخت عربو يوازې د لرګيو د سونګ په اړه پوهېدل، خو د کاڼو سوځېدل د دوی لپاره ناشوني وو.

ساينسي تطابق :اوس معلومه شوې چې ځينې کاڼي د اور د سونګ لپاره استعمالېږي، لکه سکاره **(Coal)** او ځينې معدني تېل لرونکي کاڼي.

نتيجه:

دا آيت يوازې يوه عامه استعاره نه ده، بلکې يو علمي حقيقت ته اشاره کوي، چې اوس ساينسپوهان يې ثابتوي .دا د قرآن يو بل اعجاز دی، چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې يې د داسې کاڼو يادونه کړې، چې د اور سونګ کېدای شي.



**د اوسپنې ساتنه**

الله تعالی فرمايي:

اٰتُوْنِىْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ ؕ ـــحَتّٰۤى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوْا ؕ ـــحَتّٰۤى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا
ۙ ـــقَالَ اٰتُوْنِىْۤ اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ؕ□

**18-96**تاسو ما ته د اوسپنې تختې راکړئ، تر هغه پورې (يې اېښودلې چې) کله دغه دېوال **(د)** غرونو دوو څوکو په مينځ کې برابر شو، ويې ويل چې پو کړئ، تر هغه پورې چې کله يې دغه (اوسپنه) اور وګرځوله (،نو) ويې ويل **:**تاسو ما ته راوړئ چې زه پر دې (دېوال) وېلې کړی شوې تانبه وغورځوم

د قرآن کريم ساينسي نښې – زنګ **(Rust)** او د اوسپنې ساتنه

زنګ – اکسيډ شوی اوسپنه

۱۴۰۰ کاله وړاندې، هېڅوک نه پو هېدل چې د زنګ مخنيوی څنګه کېدای شي، خو دا حقيقت په قرآن کريم کې بيان شوی.

د اوسپنې زنګ وهلو پروسه:

کله چې اوسپنه له اکسیجن او اوبو سره تماس ومومي، نو د زنګ **(Rust)** په نوم اکسیډ ته بدلېږي او ورو ورو نړېږي.

زنګ څه شی دی؟

زنګ د اوسپنې اکسیډ دی، چې عموماً د سور رنګ لرونکی ترکیب دی .دا د اوسپنې، اکسیجن، او اوبو د کیمیاوي تعامل له امله رامنځته کېږي.

زنګ **$Fe_2O_3.nH_2O$** او **$FeO(OH), Fe(OH)_3$** ترکیبات لري، چې په بیلابیلو شرایطو کې رامنځته کېږي.

د زنګ مخنیوی

د اوسپنې د زنګ وهلو د مخنیوي لپاره باید اکسیجن یا اوبه بندې شي.

د دې لپاره، اوسپنه د پوشش **(coating)** لکه رنګ، لاک، یا قیر **(Tar)** سره پوښل کېږي.

(سرچینه :ویکیپېډیا،**Rust** ، ۲۰۱۹)

د قرآن ساینسي اعجاز

نن ورځ موږ پوهېږو چې د زنګ د مخنیوي لپاره باید د اوسپنې سطحه پوښل شي، ترڅو اکسیجن او اوبه ور ونه رسېږي.

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د ذوالقرنین کیسه کې دا حقیقت بیان کړی:

"(ذوالقرنین) وویل:

**18-96**تاسو ما ته د اوسپنې تختې راکړئ، تر هغه پورې (يې اېښودلې چې) کله دغه دېوال (د) غرونو دوو څوکو په مينځ کې برابر شو، ويې ويل چې پو کړئ، تر هغه پورې

چې کله يې دغه اوسپنه (اور وګرځوله) ،نو ويې ويل :تاسو ما ته راوړئ چې زه پر دې دېوال وېلې کړی شوې تانبه وغورځوم

هغه د اوسپنې ديوال د تار (قير) سره پوښلی و.

نن ورځ موږ پوهېږو چې قير د اکسيجن او اوبو مخه نيسي، او د زنګ د رامنځته کېدو مخه نيسي.

دا حقيقت چې د اوسپنې د ساتنې لپاره بايد دا د يو ډول کوټينګ (قير) سره پوښل شي، په معاصر ساينس کې ثابت شوی، خو قرآن کريم دا حقيقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بيان کړی و.



**ويسکوسيټي يا د مايعاتو ترتيب**

١٥ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ فِيهَا أَنْهَارٌ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِنْ لَبَنٍ لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ
وَأَنْهَارٌ مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى ۖ وَلَهُمْ فِيهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ
مِنْ رَبِّهِمْ ۖ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ

"د هغه جنت صفت، چې متقيانو ته وعده ورکړل شوې، دا دی چې پکې د صافي اوبه، د تلپاتې تازه شيدو، د څښونکو لپاره لذت لرونکي شرابو، او د تصفيه شوي شاتو ويالې دي . پکې د هر ډول مېوو نعمتونه دي او د خپل رب له لوري ببښنه .آيا دا د هغه چا په څېر

دی، چې تل به اور کې وي او دوی ته به د جوشېدلي اوبو څښکول کېږي، چې کولمې یې پرې کوي؟ "(القرآن ۴۷:۱۵)

د قرآن ساینسي نښې – ویسکوسیټي **(Viscosity)** او د مایعاتو ترتیب

ویسکوسیټي – د مایعاتو د بهېدو مقاومت

۱۴۰۰ کاله وړاندې خلک پوهېدل چې شات ډېر غلیظ دي، خو هغوی نشوای معلومولی چې اوبه، شیدې، شراب او شات له کوم یو ډېر غلیظ دي او کوم یو لږ.

ویسکوسیټي څه ته وایي؟

ویسکوسیټي د مایعاتو هغه خاصیت دی چې د جریان (بهېدو) پر وړاندې مقاومت کوي.

دا د مایع" غلظت "یا" ضخامت "ته ورته مفهوم لري.

مثال **:**شات د اوبو په پرتله ډېر غلیظ دي، نو د شاتو ویسکوسیټي د اوبو په پرتله لوړه ده.

ویسکوسیټي د ساینسي ترتیب له مخې:

اوبه تر ټولو لږ غلیظ دي.

شیدې تر اوبو یو څه غلیظې دي.

شراب له شیدو ډېر غلیظ دي.

شات تر ټولو ډېر غلیظ دي.

(سرچینه :ویکیپېډیا، د ویسکوسیټي لېست، ۲۰۲۰)

ویسکوسیټي

د قرآن ساینسي اعجاز

نن ورځ، ساینس پوهان تاییدوي چې د اوبو، شیدو، شرابو او شاتو ویسکوسیټي همداسې په درست ترتیب سره ده.

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله وړاندې د جنت د ویالو ترتیب داسې بیان کړی:

۱ .د اوبو ویالې (تر ټولو لږ ویسکوسیټي)

۲ .د شیدو ویالې (له اوبو غلیظې دي)

۳ .د شرابو ویالې (له شیدو غلیظ دي)

٤ .د شاتو ویالې (تر ټولو ډېر غلیظ دي)

دا عیناً د ساینسي ترتیب سره برابر دی!

قرآن کریم داسې یو ساینسي حقیقت ۱۴۰۰ کاله وړاندې بیان کړی، چې یوازې نن ورځ د دقیقو څېړنو له لارې کشف شوی.




**د یوسف ع د ژوند اعجاز**

د یوسف علیه السلام کیسه – د قرآن یو بې ساري اعجاز

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

د یوسف علیه السلام کیسه په قرآن کې یوازینۍ کیسه ده چې د سر نه تر پایه او له پای نه تر سره په یو سورت کې تسلسل لري، سر یې له بیخ سره او بیخ یې له سر سره تړاو لري، او دا سورت هم د هغه په نوم دی" – سورت یوسف ."دا کیسه نه یوازې د ایمان، صبر، تقوا، او الهامي حکمت یوه نمونه ده، بلکې د قرآن یو عددي اعجاز هم پکې نغښتی دی.

د کیسې عددي تناسب – ۱۲ برخې، لکه د سورت یوسف نمبر (۱۲)

د یوسف علیه السلام کیسه په ۱۲ برخو ویشل شوي ده، د دې برخو ترتیب داسې دی، چې د هرې برخې لپاره یوه مقابله برخه شته، چې د قرآن د توازن یو حیرانونکی نظم ښکاره کوي:

۱ :یوسف علیه السلام خوب ویني

۱۲ :د خوب تعبیر پوره کیږي

۲ :یوسف علیه السلام ورونه د هغه پر ضد دسیسه جوړوي
۱۱ :ورونه ښښنه غواړي او درس اخلي

۳ :د وزیر ښځه هڅه کوي چې خپله ګناه په یوسف علیه السلام باندې واړوي
۱۰ :د وزیر ښځه خپله تېروتنه مني

۴ :ځوانان هڅه کوي چې یوسف علیه السلام ته تیرایستنه وکړي یا د هغه په اړه څه ووایي
۹ :ځوانان په خپله ګناه اعتراف کوي

۵ :یوسف علیه السلام جیل ته ځي
۸ :یوسف علیه السلام له جیل څخه را خلاصیږي

۶ :پاچا خوبویني
۷ :د پاچا خوب تعبیر کیږي او ریښتیني کیږي

دا تصادف دی که د الله جل جلاله حکمت؟

کیسه د یوسف علیه السلام د ژوند د لوړو ژورو یوه نمونه ده، چې د هرې سختۍ وروسته اسانۍ راځي.
د ۱۲ برخو ترتیب د سورت یوسف د ترتیب سره برابر دی، چې دا د قرآن یو عددي اعجاز ښکاره کوي.

دا د ژوند یو حقیقت دی، چې هره ستونزه حل لري، هره ازموینه د صبر او تقوا غوښتنه کوي، او پایله تل د الله تعالی د حکمت تابع ده.

د یوسف علیه السلام کیسه – د ژوند یو الهي درس

د الله ازموینې د صبر او ثبات سره تیرېږي – یوسف علیه السلام له ماشومتوبه د ازموینو سره مخ شو، خو ایمان یې کمزوری نه شو.

حسد او دسیسې پای ته نه رسیږي، خو د الله حکم غالب دی – د ورونو دسیسه، د وزیر ښځې چل، د زندان مظلومیت، خو بلاخره بریا د حق و.

الله د صابرو لپاره د نېکمرغۍ دروازې خلاصوي – له بند څخه تر پاچاهۍ، د یوسف علیه السلام سفر یوه معجزه وه.

عددي نظم د قرآن حیرانونکې معجزه ده – د ۱۲ برخو دا ترتیب یوازې الله جل جلاله کولی شي، نه یو انسان!

د دې کیسې نه اخیستل شوی درس

که ته د ازموینو سره مخ یې، نو یوسف علیه السلام در یاد کړه – صبر وکړه، نتیجه به حیرانوونکې وي!

که ته مظلوم یې، نو پوه شه چې الله به ستا حق درکړي، لکه څنګه چې یې یوسف علیه السلام ته یي ورکړ!

د قرآن عددي نظم یوازې یو معجزه نه ده، بلکې یو الهي پیغام دی، چې پوهان پرې فکر وکړي!

سبحان الله !



## سوپر یونیک یخ

وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۚ اِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۗ وَاِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِى الْوُجُوْهَ ۗ بِئْسَ الشَّرَابُ ۗ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ۝

**18-29**او ته (دوی ته) ووایه **:**حق ستا د رب له جانبه دی، نو څوك چې (ایمان راوړل) وغواړي، نو هغه دې ایمان راوړي او څوك چې (كفر كول) وغواړي، نو هغه دې كفر وكړي، بېشكه مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تیار كړی دی چې له دغو نه د هغه پردې راچاپېره شوي دي او كه دوی( له تندې نه**)** فریاد وكړي (نو) په داسې اوبو سره به یې فریاد رسي وشي لكه زوې (د تیلو خټې) چې مخونه به وریتوي، بد دی دغه مشروب او بد دی دغه ځای د اوسېدلو

د سورت الکهف ۲۹م آیت، چې د ظالمانو لپاره د دوزخ عذاب بیانوي، یو حیرانوونکی تعبیر کارولی" **:**او که د مرستې غوښتنه وکړي، داسې اوبو سره به مرسته ورکړل شي چې د تار (مُهل) په څېر دي، چې مخونه به وریتوي"**.**

دلته د" مُهْل "توری راغلی، چې د تفسیر له مخې د تار، ویلې شوي فلز، یا ډېر ګاڼا مایع معنا لري **.**دا یو داسې مایع ده چې هم توره وي او هم چسپناکه (ویسکوس)**.**

ساينسي اعجاز :سوپريونيک اوبه

په ۱۴۰۰ کاله پخوا زمانه کې خلکو ګومان کاوه چې اوبه تل شفافې دي او هيڅکله تور رنګ نه نيسي .خو نننی ساينس ښيي چې دا ناسم تصور و .په لوړه تودوخه او فشار کې، اوبه او يخ تور رنګ اخلي، او چسپناک (ويسکوس) کېږي.

د فزيکي څېړنو له مخې، يو نوی کشف شوی حالت د" سوپريونيک اوبه " **(Superionic Water)**نومېږي .دا داسې حالت دی چې:

په لوړه تودوخه او فشار کې پيدا کېږي.

تور رنګ اخلي.

له عادي اوبو ډېر چسپناک (ويسکوس) وي.

دا حالت د نيپچون او يورانوس په څېر سيارو کې موندل شوی، او په ۲۰۱۹م کې ساينسپوهانو دا د لابراتوار په شرايطو کې هم توليد کړ.

قرآني تشريح او ساينسي حقيقت

که د قرآن کريم آيت ته وګورو، نو دوزخي اوبه د تار (مُهل) سره تشبيه شوي، چې:

توري دي ← د سوپريونيک اوبو توروالی.

چسپناکه( ويسکوس) دي ← د سوپريونيک اوبو ځانګړنه.

سوځوونکې دي ← دا ډول مایع د سخت حرارت لاندې خطرناکې خاصیتونه لري.

دا ښيې‌رنه ثابتوي چې قرآن کریم هغه حقیقت ته اشاره کړې وه چې انسانان پرې ۱۴۰۰ کاله وروسته پوه شول. دا یو بل قرآني اعجاز دی، چې د اوبو تر ټولو پیچلی ساینسي خاصیت يې د دوزخ د عذاب لپاره بیان کړی.

"ایمان راوړئ یا نه، حقیقت د ستاسو د رب له لوري دی "...(الکهف :۲۹)

الله اکبر

https://www.cam.ac.uk/research/news/new-phases-of-water-detected



**درد**

دا چې وایي درد یوازې په ماغزو پورې اړه لري غلطه ثابته شوی ده اوس دا جوته شوی ده چې دردونه په پوستکی هم اړه لری

(پروفیسور )تکاتت تجاسین د تایلند د پوهنتون د اناټومي د دیپارتمنت پروفیسور وایي :داد تعجب وړ خبره ده چې دا موضوع اوس کشف شوې خو قرآن کریم هغه ( ۱۴ ) پېړۍ مخکې ویلې ده.

خدای (ج) په قرآن شریف کې فرمایي:

۴:۵۶ «هر کله چې پاخه شي پوستکي د دوی بدلو موږ دوی ته پوستکي غیر له هغو له پاره د دې چې وڅکي دوی عذاب درد »




**د ټولو انسانانو ګډ نیکونه-**

میټوکونډریالي حوا او-Y کروموزومي آدم

ساینسي څېړنو موندلې چې د میټوکونډریالي( DNA چې یوازې له مور څخه ماشوم ته انتقالیږي )د ټولو انسانانو یوه ګډه نیکه، چې" میټوکونډریالي حوا "نومیږي، لري .دا حوا شاوخوا ۱۵۰۰۰۰,۰۰۰ - ۲۰۰ کاله وړاندې ژوند کاوه.

همداراز، د-Y کروموزوم( چې یوازې له پلار څخه زوی ته انتقالیږي )څېړنو ثابته کړې چې ټول نارینه د یوه ګډ نیکه له-Y" کروموزومي آدم "څخه راځي،

چې شاوخوا ۲۰۰۰۰۰,۰۰۰ - ۳۰۰ کاله وړاندې یې ژوند کاوه.

دې موندنو ثابته کړه چې د انسانانو ټول نسلونه له یوه واحد اصل څخه راوتلي دي، کوم چې د قرآني مفهوم" نَفْسٍ وَاحِدَةٍ( "واحد نفس )تایید کوي:

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ)

(ای خلکو !له خپل رب نه وېرېږئ، هغه چې تاسو یې له یو نفس څخه پیدا کړي یاست ).[ النساء :۱]

۲ .د انسانانو د نفوس کمښت – د بوتلنېک نظریه

ساینسي شواهد ښیي چې د بشر نفوس یو وخت ډېر کم شوی و ځینې څېړنې وړاندیز کوي چې ممکن بشریت د جینیاتي بحران له امله یوازې ۱۰۰۰ - ۱۰۰۰۰ ته راکم شوی و.

د بېلابېلو تمدنونو تاریخي اسناد، لکه د نوح علیه السلام طوفان، هم د دې نظریې ملاتړ کوي، چې پخوا د بشریت لویه برخه له منځه تللې وه، او یو څو کسان پاتې شول، چې بیا ځلي پراخ شول.

۳ .د انسان بدن او د ځمکې عنصرونه – د قرآني حقیقت تأیید

د انسان بدن د ۶ اصلي کیمیاوي عناصرو څخه جوړ شوی دی:

اکسیجن – (O) ٪۶۵

کاربن – (C) ٪۱۸

هایډروجن – (H) ۱۰٪

نایتروجن – (N) ۳٪

کلسیم – (Ca) ۱.۵٪

فاسفور – (P) ۱٪

په زړه پورې دا ده چې همدا عناصر د ځمکې د کرسټ (crust) اصلي برخې دي .دا حقیقت د قرآن د دې آیت سره بشپړ توافق لري:

(مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى)

(له همدې (ځمکې) مو پیدا کړي یاست، همدلته مو بېرته ورګرځوو، او له همدې به مو بیا راوباسو.)[ طه :۵۵]

پایله:

ساینس نن ورځ تأییدوي چې انسانان د یوې مور او یوه پلار اولادونه دي، د نفوس کمښت (bottleneck)تجربه کړې، او د دوی جسمي جوړښت له ځمکې سره موافق دی – دا ټول د قرآني حقایقو علمي تفسیرونه دي




**فوسیلونه**

د قرآن کریم ساینسي نښې – فوسیلونه او د حضرت یونس علیه السلام کیسه

قرآن کریم وایي:

"نو کب هغه تیر کړ، حال دا چې هغه ملامت و .که چېرې هغه د تسبیح ویونکو له ډلې نه وای، نو خامخا به د هغه په نس کې پاتې و، تر هغه ورځې چې خلک به راپورته کړل شي ".الصافات :۱۴۲-۱۴۴

طبیعي محافظت – (Preservation) فوسیلونه

۱۴۰۰ کاله مخکې خلکو باور درلود چې کله ژوندي موجودات مړه شي، نو هغوی بوسېدلی او ورک کېږي .هیڅوک نه پوهېدل چې د حیواناتو جسدونه په طبیعي ډول د میلیونونو کلونو لپاره ساتل کېدای شي.

خو نن موږ پوهېږو چې دا غلط باور و؛ ځینې مړي د فوسیل په بڼه د میلیونونو کلونو لپاره پاتې کېدای شي.

د معدني فوسیلونه – د ساینس حیرانوونکې کشف!

د نیشنل جیوګرافیک راپور( ۲۰۲۰ )داسې وايي:

"۱۳ فوټه سمندري ښکاروونکی د بل ژوي د نس دننه موندل شوی دی".

"شاوخوا ۲۴۰ میلیونه کاله وړاندې، یو لوی سمندري خزنده (ichthyosaur) يې يو لږ کوچنی ژوی تېر کړی و، او لږ وروسته مړ شو .بیا د لوی موجود فوسیل شو، حال دا چې د کوچني ژوي جسد يې لا د هغه د معدې دننه و".

دا کشف د ساینس لپاره ډېر حیرانوونکی و، ځکه چې:

د معدې دننه فوسیلونه ډېر نادر دي.

یوازې څو نمونې موندل شوي چې د یو موجود معده دننه بل موجود ساتل شوی وي.

دا څرګندوي چې یو موجود د بل موجود په معده کې د میلیونونو کلونو لپاره پاتې کېدای شي.

د قرآن اعجاز!

قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله مخکې د حضرت یونس علیه السلام په کیسه کې ورته حقیقت ته اشاره کړې ده:

"که چېرې هغه د تسبیح ويونکو له ډلې نه وای، نو خامخا به د هغه په نس کې پاتې و، تر هغه ورځې چې خلک به راپورته کړل شي( ".الصافات :۱۴۴)

د فوسیل شوو معدې دننه موجوداتو قرآني اشاره

"په معده کې پاتې کېدل تر قیامته – "دا د فوسیل شوو معدې دننه موجوداتو ته اشاره کوي . ساینس نن دا کشف کړی، مګر قرآن کریم دا حقیقت ۱۴۰۰ کاله مخکې بیان کړی و!

نتيجه

دا قرآني اعجاز ثابتوي چې د قرآن کريم خبرې نه يوازې د ديني حقايقو څرګندونه کوي، بلکې د ساينس راتلونکي کشفونه هم پکې شامل دي .دا د خدای جل جلاله کلام دی، چې هر وخت يې حقيقت روښانه کېږي!

# پایلیک

الحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات .دا کتاب، چې د اسلام د اعجاز ۳۵۰ ژور، مستند او عقل ته باذن الله تعالی قناعت ورکوونکي معجزات رانغاړي، د کلونو اوږدې هڅې، مطالعې، او تدبر پایله وه، که تاسو د اسلامي اعجزاتو په لټه کې یاست نو ما هیراوئ چې موږ د اسلام اعجاز دوهم کتاب هم لرو چې د ۱۵۰ معجزاتو او د ژاورو تشریحاتو ټولګه ده.

دواړه کتابونه د هغو کسانو لپاره ډېر غوره چې د اسلام اعجاز طلب مند وي.

زما دا عاجز خدمت نه د شهرت لپاره دی، نه د ستاینې لپاره، او نه یې ماته څوک کومه ګټه او اجر راکولی شي ندی اجر زما مګر په رب د عالمیانو باندې، بلکې یواځې د الله  د رضا لپاره دی .که چیرې حق پکې بیان شوی وي، نو دا د الله فضل دی، او که تېروتنه شوې وي، نو زما د علم او وس محدودتیا ده.

زما هیله دا ده چې دا کتاب د مسلمان نسل لپاره د باور نوې ستنې، او د شکمن عقل لپاره د قناعت ژور دلایل برابر کړي، او د قیامت پر ورځ زما لپاره د نجات وسیله وګرځي.

په درنښت، دعا، او هیله سره...

ستاسې ورور په عقیده او قلم،

د «د اسلام اعجاز» لیکوال

اللهم اجعل هذا العمل خالصًا لوجهك الكريم، ووفقني لما تحب وترضى، واغفر لي تقصيري وزلاتي، واغفر لكل من قرأه وتدبر فيه وعمل به.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.


ISLAMIC SCIENCE
د اسلام اعجاز
ليکوال:جندالله الخراساني